Download from:aghalibrary.com

# ټپې

د پښتو لنډیو د غه ټولې برخې په هالنډ کې ګران او پښتون دوسته ورور سید شبر احمد له سره کمپوز کړي دي چې د اوربل پاڼې چلونکې ورڅخه منندویه دی او د لازیات بریالیتوب په هیله ئې یو

**د اوربل کارکونکې ډله**

# (الف)

اباسین راغی غاړې غاړې
پۀ سر یې راوړۀ کشمیري د خیال شالونه
اباسین بیا پۀ څپو راغی
پۀ سر یې راوړۀ سپینې خولې زېړ پېزوانونه
اباسین بیا څپې څپې دی
هره څپه یې ورانوي د پګړۍ ولونه
اب و دانه مې شوه تمامه
لیلا پر زړۀ راکړۀ د تورو ګوزارونه
اب کوثر جانانه راشه
د بېلتانه پۀ سفر ځم تږی بۀ شمه
اپت وهلي کنبت ته راغلم
نه یې شین توب شته نه هغه خوند راکوینه
اتې اتې زلفې دې توی شوې
د پا غوندې پۀ دود دې سر سپین شومینه
اجر و جزا د عمل حق ده
څوک چې د نېکو عمل کړي نېکي بۀ وړینه

احمده خدای دې جنتي که
تر هندوستانه پورې تا کړي جنګونه
اخر بۀ خاورې شي صورته
که دې هر څونه پۀ زربفتو کې ساتمه
اخر بۀ خاورې شي بدنه
که دې هر څو پر وطنو وګرزومه
اخر بۀ خاورې شي جانانه
ما اشنا سترګې نا اشنا ليدلې دينه
اخر بۀ پاتې شي ميدانه
مسافر کډې بار وي وطن له ځينه
اخر بۀ دا دنيا شي ورانه
تر خاورو لاندې بۀ شي ښکلي بشرونه
اخر بۀ کند کچکول راواخلم
چې کبرجن جانان مې نه کوي پوښتنه
اخر به مرم پاتې بۀ نه شم
ته چې دا سپينه سينه رږدې پۀ د بوالونه
اخر بۀ مرم پاتې بۀ نه شم
که د فولادو کلا تاو له ځانه کړمه
اخر بۀ وران شي پېښوره

د ننګرهار نجونې ښېرا درته کوینه
اختر پرون ؤ پرون تېر شو
دا د دامان کوترو نن سرۀ کړۀ لاسونه
اختر پرون تېر شو عالمه
د بغدادو کوترو نن راغلل سیلونه
اختر نژدې دی روژه لاړه
لیلا بۀ چاته سرې منګلې ښکاروینه
اختر پۀ ټوکو ټوکو راغی
نه مې اوربۍ شته نه د غاړې تاویذونه
اختر پۀ ورځ دې سینګار کړ
څوک دې پۀ زړۀ دي که ډاډه وهې ټالونه
اختر ته ډېره خوشالېږم
زما دیار وعده اختر دی رابۀ شینه
اختر چې تېر شي بیا بۀ راشي
دا د ځوانۍ عمر پۀ بېرته نه راځینه
اختر د واړو مبارک شه
دا د ځوانۍ عمر پۀ بېرته نه راځینه
اختر دې تا ته مبارک شي
چې لاس او پښې دې بې حنا اور لګوینه

اختر له تا سره ښايېږي
نور خلک خوشې د اختر هوس کوينه
اختر نژدې دی ياره راشه
مبارکي بهٔ يو وبل ته ورکوونه
اخر ته داسې درته وايم
اجازه واخله چې جوړه کابل ته ځونه
اخرنی ځای دې لحد دی
ظالمه مه کوه پهٔ ما ډېر ستمونه
ادکې مورې څراغ بل کړه
د مومن خان پهٔ وينو سرهٔ شول بالښتونه
اذان پهٔ ځنډ کوه طالبه
زه د جانان غېږې ته اوس ورسېدمه
ارام د زړهٔ مې پرې و نهٔ شو
که مې له سرو سترګو ويني تويومه
ارمان ارمان تېره ساعته
پيدا بهٔ نه شې کهٔ ملنګ در پسې شمه
ارمان ارمان خپله وطنه
د خپل وطن جامې مې ولوېدې له تنه
ارمان ارمان دی لويه خدايه

چې همېشه مې د جانان کړای مجلسونه
ارمان ارمان سپینې سپوږمیه
سلام مې وروړه د همزولو تر کېږدیه
ارمان بۀ دِ ېر راپسې وکړې
بیا بۀ وطن راپسې ګورې نۀ بۀ یمه
ارمان دې نۀ کړي هغه میندې
چې خپل زامن د وطن لار کې قربان کړینه
اس بۀ مې ولې مستي نۀ کا
چې سفر ته د جانان پۀ لورې ځینه
اسپه دې زین کړه روانېږې
تر غوړاشو څهو دې مزي ونغښتنه
اسره د خدای او رسول ښه ده
څوک چې اسره د بنده کړي نادان بۀ وینه
اسره مې خدای ته وه بیا تاته
ځواب دې راکړ خپل طالع مې ژړوینه
اسلام کښتۍ کفر دریاب دی
شیطان نهنګ دی عالمونه غرقوینه
اسمان او ځمکه بۀ هم نه وي
همېش رژېږي د بوستان ښکلي باغونه

اسمان او ځمکه دواړه ژاړي
چې يو اشنا له بل نه اخلي رخصتونه
اسمان به خود زما پر خوا وي
چې د احمد تر بيرغ لاندې جنګ ته ځمه
اسمان په ستورو ښايسته دی
لکه د پېغلې نجلې غاړه په خالونه
اسمان په ستورو ښه ښکارېږي
لکه ليلا چې په مخ ووهي خالونه
اسمان په ستورو ښه ښکارېږي
چې ستوري نه وي اسمان څه ښايست لرينه
اسمان ته څوک ختلي نه شي
زه د جانان په هوس تلم وروختمه
اسمان ته لار د ختو نشته
عاشق ورخېژي دوربښمو په تارونه
اسمان ته لار دختو نشته
عاشق ورخېژي دمولا په قدرتونه
اسمان ته وګوره چې شين دی
داسې مې زړه درپشې شين دی وبه مرمه
اسمان ته لار د ختو نشته

د مځکې سر دې راته بلې لمبې کنه
اسمان دې ژر ژر وګرځینه
چې مې د عمر پاڼه زېړه شي مینه
اسمان زما په نارو شین دی
زړګی مې خوږین دی چې جدا له یاره یمه
اسمان شین خال مې د جانان دی
زه یې بورا پرشینکي خال وزر وهمه
اسمان له ستورو غمېې ورکړې
ما له بې پته اشنا لاس نه راکوینه
اسمانه پاس سپوږمۍ ته وایه
ناوخته خېژه چې زه مور په سینه شمه
اسمانه ښه باران پرې وکه
یار مې للمې کرلې دي چې اوبه شینه
اسمانه درب وهه نړېږه
په ما قیامت دی چې په ټولو قیامت شینه
اسمانه کړنګ وهه رالوېږه
دوستان دې خلاص وي غمازان دې لاندې وینه
اسمانه تنګ وهه وربېږه
یار مې للمې کرلې دي چې پټه شینه

اسماني تندرشوې جانانه
پۀ مارا پربوتې ذرې ذرې دې کړمه
اشنا بۀ هلته وفا وکړي
چې دمرګي پۀ لاره واخلي قدمونه
اشنا پوښتنې ته مې راشه
ستا دهجران پۀ تبه پروت يم مړ بۀ شمه
اشنا پۀ خولۀ کې ژبه غواړي
پۀ خوند يې نۀ دی خپل قلنګ جاري کوينه
اشنا پۀ داسې لمبو وسوم
نه يې لوګی شته نه يې تاوچاته ورځينه
اشنا پۀ سمه زۀ پۀ سوات يم
سمه دورانه شي چې دواړه سوات ته ځونه
اشنا پۀ ما پسې رنځور دی
طبيبان خوشې خپل دارو خاورې کوينه
اشنا پۀ نورو ګلو مست دی
دکوټې شاته يې وراسته شول زيړ ګلونه
اشنا پۀ تلو کې بېرته ګورې
پۀ پرهاري زړګي مې مالګې دوړوينه
اشنا ټپوس نسته دباز که

زه کم نصیبه یې پۀ ناسته غولېدمه
اشناچې تلو ماته یې ووې
چې ترقیامته پورې نشته دیدنونه
اشناچې هسې مخ ښکاره کړي
دبېلتانۀ پۀ تیاره لمر وخېژوینه
اشناچې ماسره پۀ خولا وی
زه دغمازانو دلمسون څۀ پروا لرمه
اشنادتورلحدبندي شو
ځکه تورتم جهان رڼارابادې شونه
اشنادبل وطن سړی دی
پۀ تش دیدن بۀ یې زړګی ولې ښۀ کومه
اشنادلارې نه هېرېږي
زۀ بۀ دعمراشناخنګه هېرومه
اشنادموروپلاره خوږ دی
ځکه مې اوښکې دجانان له غمه ځینه
اشنادې تل خوشاله اوسي
که زماعمروي پۀ غم کې تېر بۀ شینه
اشنادې تل خوشاله اوسي
خبردی که ما غمازان دارته خېژوینه

اشنا زما پۀ ژړا خاندي
بې قدره اوښکې مې پۀ مخ څپې وهينه
اشنا زما سره پۀ خولا ؤ
پخلا اشنا رانه بېلتون مرور کنه
اشنا زمانه مخ پنا کړ
لکه سيسۍ د بې وسۍ ناري وهمه
اشنا زما پۀ سفر لاړی
ياقوتي اوښکې پۀ توښه پسې لېږمه
اشنا سور ګل د کوه طور دی
زه مرغلره د دریاب د غاړې يمه
اشنا سور بېږي روانېږي
زما ورانېږي د محکم زړګي برجونه
اشنا نوکر دی را تلای نۀ شي
سپينه خولګۍ بۀ پۀ پاکټ کې ورلېږمه
اشنا چې پټ سفر ته ولاړئ
خدايه زما زړګی ترې صبر کړې چې مرمه
اشنا مې بيا پۀ ژړا راغی
چې ظالمانو ورته څۀ ويلي دينه
اشنا مې پاتې پرو طن شو

زهٔ مسافرپهٔ لارې ځم سلګۍ وهمه
اشنامې پېژنم دلرې
ملايې نرۍ ده خيال يې تول پهٔ زنګنونه
اشنامې توت لاندې ويدهٔ ؤ
لکه بانبه پرې شرنګېدم راوينښ مې کنه
اشنامې تورو خاورو وخوړ
ماته مې خوله شه چې خندابهٔ پرې کومه
اشنامې جنګ کې سرورکړی
ځکه همزولو کې سرلوړې ناسته يمه
اشنامې ځي نه راستنېږي
که ورته کېږدم د سورکوشونډو سورنه
اشنامې سر پهٔ وطن کېښود
پهٔ تورو زلفو بهٔ کفن ورته ګنډمه
اشنامې کډې دغويو کړي
زما ياد ېږي د سرو اوښو کتارونه
اشنامې ګل دکابل جان دی
زهٔ يم بلبل دکندهار نغمې کومه
اشنامې ګل دلاسه نه اخلي
داسمان ستوري بهٔ جرګه ورته لېږمه

اشنا مې ګل زۀ يې بلبل يم
بلبل مدام ژړا پۀ ګل پسې کوينه
اشنا مې ولاړې اسماني شو
اسمان چې ځمکې ته راځي قيامت بۀ شينه
اشنا مې ولاړئ مسافر شو
زۀ يې تنها ظالم بېلتون ته پرېښوومه
اشنا مې لمر پۀ غرۀ راخېژي
لکه شاهين لوړې ژورې لټومه
اشنا مې نوی چلم کښې دی
د خبرې اور بۀ پۀ پېزوان ورته وروړمه
اشنا مې وړې رانه تللی
چې د سترخان لره ورځم ژړا راځينه
اشنا يه بد را سره مه کړه
زۀ پۀ پردي وطن کې يو تا پېژنمه
اشنا يه دا سې خوڅوک نۀ کړي
لکه سپين موم پۀ سرۀ انګاردې ويلې کړمه
اشنا ستا د بې نيازيه
پۀ لارې نا ست يم پۀ سرخا ورې بادومه
اشنا سختۍ ته مې ټينګ شه

خپل اشنايان بې سختۍ چاموندلي دينه
اشنايه يو وارترماراشه
يو دوې خبرې دګيلې درته کومه
اشنايه لاړې اسماني شوې
اسمان چې ځمکې ته راځي قيامت بۀ شينه
اشنايي غم دی ښادي نۀ ده
کۀ څوک دغم طاقت لري اشنادې شينه
اشنايي مياشت ده دسفرې
هرڅوک چې ويني بلوي ورته اورونه
اشنايي مه کړه لرې ګرځه
بس کړه چې زما پۀ ځوانۍ اور ولګېدنه
اشنايي وای جدايي مه وای
خدايه له دره بۀ دې څۀ کم شوي وونه
اشنايي هله خوند پيدا کړي
چې کله کله پرې بېلتون پېښه کوينه
اصل زمونږه ځای لحد دی
د سيل دپاره پينځۀ ورځې دلته يونه
اصل نسب که پۀ کار نه وای
زاغ پۀ پيسۀ باز بۀ پۀ زرنۀ خرڅېدنه

اصیل زاده نۀ یې هلکه
اصیل زاده له یاری نۀ اخلي لاسونه
اصیل زاده نۀ یې مینه
اصیل زاده پر مین سر ومال ښندینه
اصیل ګلاب را ښخه ورک دی
کم اصل ګل چې بو یوم ژړا راځینه
اصیل ګلاب ته مې اسره کړه
اصیل ګلاب رانه خزان ورژاونه
اصیل ګلاب چې پۀ کې نۀ وي
پۀ نورو ګلو مې تسل نۀ شي مینه
اصیله وم کم اصله یوړم
کم اصله دا سې مې ساتې لکه مغله
افسوس ارمان ډېره ارمانه
خالي لاسونه د خپل یار نه جګه شومه
افسوس افسوس ارمان ارمان دی
خالي میدان دی ستړګې چاته واړومه
افسوس افسوس ارمان ارمان دی
دا کوم اسلام دی څوک مې نۀ کوي پوښتنه
افسوس دی ډېر د ځوانۍ مرګه

ځو مره ارمان د ګور و خاوروته وروړمه
الف الفت د اشنا غواړم
ب د بېلتون دلاسه روغ لېونی شو مه
الف او لام ته پۀ ژړا شوم
چې مې له یار ځنې جدا نۀ کړې مینه
الف د وروځو پۀ منځ کش کړه
زۀ بۀ شاګرد شمه سبق له بۀ درځمه
الف مین کړم بې جدا کړم
ت پۀ توبو ورله ورځم کۀ قبول شمه
الله اکبر ناري سورې شوې
بیرغ پۀ لاس کې مې جانان تورې وهینه
الله تعالی رحمان رحیم دی
زۀ پۀ قیامت د مغفرت تمه لرمه
الله چې ستا پۀ مخ شیدا کړم
غمو تالاکړم پۀ صحراګرځم مینه
الله د مل شه خپله یاره
پۀ سفر لاړې سودا یې درپسې یمه
الله د بیا راوله یاره
ما شوم زړګی مې پۀ ژړا درپسې مرینه

الله دې بيا راته محتاج کړه
غنچې غنچې څنې مې بيا پۀ مخ راځينه
الله زما پۀ حال خبر دی
که مې قبول کړي د ديدن سوي سوالونه
الله تالا شومه خاونده
پۀ زېړو ګلو مې خزان ولګېدنه
الله دې بيا راته موتاز کړه
پسرلی راغی غوټو وسپړل ګلونه
امبار د غم مې پۀ زړۀ پروت دی
دبې ارزی، ژړا چې راشه وخاندمه
اموختـه باز راځخه ولاړی
د سپينې خولې تومه پۀ لاس ولاړه يمه
امسا پۀ لاس مخې ته راغلې
رنځوره زۀ دې پوښتنې ته درتلمه
اميره ستانوکران ډېر دي
د سپينې خولې نوکر راپرېږده چې راځينه
اميره لنډ وهه مزلونه
يار مې نادان دی د شپې خوب يې زنګوينه
امير لوړ وهه برجونه

ځوانان پردېس دي یادوي خپل ولاتونه
امیره نور نوکران ډېر دي
د تور وربل نوکر را پرېږده چې راځینه
امېل د سرو زرو ښۀ ښکاري
بل چې وربل د پاسه وتهٔ مېي ګلونه
امین پرېږ وکړئ سوال مې دا دی
چې مې جانان را سره غاړه غړې شینه
انبار د غم مې پۀ سر پروت دی
خندلی نۀ شم د ناکام خندا کومه
انارونو ې پاڼې وکړې
زۀ بۀ مې یار ته د سینې انار ساتمه
اند ښنو زور را باندې وکړ
چې لمر خاتۀ او لمر لوېده نۀ پېژنمه
اند ښنو غرونه پۀ ژړا کړل
د بېلتانۀ پۀ او ښکو ډک را غلل خوړونه
اند ښنو لوی غرونه چپه کړل
شاباس پۀ ما چې زۀ پۀ پښو ولاړه یمه
اند ښنې مه کوه صورته
چې اند ښنې د زړګي وینې وچوینه

انکار د مینې دې کړای نۀ شم
که مې منصور غوندې څوک دار ته جګوینه
او از دو چ شه نجلۍ ماره
د چم ګاونډ خلک د خوبه وو اتنه
او از مې شته جوړه مې نۀ شته
لکه کوتره بې جوړې ګرځم مینه
او بۀ د کوزګو د رخوږې دي
زۀ د مین د پاره برګو د رته ځمه
او بۀ مې څنبې ګلاب مې تېر شو
زړۀ مې باغچه شو بلبلان ورته راځینه
او بۀ مې څنبې ګرېوان مې لوند شو
پۀ نري بادیې وچوم ژړا راځینه
او بۀ مې څنبې لونګ مې تېرشو
دزړۀ پۀ سرمې زرغونه دلونګ ونه
او بۀ مې څنبې ګلاب مې تېرشو
اوس د سینې باغچې مې ونیول ګلونه
او بۀ مې څکې ګلاب مې تېرشو
زړۀ مې باغچه ده شنه توتیان ورته راځینه
اوربل پۀ توره نۀ رنګېږي

ناترسه ډمه يې پهٔ ګوتو ړنګوينه
اوربل پهٔ توره نه ورانېږي
چې وخت يې راشي سلا يې يې ورانوينه
اوربل ته لنډې غوټې ورکړه
چې ترې ښکاره شي دکږوورو ځوسرونه
اوربل دې جوړ پهٔ غنم لوکړ
زهٔ خواربهٔ لوکړم که بهٔ ستانندا ره کړمه
اوربل دې ونيوې ورېځې
ترخمارو ستر ګو دې اورې بارانونه
اوربل مې جګ کړه خال مې چپ کړه
دجنت ګل دی پرې تازه بهٔ شې مينه
اوربل يې بيا پهٔ مخ راخپور کړ
لکه چې ښيزه پهٔ باران کې لنده شينه
اوربل يې پولې پولې راغی
سخ دهغودی چې بهٔ يې پولې ورانوينه
اوربل يې مادانه وانه کړ
دکنډوکي سيلۍ پرې ځان بدناموينه
اوردهجران خاورې ايرې کړم
چاته ناري کړم چاته وکړم فريادونه

اورد یارۍ مې په زړه بل شو
بېلتون مې مل شو واویلا نارې وهینه
اورخو چې بل شي بیا به مړ شي
زړه چې مین شي همېشه لمبې وهینه
اوردوزخ به باندې سوړ وي
که چا انګار د بېلتانه لید لی وینه
اورد دیدن راته بلېږي
زه لېونۍ کترې د زړه پرې وریتومه
اوردې راپورې کړ ته لاړې
چې ته راځې زه به د خاورو ډېرۍ شمه
اوردې زما په صورت بل کړ
له تیله دارې خولۍ پرې که تاویزونه
اورۍ دې سرې په دنداسه دي
که بیا دې رنګ د پتاسې ورکړی دینه
اورد هجران راته بلېږي
کترې کترې غوښې د زړه پرېږ پخومه
اوړی د پاس کابل کې تېر کړ
په مني راغلې سلامت غواړې ګلونه
اوبۍ په غاړه نجلۍ لاړه

پرېږده چې ولاړه مېلمنه بۀ چېرې وينه
اوربۍ دغاړې بنديوانه
زۀ بنديوانه داشنادغاړې يمه
اوربۍ ته ډېره ورکړه زړګره
زۀ دڅلورو ورونړو خوريم قدرمنه
اوس بۀ خولګۍ درځنې ځار کړم
چې د پښتون پۀ ننګ دوکړل شوګيرونه
اوس بۀ ديوموټي ايرې کړم
که خمارې سترګې پۀ نازدرواړومه
اوس بۀ وطن پۀ وينو رنګ کړم
که له خوږمن زړګي نه لرې کړم لاسونه
اوستري ديدن راسره وکړه
چې پۀ ارمان قبرته لاړنۀ شم مينه
اوس مازديګرى دى ښېرې مه کړه
تۀ بۀ دناز ښېرې کوې رښتيا بۀ شينه
اوس مې جامې پۀ تومت رنګ کړې
څۀ چې قضادرب وي زۀ پرې رضا يمه
اوس مې دعمرتاوان راکړه
نرۍ نرۍ خندادې کړه رنځور دې کړمه

اوس مې له کوره ولې باسې
پهٔ خندا او وایه چې خولهٔ نهٔ در کومه
اوښانو بیا غاړې کړې کړې
چې پهٔ سورې دي سپینې خولې زېړې پېزوانونه
اوښکو ګرېوان زما لوند نهٔ کړ
وجود مې اوردی همېشه یې وچوینه
اوښکو مې لارې پهٔ مخ وکړې
ژاړم که نهٔ ژاړم هجران مې ژړوینه
اوښکو زما غمازي وکړه
حال مې د زړهٔ پهٔ مخ لیکي رسوایې کړمه
اوښکو مې راز د زړهٔ ښکاره کړ
ځکه پهٔ زېړ ځبېښلي مخ یارته ورځمه
اوښکو مې نور د سترګو یوړ
ځکه پهٔ سپینه ورځ ګمان د شپې کومه
اوښکې مې سېل پهٔ مخ بهېږي
زړهٔ مې رپېږي له جانانه جدا یمه
اوښکې به یې ولې نهٔ توېږي
چې قتل شوی څوک پهٔ تورو سترګو وینه
اوښکې د سترګو مې خوناب دي

پهٔ اور د هجر زړهٔ کباب مدام لرمه
اوښکې لمانځې دي که بې لمانځه
زما پهٔ څیرې ګریوان ځې لمونځ پرې کومه
اوښکې مې پرېږده چې بهېږي
زما د زړهٔ چینې پهٔ جوش راغلې دینه
اوښکې مې پرېږده چې بهېږي
د بېلتانهٔ خنجر پهٔ زړهٔ وهلی یمه
اوښکې مې پرېږده چې بهېږي
د یار له دره بېنوا راغلی یمه
اوښکې مې ځې ګریوان مې لوند دی
د غم محصل دی د غم برات راته راوړینه
اوښکې مې د سیند غوندې بهېږي
بیا بهٔ د سیند د غاړې نهٔ کوم سیلونه
اوښکې مې ښې دي چې بهېږي
بار د غمونو مې د زړهٔ نه کموینه
اول بهٔ پېښې د جانان ښکل کړم
بیا بهٔ ژړاکې ورته وو ایم حالونه
اول پهٔ پښو کې ورته رغړم
بیا بهٔ یې د زړهٔ له غمه ورو ورو خبرومه

اول بۀ ماته خلک ناست وۀ
اوس بۀ دفقرځولۍ بل ته غوړومه
اول خوته پۀ مامين شوې
اوس راته وايې زړۀ دې صبرکه مينه
اول دعا پسې سلام دی
مراد مې دا چې پۀ خپل حال دې خبرومه
اول دې دور دخانۍ ؤ
اوس دې پۀ شناختوکوړکوړۍ نارې وهينه
اول دلافې دياری کړې
اوس دې کتګی د مور دځنګه ګرزوينه
اول دې لوبې راسره کړې
اوس دجستو پرځوکوځې چې پېغله يمه
اول دې ويل پۀ کار مې نۀ يې
اوس راته وايې چې مين دربانديې يمه
اول دې ؤاخر دې نۀ ؤ
پۀ نيمه خوا يارۍ دې زۀ پښېمانه يمه
اول سبادی چيغه وشوه
دلښکرسرکې مې اشنا مرچل ته ځينه
اول سلام پسې کلام دی

دامې کلام دی د دعا تمه لرمه
اول سیرت دو هم صورت دی
ګل ریحان له رنګه تور بوی ئې راځینه
اول مې پام درپسې نۀ ؤ
اوس مې د زړۀ ستنې کړې درپسې دینه
اول مې کله کله غم ؤ
اوس مې کتاب شو مشغولا پۀ کې کومه
اول مې نۀ ژړل اوس ژاړم
کم کوټې یار مې لویاوه د نورو شونه
اول مې نۀ کتل ګلونه
اوس د خزان پۀ باغ کې پاڼې ټولومه
اول مې یار اوس مې رو یبار شوې
بې پته یاره تا ته چادر کړل پندونه
اول یارې دې پۀ زارې وه
اوس دې راځې پۀ غم لړلې خوابونه
اه او فریاد مې نصیبه شو
چې بې پروا اشنا زما پۀ برخه شونه
اه مې طوفان او ښکې دریاب شوې
جهاز زما و ستا د صبر ډوبوینه

ایرې بهٔ تهولې پهٔ سر باد کړم
د مینې اوربهٔ دې پهٔ زړهٔ کې وساتمه
ایمان دې ښهٔ راته معلوم دی
پهٔ لباسې پګړۍ دې مه وهه لاسونه
اینه مې څله مخ ته نیسې
نېستۍ مې ښه جوسه بدرنګه کړه مینه

ب

بابادې ماوژلی نهٔ دی
چې راته نیسې دزړې ولې بندونه
باباکوچیانو ته مې ورکړه
چې تورپېکی مې دنښترو بادوهینه
باباګلان دباغه راوړه
زهٔ یې پېیمه جوړومه امېلونه
بابامې نهٔ درکوې یاره
لاړشه بابابانډې مې وکړه تاویذونه
باباولې پرکندهاردی
زماجانان یې وزیارت ته تللی ونه

بابو تيکس دې بېرته وا خله
ما مرورا شنا پخلا کړه بېرته ځينه
بابو تيکس دې بېرته وا خله
زۀ مې شيرين جانان د کن ته نۀ لېږمه
بابو کره زموږ وطن دی
جند وله تا ته سلامې را غلې يمه
باتې د تېلو پۀ زور سوځې
ما ته د يار غمونه اورشول ويې سومه
با چار خصت را که چې ځمه
چې پۀ وطن موغنم زېړ لويې کومه
با چاهي تخت مې پۀ کار نه دی
جانان بۀ لوکا زۀ بې وږي تولومه
باد د بهې پۀ کې لګېږي
د غرمې خوب بۀ د ليلاد برې ته وړمه
باد د پغمان له لورې راغی
زما د يار د زلفو بوی ما ته راوړينه
باد د ختن دی راالوتی
يا عنبري زلفې جانان سنبالوينه
باد دې پلوله مخه يو سه

چې ګلابي مخ دې پۀ سترګو وو ينمه
باد سبا زما قاصد شه
زما شيرين اشنا ته يو سه سلامونه
باد سبا يار مې ويښ نه کړې
د سهار خوب پرهلک ۀ پرغالبه وينه
باد مې د يار له لورې راغی
پۀ وازه خوله به يې کوګل ته تېرومه
باد نن له پاسه کښکې دی
بوی د جانان مې پۀ دماغ ولګېدنه
باده پرباد مې سلام وايه
پرهغه باد چې د اشنا پۀ لورې ځينه
باده د خدای روی مې د روړی
ژر راته وايه ګران زړګی څۀ حال لرينه
باده د يار حالونه راوړه
ظالمان شته دي ماويار ته نه پرېږدينه
باده د يار له لورې راشه
ما ته ملهم شه چې مې جوړشي پرهارونه
باده سلام پۀ جانان وايه
هغه سلام چې باده تا راوړی ؤنه

باران داوښکو مې وریږي
بې نیازه یارراته په زړه راکړل زخمونه
باران که اوري باک یې نشته
واورې دې نۀ اوري چې لارې بندوینه
بارانه ورو ورو واوریږه
دمسافرجانان مې نشته دالانونه
باغ ته دې تګ مناسب نۀ دی
ګلان شرمیږی مخ په پاڼو پټوینه
باغ چې دزاغ په حواله شي
بلبل نرى فریادکوي له باغه ځینه
باغ له دې تله مناسب نۀ دي
پخپله ګل یې ګل دې ستاسلام کوینه
باغچه په ګلو ښه ښکاریږي
لکه دپېغلې سینه ډکه په ګلونه
باغچې دګلو شوې سمسورې
باغوان وختي لښتي پر باغ تړلي دینه
باغوانه باغ مې دې خوښ نه شو
چې په کې نشته درامبېل چامبېل ګلونه
باغوانه پاڅه چې سهار دی

ګلان د تندې د رته خواست دا وبو کړینه
باغوانه ورشه باغ سوتره که
سبا درځمه د ګلاب سیل بۀ کومه
باقي بۀ څوک نۀ وي د نیا کې
غیر د الله نه چې موجود بۀ پۀ کې وینه
بالبنت د کوره د رته راوړه
مړوند مې خپل دی نوریې نۀ د رلاندې رېدمه
بام ته پۀ منډه وختمه
یارمې ونه لید پۀ ژړارا پربوتمه
بانه چترۍ ستر ګوته نیسم
له چترۍ اوري د غمونو بارانونه
بانۀ دې زما پۀ زړۀ کې خښ شول
اواریې کاږه چې مې زړۀ ونه چوینه
بانۀ دې غشي د پولادو
داکږې وروځې دې لیندې سورۍ دې کړمه
باورمې نۀ شي چې بۀ جوړشم
زۀ د کاږۀ اوربل شمال وهلی یمه
باهو مې وۀ پۀ لاس مې نکړۀ
اوس دا شنا دربارته ځم خالي لاسونه

بخت او قسمت نه مې زړۀ بد دی
نو رو ته ګل زما د پا ره اغزي شينه
بخت بۀ مې هلته را بيدا رشي
چې مرور اشنا پخلا را سره شينه
بخت بۀ مې هلته را بيدا رشي
چې د خوبه را ته سترګې پو رته کړينه
بخت دې پۀ سر دی زما يا ره
سالو مې با د يو وړتا وکړۀ د يد نو نه
بخت دې د هېچا کو ټه نۀ شي
بخت چې کو ټه شي پا د شا هان ټکرې خو رينه
بخت مرور شو نصيب ژا ړي
قسمت د غم پۀ جېلخانه کې بندي کړ مه
بخت مې له تختنه کو زپرې با سي
خدا يه زما پۀ بخت دې څۀ ليکلي د ينه
بخت مې ياري را سره نۀ کړي
که مې نګين د سلېما ن پۀ ګو ته شينه
بختنه د خدا ی د پا ره ويښ شه
څوک تر قيا مته پو رې نۀ کوي خو بو نه
بختنه نمرا ده چېرې لاړې

یو ځلې را شه چې د سیال سره سیال شمه
بدن مې د ښکلې صورت مې غوښې
او ښکې ښورو ا بېلتون ترې اورلاندې کوینه
بدن مې وچ لکه رباب دی
زړۀ مې شابازدی اند ېښنې پرې غړومه
بدن مې وچ لکه لرګی شو
بېلتون ظالم پۀ وچ لرګي اورلګوینه
بدن یې باغ زنه منه ده
نجلۍ وړه ده د خوراک بۀ کله شینه
برالا حال ویلای نۀ شم
مینې دې پټ پۀ زړۀ راکړې دي داغونه
برا یې چېرې وې مینه
چې شالیلا د سپینې خولې کړل خیراتونه
برا یې ستاکره مېلمه وم
ترسرمې لاندې وؤد پروبالښتونه
برې بۀ خدای ستا پۀ نصیب کا
پۀ تورو څڼو مې زیارت جاروکومه
بربتونه تاوکړه خوله مې واخله
پۀ ناتاوکړو بربتو خوله نه درکومه

بر ښنا پر کېږي ابشارژ اړي
غرونو اغوستي بخملي وربښمين شالونه
بس ده چې موردې قهر وکړ
نامردې تاله مناسب نهٔ قهرونه
بس ده همد ومره جفا بس ده
له دې نه زيات پهٔ ما غريب مکړه ظلمونه
بس دی له باغ څخه بهٔ ووځو
ګنګو مانبام دی مرغۍ شنو ونو ته ځينه
بګړۍ بهٔ هلته کړه کېږدم
چې پر ميدان باندې غمازو شرموينه
بګړۍ دې ول پرول مزه که
لکه چې زلفې ول پرول مزه کوينه
بګړۍ کړه تړه اشنايه
يو خوښه ابشي بل يې پېغلې خوښوينه
بلبلان ټول پهٔ ژړا ژاړي
بورا پهٔ توره خولګۍ وخواړه ګلونه
بلبل بهٔ خدای پهٔ ګلو موړ کهٔ
غمازه ستانيمګړی نيت مې ژړوينه
بلبل بهٔ لاړشي باغ بهٔ پرېږدي

خزان دلاسه بهٔ ژړادسوزکوینه
بلبل بهٔ ولې کوکې نهٔ کا
چې يې خپل ګل دبل پهٔ لاس کې ولیدنه
بلبل پتنګ کله یو رنګ دي
بلبل پهٔ ګل پتنګ پهٔ اورکړي غورځنګونه
بلبل دزړهٔ پهٔ غم اخته شو
غوټۍ دخيال سوداکوي دزړهٔ دننه
بلبل دګل پهٔ څانګه ناست دی
دخزان بادڅخه اوس چونګکی لرینه
بلبل دګل پرډنډرناست دی
زړهٔ يې سوری ؤ ګل يې سورپهٔ وینوکنه
بلبله زړهٔ بهٔ دې سوری شي
چې دخزان شمال ګلان ورژوینه
بلبله ژر شه دیدن وکړه
خزان ظالم دی رژوي ښایسته ګلونه
بلبلې والوتې چمن ته
تو تیانوخوب دبې غمۍ ونښلاونه
بله ډبوه شه راته کښنه
زهٔ دې پتنګ ستاپهٔ دیدن راغلی یمه

بله شو نتهی دلاس کې مړه شه
چې خانتما ځان ته دې فکر شي مینه
بلې لمبې مې له زړهٔ خېژي
که څوک تو د بړي زما خو اله دې راځینه
بندیان بهٔ خدای له بنده خلاص کي
غمازه ستا بې ورخه کړهٔ ماژړوینه
بندي خانې لره مې بیا یي
ترخدای مې ځارکئ بندې یاربهٔ وینمه
بندي خانې لره مې راشه
دزولنو بهٔ مې شرنګی وي دربهٔ شمه
بنګړي مې ستا پهٔ کټ کې مات شول
که مېړنی یې اوس مې ډک کړه مړوندونه
بنګړي مې وؤ پهٔ لاس مې نهٔ کړهٔ
اوس بهٔ دیار غېږې له ځم تش مړوندونه
بنګړي نیم پورته که نیم ښکته
چې پهٔ خالي مړوند دې سر ولګومه
بنې بنتون راباندې تېر شو
زهٔ ددوزخ دلمبو څهٔ پروالرمه
بڼ له راځه زهٔ مخ کې ولاړم

ما سرې مڼې دانګکو کرلې دینه
بوټي راټول که اورپرې بل که
زمونږ دستوردی پۀ رڼا خولۀ درکومه
بوټی خونه یم چې لمبه شم
دعشق پۀ اور مې غوښې ورو ،ورو وریتومه
بوډا بۀ هېڅېرې یاد نۀ کړم
بوډا چې ځان تیاروي سبا بۀ وینه
بورا بلبل ته پۀ ژړا شو
چمن خزان شو اوس بۀ دواړه سره ځونه
بورا بۀ خدای پۀ ګلو موړ که
باغوانه ستانیمګړی نیت مې ژړوینه
بورا بۀ ولې ژړانه که
خزانه تا چې پۀ ګل وکړل چپاونه
بورا بۀ ولې کوکې نۀ کا
چې یې خپل ګل دبل پۀ لاس کې ولیدنه
بورا پۀ ګل کې رنځورپروت ؤ
پانه پکې ورته وهي چې جوړ بۀ شینه
بورا پۀ پټ بې پته نۀ ؤ
خزان پۀ ځان کړ ځکه بېل له ګله شنه

بوراد ګل پهٔ غوټۍ ناست دی
خزان پهٔ راغی پهٔ ارمان ترې والوتنه
بوراد ګل پهٔ غوټۍ ناست دی
زړهٔ یې زخمي ؤ ګل یې سور پهٔ وینو کنه
بنګو دخیال دې هسې مست کړم
چې بې پروا یې دوصال دمېوې کړمه
بوراد ګل سره جوړېږي
ګونګټه مه ګرزه دګلو پهٔ سرونه
بوراد ګل سره جوړېږي
چېرې ګونګټ چېرې دګلوصورتونه
بوړی ډک پهٔ اوربو کېږده
دښمنان ډېردي چې ډاډه درپسې ځمه
بوی بهٔ دې نهٔ کړم ښکلي ګله
چې دکارګان پهٔ خواکې ځاله اچوینه
بوی دزلفانودې لګېږي
خلک ګمان پرې دختن دمشکو کړینه
بهاریې یاره تول خزان دی
پهٔ ببلتانهٔ کې هرګل خاردسترګووینه
بهاربهٔ تل پهٔ ګلونهٔ وي

د بدن د یار دمخ کوئ خاورې بۀ شینه
بهار بۀ راشي مور. بۀ نه یو
ټول بۀ پراته د خاورو لاندې بشرونه
بهترژوندون له د بنه نشته
چې پۀ نصیب مې شي د یار سپین مړوندونه
بیا بۀ ارمان را پسې وکړې
څوورځې یمه زړۀ مې ښۀ ساته مینه
بیا بۀ پۀ چا اعتبار نۀ کړم
زما د غېږې جانان ټګ وخوت مینه
بیا بۀ پۀ منځ د کلي نۀ ځم
د مېمونې دادا ګیلې راته کوینه
بیا بۀ پۀ منځ د کلي نۀ ځم
نجلۍ د باز پۀ څېر غوټه کړي زړۀ مې وړینه
بیا بۀ دې نوم پۀ خولۀ وانخلم
که ته سردارشې او بیرغ د رپسې وړینه
بیا بۀ دې نوم پۀ خولۀ وانخلم
که دې زما رو یبارته ورکړل رخصتونه
بیا بۀ دې ورۀ کې هل ونۀ کړم
ته ماتوې د مظلومانو کچکولونه

بیابۀ زۀ تورکمیس ونۀ کړم
زماد سپیني سینې رنګ یې واړاونه
بیا زړۀ قاضي شو وبښ یې وکړ
دمیني غم دې چې پۀ ګډه یې ګالونه
بې ادبي زمانه وشوه
پۀ بې امرۍ مې دیار مخ ته وکاتنه
بې اوره وسومه ستي شوم
ملالوسترګو پۀ مااورولګاونه
بې تا پۀ ماباندې ماتم دی
برخه مې غم دی خوژړادفراق کړمه
بې تامې ځای دلبره نۀ شته
چاته بۀ ورشمه چې وکړم فریادونه
بې تا وطن شورانه پاتې
کچکول پۀ غاړۀ پۀ دیدن پسې دې ځمه
بې تورو هیڅ شی مزه نۀ کا
سخ دهغو دی چې وطن پۀ تورو خورینه
بیرته مې مه شړه نیمګړی
زۀ دې پۀ طمعه دلیدو راغلی یمه
بیرغ مې سورپۀ قبرهسک کړه

پۀ شهادت د خپل وطن جنت له ځمه
بېګا پۀ خپل کور کې ویدۀ وم
کوم لېوني لنډۍ ویشتې را ویښه یې کړمه
بېګا دې نیمه خولګۍ را کړه
ژبه مې سوځي غاښ مې ټول ورژېد نه
بېګا را نغلې بې نصیبه
چې کړې شپه ګوښې پۀ بام ولاړه ومه
بېګا زما پۀ سینه پروت وې
تا ته بۀ څنګه بې ما خوب درځي مینه
بېګا مې خوب لیدۀ جانانه
اشنا پۀ سره ډولۍ کې کورته وړې یمه
بېګا مې خوب لیدۀ ریښتیا شو
جانان پۀ ویښه پۀ ما واچول لاسونه
بېګا مې خوب لیدۀ عالمه
د اشنا برېت مې له نتکۍ تاوشوي دینه
بېګا مې خوب لیدۀ عالمه
نیمه پۀ کټ نیمه د یار پۀ غېږ کې یمه
بېګا مې خوب کې یار لیدلی
لکه غوټۍ یې پۀ لیدو وغوړېدمه

بېګامې ته پۀ خوب لیدلې

چې دې پراتۀ دي پۀ زلفانو تورګردونه

بېګامې ستا لارې څارلې

چې ته رانغلې زۀ دغمه ویده شومه

بېګاه مې مړ پۀ خوب لیدلې

سبا مې سرو شونډو پترې نیولی وونه

بېګامې یارسره وعده ده

دلاس بنګړي مې پۀ لتو تړلي دینه

بېګانۍ شپه بۀ بیا رانۀ شي

چې درسته شپۀ دیار غېږ کې شرنګېدمه

بېلتانۀ ببل پسې راوخست

چېرته زما دیارۍ بند وۀ وران یې کنه

بېلتانۀ څۀ چارې راوکړې

چې تمامي عمر بې یاره تېرومه

بېلتانۀ غرونه پۀ ژړا کړل

ځکه دځمکې پۀ سرډ کې ولې ځینه

بېلتانۀ نوی ښار اباد کړ

کۀ څوک دغم سوداکوي ورته دې ځینه

بېلتانۀ وسوم غم ایرې کړم

رضا دباد ده چې مې هرلورې ته وړینه
بېلتانهٔ وسوم هجران چورکړم
څو دوصال لښکر راځي قیامت بهٔ شینه
بېلتون بهٔ خدای زده کله راشي
زړهٔ مې د پاڼې پهٔ څېر اوس ورپېږدنه
بېلتون پهٔ جګه غونډۍ ناست دی
قلم پهٔ لاس کې دوه مین جلاکوینه
بېلتون پهٔ سپین اس باندې سوردی
نیزه بازي پهٔ مینانو باندې زدهٔ کوینه
بېلتون پهٔ لویو غرو وراوخوت
ماویل څهٔ دي دهٔ ویل کوردې ورانومه
بېلتون پرما نهٔ دی چې ژاړم
بیلتون شمال دی هره ونه ښوروینه
بېلتون پهٔ تنګه کوڅه راغی
ماویل سلام دی ده وې کوردې ورانومه
بېلتون پهٔ هرچا مېلمه کېږي
پرما چې راشي تېروي میاشتې کلونه
بېلتون پهٔ اصل شازاده دی
چې هرګړۍ ماته جانان رایادوینه

بېلتون پهٔ باندې ډېر کلک دی
پهٔ عاشقانو تل مدام کوي ظلمونه
بېلتون پهٔ لوړو غرونو راغی
راکوزېږي مه کړي موراولورجلاکوينه
بېلتون پهٔ لوی درياب لاهو کړم
کښتیۍ دوصال ماله راوله مينه
بېلتون پهٔ منځ د کوڅې راغی
پهٔ مينه ګير هلکان ډزې پهٔ کوينه
بېلتون ته وايه لاس دې خلاص دی
يارخودې بېل کۀ نوردې څۀ له لاسه شينه
بېلتون جګړې لره راغلی
ځان له د وسپنې کلا راګرځومه
بېلتون چې شته خوشالي نۀ شته
ځکه تمام عمر پهٔ غم کې تېرومه
بېلتون خنجر پهٔ لاس ولاړ دی
زۀ ناڅاپي پهٔ لاره تلم زخمي يې کړمه
بېلتون خنجرۀ د پولادو
پهٔ زړۀ مې خښ شو عرغړې دوينو کړمه
بېلتون د باب راباندې وکړ

زۀ ژړغونی د یار خواته ودرېدمه
بېلتون د زړۀ په سر سوری کړم
پۀ تور لحد کې بۀ ښېرا ورته کومه
بېلتون د زړۀ پۀ سر سوری کړم
ځکه مې اوښکې پۀ سپین مخ وهي موجونه
بېلتون د شنې لښتې ګوزار دی
رب دې وړوکې جنکۍ ترې وساتینه
بېلتون دغم ګانۍ ته ورکړم
پۀ ځای د تېلو رانه اوښکې تویوینه
بېل د کښې پۀ ښار راګډ شو
نارې وهي چې د وه مین جلاکوینه
بېلتون د مینې سوداګر دی
د اشنا قدر پۀ اشنا پیداکوینه
بېلتون دې هسې لېونی کړم
پۀ غروکې ګرزم خپل پردی نۀ پېژنمه
بېلتون رباب پۀ لاس کې راکړ
اوس بې د خیال پۀ ګوتوزۀ وشرنګومه
بېلتون رښتیا د سل مرض دی
نه ترې رغېږم نه دستی وربانده مرمه

بېلتون زما کشرې ورور دی
پۀ میراثه کې رانه یار جلا کوینه
بېلتون ښامار پۀ لار کې پروت دی
د پارو ګر جانان مې هېرشوۀ منترونه
بېلتون ظالم پۀ لار کې ناست ؤ
د کال دیدن مې یارته وور تالایې کنه
بېلتون قصاب چاړۀ پۀ لاس کې
زۀ ونډۍ کړم کور پۀ کور مې ګرزوینه
بېلتون قصاب زۀ یې حلال کړم
د غم پۀ تبر مې هډونه غوڅوینه
بېلتون قلنګ پۀ ما جارې کړ
ګوهر داوښکو زۀ دۀ ته ورکومه
بېلتون کوتوال د جبل خانې شو
عاشق مظلوم ته زولنې وراچوینه
بېلتون لوټمار پۀ لار کې ناست دی
د کال دیدن مې یار وور تالایې کنه
بېلتون د هر چا سره مل دی
زۀ تنها نۀ یم چې چې ګیله ځنې کومه
بېلتون یوا ځې پۀ ما نۀ دی

بېلتون شمال دی هره ونه خوځوینه
بېلتون مې خاورې پهٔ کاسه کړې
شیرین جانان یې رانه بیا مسافر کنه
بېلتون مې دواړه لاس تړلي
پهٔ جېلخانه کې دغم شپې سبا کومه
بېلتون مې زړهٔ ته پانې ورکړې
دغم درزونه مې تندي ته وخاتنه
بېلتونه بس کړهٔ ظلم مه کړه
زما پرد بس لالی را پرېږده چې راځینه
بېلتونه بس کهجبر مه کړهٔ
سین دې لاهو کړم پهٔ جهان دې رسوا کړمه
بېلتونه خدای دې ځواني مرګ کړهٔ
مالاجانان لیدلی نهٔ ؤ بېل دې کنه
بېلتونه خوارشې زهٔ دې خوار کړم
پهٔ مادې تېر کړهٔ دبې نیازو منتونه
بېلتونه خوارشې زهٔ دې خوار کړم
نهٔ مې اشنا شته نهٔ پهٔ مرګ درپسې ځمه
بېلتونه خوارشې زهٔ دې خوار کړم
چېرته چې زما اسرې ځای ؤ وران دې کنه

بېلتون نه څنګه دې جلا کړو
کوم موږ یانو تا ته مو ږ ښو دلې وونه
بېلتون نه څنګه دې جلا کړو
مونږ به پهٔ یوهٔ بادام کې دوه مغزونه وونه
بېلتون نه څهٔ کانې دې وکړې
پهٔ نیمایي کال دې دیاره جلا کړمه
بېلتون نه ستا زړګی دې ښهٔ وي
ترڅان شیرین جانان بهٔ زهٔ درتېره شمه
بېلتون نه ستا ګوزار عبث دی
زهٔ معشوقې لکه سندان کوټلی یمه
بېلتون نه غبرګ زامن دې ومره
چې ته غمجن شې ګوندې زهٔ دې هېره شمه
بېلتون نه کوردې راته ښیه
دزوردې نهٔ یم ننواتې بهٔ درځمه
بېلتون نه مخ دې چاته مه شه
ماته دې مخ شو ددوهې ملنګ دې کړمه
بېلتون نه مهٔ کړه ډېر ظلمونه
جانان راپرېږده سپینه خولهٔ مې زنګ وهینه
بېله بهٔ یم بېله بهٔ ژاړم

ببیله بهٔ مرم ببیله بهٔ قبر لره ځمه
بې له جانانه پهٔ سره کټ کې
لکه چې ځای مې د دوزخ پهٔ منځ کې وینه
بې له دیدنه بهٔ روغ نهٔ شم
که پهٔ بارو بارو دې راشي کاغذونه
بیه د بازرانه پرې لاړه
اشنا ګونګی وخوت تاوان را باندې شونه
باد د جانان له لورې راغی
زما زړګی چې مړاوی ؤ پرې تازه شومه
باران داوښکو پهٔ وربږي
لمبې د زړهٔ مې شرارې نهٔ پیژنینه
بانهٔ دې غشي د یارۍ دي
زهٔ دې دوروځو پهٔ لیندۍ ویشتلی یمه
باور پهٔ مامه کړه جانانه
زیړ رنګ مې ګوره چې مین دربانې یمه
باهو پهٔ لاس ګوتې پهٔ ګوته
زرګره ټوله دې یارۍ ته جوړه کړمه
بدي د بدو خلکو کار دی
څوک چې نیکان وي هغوی بد نهٔ قبلوینه

برق يې د مخ له اسمان پاڅېد
اور يې زما د زړهٔ په ښارو لګاونه
برى بهٔ راوړي کهٔ خداى کاندي
ځلمي د ننګ جامې پهٔ تن ميدانته ځينه
برى بهٔ مومې زړهٔ دې کلک کړه
پهٔ بې زړهٔ توب برى نهٔ شته مينه
بروزي دې ډېره راته راوړه
د بېلتانه ځمکه مې ډډې سولوينه
بس کړه پهٔ دغه ځاى يې پرېږده
څوک چې ښايسته اشنا لري غمګين بهٔ وينه
بس کړه جانانه جفا پرېږده
ستا پهٔ جفا باندې ستې بې اوره شومه
بس ده پهٔ دې يې فيصله کړئ
وطن ترې واخلئ انګرېزو شړئ چې ځينه
بوراد ګل پهٔ ډنډ رناست ؤ
زړهٔ يې سورى ؤ تو بدل ترې سرهٔ لالونه
بوراد ګل پهٔ مخ مين دى
ځکه څيرلى ګرځوان هرځاى ګرځوينه
بوراد ګل پهٔ بوى راغى

ګل بې بوی نۀ کړ خارېږ وخوت تر څنګونه
بیابۀ یاري دچتې نۀ کړم
ما چې دچتې یاري کړه رنځورېږ کړمه
بېلتون داور له لمبو سوردی
ځکه مې رنګ له سوي سکوره بد ترشونه
بېلتون دچا سره بد وکړۀ
کم اصل یار دې سرې غوځ کړي اندامونه
بېلتون مې زړۀ ته پانې ورکړې
دهرګوزار سره سرې وینې غورځومه
بېرته پۀ تېښته راغلې یاره
ستا پۀ یارۍ له بڼې سپکه شوم مینه
بېله بۀ یم بېله بۀ اوسم
بېله بۀ ژاړم بېله بۀ اوښکې تویومه
بې ننګي تا وکړه جانانه
دجینکوپېغوردې ماته راوستنه
بې ننګي مه کوه جانانه
پۀ بې ننګۍ جنګونه چاګټلي دینه
بې وفا یار مې زړۀ سوری کړ
پۀ تورلحد کې بۀ ښېرې ورته کومه

## له پ تر ت

پاچائي تخت مې پۀ کارنۀ دی
مادې دیارلۀ ښنګه نۀ جداکوینه
پاچائي تخت مې پۀ کار نۀ دی
جانان دې لوکړي زۀبۀ وږي تږلومه
پاس پراسمان راشه رامداره
دا سمې لارې راښېزونيولې دینه
پاس پراوږودې منګی مات شه
چې د سینې پۀ خوړ دې راشي سېلابونه
پاس پربام مه خبږه کوترې
پورته اسمان کې بۀ شین لمرشرمنده شینه
پاس پۀ بلۍ کوترې راغلې
زۀ پۀ پوړو دیارپوښتنه ترې کومه
پاس پۀ تیراوره بارانه
د پېښورپۀ برخه سېل دی رابۀ شینه
پاس پۀ سینه ځای راته جوړکه
مزل وهلې ځمکه ځای نۀ راکوینه

پاس پهٔ کمرهٔ ولاړه ګله
نصیب دچاییې اوبهٔ زهٔ د رخېژومه
پاس پهٔ کمرهٔ ولاړې زرکې
بازمې رنځوردی لهٔ خولې وینې تویوینه
پاس پهٔ ګودرد پېغلوجنګ شو
د سورسالومېرمنې ماتې ګډوینه
پاس پهٔ اسمان کې ډزې وشوې
چاویل ملوک دی دبدرۍ سلام ته ځینه
پاس پهٔ اسمان کې ستوری زهٔ وای
نجلۍ وبه وای مایې وکړای دیدنونه
پاس پهٔ اسمان کې مرحباشوه
محمدوخوت داﷲدیدارته ځینه
پاس پهٔ اسمان کې ستورې ښکارې
اشناویدهٔ دی مایې وکړل دیدنونه
پاس پهٔ اسمان کې ګړزهارشو
جینکۍ ژاړې کشمالې ړاۍ وهینه
پاس پهٔ بنګله کې فریادخېژې
یارنځوران دې یامین ببل شوې دینه

پاس پۀ هوا راشه جانانه
دا کوزې لارې ببلتانۀ نیولې دینه
پاس دا سمان ستوروته ګوره
پرتامې دومره دي د سپینې خولې پورونه
پالنګ د سرونالی دزرو
لیلا د سروزروغنچه خوب پۀ کوینه
پالنګ دیارسره ښۀ ښکارې
نۀ مې خوښېږي دابې یاره پالنګونه
پام کوه واردې خطانۀ شې
د ګلوڅانګه دې پرسرولاړه یمه
پانسی دزلفوماته راکړه
زۀ ببلتانۀ پۀ مرګ خوشاله کړم مینه
پاولی دیخ سینه دې تخت دی
چې درنژدې شم زړۀ مې یخ لاندې کوینه
پتنګ پۀ خاص څراغ مین دی
ښایسته خولمردی ځان پرې نۀ کبابوینه
پتنګ خویوځل شهید شوی
افرین ماته چې مدام سوزم مینه
پتنګه خاورې دې پۀ سرشوې

شموته جوړ شوۀ په ښيښو کې مقامونه
پتڼ په منځ د بازار راغی
شمعې مخ پټ کړو يلې نۀ دې پېژنمه
پتڼ لۀ ما نه زده کړه وکړه
ځکه خپارۀ وزرونه شمعې له ورځينه
پتڼ لۀ شمعې په څنګ نۀ ځي
زۀ به د يار له غمه ولې پر څنګ ځمه
پتڼه راشه کۀ پرې سوځې
ستا د اجل شمعه په لاس کې ګرځومه
پټ به دزړۀ دردونه تېر کړم
بې درده يارته بۀ ونه وايم حالونه
پټ به د يار لۀ غمه ژاړم
چې مې په درد ظالم خبر نۀ شي مينه
پټ به د يار لۀ غمه ژاړم
پټې بۀ وينې لړمانۀ ته تېرومه
پټ کرمونه د رب ډېر دي
جانان ته وايه وار خطانۀ شي مينه
پټکی پر منځ دوروځو کېږده
وطن پردی دی چې ډاډه درسره ځمه

پټکی پر منځ دوروځو کېږده
زۀ دهمزولو پۀ ټولۍ کې ناسته یمه
پټ مې پۀ زړۀ کې ډېر یادېږې
دچادمخه ښۀ راغلی نۀ درکومه
پراخندګل مې سلام وایه
زماجانان راته راپرېږده چې راځینه
پرادې مورېې سلام وایه
پرمېراتي بورجل مې وکړل ګلونه
پراشناسپین کفن غوړېږي
پرماورېږي دسکروټو بارانونه
پراوبۀ خوردې زلفې پرېولې
پرنري باد یې وچوې رنځوردې کړمه
پراورخوهلته سړی سوزي
چې یومین وي بل پرواپرې نۀ کوینه
پرایوب خان مې سلام وایه
دادی جانان مې کومکي درولېږنه
پربام خوهسکه ټیټه کېږې
دزنې خال دې پۀ پرچال وسولاونه
پربام دې شنې کوترې ناستې

زما د زړۀ کوتره نه شته مړه بۀ وینه

پر بام ولاړه یم زنګېږم

د خوبه نۀ یم د یار غم مې زنګوینه

پر بام ولاړې هوادارې

مرګی دې هېر دی پۀ اوربل وهې لاسونه

پر بام ولاړه یې نازکې

مرګی دې هېر دی که د خوب نن زنګوینه

پر بل وطن مې نه لوربېږې

کۀ د نو کرور سالې د رپسې ځینه

پر بلی لوخ مخ مه د رېږه

سپوږمۍ شرمېږي مخ پۀ وربځو پټوینه

پر بېلتانۀ بۀ روغه نۀ کړو

بېلتون ظالم دی ما او تا جدا کوینه

پر بېلتانۀ مې ځان شاګرد کړ

ما لاشروع پۀ کړې نۀ وه عاق یې کړمه

پر پالنګ پاس د رسره ناسته

کوزه چې نۀ شي چېرې تانه ګیله منه

پر پخوانې اشنا بۀ ورشم

غږ بۀ پرې وکړم که پر هغه مینه وینه

پرپیربابۀ ورغوړېږم
که مې قبول کا د الندي لنډي سوالونه
پرپیغمبرمې سلام وایه
امت دغرق شو دګناه پۀ دریابونه
پرتوپ خاتۀ راته اسان دي
دیارپۀ تش کتو مې زړۀ وربېږد ېدنه
پرتوراوربل دې ږلۍ وشه
چې د سینې پرمخ دې وږي تولومه
پرتورپیکي دې خاورې واوړه
روغه نجلۍ وم لېونۍ دکړم مینه
پرتوروبدمه وایئ خلکو
بورا پۀ توره خوله ګلونه بویوینه
پرتوروخاوروسلام وایه
اشنامې ګل دی ګل بۀ نۀ خاورې کوینه
پرتوروسترګو دې مین کړم
بیادې پۀ زلفو کې دعمربندي کړمه
پرتورلحد مې سلام وایه
چې خاورې نۀ کړې دځوانانو بشرونه
پرتوریالیو مې زړۀ سوځي

سبا ته جنګ دی توريالي وورکي بۀ مرينه
پر تيرامه اوره بارانه
چې لمدوې د جنکو د سرشالونه
پرجنازه مې بيرہ وکړئ
ناوخته کېږي نا اشنا وطن ته ځمه
پرجنازه مې تلوار وکړئ
ناوخته کېږي د اشنا ديدن ته ځمه
پرجهان ډېر غمونه شته دي
بې لۀ هجرانه ټول غمونه اسان دينه
پرچا چې رحم د خدای وشي
د عمرورک جانان يې غېږې ته ورځينه
پرچپرکټ را سره کېنه
پر صراحي غاړه مې وا چوه لاسونه
پرچلم دوې سکروټې کېږده
لکه دوې بنې پۀ سيالۍ خولۀ ورکوينه
پرچلم راغله کش يې ورکړ
لۀ جنجالي پېزوان يې شنې لوخړې ځينه
پرچمن ستا دراتلوغږ دی
ګل پۀ لړزه شو چې خزان ولګېدنه

پرحال مې مه کوه پوښتنه
لکه پرد ښس مړی زهٔ پروت یم بې کفنه
پرحریري کاغذ د پاسه
پهٔ زرافشان قلم لیکم د یارغمونه
پرخپل جانان مې زړهٔ خوږېږي
چې پردښتو بهٔ یادوي شینکي خالونه
پرخوږ اشنا مې سلام وایه
بیاورته وایه چې مې هېرنهٔ کړې مینه
پرځنګل سرراسره کېږده
پرصراحي غاړه راواچوه لاسونه
پرځان د ګلو لښته نه اخلې
پرمادې تېرکړل د کوتکو ګوزارونه
پرځان مین یې پرمانهٔ یې
یاري پهٔ داسې مینونهٔ کېږي مینه
پرد الوی غرهٔ وروختمه
نهٔ مې غم کم شونهٔ مې وکړهٔ دیدنونه
پردنیاتول د سړونشته
تول د پیسودی مسلیان خانانوینه
پردنیاډېرې خوشالۍ دي

بې لۀ وصاله نورې ټولې عبث دينه
پردنيا سره ورانګه پرته ده
ليلا پۀ څنګ کې لاله ټومبلې دينه
پردنيا ښۀ راسره وکړه
پۀ اخرت کې دهرچاګوښې کورونه
پردنيا غم کله ښادي وي
پرماهمېش دغم جنډې ولاړې دينه
پردېره ته راشه زرګره
هلکان ګوتې جوړوي نجونې ششتونه
پردېسان ټوله راايله شوۀ
لالی رانغی واورې پرېوتې پرغرونه
پردېسه وخته وغروته
سترګې يې خارکړي زړۀ يې غم غلطوينه
پردېوال دوې کوترې ناستې
يوه کوکوکړي بله ځان سمبالوينه
پردېوال مه ږده قدمونه
خلک پوهېږي بيابۀ وايې تومتونه
پردېوال نيمه راښکاره شوې
پۀ نيمايې صورت مې اورولګېدنه

پر دین محکم د پاک حضرت شه
چې شفاعت دې د قیامت پهٔ ورځ کوینه
پر دی وطن پهٔ هرچا غم وي
ما پهٔ پردي وطن کرلي دي ګلونه
پر د بوال هسکه شه خولهٔ راکړه
یو همزولتیاده بل مین دربانديې یمه
پر دی وطن دی زړهٔ مې تنګ دی
ما ته رخصت راکړه چې خپل وطن ته ځمه
پرزړهٔ بهٔ لویهٔ تیږه کېږدم
د استالهٔ لورې بهٔ یې ورو ورو صبرومه
پرزړهٔ سوری ترې کورته راغلم
د جانان بد مې پر لېمو منلي دینه
پرزړهٔ مې اور د ګرګو بل دی
د او سیلو پر ځای سکروټې تو یومه
پرزړهٔ مې بار د غم انبار دی
هسې مخلوق ته پهٔ خندا ولاړه یمه
پرزړهٔ مې ته بانې مې نورې
کلي کې ګرځم ما شومان کرارومه
پرزړهٔ مې خاورې کوټنۍ شوې

اغزي پرې شنۀ شوۀ اوس مې خوب ته نۀ پرېږدينه
پرزړۀ مې څۀ بلا تېرېږي
عالم ته روغه پۀ خندا ولاړه يمه
پرزړۀ مې ځای د داغونشته
داکبرجن اشنالانورپرې راکوينه
پرزړۀ مې ډنډ دوينوجوړشو
پۀ لړمانۀکې مې دوينوولې ځينه
پرزړۀ مې ډېردي ارمانونه
پوره بۀ نۀ شي زۀ بۀ تورې خاورې شمه
پرزړۀ مې ستاد جفا غرېږدی
پۀ تورلحدکې بۀ ښېرا درته کومه
پرزړۀ مې سرې منګولې کېږده
کۀ د سرسام پۀ تبه پروت يم روغ بۀ شمه
پرزړۀ مې شنه پيشو لګيا ده
وينه يې وڅکه اوس هډوکي شپېلوينه
پرزړۀ مې شنې لوخړې راغلې
لکه پۀ شين اسمان چې وريځ راغلې وينه
پرزړۀ مې خښ د غم خنجر دی
چې مې رايادشي دليلا شينکي خالونه

پرزړهٔ مې غبرګې ګوتې کېږده
چې غم پرما او که تا د ږړدی مینه
پرزړهٔ مې غم غم انبارانبار دی
عمرمې خواردی چې لهٔ یاره جدا یمه
پرزړهٔ مې لیک داشنانوم دی
داوبوغوړپ کولی نهٔ شم وران بهٔ شینه
پرزړهٔ مې غم سترګې مې ژاړي
بانهٔ ولاړ دي اوښکې غواړي رخصتونه
پرزړهٔ مې مه وهه لاسونه
زړهٔ مې زخمي دي خونړی بهٔ شې مینه
پرزړهٔ ویشتلی بهٔ جوړنهٔ شي
کهٔ د شکرو ورته جوړکړم ملهمونه
پرزکندن مې حاضر نهٔ شوې
ترجنازې لاندې مې مهٔ ځه مختورنه
پرزکندن بهٔ مې ارمان شي
که درانکړهٔ د سرکو شونډو سرونه
پرزکندن دې ارمان مهٔ شه
ترتا بهٔ ځارکړم د سرکو شونډو سرونه
پرزکندن مې را حاضر شه

بیا تر قیامته پورې نشته دیدنونه
پرزکندن مې را پخلا شه
چې ارمانجن مې ګورته کوز نۀ کړې مینه
پرزکندن مې را حاضرشه
وروستی دیدن دی زۀ یې تاسره کومه
پرزکندن مې را حاضر شه
پرخمارو سترګو مې ونیسه لاسونه
پرزکندن مې را حاضر شه
چې دې مخ تصویر لحد وته یوسمه
پر زلفو وروږمنځ راکاږه
هلته زما دزړګي کوردی وران بۀ شینه
پرسپېرو بد مه وایه مورې
سپېرې دې خاورې چې ګلونه شنۀ کوینه
پرسپین میدان بۀ درسره یم
زۀ پښتنه لۀ تورو نۀ تښتم مینه
پرسپین هلک مینه شومه
مشرېې کوم دی ننواتې بۀ ورځمه
پرسپینو تورو ورګډ ېږه
ما پۀ همزولو پورې د ېرخندلي دینه

پرسر ببر ېږي راتلی نۀ شي
څوک چې ياري کړي سرپۀ لاس کې ګرځوينه
پرسر دې شال مخ دې مشال دی
نوم دې خوشال دی پۀ ديدن پسې دې مرمه
پرسر دې شال دی مخ دې مشال دی
داڅووم کال دی چې مين دربان دې يمه
پرسر دې کوم جلات ولاړ دی
چې دې زمالۀ ياری واخسته لاسونه
پرسر دې توره کاغی ګرځي
دجانان شپې ورځې نژدې دي رابۀ شينه
پرسر مې سپين پړونی پروت دی
دننه زړۀ مې پۀ سرتورې ويرکوينه
پرسرمې مه وهه لالیه
تورې کوځی مې دادا لۀ کوره دينه
پرسفرتلې درجګه نۀ شوم
مادې خدای شله کړي پۀ دواړه زنګنونه
پرسنګربياټکونه وشول
مېړۀ بۀ مري موزي بۀ بياکورته راځينه
پرسينه يولالی ځايږي

زۀ لونګین او مین دواړه ځایو مه
پرشرع ټینګ د پاک حضرت شه
ورځ د محشر شته شفاعت بۀ دې کوینه
پرعاشقانو رحم وکړئ
پۀ نیمو شپویې لۀ خولې خبږي فریادونه
پرعاشقانو زړی وشو
وصال پا چاشو بېلتون قېد د عمر شونه
پرغټه وخبږه ځاروکړه
چې د نیا زمنو کدې ځي که اړوینه
پرکتاب پروت جانانه ګوره
اوښکې مې توی شوې د کتاب پربیاضونه
پرکلا غنی راته مه ړده
د عاشقانو لارې چانیولې دینه
پرکلا نیمه راښکاره شوه
پۀ نیمایې صورت مې اورولګېدنه
پرکوڅه تېرشوم ګنهګار شوم
شرنګاریې خبږي زولنې راته راوړینه
پرکوڅه تېرشوم ګنهګار شوم
مالا اشناونۀ لیدۀ لاس مې تړینه

پر کو څه تېر شوې بیا را تېر شوې
نصیب دې نۀ ؤزۀ پر بام ولاړه و مه
پر کو څه ښکته پو رته کېږې
لا ر دې ژو ره که او بۀ را ستنو ینه
پر ککرۍ مې وینې را غلې
پاس پۀ تندي مې بازدغم کو ترې خو رینه
پر کنډو او رې پنا کېږې
دا سو رسا لو دې با د و هي ژړا را ځینه
پر کنډو ښه شوې را ښکا ره شو ې
چې ترې پنا شوې سل کلن رنځور دې کړ مه
پر کنډو او رې پنا کېږې
پنا دې مه شه د سا لو سرۀ پلو و نه
پر کنډو کې دې غنی کېښوئ
زۀ د بخمل پنې لرم د رو ا بۀ و ړ مه
پر ګړ نګو د ر سره تللای
چې ته لو بد ای ما دې نیو لای مړ و ند و نه
پر ګلاب نا ست بو را ته وا یه
ګلو نه ژ ر ژ ر بو یو ه خزان را ځینه
پر ګو د ر سپینه سپینه او رې

پهٔ سمه لاره تېرېدم ودې وېشتمه
پرګودرسورسالوښکاره شو
ماویل تورواوبوااورواخست مینه
پرګودرنښه راته کېږده
چې شالیلامنګی پهٔ سوري ډکوینه
پرګورستان مې سلام وایه
چې خاورې نهٔ کړې دجانان صدف غاښونه
پرګورستان مې سلام وایه
چې خاورې نهٔ کړې دځوانانو تورسرونه
پرګورستان مې سلام وایه
چې خاورې نهٔ کړې دجانان نرې بربټونه
پرلارې تلې کږه وږه شوې
لهٔ ډېره خیاله دې ژېړګل وشرماونه
پرلارې تلم مړاوی ګل پروت ؤ
مادځوانۍ لوبې پرې کړې تازه مې کنه
پرلارې ځم بدن مې رېږدي
رنځوره نهٔ یم دیارغم مې رېږدوینه
پرلارې ځم شرنګامې خېژي
ستادتومت ځنځیرپهٔ غاړه ګرځومه

پرلاڔې ځم ګوره زنګېږم
ماداشنادخولې معجون خوړلي دينه
پرلاړې ځم شاته ګورم
دابې وفاجانان بۀ کله وينمه
پرلاړې ځم ګوتې مې موښلي
زۀ داشناروغۍ راستۍ وهلې يمه
پرلاړې ځم ټوله زنګېږم
دخوبه نۀ يم دیارغم مې زنګوينه
پرلاړې ځم سرمې زنګېږي
ماداشنادخولې ماجون خوړلي دينه
پرلاړې ځمه نۀ پوهېږم
وړوکی يارپۀ سفرځي ماژړوينه
پرلاړې سرې منګولې راغله
زړۀ يې دچاپۀ ګوتوراوړمړبۀ وينه
پرلاړې راغلې مخ دې پټ کړ
دګلولښتې زۀ دې ونه پېژندمه
پرلاړې ګوډه ګوډه راغله
دبخملي پڼويې تنګ دي بادامونه
پرلوړوغروبۀ سره خېژو

پۀ زنګنو بۀ ژړېږ ګلونه ماتونه
پرلوړو غرو د رپسې ګرځم
نۀ مې د يدن شي نۀ مې لږ شول غمونه
پرلوړه مه کښېنه مينه
ځان بۀ رسوا کړې ما بۀ ورک کړې لۀ وطنه
پرلوړه مه ګرځه کوترې
بازدې رنځورکړدزړۀ وينې تو يوينه
پرلوړه وخېژه ښاروکه
چې د پرد ښسوکډې چېرې اړوينه
پرلو يو غرو بۀ شمه پورته
که را ښکاره شي دا ښنادکوربرجونه
پرلو يو غرو دجانان شورشو
ښکته لانده شول دلونګو درمندونه
پرلو يو غرو دخدای نظردی
پرسريې واورې اوروي
پای يې ګلونه پرليلا هرڅوک مينږي
سخ دهغودی چې ليلاپرې شي مينه
پرما هغه ورځ دا خترده
چې شيرين يارمې دډولۍ پۀ مخ کې ځينه

پرماد مهر نظر وکړه
سنګ فارس بدن مې خاورې اېرې شونه
پرمادې ځوانه ځواني اورکړه
پرتادې اورشي د ځوانانو مجلسونه
پرمادې کلی ګوماني کړ
ناترسې مه خوره د منګي لاندې څرخونه
پرمادې زړښندلي نۀ دي
چې د څراغ پۀ رڼا غوا ړې ديدنونه
پرمارڼا ورځ توره شپه ده
چې رانه پټ شي ستاد سپين مخ ديدنونه
پرمالا باد د دنيا لګي
پريارمې پرېوتل د خاورو انبارونه
پرمخ دې بيا سرخي پيدا شوه
لکه پرواوره چې د وينو څاڅکي وينه
پرمخ دې څاڅکی د باران دی
ماخوګومان د مرغلرو پرې کاونه
پرمخ مې ژړژړ کفن خپور کئ
ناوخته کېږي اوس بۀ لوی سفرته ځمه
پرمخ مې سېل داوښکو راغی

دزړګي صبربۀ مې يوسې څۀ بۀ کړمه
پرمخ مې سرې اوښکې بهېږي
دسرو ياقوتو مهماني اشناته وړمه
پرمخ مې اوښکې دغم راغلې
داشناغم پرمخ څپېږې راکوينه
پرمخ مې پشم دخولو دی
نۀ پرې پوهېږم چې خولې دي که ګلونه
پرمخ مې د ږرې اوښکې راغلې
دپخواني اشنا رويبارمې وليدنه
پرمخ مې مه وهه ظالمه
دژړاه کې سترګې چاته واړومه
پرمخ مې وروژبه راکاږه
مخ مې تنکی دی ستالۀ ژبې سره ځينه
پرمخ يې پشم دخولو دی
خلک ګومان دمرغلروپرې کوينه
پرمخ يې داسې پرهارکېږده
چې دمالت نجونې يې راشي پۀ پوښتنه
پرمخ يې پرخه دخولو ده
لکه شبنم چې دسهارپۀ ګلووينه

پرمخ يې داسې پرها رکېږده
چې د غرمې خولې پرې ډنډ ولاړې وينه
پرمخ يې سپينې روپۍ زانګي
نجلۍ پۀ څنګلاس وهي يارله ورځينه
پرمسافرمې زړۀ خوږېږي
زمالالي دی مسافرمحتاج بۀ وينه
پرمسافرومې زړۀ نه سو
اوس مې پرې سوځي چې مې يار مسافرشونه
پرملانرۍ پۀ رنګ ژړۍ ده
موريې دژېړې غوا شودې ورکړې دينه
پرمورچل نبغ ورځه ټيټ نۀ شې
ښايسته ځلمی له مرګه څنګ نۀ کړي مينه
پرمورچل هغه ځلمی خېژي
چې يا مين وي يا يې پېغله ناسته وينه
پرموزيګې مې پېرزونۀ شې
دخاوروختې شې چې دعادرته کومه
پرمولوي مې سلام وايه
زماجانان له کتاب خلاص کړه چې راځينه
پرمېږتون باندې مې شپه وای

یاررا سره وای زۀ بۀ تل خوشاله ومه
پرمین مه کړئ ملامته
چې خدای مین شو پیغمبریې پیدا کنه
پرناقابل طبیب مې مخ شو
خوږ مې دزړۀ دارو دسترګورا کوینه
پرنړېدلو قبرو راغلم
ځوانان پراتۀ دي ددیدن درخواست کوینه
پرنیمو شپو دسپوږمۍ پاشوه
پۀ باوري یارمې باوردی رابۀ شینه
پروسږ دامهال ژوندی وې
سږخو دې ورکړل تورو خاورو ته څنګونه
پروطن ستادراتلو غږ شو
ما پۀ خپل کوردګلو فرش وغوړاونه
پروطنو ورکه جانانه
چې نۀ دې نوم شته نۀ دې بوی شمال راوړینه
پرون پرپورې کلي راغلم
دشاليلا اوربل يې بل ته جوړاونه
پرون دګل پۀ شان تازه وم
نن پرې بېلتون ظالم خزان ولګاونه

پرون دنیاوه نن قیامت دی
چې زۀ ولاړه جانان غواړي رخصتونه
پرون لادامهال دلې وې
نن بۀ دې چېرې بادوهي د پګړې ولونه
پرون لادامهال ژوندی وې
نن دې پرشنا ختو بلبلان نارې وهینه
پرون مې خوله نۀ درکوله
نن مې رضاده ستاصفت مې واورېدنه
پرون یې قول دخولې راکړ
چې مرورشو بېنوا ترې پاتې شومه
پرهد بره دمړوراغلم
ماویل سلام یاروې سلام نه قبلومه
پرهد بره دمړوراغلم
وژلي خدای وؤ غرېبې ماته نه کاونه
پرهد بره راشه زرګره
ځوانان بۀ ګوتې جوړوي نجونې ششتونه
پرهرچاخپل وطن کشمیردی
ماته کشمیردي دجانان دوطن غرونه
پرهغه یارمې سلام وایه

چې د ماښام ډوډۍ د اوښکو سره خورینه
پر هندوستان خوشاله ګرځه
ترله دې خپله پۀ نامۀ دې نا سته یمه
پر هندوستان دې ځلی جوړ شه
د نامردۍ ځواب دې مه راځه مینه
پر هر چا خپل وطن کشمیر دی
ما ته وطن کې چې ته نۀ یې تنورشینه
پر هندوستان خوشاله ګرځه
زۀ بۀ د اتورې سترګې ستا پۀ نام نا سته یمه
پر یارمې بد دي ثابت کړي
چې هره ونه د ګلاب دی بویوینه
پر یارمې هغه نښه وایه
چې چوتۍ ځنۍ پر پالنګ د روختمه
پر یارمې ترخې زرغونې شوې
زۀ یې د ژوند هیله لرم چې رابۀ شینه
پر یارمې سپین کفن رغبړي
پر ما اوربړي د سکروټو بارانونه
پر برده چې اوښکې مې بهبړي
مرګ مې لیدۀ جانان مې نۀ پخلاکاونه

پرېږده چې اوښکې مې بهېږي
بار د غمونو مې د زړۀ نه کموینه

پرېږده چې خاورې مې خوراک شي
د شیدو غړپ مې پۀ د ېوال تو کړی د ینه

پرېږده چې خړ سېلاب مې یوسي
پۀ لامبوزن اشنا بۀ ډېره نازېدمه

پرېږده چې ځیرې ګرېوان ګړځم
د عاشقانو برخې خوارې وي مینه

پرېږده چې ځیرې ګریوان ګرځم
اخر بۀ زړۀ راباندې وسوزې مینه

پرېږده چې زۀ ذرې ذرې شم
چې پۀ نامردو نازېدم وشرمېدمه

پرېږده چې غم زما پۀ سر وي
چې تل یارې د بې وفا خلکو کومه

پرېږده چې لوی ښامار مې وخوري
پۀ پاړو ګر اشنامې ډېره نازېدمه

پسرلی راغئ ګلان ډېر شول
د اوربل ګل بۀ خپل اشنا لره وروړمه

پسرلی راغئ ونې شنې شوې

زما د زړۀ ونې رږلې وهلې دينه
پسرلی راغی ونې شنې شوې
زمانا ښادزړګوتې واورې اوروينه
پسرلی زما پۀ نيمه خواشو
زما پۀ شنا ختوپورې وتړۀ ګلونه
پسرلی بۀ ستالۀ کبره خوارشي
پۀ زرغونوجستودې مات کړۀ زبړګلونه
پسرلی ښۀ باران يې بد دی
نجلۍ وا ښۀ کړي تور اوربل يې لمدوينه
پښتانۀ واړه شنه زمريان دي
چې ځای يې راشي پۀ سيالۍ تورې وهينه
پښتانۀ واړه سره يو دي
ورک دې نفاق شي چې بۀ دوی جلاکوينه
پښتوکوه که ته پښتون يې
ما پر پښتو باندې ګاللي دي غمونه
پښتنوبيا خولۍ کږې کړې
پر دښمنانو بۀ بيا جوړکي ناتارونه
پښتون بۀ ولې تورې نۀ کا
چې د ميړانې نوم يې تللی پۀ ملکونه

پښتون پهٔ توره کې پیدا دی
پهٔ توره لوی دی هم بهٔ مړ پهٔ توره شینه
پښتون د جنګ پهٔ ډګر مړ شو
پښتنې نجونې يې پهٔ وینو ږدي خالونه
پښتونستان کې غلغلې شوې
ځلمیان ټولیږي پهٔ وطن سرورکوینه
پښتونستانه اباداوسې
څوچې پښتو پهٔ دنیاوي تابهٔ ساتینه
پښتنو خدای ته سرسرتورکئ
چې خپل کرم د ننګیالي ملګری کړینه
پښتنو سرو مال قربان کړئ
چې خپله مېنه مو پردی، نهٔ شي مینه
پښتنې پېغلې خوشالي کا
چې ځلمیان کاندي دانګریزسره جنګونه
پښې پرې کرارږدئ خاورې نهٔ دي
هغه ځلمي دي چې کارۀ لهٔ خیاله تلنه
پل صراط بهٔ ورته نیسم
پهٔ مرسلانو کې سرداردی رابهٔ شینه
پل صراط بهٔ ورته نیسم

پرمرورا شنابۀ غېږ وکړځومه
پلودې ځان پسې راکاږې
زما ګمان دې مېلمنې درباندې شونه
پلوه ستانه مې زړۀ بدشو
مخ ته مې راغلې ومې نه شول دیدنونه
پلیته وسوه تېل تمام شول
اوس مخ راواړوه چې ستا پۀ رڼا شمه
پورته بلې ته نظروکړه
دکشمالو پۀ خېرکړه ولاړه یمه
پورته دسین غاړه رانیسه
زۀ بۀ منګی پۀ لپوورو ، وروډکومه
پورته زیارته رارسېږه
دسوات لۀ سره پۀ عرضې راغلې یمه
پورته پۀ ناورا پسې راشه
کۀ سپینه خولۀ خورې کۀ دپوخوکنډکونه
پوره دې نۀ کړه خپله هوډه
پۀ نیمه لارکې دې زنګون ولګاونه
پوښتې مې ماتې شوې یارې کې
مورته بانه کړم چې بربښ کوي مینه

پورې کمرۀ کې زېږه ګله
یا بۀ دې پرې کړم یا بۀ ځان وغورځومه
پۀ احتیاط پۀ رو د ګله بېږه
یو یې لۀ موره چېرې غرق نۀ شې مینه
پۀ اخرت بۀ اشنا غواړم
دنیا فاني ده لاس مې ونه رسیدنه
پۀ اخرت بۀلالی غواړم
پۀ دې دنیا یې ظالمان نۀ راکوینه
پۀ اخرت بۀ جانان غواړم
پردې فاني دنیا یې رانۀ کړل لاسونه
پۀ اخرت بۀ اجر غواړم
پردې فاني دنیا مې تېر کړل زحمتونه
پۀ اخرت بۀ ورته ګورم
نوی مین یم پۀ دیدن نۀ مړېږمه
پۀ اخرت چې خدای قاضي شي
زۀ بۀ لو مړی عرض پر جانان باندې کومه
پۀ اخرت چې خدای قاضي شي
زۀ بۀ دفتر د بې کسۍ وغوړومه
پۀ اخرت چې خدای قاضي شي

زۀ بۀ کاغذ ستا دجفاوړاندې کومه
پۀ اخرت خوارشې ریباره
لېږلی ما وې بند دې ځان ته وتاړنه
پۀ اخرت خوارشې غمازه
پۀ ایرو پټ اوردې لاړۀ پرې ودې سومه
پۀ اخرت کې بۀ نارې کړم
چې نادانې وه پۀ ګناه نۀ پوهېدمه
پۀ اخرت کې بۀ دا وایم
چې یاررانۀ کړۀ دسرکو شونډو سرونه
پۀ ازلې قلم مې بایلو
خوشې دعوه دبېلتانۀ سره کومه
پۀ اسمان ځمکه کې غایب شوې
زما ورکه یاره ګوره تا پسې بۀ مرمه
پۀ اسمانونو کې غوغاشوه
دمدینې سردارد خدای دربارته ځینه
پۀ اسمانونو کې واوره نۀ شته
زمانابنادزړګی واورې اورووینه
پۀ اشنایي دې نازېدمه
پۀ جدایي دې لکه ګل وربږېدمه

پۀ لویو غرونو کې مې مېشته شوه
غنچې د ګلو بۀ اشنالره لېږمه
پۀ لویو غرو د خدای نظر دی
پۀ سریې واورې پۀ لمن زېړې ګلونه
پۀ لېونتوب دې نۀ وېرېږم
پۀ زړۀ مې ګرځې تومتې نۀ شم جانانه
پۀ مامته کې دې خندا شوه
ستا پۀ ملاله خندا کورونا زېد مه
پۀ مادې څۀ وکړۀ چې لاړې
ځان دې پخپله بې دیدنه کړمینه
پۀ مادې څۀ کړې بلاده
پرمخ مې غبرګې اوښکې ځي خوله درکومه
پۀ مادې څۀ کړي دي خدایه
چې نور دې ګل کړۀ زۀ غوټۍ ولاړه یمه
پۀ ماکانې د ققنس وشوې
پرمېروډ کې ټولوم ځان پرې سېزمه
پۀ مټېزتوب درسره نۀ ځم
پۀ پاکه مینه درسره یم څو چې یمه
پۀ مخ دې پشم د خولو دی

خلک ګمان د مرغلرو پرې کوینه
پهٔ مخه راغلې مخ دې پټ کړ
ګناه مې وایه چې توبه پرې وکاږمه
پهٔ بهٔ کوم سړی خفه وي
چې زکندن یې د جانان پهٔ غېږ کې وینه
پهٔ مرګ بهٔ دواړه سره ومرو
ارمان ارمان دی دژوندو خلکو بېلتونه
پهٔ مرګ بهٔ واړه سره مړهٔ شو
ارمان مې دادی چې بهٔ وړاندې وروسته شونه
پهٔ مرګ بهٔ مرم پاتې بهٔ نهٔ شم
ستا دوصال ارمان بهٔ قبرلره وړمه
پهٔ مرګ بهٔ دواړه سره ومرو
ارمان مې دادی زموږ بهٔ ګوښې وي ګورونه
پهٔ مرګ دتورومې رضاده
رضامې نهٔ ده چې لهٔ یاره جلا شمه
پهٔ مرګ دې نهٔ مري جانان ګران دی
پهٔ رنځ دې پرېوزي چې پوښتنې ته ورځمه
پهٔ مناسب دې نهٔ پوهېږم
وایه پهٔ کوم بارخودې خولهٔ ولګومه

پۀ ناعلاجه مرض پروت يم
پۀ اشنادوه قدمه ګران دي نۀ راځينه
پۀ نصيب خپل همزولي راکړي
کۀ نيستي راغله پۀ خندابۀ يې تېرومه
پۀ نصيبه کې بۀ مې داوه
شيطان مې څۀ له خطرې زړۀ له راوړينه
پۀ نصيبه بۀ زما دا وه
اوس بۀ دعوا دازل چاسره کومه
پۀ نکاح شوې مين مه شې
سبا بۀ سرې ستړګې ولاړيې دا بۀ وړينه
پۀ ننواتې بۀ زۀ ورشم
پۀ مرور اشنا بۀ وا چوم لاسونه
پۀ ننواتې پوره نۀ شوه
اوس بۀ لمن يارته پۀ خپله غوړومه
پۀ ننواتې دې ښۀ نۀ شي
څوچې ونۀ ګالې پۀ سرباندې غمونه
پۀ نيموشپو پۀ کلي راغلم
پۀ خوب ويدۀ اشنا بۀ څوک راويښوينه
پۀ نيمه شپه بېداره اوسه

چې پهٔ کې واورې دوېشتلو اوازونه
پهٔ نیمه شپه چې راپهٔ یاد شې
لکه یتیم لهٔ سترګو اوښکې تویومه
پهٔ نیمه شپه مې خوب ته راغلې
لکه یتیم مې تر سبا ژړلي دینه
پهٔ نیمه شپه سندره وایه
څوک چې پهٔ زړهٔ ویشتلی وي بېدار بهٔ شینه
پهٔ نیمه شپه چې راته یاد شې
سر پهٔ بازو کړم اوښکې لاندې تویومه
پهٔ ورکېدو مې یې خوشاله
ژر راته وایه داوطن درته پرېږدمه
پهٔ ورهٔ کې دوې خویندې ولاړې
پر مخ یې غبرګې اوښکې ځي ورک شه بېلتونه
پهٔ وړاندې ځم پهٔ وروستو ګورم
قدیمه خدایه د زړهٔ سرمې پاتې شونه
پهٔ وړاندې ځې شاته ګورې
تر دې ویشتلي زړهٔ دې ځار شمه مینه
پهٔ وینو خوښ یمه چې تو یږي
زما د زړهٔ وینې پهٔ جوش راغلې دینه

پۀ وینورنګ توره دې راوړه
چې پۀ سور کوشونډو یې زۀ درپاکه کړمه
پۀ وینو سور شفق مې ولید
اه مې دزړۀ پۀ فلک اورولګاونه
پۀ وینه یو وارې رانغلې
پۀ خط کې نښې رالېږې چې یاردې یمه
پۀ هر ساعت چې راپۀ یاد شې
پۀ ځای کېنمه لۀ خولې وینې غورځومه
پۀ هر یو ګل کې بۀ ما وینې
کۀ محبت دې پۀ رښتینې پر ما وینه
پۀ هر ګړي چې راپۀ یاد شې
کمیس لمبه شي تن مې اوروا خلي مینه
پۀ هستۍ هر سړی لوړېږي
بده نیستي ده سیال لۀ سیاله کموینه
پۀ هوا تلم پۀ جال کې بند شوم
پۀ زولنو کې دموزیانو ونښتمه
پۀ یارانه دې هېڅ پوه نۀ شوم
پۀ جدایي دې لکه مالګه اوبۀ شومه
پۀ یارانه کې زړۀ سندان که

پهٔ کې پېښېږي د پلکو نو ګوزارونه
پهٔ يارانه کې داسې کېږي
د چارنګ زېږشي د چامرګ پهٔ توره شينه
پهٔ ياري زوږسږی ځوانېږي
زهٔ بهٔ ياري دژنهٔ کړم چې ځوانه شمه
پهٔ ياری روغ سږی رنځورشي
څهٔ مې ضرور دی چې روغ ځان رنځورومه
پهٔ ياری زوږسږی ځوانېږي
زهٔ دلالي پهٔ ياری ځوانه زړه شومه
پيره کامله رارسېږه
ببږی شوه غرقه پهٔ تختهٔ ولاړه يمه
پېزوان پهٔ جګه پوزه خوند کړي
لکه پهٔ لوړچنارچې واچوې تالونه
پېزوان پهٔ کرمه کې جوړېږي
د کندهارزرګره مات دې شهٔ لاسونه
پېزوان دې مااخستی نهٔ دی
پهٔ کړکچه دې لوبې کړې هلته بهٔ وينه
پېزوان زماد پوزې پرېووت
ته راپسې وې دابهٔ تااخستی وينه

پېزوان کودی که اوبهٔ راکړه
یو دې ثواب دی بل د یار لهٔ تندې مرینه
پېزوان مې خړو اوبو ډوب کړ
پهٔ سپینه خولهٔ بهٔ لامبوزن ورکوزومه
پېزوان مې شرنګ لهٔ پوزې پرېووت
تهٔ غلی غلی راپسې وې پټ دې کنه
پېزوان مې ښهٔ جوړ که زرګره
یار مې ځلمی دی د پېزوان پهٔ رڼا ځینه
پېزوان مې پاس پهٔ شونډو سپور کړ
لکه ښامار چې د خزانې د پاسه وینه
پېزوان مې روڼ جوړ که زرګره
یار مې هر کله د پېزوان پهٔ رڼا ځینه
پېزوان مې ستا پهٔ بربت کې بند شو
تر دروازې پورې بندي درسره تلمه
پېزوانه خانده هوسېږه
سبا اختر دی پاس پهٔ شونډو بهٔ دې وړینه
پېزوانه تهٔ ولې دلګیرېږې
که کلی لېږدي تا بهٔ پاس پهٔ شونډو وړمه
پېغلتوب نیمه پاچاهي ده

دانا وېتوب دد ېوال سيوري تېر بهٔ شينه
پېغلولوګی تورسپېلني کړل
چې پهٔ سپينه ورځ اشناغزاته ځينه
پېغلو پوړني سره اغوستي
لکه چې بيا د شهيد قبرته ورځينه
پېغله چې نوې پېغلتوب کړي
لهٔ سپينو واورو نه يې سپين دي مړوندونه
پېغله خوېې خوښه مې نهٔ يې
د خمارو سترګو دې بل کوي سيلونه
پيغمبري ګل بهٔ ترې جوړ شي
کهٔ دې پهٔ لنډه زنه ووهل خالونه
پېغور خوډ ېررا کړئ عالمه
کهٔ مې دښمن خپل پهٔ ټګۍ وژلی وينه
پېکی دې بيا پهٔ کوچو غوړ کړ
لکه ښيښه لمرته شغلې وهي مينه
پېکی دې يوې خواته شانه کړه
چې وروځومنځ کې دې شين خال رانبکاره شينه
پېکی مې جګ کړه خال مې چپ کړه
د جنت ګل دی پرې تازه بهٔ شې مينه

پېکی مې مه پرېکوه مورې
پۀ سرپرېکړووونوئۀ کېني بازونه
پاس پۀ سنګر ټکونه وشول
مېړونه مري موزيان بۀ روغ کورته راځينه
پال ګرته لاړم پال مې وکوت
زما پۀ برخه يې راوښودل غمونه
پاولی دې يويو ټک وهلی
دهرپاولي لاندې دې اوردی وبې سومه
پۀ اخرت بۀ حساببږي
نجلۍ دظلم نه ګېډۍ تړلې دينه
پۀ پېښورکې وليان ۀ بردي
کږې جنډې پۀ مياعمرولاړې دينه
پۀ تشه خولۀ دې شوم غلطه
نامرده ياره پۀ ميدان دې پرېښودمه
پۀ توراوربل مې سلام وايه
کۀ مرګی چپ ؤبيابۀ وکړوديدنونه
پۀ تورټوپک ويشتلی راشې
چې پرهارونه دې ګنډم خولۀ درکومه
پۀ تېره توره مې حلال کړه

داسې خومه وایه چې نۀ درسره ځمه
پۀ زړۀ مې تۀ یې بل څوک نۀ دي
کۀ دروغ وایم ژړدې خواره شم مینه
پۀ شمله ګې دې ګل کتارکړل
دښکلو نجونو دې اوربل وشرماونه
پۀ لاالله مې دې قسم وي
چې بۀ داستا لۀ یارۍ وانخلم لاسونه
پۀ مخکې ځې پۀ ببرته ګورې
لکه دناوې نه چې جدا چنغول شینه
پۀ ناموس ننګ پۀ وطن جنګ دی
دوطن جنګ ته پۀ غورځنګ ورځم مینه
پۀ نصیبونو نۀ رغېږم
دعاشقۍ ښامارپۀ زړۀ خوړلی یمه
پۀ چپه خولۀ باندې ګویایم
دیاراني لۀ رنځه زېړه پېړه شومه
پۀ چل ګزیانودې وخدایه
یایې زماکړي یایې خاورې کړې خالونه
پۀ خولګۍ حال ویلی نۀ شم
مینې دې پټ پۀ زړګي راکړل توردا غونه

پۀ ځلمیتوب خوښۀ ځلمی یې
کۀ د د یلي ننښې راوړې یاري دې کړمه
پۀ دندا سه دې شونډې سرې کړې
ګل لاله دې پۀ صحراو شرماونه
پۀ دنیا سره وړانګه پرته ده
لیلا پۀ څنو کې لاله ټومبلي دینه
پۀ زړۀ مې خپل وطن وربېږي
لکه دزانو قلقلې پسې کومه
پۀ زمانو ورک شې ببلتونه
پۀ خوب ویده او ښکې مې ستالۀ لاسه ځینه
پۀ سپینه خولۀ دې پرها روشه
لکه تنکۍ برړه ژاولې خوټوینه
پۀ سور پالنګ بۀ دې راخېژم
کۀ چا پرې مړ کړم پۀ پالنګ بۀ شهید شمه
پۀ شرم ډېر د رنه شرمېږم
دزړۀ د حاله بۀ دې وروو رو خبرومه
پۀ شمل ګۍ دې ګل کتار کړل
د ښکلو نجونو دې اوربل وشرماونه
پۀ شمند روزکې نۀ ودېږم

ماله ململ دلارې مه راوړه مینه
پهٔ غوړېدلي سرمین شوې
بیامې توبه ده سربهٔ نهٔ چوټي کومه
پهٔ کابل مه اوره بارانه
یارمې شوقي دئ لونګۍ نهٔ ورتړلوینه
پهٔ کشمالوکې ورته پټ شوم
نجلۍ هوښیاره کشمالوته نهٔ راځینه
پهٔ کشمالوکې ورته پټ شوم
نجلۍ دغواو غوبنه ده رابهٔ شینه
پهٔ کنډوکي مې سرورهسک کړ
دکونډې لورلکه سپاهي ځان جوړوینه
پهٔ لاالله مې دې قسم وي
چې بهٔ دا ستالهٔ یارۍ وانخلم لاسونه
پهٔ لیدو مینه نهٔ ماتېږي
څوېې د سپیني سینې تاونهٔ کړې لاسونه
پهٔ مادې څهٔ احسان دی وایه
څوک چې یاري کړي زحمتونه قبلوینه
پهٔ مادې دوه فساده وکړل
یودې مین کړم بل دې ورک کړم لهٔ وطنه

پهٔ مازیګردې کړې باروې
پهٔ مازیګرد ګناه ګارو کړې ځینه
پهٔ مخ کې ځې پهٔ بېرته ګورې
لکه دناوې نه جدا چې چنغول شینه
پهٔ منډه وختمه بام ته
یارمې ونهٔ لید پهٔ ژړا راښکته شومه
پهٔ مورچل نېغ ورځه تېټ نهٔ شې
پښتون ځلمی لهٔ مرګه څنګ نهٔ کړي مینه
پهٔ ناموس ننګ پهٔ وطن جنګ دی
دوطن جنګ ته پهٔ غورځنګ ورځه مینه
پهٔ نصیبونو نهٔ روغېږم
دعاشقۍ ښامارپهٔ زړهٔ خوړلې یمه
پېزوان یې بیا پهٔ شونډو سپورکړ
لکه کوتره پهٔ هوا چورلک وهینه
پیشتري پوخ کړه مامېلمه کړه
پهٔ دې پلمه بهٔ مشغولا سره کوونه
پیغمبري ګل بهٔ ترې جوړشي
کهٔ پهٔ لنډۍ زنه دې ووهل خالونه

پۀ اصل څوک نۀ سړی کېږي
سړی هغه دی چې خوی د سړي وینه
پۀ اصل ګل د ګل ګلاب دی
کم اصل ګل چې بویوم ډک دي باغونه
پۀ انارباغ کې مې یاربایلود
خدایه قیامت کړې چې نورهم بې باغه شینه
پۀ انارباغ کې دې خولۀ راکړه
کۀ شوې پښېمانه شین توتي شاهد لرمه
پۀ اند ښنومې ځان پاچاکړ
سرمې راپورته کړ ملنګ ددوهې ومه
پۀ اسویلوبۀ دې لمبه کړم
ژرشه لۀ زړۀ مې ځان خبرکړه مړه بۀ شمه
پۀ اوسېلوبۀ مې لمبه شې
داوسېلومخې له مه راځه مینه
پۀ اوسېلومې اسمان سورشو
ښایسته ستوري پۀ لړزه راغلۀ مینه
پۀ اوسېلومې اسمان سورکړ
دارانۀ ستوري شوۀ نینې وترکېدنه
پۀ اوسېلومې اسمان شین کړ

ځکه مې بند کړل په حمل کې بارانونه
په اوسېلو مې زړه نا سوړ شو
د یار د هجر طاقت نه لرم مینه
په اوښکو لوند ګرېوان مې ګوره
مغروره یاره بیا ښېرې در ته کومه
په اوښکو خوښ یم چې بهېږي
بار د غمونو مې د زړه نه کموینه
په باغ کې مه وله کوترې
یوه به مړه کې بیا به نه راځي سیلونه
په باغ کې سرې غوټۍ ته وایه
چې تا ته تور کشمالي ډېر سلام کاونه
په باغ کې مه وله ډبرې
ښاخ به زخمي کړې بیا به نه نیسي ګلونه
په باغ کې مه ګرزه جانانه
ګلان شرمېږي مخ په پاڼو پټوینه
په بام ولاړې هوا دارې
د اوښکو دارې مې له سترګو څخه ځینه
په بړبړ راشه د یار غمه
که سل مې نوروي تا به پاس په تندي ږدمه

پهٔ بسم الله کتې ته ورخېژه
د نجلۍ کتې د جنغوزي دئ مات بهٔ شینه
پهٔ بلۍ کلکه ګټه کېږده
د عاشقانو ناسته تل پهٔ بلۍ وینه
پهٔ بېلتانهٔ زهٔ روغه نهٔ کړم
بېلتون ظالم دی اشنایان جدا کوینه
پهٔ پاتې ژوند کې بهٔ څهٔ خوند وي
چې یوم پهٔ لاس پرجانان خاورې اړومه
پهٔ پاچاهۍ کله خوښېږم
چې پهٔ یوه ګړۍ د یاره جدا یمه
پهٔ پاولو ډکه کهٔ راواوړې
پرزکندن باندې کهٔ یمه جوړ بهٔ شمه
پهٔ پټ کې تورتورمسلی ښهٔ دی
بې پټه یار کهٔ شاهزاده وي څهٔ یې کمه
پهٔ پخوانو سترګو مې ګوره
اوس مې جامې د ملنګۍ اغوستې دینه
پهٔ پخوانو سترګو مې ګوره
کهٔ مې مخ زېړ وي ستا غمو بهٔ کړی وینه
پهٔ پخوانو سترګو مې ګوره

څۀ وشو یاره چې نېستي راغله مینه
پۀ پښتو اشنا بۀ ورشم
غرږبۀ پرو کړم کۀ مې واوري فریادونه
پۀ پسرلي غونډۍ له خېژو
داتڼ منځ کې یې ګلان کرلي دینه
پۀ پښو چالاکه اوښه ګوډ شې
دیاردیدن بۀ مې کاوۀ تېره دې کړمه
پۀ پورې کلي کې مین یم
ملک یې څوک دی ننواتې ورلېږمه
پۀ تا بۀ کوم مجلس روښان وي
زۀ شوم پتڼ درپسې شمعې لټومه
پۀ تاترو راشه جانانه
دخیبرلارې اپریدو نیولې دینه
پۀ تاکېدۀ پۀ مادې وکړۀ
پۀ نازولې لوردې وشه فسادونه
پۀ تروږمۍ کې رڼا راغله
لیلا پۀ تور اوربل کې غاټول ټومبلي دینه
پۀ تش کتودې لېونی کړم
جانانه مخ راواړوه چې صبرشمه

پۀ تش دیدن دې خوشالیږم
کۀ مې نصیب شوې بیا بۀ نۀ کړم ارمانونه
پۀ تصورمې زړګی شین شو
څودلیدو مهال راځي خاورې بۀ یمه
پۀ تنارۀ ولاړې پیغلې
ډوډۍ دې نۀ خورم د دیدن وږی دیمه
پۀ تورپیکي دې لېونی کړم
یاېې غیچې کړه یاېې غوټه کړه سرونه
پۀ توراوربل ګټلی مایې
اوس دې دبل غاړه کې واچول لاسونه
پۀ تورټوپک ویشتلی راشې
دبې ننګۍ احوال دې مه راځه مینه
پۀ تورټوپک مې وله یاره
داسې خومه وایه چې خولۀ نۀ درکومه
پۀ تورټوپک ویشتلی جوړشو
دسپینې خولې ویشتلی وینې تویوینه
پۀ تورټوپک ویشتلی نۀ یې
لۀ دې نریو چړو مه ګرځه مینه
پۀ تورد کن مې جانان ګل دی

زړۀ مې بلبل دی تورد کن لره ورځینه
پۀ تورلحد کې بۀ ناري کړم
توتې توتې د خپل جانان لۀلاسه یمه
پۀ تورلحد کې بۀ ناري کړم
زۀ ارمانجن د سپینې خولې راغلی یمه
پۀ تورو خاورو کې بندي شوې
قدرت مې نشته اوس دعادرته کومه
پۀ تورو زلفو کې یې بند کړم
خلاصی مې نشته د افسوس ژړا کومه
په تورو زلفو بۀ یې بند کړم
پۀ لونګین بۀ یې وهم ارام بې کړمه
پۀ تورو سترګو اشارت کړه
د خولې خبرې غمازان راته کوینه
پۀ تورو سترګو مې ړنده کړې
چې جانان نشته زۀ یې ولې تورومه
پۀ تومت مه شرمېږه یاره
تومت وسله ده ښۀ ځوانان یې ګرځوینه
پۀ تومتو مې مه شرمېږه
پۀ ښو ځوانانو پسې تل وي تومتونه

پۀ ټوکو ټوکو مې ګنډله
د جانان کډه پۀ رښتيالۀ کلي ځينه
پۀ جدايي سره جدا شوو
جانانه کله بۀ ديدن سره کوونه
پۀ جدايي دې لمبه نۀ شوم
اوښکې باران پرې وروم تن پرې ساتمه
پۀ جرمني ټوپک مې وله
زما پۀ زخمي زړګوتي مۀ وهه لاسونه
پۀ جګوغروکې دې مرګی شه
چې جنازه دې پۀ بروخووتړمه
پۀ جنازه کې مې ګل کېږده
چې دلاس ښنبه دې پۀ ګورکې وساتمه
پۀ جنکوکې لوړه راغله
لکه پۀ ونوکې خرماولاړه وينه
پۀ جوارۍ مې جانان بايلو
خالي لاسونه لۀ سپېرۀ ميدانه ځمه
پۀ جوپه تلی يارمې راغی
ماله يې راوړي ديدغاړې امېلونه
پۀ جېل خانه کې مې ګوزران وای

مل مې جانان وای زهٔ بهٔ تل خوشاله ومه
پهٔ جېل خانه کې مې بندي کړئ
چې مې جانان را سره وي خوشاله يمه
پهٔ چړچوبۍ کې مه پټېږه
ځلمي ښاغلي اديرو خوړلي دينه
پهٔ چلم چارو ږد کړې جانانه
ترکاغذي شونډو دې خېژې شنهٔ دودونه
پهٔ حال مې خپل اشنا خبر کړئ
ژوندون لنډ شوی دلحد بندي بهٔ شمه
پهٔ حال مې هېڅوک نهٔ خبرېږي
زمادزړهٔ وينې خوراک شوې مړ بهٔ شمه
پهٔ خپل همت ځان زما يار کړه
پلار دې ظالم دی تاماته نهٔ پرېږدينه
پهٔ خپله خولهٔ چې سوال ونهٔ کړې
پهٔ هغه دغه خولګۍ کله درکومه
پهٔ خندا بام ته وختمه
يارمې ونهٔ ليد پهٔ ژړا راښکته شومه
پهٔ خندا شنه شوې پهٔ ملاماته
پهٔ زړهٔ دې نشته دياری سوي داغونه

پۀ خنداهره نجلۍ خاندي
ليلا چې خاندي مرغلرې تويوينه
پۀ خنداهره نجلۍ خاندي
دا يوه نيمه دزړۀ زنګ جلاکوينه
پۀ خمارو خمارو سترګو
پۀ ژړا راغله چې موزي وهلې يمه
پۀ خوب ويده اوښکې مې راغلې
زما پۀ برخه بۀ خدای څۀ ليکلي وينه
پۀ خوب ويدۀ بۀ دې راويښ کړم
ياره زما دلاس بنګړي راغلي دينه
پۀ خوشالۍ راځه جانانه
زۀ توري څڼې ستالپاره جوړومه
پۀ خولګۍ هېڅ ويلای نۀ شم
پټ پۀ اشنا پسې رنځورلۀ غمه يمه
پۀ خولۀ بۀ جنګ درسره وکړم
دزړۀ کوځې بۀ درنه ولې بېلومه
پۀ خولې توبې توبې وباسم
پۀ تامين زړګی توبه نۀ قبلوينه
پۀ خولۀ خوغږ کولی نۀ شم

پرېږده چې غم د ننه زړهٔ کې تېرومه
پهٔ خولهٔ دې نوم اخستی نهٔ شم
پټ پهٔ زړګي کې وطنونه لټومه
پهٔ خولهٔ دې نوم اخستی نهٔ شم
پټهٔ ژړادې دیدن پسې کومه
پهٔ خولهٔ دې هېڅ راته ونهٔ وې
پهٔ تېغ د سترګو دې زخمي کړمه مینه
پهٔ خولهٔ کې ژبه راته راکه
خلک توتیانو ته شکرې ورکوینه
پهٔ خیرخوراغلې سترې مه شې
غازي جانانه ادس خوځوله ستایمه
پهٔ خیرراغلې پهٔ خیرراشې
چې د دښمن پهٔ مخ کې خړنهٔ شوې مینه
پهٔ دام د زلفو دې بندي کړم
مستې ناترسې توتیان چابند کړي دینه
پهٔ درست جهان بهٔ دې ورنهٔ کړم
وطنه هېچېرې دې ساری نهٔ وینمه
پهٔ درست وطن کې اوازه شوه
چې دا بې ننګ ځلمی لهٔ جنګه پهٔ شاشونه

پهٔ دروازو کې دې ولاړيم
د ديدن برخه دې راوړه چې بېرته ځمه
پهٔ دريابو کې لامبوزن وم
د بېلتانهٔ ماهيانو ټوله وخوړمه
پهٔ دروازو کې راته پټ وې
مادې سينې ټکور کاوهٔ ودې ليدمه
پهٔ دروازه کې شوم تروره
داشنا اوښکې مې ترمخ شوې دريابونه
پهٔ دښمن ځان ټوکرټوکر کړه
بيابهٔ د سروشونډو ملهم درباندې ږدمه
پهٔ دنداسه دې شونډې سرې کړې
بيادې نارې کړې ياره تاستې کومه
پهٔ دنيادوه شيه مزه کا
يا سپينه خولهٔ يادې بوړې ټوپک غږونه
پهٔ دنيا ښهٔ راسره وکړه
پهٔ اخرت دهرچاګوښې عملونه
پهٔ دنيا مه نازېږئ خلکو
دشاجهان پاچانه پاتې شول ملکونه
پهٔ دنيا مه نازېږئ خلکو

دنیا فاني ده په ارمان به ځنې ځونه
په د بوال غنی راته مه ږده
زه به درواوړم ستا خاوري مې ژړوینه
په دیدن دومره دمه کېږي
لکه رنځور په امسا واخلي قدمونه
په دیدن کله مړېده شته
که یې ترسپیني غاړې واړوې لاسونه
په دې ونه شوه دلته نا ست یم
اروامې ستا په کټ منګولې لګوینه
په ډېر احتیاط مې خولګۍ واخله
چې د پېزوان په پروغوځ نه شې مینه
په ذوالجلال زما قسم دی
ستا جدایي ملک الموت دی روح مې وړینه
په ذوالجلال مې دې قسم وي
چې دې ونه وینم ژړا راله راځینه
په رالوېدو دې یم خوشاله
هسکه چې تالاندې بې پته خلک شینه
په رنځ مې خپل اشنا پوهېږي
طبیبه څه له دې ګولۍ عبثومه

پۀ رنګ بد رنګ پۀ عمر تنګ شوم
پۀ زړۀ څو رنګ د خپل جانان دلاسه يمه
پۀ رنګ سرې نۀ سرې کېږي
سرې هغه دی چې يې خوی د سړي وينه
پۀ ريبارانو پوره نۀ شوه
اوس بۀ لمن يار ته پۀ خپله غوړومه
پۀ زړۀ دې څۀ دي راته وايه
ترتا تېر بېړم بيابۀ وکې ارمانونه
پۀ زړۀ مې ته وې خدای رانۀ کړې
اوس کۀ تمامه دنيا راکي څۀ يې کړمه
پۀ زړۀ مې ځای د ګيلو نۀ شته
هلته بۀ يې وايم چې دې سرپۀ څنګل ږدمه
پۀ زړۀ مې يو الله خبردی
دوست او دښمن لپاره شنه شم وخاندمه
پۀ زړۀ مې يو الله خبردی
دې نورعالم ته پۀ خندا ګورم مينه
پۀ زړۀ مې يو الله خبردی
چې همېشه د غم سودا پۀ کې کومه
پۀ زړۀ مې غم سترګې مې ژاړي

بانۀ ولاړدي اوښکې غواړي رخصتونه
پۀ زړۀ مې خښ دغم خنجر دی
چې مې رایادشي دلیلا شینکي خالونه
پۀ زړۀ منلی یار مې ته یې
داالباسي خنداده‌رچاسره کړمه
پۀ زړۀ هغه خلک ژړېږي
چې دمحفل یاران یې تورې خاورې خورینه
پۀ زکندن مې راحاضرشه
چې زۀ سلګۍ کړم سترګې چاته واړومه
پۀ زیارتودې وۀ خاونده
یا یې زما کړې یایې خاورې کړې چې ځمه
پۀ ژبه هېڅ ویلی نۀ شم
پټ پۀ اشنا پسې رنځورلۀ غمه شومه
پۀ ژړا ژاړم سود مې نۀ شي
یومسافرشوم بل لۀ یاره جلاشومه
پۀ ژړا تل راپسې ژاړه
زۀ مسافریم ددعا طمع لرمه
پۀ ژړا مه راپسې ژاړه
دعاکوه چې ستادیدن مې نصیب شینه

پۀ ژړانۀ درپسې ژاړم
تا پۀ دعاکې یادوم ژړاراځینه
پۀ ژړامه راپسې ژاړه
سهاردعاراپسې کوه ما ښام نفلونه
پۀ ژوند باورنۀ شته عالمه
جانان راغواړم چې یې موړ پۀ دیدن کړمه
پۀ سپین میدان بۀ درسره یم
زۀ پښتنه لۀ توري نۀ ترپلم مینه
پۀ سپینو تورووركه بړه
ما پرهمزولوباندې د برخندلي دینه
پۀ سپینو غاښوراته خاندې
ما بۀ دتورتو پک پۀ خولۀ ورکې مینه
پۀ سپینه خولۀ لبونی مست دی
ځکه دتوروخولې ته غاړه غړی ځینه
پۀ سپینه خولۀ که روژه ماته
دکفارت روژې بۀ دواړه ونیسونه
پۀ سپینه خولۀ بۀ دې کافرکړم
دتوروزلفوبۀ زناردرواچومه
پۀ سپینه ږیره د بره مینه

پهٔ تور پیکي مې لاس وهې خنداراځینه
پهٔ سپینه ږیره لېوني شوې
پرلاره ځې پهٔ غونډوولې زیارتونه
پهٔ سپینه ږیره لېوني شوې
پهٔ لنګوټې پورې دبنګ ترلي دینه
پهٔ سترګوړوند درپسې ګرځم
ستادوفازبری کهٔ وشي روغ بهٔ شمه
پهٔ سترګوړوند شې راته ګوره
چې داوربل پرځای مې ګل ټومبلی دینه
پهٔ سترګوړوندراپسې نهٔ شوې
دالباسي اوښکې دهرچاپرمخ راځینه
پهٔ سترګوړوند درپسې نهٔ شوم
لکه بادام سوری درپسې شومه
پهٔ سترګوړوند شې راته ګوره
پهٔ ګل بدن کې لکه ګل ولاړه یمه
پهٔ سترګوړوند شې راته ګوره
دچمچمارغوندې غړې درته وهمه
پهٔ سترګو ړوند شې راته ګوره
پرښایسته اوربل مې اېښیدي لاسونه

پهٔ ستر ګوړوند شه راته ګوره
پهٔ تش کاتهٔ بهٔ دې څوک سرنهٔ پرې کوينه
پهٔ ستر ګوړوند شې راته ګوره
کچه خالونه مې د نيل وهلي دينه
پهٔ ستر ګوړوند شې پهٔ غوږوکوڼ شې
پهٔ ژبه ګونګ شې چې ونه وايې حالونه
پهٔ ستر ګوروغ درته ښکارېږم
ترزړهٔ مې تاودي د سرکووينوډنډونه
پهٔ سرسرتوردرته ښکاره شوم
ځکه دې پټ کړل دلنډی زنې خالونه
پهٔ سرکې ستر ګې ګنهګارې
زړهٔ چې مين شي سترګې څهٔ ګناه لرينه
پهٔ سرکې وروږمنځ راکاږه
ستاپهٔ وينښتومې دزړهٔ کوردی وران بهٔ شينه
پهٔ سفرځم خدای ته دې سپارم
کهٔ ماته راوړې دکشميرشينکي شالونه
پهٔ سفرځم پرخدای مې سپاره
لرې وطن دی بياهيهات چې ژوندي يونه
پهٔ سفرځې تصويرمې واخله

کۀ زۀ بیانۀ وم د زړۀ بۀ دې پرې شینه
پۀ سفر ځم تۀ راته ګوره
ترشادې پاتې پۀ خنجرو هلې زړونه
پۀ سلام ستا بورجل له راغلم
تۀ پۀ کې نۀ وې بې سلامه تېره شومه
پۀ سورسالو پربام ولاړې
امېل پۀ غاړه کشوې د خلکو زړونه
پۀ سین کې ژر ببړۍ لاهو که
سبا اختردی د خپل یار سلام له ځمه
پۀ شرم ډېر د رخخه شرمېږم
خدای دې پخپله مهربانه که مینه
پۀ شرم ناسته دې پوهېږم
چې پۀ یوۀ موټي کې دوه ساتې لعلونه
پۀ ښکاره حال مې مه تېروزه
پۀ زړۀ زخمي د ببلتانۀ لۀ لاسه یمه
پۀ ښامارانو مې ونۀ خورې
لۀ اوږو تول که داوږدو کو څو سرونه
پۀ صبرصبرپوره نۀ شوه
سبا مې نیت دی بې صبرۍ ته ملا تړمه

په صبر صبر مې زړۀ شين شو
نو رمې طاقت د صبر نۀ شته و بۀ مر مه
په صبر صبر مې يار با يلو
زۀ بۀ د صبر کچکول چېرې ګرځو مه
په صبر صبر مې زړۀ شين شو
يار شو شب قد ر پۀ لاس نۀ را ځي مينه
په طبيبانو بۀ روغ نۀ شم
زۀ د ليلا لۀ سينې کوزلو ېد لی يمه
په طبيبانو نۀ رغېږم
جانان پۀ غشو د بڼو ويشتلی يمه
په ظا هر روغ ښکا رم عا لمه
پۀ پټه زۀ د ا شنا غم لېونۍ کړمه
په ظا هر نا سته مې دلې ده
زړۀ مې بلبل نا ستی د ګل سره کوينه
پۀ عسکرۍ دې خفه نۀ يم
خدا ی دې سر باز کړه چې نيک نا مه شې مينه
پۀ غم پيدا پۀ غم کې لوی شوم
پۀ غم مين پۀ غم بۀ خا ورو ته ورځمه
پۀ غم پيدا پۀ غم کې لوی شوم

وړکوټی مړوای چې مې نۀ لیدی غمونه
پۀ غم شریک جانان مې ولید
د خوږ زړګي زخم مې بېرته ناسور شونه
پۀ غم غمجن د رپسې زۀ شوم
پرسپینه خولۀ دې غمازان غوټۍ وهینه
پۀ غم کې تانه کمه نۀ یم
کم عقله نۀ یم چې بۀ کلي خبرومه
پۀ قد بالا پۀ حسن پوره
پۀ ځان مغروره چاته نۀ ګوري مینه
پۀ قد بالا پۀ منځ کې لمره
پۀ مخه راشې تل سلام د رته کومه
پۀ کرارۍ مې روح وکاږه
ملک الموته خوږ اشنا راله راځینه
پۀ قسمت کښلي بۀ نورنۀ شي
کۀ وچې ونې زرغونې پۀ اوښکو کړمه
پۀ قلم سل ځله شاباس دی
چې درد د میني پۀ کاغذ بیانوینه
پۀ کتاب ځکه نۀ پوهېږم
چې د جانان تصور کړم ژړا راځینه

پۀ کټ کې پروکی پروکی پروت یم
پۀ بازوګانوراته ناست دي ستاغمونه
پۀ کټ کې سپینه سپینه اوړې
لکه دډنډ ماهی نیوی نۀ راکوینه
پۀ کټ کې سپینه سپینه اوړې
زمالۀ سترګونه دې خوب وتښتاونه
پۀ کراري اوره بارانه
لیلا سالوا یسته کوي لمده بۀ شینه
پۀ کړېدومې رب راضي دی
ځکه مې بند شول دا الله پۀ در سوالونه
پۀ کشمالوکې ورته پټ شوم
نجلۍ اوربل کې کشمالې ږدي رابۀ شینه
پۀ کشمیري الوان کې ګرځې
سپینه سینه بۀ دې پرې رنګه شي مینه
پۀ کلادوې کوترې ناستې
یوه یې ویشتل کړې بله ځان سینګاره وینه
پۀ کلي سورسالوراګډ شو
چاوې سالودی چاوې اورولګېدنه
پۀ کوټه سرکه رادننه

دا پېغله نجل پۀ لونګين ځان جوړوينه
پۀ کوټه سرکه رادننه
پرچلم زانګي توري زلفې شنۀ خالونه
پۀ کوټه مه ګرځه نيمزالې
تورې کوڅې دې تورښامار راياد وينه
پۀ ګل سرخ کې خاورې مه شې
پۀ کې سورګل شې چې هرڅوک دې بويوينه
پۀ ګل کې ستا بشره زۀ وينم
لاس مې دې مات شي چې يوګل بۀ پرې کومه
پۀ ګل ګلاب دې وويشتمه
خوږ دې زما د زړګي سرکړو بۀ مرمه
پۀ ګل ګلاب دې وويشتمه
خوږه دې نۀ کړم د ښمنانو وليدمه
پۀ ګودرڅۀ بلا لګېږي
چې کشرورور دې بد رګه درسره ځينه
پۀ ګورستان کې خاورې مه شې
ګل د ګلاب شې چې دې خاورې بويوينه
پۀ لاره ځم ټوله زنګېږم
تاوکړي غشي مې د يار خوړلي دينه

پۀ لاس بۀ تېر ساعت رانۀ شي
کۀ زۀ پۀ اوښکو کړم اوبۀ وا ړه ملکونه
پۀ لارکې ناسته ځان ته ژاړم
خدايه دلارې مل مې راولې چې ځمه
پۀ لاس بۀ تېر ساعت رانۀ شي
کۀ وچې ونې زرغونې پۀ اوښکو کړمه
پۀ لرې ملک کې مسافره
پرفال بۀ نيسو دمرغانو اوازونه
پۀ لښتي ټوپ کۀ بيا راټوپ کۀ
چې داوربل روپۍ دې ګډې وډې شينه
پۀ لمرخاته کې ګل غوړېږي
زماجانان پۀ لمرخاتۀ کوي خوبونه
پۀ لوی دریاب کې لمبېدمه
دبېلتانۀ پۀ چړمې مات شول زنګونه

له ټ ترټ

تابۀ زماپۀ غېږ کې وژني
زمادې مرګ وي چې جامې بۀ غونډومه
تاته بۀ ټوکې خنداښکاري

زۀ دې دمينې پۀ سرۀ اورکبابه کړمه
تاته مې نۀ درکوي ياره
زړګی دې ولې خوږينوې دځان دښمنه
تاته مې نۀ درکوي ياره
ماته پۀ لويه لارکې مه ژاړه مينه
تاثيريې ډېرراباندې وکړ
ستاياری شرابومست خاموشه کړمه
تاچې پټکي ته پېچې ورکړې
زۀ بۀ ټيکري ته زرزري ورواچومه
تاچې پرمخ څاپېړه راکړه
داوښکوډکې سترګې چاته واړومه
تاچې پربوې باندې غبږ کړ
زۀ پۀ سره ماښی کې لره بره شومه
تاچې پۀ پوزه سورپېزوان کړ
دعاشقانوژونددې تريخ ترزهروکنه
تاچې شين خال پۀ زنه کېښود
مادکفن پيسې پۀ پورراوړې دينه
تاچې کوڅه کې ټوخی وکړ
لکه ښاروپۀ بلی ورودروختمه
تاچې کوڅه کې ټوخی وکړ
زۀ پۀ مستوککړه خولۀ دررووتمه
تاچې کميس خپل کمرچين کړ
مادغمازپۀ ستوني کېښول لاسونه
تاخوبۀ سوال وی راته کړی
مابۀ پۀ تورو سترګوابښي وی لاسونه
تادبېلتون کټوکړه باندې

په کې پخيږي دمينولړمونونه
تاددکن تورسفروکړ
زماپهٔ توراوربل کې سپين ولګيدنه
تادسفرموزې پهٔ پښوکړې
دژېړوګلوباغ پرچاسپارې مينه
تاروزرين کميس اغوستی
دالوداع نارې وهي مين بهٔ وينه
تازه چې نن دغه ګلشن دی
سبايې ګوره سپېرهٔ ډاګ دښته بهٔ شينه
تاسې دې برګودرته ګورئ
دپېغلوجنګ دی منګوټي ګوزاروينه
تاکهٔ زماپهٔ تومت ورک کړي
زهٔ بهٔ دغم شپې پهٔ ژړاکې تېرومه
تاله چې زماپېغوربدښکاري
پلوراغونډکړه چې موږ بل وطن ته ځونه
تاوان بهٔ څله درله درکړم
چې زړهٔ مين وي سترګې تل لارې ساتينه
تاوان زما دپېزوان راکړه
چې پهٔ وصال کې ستالهٔ لاسه ټوټې شونه
تاوبهٔ دزړهٔ دپاسه تېرکړم
بې درده يارته بهٔ ونهٔ وايم حالونه
تاويې دزړهٔ لهٔ سره خېژي
لمبې دسترګوراته مه نيسه مينه
تاوې نن ځم سبابهٔ راشم
جانانه مياشتې دې شمېرم تېرشوهٔ کلونه
تبه مې نهٔ ده چې بهٔ جوړشم

زۀ دکاږۀ اوربل شمال وهلی یمه
تبۍ راواخلۍ مخ راتورکړۍ
مادکم اصلوياري کړه وشرمېدمه
تبۍ راواخلۍ مخ راتورکړۍ
دباچالوروم پرطالب مينه شومه
تبۍ راواخلۍ مخ راتورکړۍ
چې دناکسانواشنايي مې قبلوله
تبۍ راواخلۍ مخ راتورکړۍ
چې پۀ بې نيازوپسې تلم پښېمانه شومه
تخت دسينې بۀ دې پۀ نام کړم
کۀ ددښمن پۀ مرچل تاکړل غورځنګونه
ترپ لۀ ميدانه پۀ کارنۀ دی
پۀ بدنامۍ کې سپي موزيان پۀ تبه مرينه
ترتوروغرودې کړمه تېره
پۀ زړۀ ظالمه ياره نۀ دې يادېدمه
ترتوريالي مين بۀ ځارشم
چې دې غليم پۀ وينوسرۀ کاندي لاسونه
ترخماروسترګودځارشم
چې راواړوې لۀ ماواخلې غمونه
ترخولې مې سېل دوينوراغی
دبېلتانۀ لړم پۀ زړۀ خوړلې يمه
ترخولې مې شنۀ دودونه خېژي
زړګی مې سوځي دبېلتون پۀ سره اورونه
ترخيالوراشنامې ځارکړې
لکه کجيربرمرکندۍ ګوري ملکونه
ترځينځيربندچارګل يې نيسه

ترسرۀ غمي لاندې يې تېركړل كاروانونه
ترداكارۀ ككجک دې څارشم
پرتندي ستادى خوندماته راكوينه
ترداكړې پګړى دې څارشم
ددښمن وينې تويوه ګرانه مينه
تر داكړې پګړى دې څارشم
تړلې تاده پۀ خيال زۀ درسره ځمه
تردالنډى زنه دې څارشم
لكه اناردكندهارزړۀ سړوينه
تردانرى تورې دڅارشم
ددښمن وينې تويوه ګرانه مينه
تردې خروړي سپي راتېرشه
تردې ملالې خولۀ بۀ زۀ درتېره شمه
تردې خيالي ځوانى دڅارشم
دركړې خداى يمه چې زۀ درپسې ځمه
تردېوال دوې ګوتې سرلوړكه
دزنې خال بۀ دې دېوال وسولوينه
ترزنګانۀ پورې ستى شوم
زۀ پرانګاردبېلتانۀ ختلې يمه
ترزنګانۀ پورې ستي شوم
زۀ پرانګاردبېلتانۀ ختلى يمه
ترزنګانۀ پورې چكړدى
ليلاپلوپورته كوي جانان ته ځينه
ترس پۀ ناترسه ياركې نۀ شته
دغم پۀ تېغ مې دزړۀ غوښې پرې كوينه
ترسربۀ لوټه كړمه لاندې

زماخوښ نۀ دي دمنت سپين مړوندونه
ترسرمې شنۀ دودونه خېژي
راشه لمن راته وهه چې لمبه شومه
ترسريې لوټه کړئ ورلاندې
مسافرنۀ غواړي دپروبالښتونه
ترقندخوږې راباندې لګي
څوک چې خبرې دجانان راته کوينه
ترکړه کې کميس دځارشم
چرمه کاري سدرئ دې اوررالګوينه
ترکلادوې ګوتې سرلوړکه
چاپې صفت راته کاوه راغلی يمه
تر ګلاګل کميس دې ځارشم
سپينه سينه دې دغرۀ واورې شرموينه
ترګلاګل کميس دې ځارشم
ستالۀ ګرېوانه دجنت هوا راځينه
ترګل ګلاب ښايسته نۀ شته
دنوروګلوګېډئ مه راوړه مينه
ترلويوغرودې الونياکړم
سپينې سپوږمئ ته سلام کړه سلام بۀ کړمه
ترمادځمکې تالې ښې دي
چې باندې ښورې دجانان سپين قدمونه
ترمالاته ښۀ يې چلمه
چې جانان خولۀ درباندې ږدي دواړه لاسونه
ترمالاتۀ ښۀ يې کاغذه
زمابۀ حال وي تۀ بۀ وکړې ديدنونه
تر مخامخ خندا دې ځارشم

داپسې شاخندادې اوررالګوينه
ترمخامخ کاتۀ دې ځارشم
داشااوخواکاتۀ دې اوررالګوينه
ترمروراروادې ځارشم
دکورغمازوتاته څۀ ويلي دينه
تروتازه زېړه نارنجه
زيات لۀ ترنجه پرپلاودې يادومه
ترمستانه يارخومې ځارکړې
چې تش ديدن ته يې خيمې وهلي دينه
ترنيموشپومې وکتله
يارمې رانغی پۀ بالښت ګوتې وهمه
تږی بۀ يم تږی بۀ ګرځم
ستادهجران دلمبوجل وهلی يمه
تش دباڼوپۀ رپولو
عالم دې لوټ کړتول پۀ ځان فريادکوينه
تل بۀ پسرلی پۀ ګلونۀ وي
ديدن ديداردمخ کوه منی راځينه
تل پۀ زحمت پسې راحت وي
چاچې زحمت ليدلی وي راحت بۀ وينه
تللی جانان بۀ بيارانۀ شي
که وچې ونې زرغونې پۀ اوښکوکړمه
تل مې لۀ غمه نسکورګرځې
دزړۀ پۀ وينورنګوم سپين کاغذونه
تلوارپۀ کاردی رارسېږه
نن مې داستاپۀ تومت سرجداکوينه
تله دلمراسمان ته ولاړه

ماچې داستاحسن دلمرسره تالنه
تلې دپښومې شوې تناکې
اوس سرې منګولې لګوم یارته ورځمه
تماشه وکړئ داموو خت دئ
سبابهٔ نهٔ وي دغه بزم داوختونه
تمام عالم دې خوشالي کړي
زهٔ دجانان لهٔ غمه اوښکې تویومه
تمامه شپه مې شوګیرې وې
پټ پهٔ زړګي کې ستاخندار ایادومه
تندی و هم پهٔ ژړاژاړم
یارمروردی پهٔ سفرلهٔ مانه ځینه
تندی و هم پهٔ وینوژاړم
خلکه ګرم نهٔ یم لهٔ جانانه جدا شومه
تنګ اوتاریک لحده ورک شې
دګل پهٔ شان ځوانان دې ټوله خاورې کړنه
تنکۍ ځوانۍ دې لېونۍ کړم
دې سپینې خولې ته دې پېریانوونیومه
تن مې دشنې نکریزې پاڼه
ظاهرتازه دننه رنګ پهٔ وینویمه
تن مې ګاڼۍ زړهٔ مې شرشم دی
بېلتون تیلی سنډادغم پرې ګرځوینه
تنهامې تهٔ دځان دښمن یې
بل مې څوک نهٔ شته چې یې زهٔ بدووایمه
توبه لهٔ هرې ګنا باسم
داشنایۍ توبه مې خولې ته نهٔ راځینه
توتان پاخهٔ ممانې تورې

زۀ دموزي دروتہی څۀ پروالرمه
توتان پاخۀ شوه توت خورکې
اوس دتوتانوپۀ خابنوګرځه مینه
توتیان دغرونونیوی نۀ شي
ستاپۀ شان ډېروخلکواېښي دي دامونه
توتي بۀ خدای پۀ ګلوموړکي
باغوانه ستانیمګړی نیت مې ژړوینه
توتي پروچه ونه ناست دی
دبېلتانۀ لمبویې سوي دي ځانګونه
توتي دزړۀ پۀ رنځ اخته شو
ځکه یې خوب دګل پۀ پاڼه زنګوینه
توتي ژړابلبل زاری کړي
دواړوکاتۀ چې خزان ګل ورژاونه
تودې تودې اوښکې مې درومي
دزړۀ کترې پۀ سرۀ انګارکې وریتومه
تورپۀ رنجک پۀ وینوسورشي
سالم پۀ تن بې ننګه مه راځې مینه
تورتم دهجر چې دې زورشي
دخیال مشال دې همېشه پۀ مخ کې وړمه
توردې کاکل تورې دوروځې
کورته جاروزې مخ راواړوه مینه
توردې زلفان توردې چشمان دي
توردې کاکل پۀ زړۀ مې داغ ولګاونه
توردې پوړنی سره یې غاړه
ماپۀ کې نغاړه مسافرراغلی یمه
توردې پېکی نری دوروځې

کۀ ته راووځې مابۀ ورک کړې لۀ وطنه
تورلونګين راته تيارکړئ
سپينه سينه باندې لونګ مزه کوينه
توروټوپکوکاريګره
کۀ مې يارمړشوخون بۀ يې ستاپرغاړه وينه
توروټوپکوته دې زورشو
پۀ توروخاوروکې دې څۀ ليدلي دينه
توره بۀ کړم ماتې بۀ نۀ کړم
کۀ خپل اشناراسره يوځاى وي مينه
توره بۀ کړې برى بۀ راوړې
کۀ توره نۀ وي ځوانان تل پۀ تورومرينه
توره بۀ نۀ کړې نوبۀوڅۀ کړې
چې سپين مړونددې زۀ ترسرلاندې کومه
توره پۀ لاس بوړى پۀ غاړه
جانان ولاړدى دميوندغزاله ځينه
توره پۀ وينوهلک راغى
ځکه يې توره پۀ سروشونډوپاکومه
توره تيارۀ ده نۀ دې وينم
پرتوراوربل باندې دې بل کړل مشلونه
توره تياره ده راځه کورته
پۀ لويه لارکې سړى نۀ کوي خوبونه
توره تيارۀ ده نۀ دې وينم
پۀ ځنځيري چارګل دې کېږده مشالونه
توره تيارۀ کټونه ډېردي
بنګړوته شرنګ ورکړه چې ودې پېژنمه
توره تېراتوې يې ونې

ترې لاندې ناستې سپينې خولې توراوربلونه
توره غمازته پۀ کارېږي
دلبره ستاسترګې دوستان قلموينه
توره راواخله سرمې پرې کړه
دجدايۍ خبرې مه کوه مينه
توره زمادپلارمنصب دی
دانورعالم چې لافې کړي خنداراځينه
توره کول ورسره بويه
کۀ دې پۀ کاروي چې ځوانان دې يادوينه
توره لحده پرله ګډشې
چې زيږ ځوانان پۀ لنګوټو درځړوينه
توره وهه مخ ته مې ګوره
کۀ دغليم سردې خطاکړ ګرمه يمه
تورې بۀ نۀ کړو نو بۀ څۀ کړو
چې مو شيدې دپښتنې رودلې دينه
تورې پۀ خرخ وهئ ځوانانو
هېوادموخپل دی پۀ سروويئوبۀ يې ساتونه
تورې دې سترګې توردې خال دی
تورې دې وروځې توراوربل زړګی مې وړينه
تورې وهې بې ننګه نۀ يم
نن مې دښمن لره وهلي سنګرونه
تورې هغه ځلمي وهينه
چې يامين وي يايې پېغله ناسته وينه
توښۀ دې ځان ته کړه تياره
مخکې سفرته دې تکړه کړۀ اندامونه

تومت زمادتن جامه ده
دتن جامه خلک پهٔ خپله زړوینه
تومت دې ټول زماپرسرشو
پهٔ نارنجي سینه دې بل وکړهٔخوبونه
تهٔ بختوریي سوداګره
چې مرغلرې خرڅوې شمېرې خالونه
تهٔ پهٔ سرهٔ پالنګ کې خوب کړې
زهٔ زیږې تیږې ترخپل سرلاندې کومه
تهٔ بهٔ پهٔ کوم مجلس کې ناست یې
زمالمن داوښکوډکه ده مینه
تهٔ بهٔ پهٔ کوم هېوادکې ګرځې
زهٔ ستادمخ تصویرپهٔ زړهٔ کې ګرځومه
تهٔ بهٔ دکوم مجلس څراغ یې
زهٔ دهجران پهٔ تاریکوکې ناسته یمه
تهٔ بهٔ کرارپروطن ناست یې
پرمابهٔ تل وي ددښمن لوی ګوزارونه
تهٔ بهٔ پهٔ شنوخالومین یې
زهٔ دې داغوړوڅنووخوړم مینه
تهٔ بهٔ مې هلته ارمان وکړې
چې کټ مې واخلي توروخاوروته مې وړینه
تهٔ دپالنګ دپاسه خوب کړې
پرماپراتهٔ دي ددښتوسپېرهٔ ګردونه
تهٔ پروطن خوشاله ګرځه
زهٔ بهٔ دتورو تېروم پرسروارونه
تهٔ پروطن خوشاله ګرځه
زهٔ تېروم دبېلتانهٔ سخت کړاونه

ته په پياله کې اوبه راوړه
دجانان ځنې مې ګردووهلې دينه
ته په ځوانۍ کې ځوني مرګ شې
ستاپه ځوانۍ کې نيمه خواشومه مينه
ته په سنګرکې ځان شهيدکړه
زه به خولګۍ اوزلفې تالره ساتمه
ته په سفرکې خفه مه شه
وعده مې داده ستاپرپټ به ناسته يمه
ته په غزاکې ځان شهيدکړه
زه به خپل شال ستاپرزيارت وغوړومه
ته پرکالۀ خوشاله ګرځه
زه دوطن دتورو غرونوپناشومه
ته پرلوستلوصرفه مه کړه
نجونوپېغورراکړ چې ياردې امي شونه
ته په مخ ځه مه ايساريږه
ترشادې ناوې پښتنه ولاړه يمه
ته په وطن خوشاله اوسه
په مادې ښاخې ددکن زاړه ځپرونه
ته په وطن خوشاله ګرځه
زه په کابل کې لکه واوره ويلې شومه
ته په وطن کې خوشالي کړه
زه به ګالمه پردښتودېرزحمتونه
ته چې اوس ځې پرچامې سپارې
که پربې ننګومې سپارې سپې به مې خورينه
ته چې جلاشوې ارمان راغی
چې په ځيرځيرمې درته نه کتل مينه

تۀ چې دخپل اختیارخاوندشوې
اوس دې زمالۀ یارۍ واخسته لاسونه
تۀ چې دکورپۀ لورې لاړې
مالاپخوادرته تاپونیولی ونه
تۀ چې راتلې کاشکې خبر وی
زۀ بۀ دې مخکې سلامې ولاړه ومه
تۀ چې راځې مابۀ خبرکړې
چې پرپالنګ لاچې لونګ وغوړومه
تۀ چې زماپۀ غېږ کې رېږدې
هلته بۀ څۀ کړم چې دتوروبرېښناشینه
تۀ چې زمادیارۍ نۀ وې
زماویدۀ زړګی دولې ویښاونه
تۀ چې سبالۀ باغه راشې
لۀ پرخوډک ټیکرې پرماځنډه مینه
تۀ چې لوکړې ګوتې بۀ پرې کړې
زۀ سورپېزوان پۀ نرۍ پوله درغلمه
تۀ چې لۀ سین نه پورې وزې
پلودې نیسه زۀ منې درغورځومه
تۀ چې مدام بې ماویدېږې
کټ دښامارشه چې دخوب ته نۀ پرېږدینه
تۀ چې ولاړېې ګلاب غواړې
وزګاره نۀ یم چې باغچې له لاړه شمه
تۀ خوچې ځې اخربۀ لاړشې
زمادمخه داسې مه وایه چې ځمه
تۀ خوچې ځې پۀ مخ دې ښه شه
مابۀ دغم پۀ لمبووسوزې مینه

تهٔ داخترپهٔ سباراشه
زهٔ بهٔ درووځم تورې سترګې سرهٔ لاسونه
تهٔ داشنانه ښایسته نهٔ یې
ګلابه ولې پهٔ چرګ بانګ سپړې ګلونه
تهٔ دګلاب پهٔ شان تازه یې
زهٔ دزېړ ګل پهٔ څېر زېړی ګرځم مینه
تهٔ دګودرغاړه بانه کړه
زهٔ بهٔ منګی پهٔ لپه وروورو ډکومه
تهٔ دګودرغاړې ته راشه
ماپهٔ منګي کې پراتې راوړې دینه
تهٔ لهٔ نالی راولاړنهٔ شوې
داستاپېغورجینکی ماته راکوینه
تهٔ دې د شونډوشربت راکه
زهٔ دهجران پهٔ تبه پروت زګېروی مې ځینه
تهٔ دې دزړهٔ برجونه ټینګ کړه
ماخېژولي پرخيالي اوربل توپونه
تهٔ فریادي ورشه کاغذه
دسوي زړهٔ مې یارته وکړه فریادونه
تهٔ چې ترسین راپورې وزې
اوربل جاله که دواړه زلفې تنابونه
تهٔ مسلمان شه خولهٔ دې راکړه
نامرده پرېږده دهندوانومجلسونه
تهٔ مې اروازهٔ دې کالبوت یم
چې اروانهٔ وي کالبوت تورې خاورې وینه
تهٔ ولې خوب پرپالنګ ډېرکړې
بېلتون بهٔ راشي ماوتا بهٔ جلاکړینه

تهٔ ولې خوب پهٔ پالنګ ډېر کړې
عيش دهغودی چې لاهورپهٔ توروخورينه
تهٔ يې کوه زهٔ بهٔ يې ګالمه
که جانان راغی بندپهٔ بندبهٔ يې ورته کړمه
تهٔ يووارراشې بېنواشې
دااوم کال دی لېونی درپسې شومه
تيارهٔ زما پهٔ سترګوراغله
کهٔ تورې وريځې پهٔ اسمان راغلې دينه
تيارهٔ ماښام دی ښېرامه کړه
تهٔ بهٔ دنازښېراکوې رښتيابهٔ شينه
تيراته لاړشه بوړی راوړه
زماپهٔ سپينه خولهٔ بهٔ وشي جنجالونه
تېربهٔ دادوې ورځې دوران شي
دنېکۍ نوم ګوره يادېږي ترعمرونه
تېرشوی عمربهٔ رانهٔ شي
کهٔ اکبري مرجان پهٔ لپوواړومه
تېرشوی عمربهٔ رانهٔ شي
کهٔ ددنيابېدياوبهٔ پهٔ اوښکوکړمه
تاچې کول هغه دې وکړل
پهٔ مادې نوم دبې وفاکېښودمينه
تاخوپهٔ لاپوزهٔ مين کړم
اوس راته وايې زړهٔ دې صبرکړه مينه
ناوې زمادباغ ماليارشه
پهٔ مزدورۍ کې بهٔ خولګۍ زهٔ درکومه
تردې بوړي ټوپک دې ځارشم
پهٔ غاړه ستادی کړه زه درسره ځمه

ترکلادوونجونوسر هسک کړ
بوه ویشتل کابله غشي ورکوینه
ترګل نازک مخ دې رنګین دئ
زړګی مې شین دئ اندېښني درپسې کړمه
تندی مې سوی دی عالمه
ځکه جانان راځینې واخستل لاسونه
تنه مې ډکه کړه دګلو
پهٔ دې بهانه بهٔ دخپل یاروکړم سیلونه
ټوپک دې بیاپهٔ ولیوسپورکړ
لکه پهٔ تورچنارچې واچوې ټالونه
توتان پاخهٔ لېونۍ مړه شوه
دې بهٔ ښندل مابهٔ خوړل مشغول بهٔ وونه
توره تیرا تورې ښنګلې
لیلامچۍ شوه زهٔ بهٔ یې چېړې لټومه
تورې پهٔ خرپ وهئ ځوانانو
دباباملک دی پهٔ سروونیوېې ساتونه
تورې دې سترګې تورې زلفې
ما دې صفت پهٔ سلالاکې واورېدنه
تهٔ بهٔ پهٔ سره بستره خوب کړې
مابهٔ داستاغمونه ورو ورو ژړوینه
تهٔ پرون چېړې وې لوی مه شې
چې شالیلاپهٔ سپینه خولهٔ کړهٔ خیراتونه
تهٔ کهٔ زماپهٔ تمه ناست یې
تمه دې غوڅه کړه مایارنهٔ درکوینه
تهٔ کهٔ زماډپلارمزدورشې
دباغ پهٔ پوله بهٔ جوړه ګرځو مینه

تیر اناموس دپښتنو دی
ټوپک راواخله پرنګیان تیرا ته ځینه

د (ټ) څخه تر (ج) پوری

**ټال ته ختم بنګړي مې مات شول**
**ګناه دې یارده چې کوي اشارتونه**
**ټال کې ځانګل درته نۀ ښایي**
**بوی دې دزلفو شمال وړي کوي مرګونه**
**ټال مې بانه مطلب مې تۀ یې**
**چې دسورکي سالو دې وکمه سیلونه**
**ټبردې ټول راباندې ګران دی**
**زۀ ستالپاره دوړوسلام کومه**
**ټپوس دبازپۀ نرخ خرڅیږي**
**زۀ پۀ دغه بازارسوداکله کومه**
**ټپوس کوتره پۀ خولۀ یوړه**
**شهبازه وخورې مرکندۍ دواړه څنګونه**
**ټټرمې توروته ستاونیو**
**پاس پۀ تندي مې دچړوواخستل وارونه**
**ټغربۀ ټول دژوندانۀ شي**

د مرګ له لاسه به برباد شي وطنونه
ټک خود دوا ړو لا سو خپژي
اشنايي هم له دوا ړو خوا ؤ مزه کوینه
ټکر ټکر په تورو را شي
چې پر هارونه دې ګنډم خوله درکومه
ټکر ټکر مې کورته یو سئ
چې د ملالو نجونو خوارا سره شینه
ټکر ټکر مې مورته یو سئ
که شهید شوم چې ونه کړي فریادونه
ټکر ټکر مې مورته کېږدئ
چې د مالت نجوني زېري ته را ځینه
ټکي په ټکي مې لو ستلي
د میني باب کې دې بې شماره کتابونه
ټک مې د ملا پیوند وو کړ
چې مې جانان په ولیو کېښول لاسونه
ټګي دې وکړه ټګه یاره
ستادې ټګۍ کاغذ په جیب کې ګرځومه
ټګي دې وکړه ټګه یاره
ستادې ټګي زما د صبر پر خدای وینه

ټوټې ټوټې پۀ تورو راشې
چې پرهارونه دې پۀ زلفو درګنډمه
ټوټې ټوټې پۀ تورو راشې
دبې ننګۍ احوال دې مه راځه مینه
ټوټې ټوټې خاورې ایرې شوم
ډېر بې اسرې شوم څوک مې نۀ کوي پوښتنه
ټوټې ټوټې زړۀ بۀ مې جوړشي
کۀ دجانان ګلابي مخ تش ووینمه
ټوټې ټوټې زړۀ بۀ راټول کړم
راټول بۀ نۀ کړم پرجانان پراته لاسونه
ټوټې ټوټې زړۀ بۀ راټول کړم
بیابۀ پۀ خولۀ داشنانوم نۀ یادومه
ټوټې ټوټې مات شې ربابه
مین پۀ مادی غم پۀ تاغلطوینه
ټوټې ټوټې مات شې قلمه
چې دمین مقصد دې نیم پرېښوظالمه
ټوټې ټوټې مې پلارته وروړئ
زېرې پرې وکړئ چې لیلا وژلې دینه
ټوټې ټوټې مې ورته یوسئ

دلبونۍ دمورچې خوارايخه شينه
ټوټې ټوټې کۀ مې صورت شي
هېرېۀ مې نۀ شي ستادظلم ګوزارونه
ټوپک راواخله تازيان توکړه
دشاليلاپۀ سينه زرکې ناستې دينه
ټوپکوبياغاړې کږې کړې
ګوليويوړۀ دځوانانولړمنونه
ټوخې ونۀ کړې ياره چپ شه
ستاپۀ ټوخي بۀ مې موروينبه شي مينه
ټوکې مې کړې مطلب مې نۀ ؤ
اوس خوپۀ دام دتوروزلفوونښتمه
ټول بۀ لۀ خپل قربان کړم
هم تورې سترګې بل شين خال او سرۀ لاسونه
ټول مې دزړۀ پۀ سررا ټول شوې
ميرات شي غمه پۀ خندادې تېرومه
ټول بۀ ځو دجنګ ميدان ته
نه چې پېغوردکوم غليم راپاتې شينه
ټول لۀ مانه شول بېزاره
کۀ مې قريب کۀ مې اشنا کۀ مې خپل وونه

ټيک پرتندي پېزوان پرشونډو
اوربۍ پۀ غاړه دنجلۍ مزه کوينه
ټيک دپادشاه خال دې وزير دی
دالونګين دې رسالدارپۀ مخ کې ځينه
ټيک يې پۀ سروشونډومزه کا
لکه بلبل چې پۀ چړک بانګ نارې وهينه
ټيکې کوه او بيايې ليکه
چې پۀ ټولۍ کې شرمنده نۀ شې مينه
ټيکې مې ډ برې درته وکړې
پۀ لااله الاالله يې ختمومه
ټينګه مې مه نيسه پۀ غېږ کې
سينې مې نوي غندل کړي مات بۀ شينه
ټينګه مې مه نيسه پۀ غېږ کې
تې مې واړۀ دي سربنۍ بالغه يمه
ټينګه مې مه نيسه پۀ غېږ کې
سبابۀ بوی دلونګين درڅخه ځينه
ټينګه مې مه نيسه پۀ غېږ کې
سترې ستومانه لۀ وادۀ راغلې يمه
ټکرې خورمه ټکرخورشوم

ستا مینتوب رابانديږ وکړل فساتونه
ټوټې ټوټې مې يار له يو سئ
هره ټوټه مې د ببلتون فرياد کوينه
ټوټې ټوټې ورپسې زهٔ يم
پهٔ نارنجي مړوندېږ بل کوي خوبونه
ټپې خوواړپهٔ وارمزه کا
لکه چې وارپهٔ وار څوک ښکارنيسي مينه
ټيک دې راوارو ه ټيکدارې
يار دې شب کوردی ستا د ټيک پهٔ رڼا ځينه
ټيکۍ پهٔ واررا سره وله
يار دې ولاړدی د ټيکيو تول کوينه
ټيکۍ پهٔ واررا سره وله
ماله بې واره ټيکۍ خوند نهٔ راکوينه
ټينګه وعده راسره وکړه
د جينکو پهٔ وعده نهٔ شته باورونه

جادوګرۀ پررانه چاپېردي
د خپل جانان څخه مې لرې ګرځوينه
جاذبه ډېره لرې زياته
ستا پۀ محبت خلکو پرېښودل ملکونه
جاله لاهو کړه جاله وانه
ناوخته کېږي دا اشنا غېږې ته ځمه
جام بۀ دوصل بيارانۀ کړې
کۀ پۀ ژړادرته ټول عمروژاړمه
جام دې جمشېد دې رب نصيب که
د سلېمان نګين دې ستا پۀ ګوته وينه
جامې مې ستا پۀ وينو رنګ شوې
پۀ وينورنګ جامې بۀ چېرې بدلومه
جامې مې تن کې سورانګارشي
خطامې وارشي چې لۀ تانه جدا شمه
جانان بۀ لرې لۀ مانۀ ځي
کۀ يې دزړۀ ريښې زمالۀ باغه وينه
جانان بۀ ولې توره نۀ کړي
ترنيمايي مورچله زۀ ورسره ځمه
جانان پۀ سروسترګومين دی

زۀ بۀ دا توري سترګې چېرې بدلومه
جانان پۀ جنګ کې توره وکړه
څکه همزولې ورته کوښې سموينه
جانان پۀ خپله راته ووې
ملنګه څه ياري دې نوره نۀ کومه
جانان پۀ زين کې راته کوږ شو
د جستوڅوکې لګوم خولۀ ورکومه
جانان پۀ ګلوکې ويدۀ دی
د سپينې خولې شبنم بۀ زۀ پرې اورومه
جانان چې تلۀ دا يې ويل
چې تر قيامته پورې نۀ شته ديدنونه
جانان چې تلۀ ماته يې وويل
چې پسرلی سررساندې ګل کړي رابۀ شينه
جانان چې خپله راسره وي
د بېلتانۀ دې تل تر تل خلاص وي لاسونه
جانان چې ځي مخ ته دې ښۀ شې
زړۀ زما پۀ زلفو بند دی رابۀ شينه
جانان د باغ د سر منه ده
نۀ ورختی شم نۀ مې زړۀ صبر کوينه

جانان د خاورو لایق نهٔ دی
زرګره جوړ که د سرو زرو صند قونه
جانان د لمر ستر ګه را خېژي
بېلتون وا اوره ده ورته نیسي کنډوونه
جانان دې بد پر ما ثبوت کړي
بې بد وولې زړهٔ لهٔ مانه بد وینه
جانان دې بد کړي زهٔ بهٔ ښهٔ کړم
د جانان بد مې پهٔ لیمو منلي دینه
جانان دې بد کړي زهٔ بهٔ ښهٔ کړم
خپل بد بهٔ یې هېر شي زما ښهٔ بهٔ یاد وینه
جانان را نغی خدای زده ولې
د ولس بجې د ما سختن ورد دې وهینه
جانان زما پهٔ سر پا چا دی
کهٔ لاس ترې وا خلم د دوهۍ ملنګ بهٔ شینه
جانان زما د تن لباس دی
زهٔ چې لباس لرې کوم بربنډ بهٔ شمه
جانان زما ګل د زنبق دی
زما سبق دی هر سبا یې یادومه
جانان لهٔ مانه رخصتېږي

رامعلومېږي چې بند پرې دي دېدنونه
جانان زما ماه تابان دی
پرما ډېر ګران دی زهٔ یې تل سلام کومه
جانان زما زهٔ د جانان یم
کهٔ پهٔ بازار مې خرڅوي ورسره ځمه
جانان زما د بل چا نهٔ دی
ما د کلو دي پرې اخستي تهمتونه
جانان زما د مخ دسمال دی
دسمال مې ورک شو مخ مې ډک شولهٔ ګردونه
جانان زمانه مرورر دی
زهٔ مرورد ټول جهان پخلا کومه
جانان کوچی ؤکوچ یې وکړ
ما یې خالي دربارته پورته کړل لاسونه
جانان کهٔ بد کړي زهٔ بهٔ ښهٔ کړم
بد یې تر هغه پورې وړم چې مین یمه
جانان کهٔ تور دی څهٔ پېغور دی
بورا چې تور دی غنچه سپینه بویونه
جانان کهٔ خس دی زما بس دی
زما توبه ده د پردولهٔ دیدنونه

جانان کۀ مري کۀ پاتې کېږي
دا مې عادت دی نرۍ سترګې تورومه
جانان لۀ مانه خرما غواړي
بې نیازه یاره خرمازۀ ولاړه یمه
جانان لۀ مانه مرور دی
د اسمان ستوري بۀ جرګه ورته لېږمه
جانان لۀ ما څخه مرور دی
پۀ ما محشر دی ځمکه ځای نۀ راکوینه
جانان مې ټپ پۀ ټټرو خوړ
پۀ جګ مغزي د کلو پېغلو کې ګرځمه
جانان مې جنګ کې ماتې وکړه
پۀ بېګانۍ ورکړې خولۀ پېښمانه یمه
جانان مې جنګ کې توره وکړه
ځکه همزولې راته کوښې سموینه
جانان مې خولۀ کې ژبه غواړي
پۀ خوند یې نۀ دی خپل قلنګ جاري کوینه
جانان مې ځي نۀ راپاتېږي
زۀ یې رخصت کړم کۀ زۀ هم ورسره ځمه
جانان مې ځي نۀ راستنېږي

پهٔ نارنجي مخ مې سېلاب داوښکو ځینه
جانان مې ستوری د اسمان شو
تمام جهان يې د سپين مخ ديدن کوینه
جانان مې سر پروطن کېښود
پهٔ تار د زلفو بهٔ کفن ورته ګنډمه
جانان مې سور کفن اغوستی
پهٔ استقبال يې پرښتې ولاړې دینه
جانان مې ګل د بیابان ؤ
لکه شبنم پرې وربېدم تازه مې کنه
جانان مې ګل زهٔ يې بلبل یم
خدای دې بلبل لهٔ ګله نهٔ جدا کوینه
جانان مې ګل زهٔ يې ډنډر یم
خاورې يې مه کړې د ډنډر د ښاخ ګلونه
جانان مې ګل غماز اغزی دی
چې لاس وراوږد کړم اغزی لارنهٔ راکوینه
جانان مې ګل لهٔ لاسه نهٔ اخلي
د اسمان ستوري مرکه پسې لېږمه
جانان مې ګل لهٔ لاسه نهٔ اخلي
چې د جانان دلاسه زهر وي زهٔ يې خورمه

جانان مې نۀ تۀ مارهي کړ
د پښېمانۍ اوښکې مې ځي پر ګرېوانونه
جانان مې هېڅ نۀ معلومېږي
راته ښکارېږي پۀ سفربۀ تللی وينه
جانانه بد راسره مه کړه
مادې لۀ ميني پۀ زړۀ ګل کړلي دينه
جانانه بد راسره مه کړه
زماهمدغه تمه وه چې يارلرمه
جانانه بدمې اموخته کړې
چې خولۀ درنۀ کړم مرورګرځې مينه
جانانه پاڅه روانېږه
کاروان تېرېږي تۀ بۀ پاتې شې مينه
جانانه پاڅه ماته ګوره
شين خال پرزنه سلامي ولاړه يمه
جانانه تاته مې اسره ده
چې نا اميده مې پرېنږدې مينه
جانانه تاکۀ لونګ راوړۀ
زۀ بۀ لۀ خياله لونګين پۀ غاړه وړمه
جانانه ته بۀ اوس ويدۀ يې

ما ته د غم لۀ لاسه خوب کله راځينه
جانانه تۀ دې خفه نۀ يې
زما کۀ عمر پۀ ضرورو وي تېرېږي شينه
جانانه ته مې غولولې
خال مې د خامونيلوا ښنې وران بۀ شينه
جانانه تورسېرلی حلال کړه
خسنې وشو پۀ چمکې دې پاتې شومه
جانانه ځار دې ترنامۀ شم
چې نوم دې اخلم د زړۀ باغ مې اوبۀ شينه
جانانه جنګ ته ځان تيار کړه
د مرچل سرته بۀ رس زۀ د رخېژومه
جانانه جنګ نۀ پۀ شانۀ شې
چې د همزولو راله نۀ شي پېغورونه
جانانه جګه د رته نۀ شوم
ترپښو مې لاندې شوۀ د زلفو تنابونه
جانانه جوړ بۀ لېونی شې
کۀ داوربل د پاسه کېږد م ژېړ ګلونه
جانانه حال دې راته وايه
چې پۀ خفه زړګي دې څۀ تېرشوي دينه

جانانه خدای کۀ بۀ ملا شې
پر کتاب پروت يې یادوې شينکي خالونه
جانانه خدای د پاره راشه
دغه لوېدلی زړۀ مې چوي وبۀ مرمه
جانانه خولۀ بۀ هله درکړم
کۀ دې غمازلۀ ملکه وشاړومينه
جانانه خولۀ ترې لاندې باسه
دزنې سرمې ګبينی وخڅېدنه
جانانه ځان ته کفن جوړکه
ما پۀ خمارو سترګو ډېروژلي دينه
جانانه ځه الله دې مل شه
زۀ شينکۍ خال اوزلفې تالره ساتمه
جانانه ځه مخ ته دې ښه شه
زۀ پښتنه یم ستا پۀ پت بۀ ناسته يمه
جانانه ځه دوطن جنګ دی
د پښتونټګ دی پردښمن وکړه تاختونه
جانانه ځه ښادي بۀ نۀ کړې
چې پۀ خوږمن زړګي ښېرا درته کومه
جانانه ځه کډه دې واخله

پهٔ مانوبت دېلتانهٔ وغرېدنه
جانانه ځه مانه رخصت يې
نوردې دغم انګارته نهٔ نيسم مينه
جانانه دادې بېغوري ده
کوردې پهٔ کلي کې ديدن دې پهٔ کلونه
جانانه دادې څهٔ عادت دی
چې پټه پټه ياري کړې خورې قسمونه
جانانه داسې خوښوک نهٔ کړي
لکهٔ دسوال کتره دې اورته ونيومه
جانانه داسې خوښوک نهٔ کړي
چې پهٔ تمام عمردې بندکړهٔ ديدنونه
جانانه داسې وخت دې راشي
چې ټوپک واخلولاس ترلاس مرچل ته ځونه
جانانه داوارې پخلاشه
بيامې توبه ده جنګ بهٔ نهٔ درسره کړمه
جانانه دومره درسره وی
لکه برېښنا چې دورېځو سره وينه
جانانه راشه ادم خان شه
ددرخانۍ مينه پرماوکړه مينه

جانانه راشه چې پخلا شو
سوی بېلتون پۀ دنیا شته جدا بۀ شو نه
جانانه راشه چې پخلا شو
لاس بۀ ترلاس نیسو دګلو سیل بۀ کړو نه
جانانه راشه چې پخلا شو
دنیا فاني ده مرګی شته جدا بۀ شو نه
جانانه راشه چې خولۀ درکړم
مابنام مې مړ پۀ خوب لیدې وو پرېدمه
جانانه راشه چې خولۀ درکړم
بیا بۀ ګیلې کړې لیلا خولۀ نۀ راکوینه
جانانه راشه حال مې واخله
لکۀ دوچې ماهي پروت سلګۍ وهمه
جانانه راشه کۀ مې ګورې
زۀ دې شکېدلي پاڼ پۀ سر ولاړه یمه
جانانه راشه کۀ مې ګورې
پۀ سرو جامو کې لکه ګل ولاړه یمه
جانانه راشه کۀ مې ګورې
لحد ته یې کوز کړم او س تختې راباندې ږدینه
جانانه راشه ګل او بۀ که

پر سپین بارخومې اوبهٔ ډنډ ولاړې دینه
جانانه رنګ دې ولې زېړ دی
بېګاته راشه چې دې موړپهٔ دیدن کړمه
جانانه زېړی مې دربانده
دښمن دې یو موټی ایرې شو بادېې وړینه
جانانه زېړی مې دربانده
وصال پاچاشو بېلتون قید دعمرشونه
بېلتونه ژرتلوارراوکه
ټوله داستایم سترګې تاته تورومه
جانانه ژرمې خنګ ته راشه
لهٔ ډېره غمه لېونۍ درپسې یمه
جانانه ژرپهٔ منډه راشه
موزي ویدهٔ دی چې خولګۍ درکړم مینه
جانانه زمابهٔ څهٔ ښادي وي
چې عاشقان دې بېنوا شړلي دینه
جانانه ستا جفا چې ګورم
لکه نرګس دفکرتال مې زنګوینه
جانانه ستادراتلوغږ دی
تلې مې سوزي پهٔ غرموولاړه یمه

جانانه ستا د زړهٔ لپاره
د کلي جنګ د مور خبرې تېرو مه
جانانه ستا د زړهٔ لپاره
زهٔ د نوښار پهٔ چتهۍ راغلې يمه
جانانه ستا د زړهٔ لپاره
زهٔ پهٔ غرمه د ګودر غاړې له درځمه
جانانه ستا د زړهٔ لپاره
پهٔ سرو لمبو باندې داورولاړه يمه
جانانه ستا د زړهٔ لپاره
پړى پهٔ غاړه پيربابا روضې ته ځمه
جانانه ستا خاطر لپاره
ما پسې شاکړل مورو پلار شهزاده ګان ورونه
جانانه ستا خاطر لپاره
زهٔ خوشامندې ستا د ټول ټبر کومه
جانانه ستا د ډېره غمه
پهٔ لاس کې شمع ګرځوم شبکوره يمه
جانانه ستا ليدو له راغلم
غېږ را ته نيسه رڼګه بڼګه درغلمه
جانانه ستا نوم پهٔ کې ليک دى

لوح و قلم پۀ تاویلي درود و نه
جانانه ستالۀ ډېره غمه
بل کار مې نۀ شته پۀ کتاب مشغولا کړمه
جانانه ښۀ دی چې تۀ راغلې
ما پۀ کچکول پترې وهل درپسې تلمه
جانانه ښۀ دی چې زخمي شوې
زۀ بۀ دا خپله غاړه هسکه ګرځومه
جانانه لاس دوصل راکړه
چې پۀ دریاب د بېلتانۀ کې ولوېدمه
جانانه لوی شې برخوردار شې
نصیب د پلار شې زۀ دې تش دیدن کومه
جانانه لوی خاوند ته ګوره
پرغم لړلو باندې مه کوه ظلمونه
جانانه لږ کوټې تلوار کړه
وروستی دیدن دی بیا بۀ نۀ شي دیدنونه
جانانه لږ مې پۀ خوا راشه
غور مې و کړه چې رنځور درپسې یمه
جانانه مخ دې ځومره سپین دی
د کندهارۍ روپۍ پۀ شان رڼا کوینه

جانانه مخکې شه لار ګوره
ملا په خوب کې ليدلي نۀ ؤ دا ملکونه
جانانه مرې کۀ پاتې کېږې
په تورا وربل مې سودا ګروګرځېدنه
جانانه ملا وتړه جنګ دی
د وطن ننګ دی پر دښمن وکړه تاختونه
جانانه وايه کۀ څۀ وايې
سبا سهار دی د بور جل څخه دې ځمه
جانانه ودې سوم لمبه شوم
زما همزولي دې بې ننګه يادوينه
جانانه ورشه ورته وايه
کۀ مې د بد وزورلرې درسره ځمه
جانانه ولاړې مسافرشوې
تر شادې پرېښودل دلګير خواشيني زړونه
جانانه ولې ګيله من يې
زما د زړۀ د پاسه کېږده قدمونه
جانانه ولې بې وفا شوې
چې مې لۀ دره بېنوا باسې مينه
جانانه ولې لېونی شوې

پرلاره ځې پۀ لوټوولې زيارتونه
جانانه ولوله ملا شه
نجونو پېغور راکړ چې يار دې امي شونه
جانانه ومې غولولې
خال مې خوشې د رنجو دی ړنګ بۀ شينه
جانانه ويښ يې کۀ ويدۀ يې
ستا ترکوټې مې لاس تړلې تېروينه
جانانه هلته بۀ مې هېر شې
چې د لحد خاورو کې کېږدم مړوندونه
جانانه هلته دې خدای مل شه
چې د ټوپکو لۀ خولې خېژي شنۀ دودونه
جانانه يو تربل بۀ ځار شو
سږنی کال د بېلتانۀ رانوی شونه
جبل وهه دنيا پرسته
زما د کټ خندا دې هېره شوه مينه
جدا بۀ زۀ لۀ تانه نۀ شم
کۀ پۀ سينه باندې مې خښ شي نشترونه
جدايې داسې سخت مرض دی
د دې مرض طبيب بۀ چېرې لټومه

جدايي راغله جدا کېږو
جدا جدا بهٔ سرهٔ ځو ويشتلي زړونه
جدايي راغله جدا کېږو
زنه مې رېږدي اوښکې لارنهٔ راکوينه
جدايي راغله لارې دوې شوې
زهٔ دا اشنا سره پهٔ دغې لارې ځمه
جدايي راغله لارې دوې شوې
مرګ مې قبول دی جدايي نهٔ قبلومه
جدايي راغله لارې دوې شوې
د جدايۍ پهٔ ځای بهٔ ځلی جوړومه
جدايي سخته بې کسي ده
پهٔ خوب ويده اوښکې مې ځي پرګرېوانونه
جدايي مه راولې خدايه
ما جدايي ليدلې نهٔ ده وبهٔ مرمه
جرې وهم نارې مې نهٔ اورې
تالاوالا دبېلتانهٔ پهٔ داړه شومه
جغ پراورېو چوکه پهٔ لاس کې
زهٔ د بېلتون يوې تړم اغزي کرمه
جفادې خوی دی لهٔ تانهٔ ځي

نافهمه زړهٔ مې د وفا امید لرینه
جفا ستا بس زما پهٔ باب ده
خیال ته دې ووایه چې همېش راته راځینه
جګړه جګړه وایې جانانه
داډ بړې تورې د پښتون دي عادتونه
جګړې ته مادرسره بوځه
چې دې پهٔ جنګ کې کومکې ولاړه یمه
جګ شوم دلوړې غونډۍ سرته
سترګې مې ښکارکړي زړهٔ مې غم راټولوینه
جلال اباد سخته ګرمي ده
کهٔ لمر راوخوت ستا لونګۍ بهٔ سایه وینه
جمال چې رب درته درکړی
ځله مغروروربا ندې یې اخلې خونونه
جمال کمال درکړی رب دی
ماته دخیال کاتهٔ کوې رنځوردې کړمه
جنګ مو دکلي منځ ته راغی
جانانه پورته شه چې ملا دې وتړمه
جنګ ته بمبل ږیره ورګډ شه
توره درواخله هلکان بېرته راځینه

جنګ خو نن بیا جوس ته راغی
ځوانان څنګلې لګوي اټک ګټینه
جنګ یې د کلي خواله راوړ
نته دې ډال کړه پهٔ چارګل کړه ګوزارونه
جنکو نوی دود جاري کړ
د کشمالو باغچې پهٔ بام کې جوړوینه
جورو جفا همد و مره بس ده
زما ترقیامته پهٔ کارنهٔ دي ستمونه
جهان د ژوند خالي بازار دی
د عمر بیه نو رڅهٔ نهٔ شته بې غمونه
جال د یارۍ دې راته کېښنود
زما د زړهٔ توتي دې ونیوهٔ مینه
جاله لاهو کړه جالوانه
ستا پهٔ جاله کې د پیربابا زیارت ته ځمه
جانان بې وخته رانه بېل شو
ډک لهٔ ارمانه زړهٔ بهٔ چاته تشومه
جانان مې ګل زهٔ یې بلبل یم
بلبل پهٔ ګل چغار کوي چې مړهٔ بهٔ شونه
جانانه ځه پهٔ خدای دې سپارم

کۀ ژوند باقي وؤ بیا بۀ وکړو دیدنونه
جانانه داسې وخت دې راشي
چې ټوپک واخلولاس ترلاس مرچل ته ځونه
جانانه راشه سامې خېژي
چې داوروستۍ سلګۍ دې غېږ کې ووهمه
جانانه ستا غمونه ډېرشول
د جدایۍ پۀ غم مې مه سوځه چې مرمه
جانانه یو ځلې خولۀ راکه
فاني دنیاده بیابۀ وکړې ارمانونه
جدایي نۀ ده سوردوزخ دی
ماددوزخ پۀ لمبومه سېزه مینه
جرس د زړۀ مې پۀ شورراغی
پۀ خوب ویدۀ عالم یې ټول ناکرارکنه
جمال د یار بۀ پیدانۀ شي
کۀ راحضورې ښاپېرۍ دارم شینه
جم ته انګرېز راغی عالمه
د پښتنو پۀ ملک جال وغوړاونه
جنت بۀ ولې خدای رانۀ کړي
د عاشقۍ پۀ تېغ شهید کورته ورځمه

جنګ د ښو لاندې پهٔ کار دی
پهٔ سترګو جنګ پهٔ خولې خوږې خبرې کړینه

د (چ) څخه تر (ځ) پورې

چاته بهٔ تور چاته بهٔ سپین یې
ماته د زړو کتهوری ښکارې مینه
چاته بهٔ ځهٔ ښکارې جانانه
ماته پا چا ښکارې سلام ته دې درځمه
چاته بهٔ ستالهٔ لاسه لاړشم
چې تهٔ مې نهٔ اخلې د زخمي زړګي حالونه
چاته مې ځهٔ بد رسولي
ستا پهٔ تومت مې خلک کلي نه شړینه
چاراته ویل یاربهٔ دې راشې
پهٔ قدمو باندې مې سترې کړهٔ بامونه
چارګل پهٔ پورزه که راووځه
لمر د ښایست لا پېۍ وهي چې خجل شینه
چارګل پهٔ پوزه که خدای یاد کړه
کهٔ چېرې یار دې مسافروي رابهٔ شینه

چارګل پۀ کورمه کې جوړېږي
د پېښور زرګره مات دې شه لاسونه
چارګل پۀ کورمه کې بندي شو
پېزوانه تابۀ یرغمل پسې لېږمه
چارګل پۀ لوړه پوزه خوند کا
لکه پۀ لوړ چنار کې واچوې تالونه
چارګل غټ پر پوزه ابښی
ستاد چارګل پرې مې شونډې ژوبلوینه
چارګل مې روڼ جوړ که زرګره
جانان مې کله د چارګل پۀ رڼا ځینه
چارګل مې سپینوا وبویوړ
پۀ غم شریکه یاره نیسه ګودرونه
چارۀ راوا خله ماونډې کړه
د جدایي نوم راته مه اخله مینه
چپاو د مرګ چې پۀ چار اشي
د نیانه ځي خالي لاسونه ارمان کوینه
چپاو دې سترګو پۀ ماوکړ
زما د صبر کور دې واړه تالاکنه
چپه پیکي دې لبونی کړم

یا یې بیاتي کړه یا یې غوټۍ کړه سرونه
چتې د پرې ته چلم راوړه
چې ستا اشنا پهٔ بلوري غابنونه ږدینه
چرخ فلک گردش لهٔ لاسه
څوک پهٔ خندا د چا پهٔ کورکې ژړا شینه
چرګانو ځای پرځای ناري کړې
جانان زما پهٔ غېږ کې خوبن دی نهٔ پاڅینه
چرګو ناري کړې صبحدم شو
د عاشقانو سره غوڅ شول دیدنونه
چلم پهٔ شرع ناروا دی
ما ته روا دی د یار غم غلطومه
چلم پهٔ بیره بیره ډک کړه
د کاروان سر پهٔ باجوړ ولګېدنه
چلم د سرو غاړه د سپینو
پهٔ سرو منګلو بهٔ یې یار ته ډکومه
چلم دې وڅکاوهٔ نشه شوې
تردې ملاله خولهٔ دې وواتهٔ دودونه
چلم مې ډک کړ لهٔ لونګو
کهٔ کبرجن جانان پرې خولهٔ ولګوینه

چمن کې بیا د بلبل غږ دی
د پسرلي موسم راوړي دي ګلونه
چنار به ولې سرلوړنۀ کا
چې جنکۍ ترې لاندې سترګې توروینه
چوکۍ دزړۀ به ورته کېږدم
کۀ جانان ناسته ترسبا پورې کوینه
چول بیابان د کربلا کې
پراتۀ پۀ وینو کې لکه ګل غوندې ځانونه
چونې پۀ توپونۀ رنګېږي
تکړه ځلمیان یې پۀ ټوپکو رنګوینه
چیغې بۀ ووهې پۀ زوره
کۀ دې تنګسه د هجرو لیده مینه
چې اخرت ته مې تظرشو
ځان ته مې فکرشو چې ولې لو یېږ مه
چې ادیرې لره مې وروړي
ښه دې راکړه چې عمري پۀ سفرځمه
چې اند ښښې درباندې زورشي
زما ښایسته ښه دریاده کړه مینه
چې باغ ته ځې ګل راته راوړه

زۀ يې جانانه پۀ اوربل کتارومه
چې بلبلان پرې خفه کېږي
خزانه تاچپاوکې څۀ ليدلي دينه
چې بې اځله مرګی نۀ شته
جانانه ښې تورې کوه چې نوم دې وينه
چې بېلتانۀ ته مې نظرشو
ځان ته مې فکرشوچې څله لويږدمه
چې بې وفااشناخبرېږي
د دښمنانوسپوبۀزۀ خوړلې يمه
چې بې وفااشناخبرېږي
دغم سېلاب بۀ پۀ دکن ويشتلې يمه
چې بې همزولودې کړم خدايه
لکه زېړغاړی کجيرناست يم پرلاښونه
چې پردنياپۀښۀرانه غلې
بيامې دشناختوپرسرمه وهه لاسونه
چې پرزينه ختلی نۀ شې
نامردې ولې دې ګيبې پرتوږ کاونه
چې پروطن ورسې کاغذه
اول ترې ځارشه بياپرې وايه سلامونه

چې پرې مېن شوې پرې يې نړدې
کۀ دې د تورتو پک ګولۍ پۀ نصيب شينه
چې پسرلی شوونې شنې شوې
زما ديارپۀ ونه جل ولګېدنه
چې پسرلی شي زړۀ مې بل شي
د ترنک نجونولره زۀ پۀ سيل ځمه
چې پۀ کې ونښتې جانانه
زما دزلفوول دې ولې لتاونه
چې پۀ تاوۀ پۀ مادې وکړۀ
پۀ تادې وشي دنۀ دزي شنۀ وارونه
چې پۀ سپروشي ماته ګډه
لۀ اسه کوزشه ډال دروارو ه مينه
چې پۀ شبنم او ګل خاندې
دغه د سروشونډو غاښونه دي مينه
چې پۀ ښايست مې خفه کېږې
نوربۀ د ځمکې خوب کوم چې زېړه شمه
چې پۀ ميوند کې شهيد نۀ شوې
خدای ږولاليه بې ننګۍ ته دې ساتينه
چې پيښورته ځې جانانه

ماته پوړنی د سالوراوړه جانانه
چې پېغلتوب مې راپهٔ یاد شي
د پېغلتوب قدر پهٔ سپین سر کې کومه
چې پیغمبر لهٔ دنیالاړهٔ
پاتې بهٔ نهٔ شي چې د ساخاوندان وینه
چې تاپګړی پهٔ سر کړه کړه
زهٔ بهٔ چارګل پهٔ پوزه نېغ ودرومه
چې تاراکړي ماخوړلي
دیارانې پهٔ کور کې نهٔ شته حسابونه
چې تاویزونه دې سوارهٔ کړهٔ
نورې مې شپې پروطن ګرانې دي مینه
چې تورلحدته مې ورتېټ کړې
مخ مې درلوڅ کړه چې بیانهٔ شته دیدنونه
چې تورې وخېژي ګله ږړه
ماپهٔ همزولوپورې ډېرخندلي دینه
چې تورې نهٔ کړې نو بهٔ څهٔ کړې
چې دې شودې د پښتنې رودلې دینه
چې تومتونه مې وانخلې
کله بهٔ وموم مې زمادزلفوولونه

چې تهٔ لهٔ کوره راپسې وې
کم عقله یاره غړ دې ولې نهٔ کاونه
چې جنګ ته ځې خولګۍ مې واخله
چې تړی نهٔ شې د هجران پهٔ میدانونه
چې جانان مري ما یې کفن کړې
چې پهٔ لحد کې سره دواړه خاورې شونه
چې جنګ ته ځې ما بوزه یاره
تشې تولې بهٔ دې جنګ کې ډکومه
چې چېرته تهٔ وی هلته زهٔ وی
دواړه پراتهٔ وی دوربښم پربالښتونه
چې چېرته تهٔ وی هلته زهٔ وی
دواړه ویدهٔ وی راته بل وی مشالونه
چې چېرته تهٔ وی هلته زهٔ وی
نصیب قسمت مې لهٔ تالرې ګرځوینه
چې چېرته ځې ستادې قسم وي
جانانه مه مې هېروه شینکي خالونه
چې حج ته ځې مخ مې سهي کړه
چې د دریاب لهٔ ببړۍ وروتېرشې مینه
چې مومن خان لهٔ ماجلا شو

بدن مې رېږدي زړهٔ مې صبر نهٔ کوينه
چې خپل جانان راسره نهٔ وي
کهٔ زهٔ د درست جهان پاچا يم څهٔ يې کړمه
چې خدای بهٔ څهٔ راسره وکړي
ما پر دنيا ځان ته اغزي کرلي دينه
چې خدای قاضي شي ميزان راشي
ستا دې جفا کا غذ بهٔ هلته غوړومه
چې خدای کوي هغه بهٔ وشي
جانانه مهٔ تړه تقد پر ته تدبيرونه
چې خدای کوي هغه بهٔ وشي
کم بخته مه شکوه تنهٔ پهٔ زيارتونه
چې خدای کوي هغه بهٔ وشي
وې دې سر پهٔ زنګنو کېښود مينه
چې خدای کوي هغه بهٔ وشي
هلکه مه ږده زېړی غوا پهٔ زيارتونه
چې خدای کوي هغه بهٔ وشي
زما د فکر بېړۍ غرقه شوه مينه
چې خدای کوي هغه بهٔ وشي
جانانه مه د چا منه نهٔ بهٔ يې منمه

چې خماري چشمان دې یاد کړم
اوښکې مې دارې فوارې په شان وهینه
چې خوب کوې خاورې به یوسې
ښۀ دهغو چې شوګیرې پسې کوینه
چې خولۀ دې راکړه موړ دې نۀ کړم
ته مړه مه شې ددنیا په نعمتونه
چې خولۀ ساتې ارمان به وکړې
خولۀ راکوه چې مرګی خونې ړنګوینه
چې خولۀ مې اخلې بسمالله کړه
پېریان په ناست دي اثري به شې مینه
چې خولۀ یې راکړه مرورشو
په دغه کړې ګناه ډېرپېښمانه شومه
چې ځان یې هېرزۀ یې په یادیم
زۀ به لۀ داسې جانانه څنګه توبه کړمه
چې څوک سرپاش کۀ سربۀ بایلي
قلم په سربازیو سربیانوینه
چې څوک عاشق شي ملامت شي
دملامتومرستې هېڅوک نۀ کوینه
چې داشناکوڅې له راشم

شنې زولنې مې غيبانه پښو له راځينه
چې دانصاف په کرسۍ کېنم
اول به پېش کړم دعاشقانو درخواستونه
چې دايا زپه مخ شيدا شو
محمود دپاچا دغلامانو غلام شونه
چې دبل لاس لاندې نوکرشي
جوړکوروکرشي بيادمړوپه حساب ځينه
چې دې بې ننګويارانه کړي
اخربه خوارشي که پاچا دجهان وينه
چې دپاچا په بند بندي وی
په اورستي وی چې عاشق نه وی مينه
چې دې ببلتون پاچاهي وينه
ځودبوستان منځ له ورځم خزان به شينه
چې دد ياب پرېبږی سپورشوې
مادرپه يادکړه چې زړورتېرشې مينه
چې دخالولښکرې راغلې
زه به ګومل ته دخپل ياردیدن له ځمه
چې دځوانۍ دوران مې تېر شي
جانانه ستاکه پاچاهي وي څه يې کومه

چې د دیدن نصیب مو نهٔ ؤ
ږوه کوڅه کې سره تېرو تو مینه
چې د سحر شبنم پهٔ پروت وي
پهٔ هغه مخ بهٔ بختور خولهٔ لګوینه
چې د سحر پهٔ باد ویلېږي
پهٔ هغه مخ بهٔ شونډې چوک ولګوینه
چې دلګیرنهٔ شې خپله یاره
ببلتون لهٔ تخته پاچاهان کوز کړي دینه
چې دورې ځې خال مې سهي کړه
دهندوستان د چټو نهٔ شته شنه خالونه
چې دوصال د پیالو وږش ؤ
زهٔ پهٔ ځنځیر د خپل قسمت تړلې ومه
چې د وطن پهٔ لار شهید شو
پهٔ تار د زلفو بهٔ کفن ورته ګنډمه
چې د وفا بوی پهٔ کې نهٔ وي
رب دې پهٔ داسې ګل خزان ولګوینه
چې د وه مین وي کټ یې یو وي
پیارمه یې سسته کړئ چې لاندې باندې شینه
چې د وه مین سره ولاړ وي

د زلزلې په شان يې رېږدي اندامونه
چې د وه مين سره جلا شي
بېلتون په هغه ورځ کې زيات خوشاله وينه
چې د وه مين سره يوځای شي
په نورو خلکو د ړندو حکم کوينه
چې د هجران له غمه نه مرم
اميد د وصل دی که زه بې وفا يمه
چې د ياری د کړو مې نه وې
زما ويده زړګی دې ولې ويښاونه
چې دې په ګل کې بڼه وينم
لاس مې دې مات شي چې به ګل زه پرېکومه
چې دې د مخ حسن ښکاره شو
زما د صبر جام نسکورولګېد نه
چې دې غوښته د يدن دې وکړ
اوس مې سالو پرمخ ايله که خوب راځينه
چې را پسې نه شې قرانه
زه د اشنا لپاره لاس درباندې ږدمه
چې را په ياد شې حال مې نور شي
ملک راته اورشي پرهغه ځای ناسته يمه

چې را پهٔ یاد مې خپل جانان شي
سر پهٔ بازو کړم او ښکې ښکته څڅو مه
چې را پهٔ یاد شي حال مې نور شي
جامې مې اور شي اندامونه مې سېځینه
چې را پهٔ یاد شي حال مې نور شي
غم را چاپېر شي لهٔ دنیا وا خلم لاسونه
چې را پهٔ یاد شي خپله یاره
کتاب کړم پورته پهٔ لاسونو وژاړمه
چې را پهٔ یاد شي خپله یاره
کتاب کړم پورته پهٔ لاسونو وژاړمه
چې را پهٔ یا شي ورکه یاره
کهٔ مې خولهٔ ډکه لهٔ خندا وي وژاړمه
چې را شه درشه پهٔ کې نهٔ وي
رب دې پهٔ هسې یارۍ اورولګوینه
چې زړهٔ خفه شي سترګې ژاړي
بانهٔ ولاړوي اوښکې غواړي رخصتونه
چې زما او ستا بهٔ وه پرې ناسته
پرهغه ځای بانې یې اوس ګل کرلي دینه
چې زهٔ کورنهٔ یم ته رامه شې

تاله به کور پهٔ بانو څوک جارو کوینه
چې سازو باز د دنیا جوړ شو
اول نوبت د جدایۍ وږغېد نه
چې سامې خېژي راته کښه
وروستی دیدن دی زهٔ یې ستا سره کومه
چې سامې خېژي راته کښه
وروستی دیدن دی د دنیالهٔ سرایه ځمه
چې سپینه خولهٔ دې را پهٔ زړهٔ کړم
لهٔ ستر ګو اوښکې تویوم سلګۍ وهمه
چې سپینه خولهٔ ور سره نهٔ وي
پهٔ تش دیدن مې کله زړهٔ طاقت کوینه
چې ستا د زلفو نسیم راشي
پرما سبا لکه سور ګل پرې تازه شمه
چې ستا د مخ ننبې پهٔ کې وي
باغ لهٔ بهٔ ځم د هغه ګل سلام کړمه
چې ستا لهٔ مخه پهٔ کینه وي
باغ له بهٔ ځم پر هغه ګل بهٔ ویر کومه
چې ستا وصال مې را پهٔ یاد شي
د خندا ړکه خولهٔ زما پهٔ ژړا شینه

چې سوداوزیان پهٔ کې نهٔ وي
غمازه ولې بدوې د خلکوزړونه
چې سوداېي ستا پهٔ سوداشوم
لهٔ زیانه خلاص شوم همېشه پهٔ سودکې یمه
چې سوي زړونه پرې جوړېږي
هغه دیدن د خدای پرپاررا که مینه
چې سهاري ملااذان کا
ما بهٔ جانان لهٔ تورو غرونو واړوینه
چې ښکته ځې پهٔ لیلا شپه کړه
لیلا جوړکړې دې د اطلسو بالښتونه
چې طبیبان پرې نهٔ پوهېږي
پهٔ داسې رنځ کې مبتلا یم مړېهٔ شمه
چې عاشقي دې رالېږله
پل صراط دې ماته ولې جوړونه
چې عاشقي دې نه وي کړې
د دروازې پهٔ ځینځیرمه وهه لاسونه
چې علم کړې عمل پرې نهٔ کړې
لکه پر خره باندې چې بارکړې کتابونه
چې عمرتېرشي اشاهېرشي

ستا دي قسم وي چې ما هېرنۀ کړې مینه
چې غم کړې غم بۀ دې پر کورشي
دریاردواخله چې د سین غاړې ته ځونه
چې فقرغواړې ما ته ګوره
زۀ بۀ ډوډۍ پرتنارۀ وځنډومه
چې قسم خورم نۀ پوره کېږي
مینې د یاروعده خلاف د جهان کړمه
چې قسم وخورم بیایې مات کړم
مینې د یاروعده خلاف د جهان کړمه
چې کبرجن اشنا خبرېږي
زمابۀ څنې ببلتانۀ پرې کړې وینه
چې کبرنۀ کړي نۀ خوارېږي
خاونده خدایه مابۀ کبرکړی وینه
چې کټ ته خېژې بسمالله کړه
د نجلۍ کټ د جنغوزي دی مات بۀ شینه
چې کله کله راپۀ یاد شې
لکه یتیم ژړا زما پۀ برخه شینه
چې کله کله راپۀ یاد شې
اه فغان نه مې خبرېږي ما لتونه

چې کله کله را پهٔ یاد شې
کهٔ خولهٔ مې ډکه لهٔ خنداوي وژاړمه
چې کله ځې کله دربېږې
پهٔ زړهٔ دې څهٔ دي راته وایه مینه
چې کله ځې کله دربېږې
یادې څهٔ ورک دي یادې زهٔ لیدلې یمه
چې کورو کلی خبر نهٔ کړې
بیابهٔ مې ستا دمخ دیدن ته نهٔ پرېږدینه
چې کلیواله مې بللې
ځکه مې سوال د سپینې خولې درته کاونه
چې ګړې وا خلم زړهٔ مې ربږدي
پهٔ ډېره مینه جانان لاررا ته ساتینه
چې ګورستان ته مې ورکوز کړي
شونډې مې ښکل کړه چې بیانهٔ نیسي ګردونه
چې ګورستان ته دې ورتیټ کړي
مخ دې راستون کړه چې بیانهٔ شته دیدنونه
چې ګورستان ته مې ورتګ دی
شونډې مې واخله بیابهٔ خاورې ایرې شینه
چې لباسي شوې شیرین یاره

نورپۀ زخمي زړګي مې مه وهه لاسونه
چې لمونځ قضاشي بيااداشي
نۀ اداکېږي قضاشوي ديدنونه
چې لوکوې ګوتې بۀ پرې کړې
پلارته دې وايه چې لوګري واچوينه
چې لو ولور شي خواري زور شي
پۀ بخملي ګوتوبۀ وږي ټولومه
چې ماراغوښتې ته رانغلې
اوس مې دزړۀ صندوق ته واچول کلپونه
چې مازيګرپۀ مخه راشې
تيارۀ ماښام داستاپۀ خيال کې رڼومه
چې مازيګرشي زړۀ مې ښۀ شي
پرګودرجوړشي دمنګيوکتارونه
چې مازيګرشي زيړى لمرشي
طلاکاري کړي داشنادباغ ګلونه
چې مازيګرشي زيړى لمرشي
بړستن کفن شي کټ لحدشي ورله ځمه
چې مازيګرشي ښکته لمرشي
ستادننکۍ سيورى کمرشي ودرېږمه

چې ما زيګر شي عاشق ژاړي
چته لۀ خياله منګې وړي پۀ ګودرونه
چې ما زيګر شي زېړې لمرشي
سنګ مرمرشي د اشنا سپين مړوندونه
چې ما زيګر شي ښکته لمرشي
پۀ چا اخترشي څوک دغم ژړاکوينه
چې ما ويل هغه دې نۀ کړل
ازارګټليه اوس کوه دچول مزلونه
چې ما ويل هغه دې نۀ کړل
خاورې ايرې شوې اوس دې بادراپسې وړينه
چې ما ويل بېلتون شته دی
کم عقل يار بۀ راته شين لۀ خندا شونه
چې ما ويل نوکري مه کړه
ازارګټليه اوس رخصت نۀ درکوينه
چې مخامخ جانان ولاړوي
لکه منصورپرسرددار بۀ وخاندمه
چې مخ را ستون کړې غم مې ستون کړې
مخ دې را ستون شه زما غم بۀ ستنوينه
چې مرورشې ځان بۀ خوار کړې

معشوقې کله عاشقان پخلاکوینه
چې مرګی شته ښادي کۀ نۀ شته
چتې دې نۀ کوي پۀ تورا وربل خیالونه
چې مرغلرې ترې شرمېږي
هغه خولې زما دیار پر مخ راځینه
چې مسافر شې بیابۀ راشې
رب دې د تور لحد بندي مه کړه مینه
چې مسافر مې کړې صورته
د خپل وطن قدر بۀ وروورود رښیمه
چې مسفر شې نو بۀ څۀ خورې
کوردې خوراک دی د سرکوشونډو سرونه
چې منګی اخلم زړۀ مې ربږدي
پۀ زړۀ غمجن جانان بۀ لارنیولې وینه
چې مې اشنا راته را یاد شي
لکه یتیم د پوال ته کېنم وژاړمه
چې مې پۀ اوښکو رحم نۀ کړي
ناترسه مرګ ته مې ترلي دي لاسونه
چې مې پۀ زړۀ ؤهغه وشو
اوس بۀ د خیال ځواني پۀ صبر تېرومه

چې مې جانان پهٔ کې اوسېږي
خدايه ګلزار کړې هغه ځمکې اسمانونه
چې مې د توروزلفو وارۀ
عالم مې يارۀ هره خوابۀ ګرځېدمه
چې مې د يار ننبې پهٔ کې وي
د هغه ګل بۀ زۀ همېش سلام کومه
چې نيمه شپه شوه يار را نغی
يا بۀ پيره وي يار خصت نۀ ورکوينه
چې نيمه شپه شوه ته رانۀ غلې
د نغري غاړه ښاماران شوۀ وېخوړمه
چې نيمه شپه شي غم دې زور شي
جامې مې اورشي راله سوځي اندامونه
چې نيمه شپه شي خوب مې لاړ شي
زړګی مې لاړ شي چې دې يار کوځې ته ځمه
چې نيمه شپه شوه ته رانغلې
بړستن مې اورشوه اندامونه مې سوځينه
چې نيمه شپه شي يار را ياد شي
زړۀ پهٔ فرياد شي بيا مې خوب ته نۀ پرېږدينه
چې نيمه شپه شي راپهٔ زړۀ شې

پهٔ بازو سر کېږدم اوښکې تویومه
چې وړانې ځم بېرته کاتهٔ کړم
زړهٔ مې د یار پهٔ زلفو بند دی نهٔ یې پرېږدینه
چې هد برې لره مې وروړي
ښانه راکړه چې عمري سفرته ځمه
چې همېشه ورسره غم وي
مرګ بهٔ ترې ښهٔ وي چې ژوندون غوره کوینه
چې یار مې مري ورور مې رنځور کړې
چې د ژړا پلمه مې جوړه شي مینه
چې یار مې لرې مسافر شي
زهٔ بهٔ دا سپینه خولهٔ سوغات ورته لېږمه
چې یاري کړې رويبار بهٔ نیسې
مابې رويباره یاري کړه وشرمېدمه
چې یو یاري کړي بل یې نهٔ کړي
څنګه مزه کړي چې زاری ورته کوینه
چې یو زره پرې نهٔ ځایېږي
زړهٔ پیمانه د یار لهٔ غمه ګرځوینه
چې یوړم یوړم اوبو یوړم
چې بې ګودره ګډ ېدم اوبهٔ بهٔ مې وړینه

چې يوړم يوړم اوبو يوړم
پۀ غم شريکه ياره نيسه ګودرونه
چېرې پيدا شوې چېرې لوی شوې
چېرې اشنا شوې پۀ ديدن پسې دمرمه
چېرې چې علم حاصلېږي
هلته بۀ خاورې کړمه غوبنې اوهډونه
چې يې پۀ زړۀ کې اوردعشق دی
ژر بۀ پرې کوردرقيبانو وسېزينه
چارګل دې بيا پۀ پوزه سپورکړ
لکه سلطان پاچا چې تخت ته وخېژينه
چارې دې څۀ وکړې ژنکيه
پټ پۀ سالوکې وړم دغابنو پرهارونه
چپه کاکل دغم کاکله
پۀ سيخکو پسې لۀ بامه ولوېدمه
چپه کاکل دې دښمني کړي
دزنې خال دې مرورپخلاکوينه
چوربورپۀ سترګو باندې ړوندشوم
چې دليلا تابوت يې پورته کړمينه
چونې پۀ توپونۀ ورانېږي

وزیر مسود یې پهٔ ټوپکو ورانوینه
چېرته جانان او چېرته زهٔ وم
د مینتوب پهٔ جال کې دواړه یو ځای شونه
چې مې د یار مینه پهٔ زړهٔ شي
لهٔ ډک منګي لاندې پړ کاله لاړه شمه
چې پهٔ څوکۍ کې سرټیټ نهٔ کړې
ما بهٔ همزولو کې سرټیټې کړې مینه
چې تهٔ لا اوس د مور پهٔ خولهٔ یې
زهٔ بهٔ د اتورې کوڅې چاته سپینومه
چې د پښتون د تورې شرنګ شي
د جنګ میدان کې غلیم لاړه ورکوینه
چې را پهٔ یاد شې رنګ مې زیړ شي
لکه نارنج پهٔ شین سالو مخ پټومه
چې سپینه خولهٔ خورې خاورې وخورې
خولهٔ مې د هغو چې زر ښندلي دینه
چې سرې ځان ورته حلال کړي
نهٔ منظورېږي معشوقو ته خدمتونه
چغ بهٔ مې تا سره او چت شي
تهٔ چې همېش پهٔ هر مالت وایې حالونه

چې کلی برمل ته بهېږي
پهٔ سرمې پېټی پهٔ زړهٔ وړم د يارغمونه
چې لوکوې ګوتې بهٔ پرې کړې
کهٔ درپهٔ یادمې شي دمينې مجلسونه
چې لهٔ زړګي مې خبر نهٔ يې
هسې د حال مې عبث مه کوه پوښتنه
چې ملا تړي پهٔ بيړه بيړه
خاونده خدايه ځوانان کومې خواته ځينه
چې مې خندل اوس بهٔ ژاړم
زهٔ د بېلتون پهٔ ظلم پوه نهٔ وم مينه
چې مې پهٔ رنځ باندې پوهېږي
هغه طبيب د زړهٔ حبيب نهٔ شته مينه
چې يو اخلاص کړي بل لباس کړي
دالباسي جانان دې خدای وشرموينه

د (څ) څخه تر (ځ) پورې

څانګه بۀ نن سبا کې ګل شي
ما يې پۀ سر کې سرې غوټۍ ليدلې دينه
څانګې راښکته شه خولۀ راکړه
کۀ زۀ د رپورته شم راماته بۀ دې کړمه
څاه يې کېندلی ؤ موږ ته
رقيب پۀ خپله پۀ کې ولوېدۀ مينه
څراغ ته سمه ودرېږه
چې مسافر اشنا دې ووينې خالونه
څراغ ته ګورم را پۀ ياد شې
خولۀ خندا ته جوړوم ژړا را ځينه
څراغ چې بل شي بيا بۀ مړ شي
زړۀ چې مين شي همېشه لمبې وهينه
څراغ مې مړ تېل يې تمام شو
ديار قلم مې پۀ تيارۀ کې پاتې شونه
څراغه بلې لمبې وکړه
د بېلتانۀ پۀ بالښت خوب درته کومه
څراغه بلې لمبې وکړه
ورستی ديدن دی بيا بۀ نۀ وي ديدنونه
څربانډه ژړيو سه رو يباره

د بېلتانهٔ غوبل مې کور راورانوينه
څرنګه سپين سپېڅلی ګرځې
خدای دې مين کړه چې خيرن دې ووينمه
څښتنه بيا دې ما سخوتن کهٔ
د ګلو لښتې د موزيانو کټ ته ځينه
څله مې توره توره بولې
زهٔ توره نهٔ يم مورپهٔ نازبللې يمه
څيرې ګرېوان درپسې ګرځم
د مينانو برخې خوارې دي مينه
څيرې ګرېوان مه ګرځه ياره
خلک بهٔ وايي چې مين بهٔ چېرې وينه
څښتنه علم مې نصيب کړې
يا مې طبيب کړې چې د يار داروکومه
څنګ ته مې مه راځه جانانه
سبا بهٔ بوی د لونګين درځخه ځينه
څنګه بې قدره بې قدري شوه
چې لحد ته دې پهٔ ټال ورځړوينه
څنګه پهٔ سپينه سپوږمۍ راغلې
ترچنارلوړ اشنايه چېرې دې ساتمه

ښنګه دې خوا ره کړم خاونده
چې همسايه مې د خولګۍ تمه لرینه
ښنګه دې غونډه منډه خولۀ ده
ورې خبرې دې پۀ تول تللې دینه
ښنګه شهيد را ته ولاړيې
خولۀ بۀ د رڅارکړم پۀ لمانځۀ ولاړه يمه
ښنګه نرۍ يې لکه لښته
موردې ړنده شه چې پۀ تا اوبۀ را اوړینه
ښنګه نرۍ يې لکه لښته
زۀ د نرو ښکې ونې ډېر قدر کومه
ښنګه مغروره ځان ته نا ست يې
لکه چېتۍ چې د بېلتون د رسره وينه
ښنګه مې ښه ا بسې سپوږمیه
چېرې لالي بۀ درته اوس کتلي وینه
ښنولـه لنډې غوټې ورکړه
چې د ښکاره شي د کږوورو ځو سرونه
ښنې اوږدې ښې دي کۀ لنډې
دلنډو ښنو سودا ګرراغلي دینه
ښنې دې هسې رنګه خوند کا

لکه دغرهٔ پرسرچې بادوهي ګلونه
څوتومتونه مې یونهٔ سې
کله بهٔ بیاموم‌ې زمادزلفوولونه
څوچې دمینې مینه نهٔ وی
ماپرلالي باندې پرڅهٔ وړل زحمتونه
څوچې دشنه اسمان زړهٔ شین دی
زمالالی دې پهٔ زړهٔ شین نهٔ وي مینه
څودوطن یاران خبرېږي
زمابهٔ یې زنه پهٔ ململ تړلې وینه
څودوطن یاران خبرېږي
زمابهٔ زنې ته ول پروت وي مړبهٔ یمه
څوک بهٔ دې مړکړي ښکلیه یاره
دسپینې خولې تمه مې مه کوه مینه
څوک بهٔ دې مړکړي ښکلیه یاره
پردی، بړستنې جګوې شمارې خالونه
څوک بهٔ بری راباندې وکا
موږ پښتانهٔ یو دپښتوپهٔ مینه مرونه
څوک چې پهٔ سروشوندوعادي شي
قندوشکرې تویوي چې ترخهٔ دینه

ځوک چې د چاد چینې ګل شي
مناسب نۀ دی چې سو کړې بۀ ورکوینه
ځوک چې د چاد چینې ګل شي
مناسب نۀ دی چې سو کړې پرې تېروینه
ځوک چې د چاد چینې ګل شي
مناسب نۀ دی چې ځوک لاس ورته وروړینه
ځوک چې د چاکورته ورشي
مناسب نۀ دی چې تش لۀ ورۀ نۀ ځینه
ځوک چې د خپل وطن دښمن وي
تل شرمنده بۀ د دنیا اخرت وینه
ځوک چې د بخت پر تخت ناست وي
کۀ پۀ سندان خولۀ لګوي کتره ترې وړینه
ځوک چې د غم د ریاب لاهو کړي
کۀ لامبوزن وي ترې بۀ هېر شي ګودرونه
ځوک چې رښتیني عاشقان وي
خلک لا پر پرېږده اسمان کین ورسره کړینه
ځوک چې ژړا پۀ سپین سهارکا
ښتن بۀ ورکړي د خپل یار ښۀ دیدنونه
ځوک چې سفرنه امان غواړي

د خپل وطن قدر دې ډېر په زړه لرینه
څوک چې مین شي ملامت شي
د ملامتو کمک هېڅوک نه کوینه
څوک چې مین شي ځان یې ورک شي
نه د شپې خوب کړي نه په ورځ روزګار لرینه
څوک چې یاري د ښاپېرو کا
لړزه د هجربه یې تل په زړه کې وینه
څوک چې یاري کړي زړه سندان کړي
ببلتون لوهار دی ټکوي پرې سل غمونه
څوک چې یاري کړي ماد پوښتي
یو کال مې کړې رنګ مې ځای ته نه راځینه
څوک مې له حاله خبر نه دي
په دوا ړولاسو زه سرولې ټکومه
څوک مې له حاله خبر نه دي
لکه ققنس په خپله ځاله کې وریت شومه
څوک مې له حاله خبر نه دي
زه د باد ام په څېر سوری په زړګي شومه
څوک مې له حاله خبر نه دي
ببلتون مې اور د زړه په کورولګاونه

څوک مې له حاله خبرنۀ شول
لکه غنم د زړۀ پۀ سرچا و دلی یمه
څوک یې د یدن پسې ړند بړي
څوک یې له کته غورځوي چې خوب راځینه
څولېونی را پسې نۀ شې
وبۀ مې نۀ خورې د سرکوشونډو سرونه
څووطن رنګ پۀ وینونۀ کړم
راتهول بۀ نۀ کړم د بیرغ سرۀ پلوونه
څۀ دي چې اوس سره جلا یو
کۀ ژوند باقي ۇ بیابۀ وکړو دیدنونه
څۀ دي چې ناسته مې دلې ده
زړۀ مې بلبل دی ستاپرګل چونکی کوینه
څۀ شو که زۀ پۀ ظاهرخاندم
پۀ زړۀ مې اوري د غمونو بارانونه
څۀ شو کۀ ناسته مې دلې ده
ارواح مې ستا پۀ کټ منګلې لګوینه
څۀ عجب خوند د شهادت دی
د ځنکدن سلګۍ وهم ژړا راځینه
څیرې ګرېوان دګل پۀ شان یم

اوښکې سهار لکه شبنم پرې ورومه
څوک چې مېن شي رنګ يې زېړ شي
سودا يې مل شي پۀ اټکل مزل کوينه
څوکۍ پۀ توپو نۀ ړنګېږي
سنګ ځلمی يې پۀ سرپوښو ړنګوينه
څله پيدا شوم څله لوی شوم
څله مين شوم څله اوښکې تويومه
څنکه دې زېړه کړم خاونده
لکه زېړۍ تبې چې څوک وهلې وينه
څۀ چې تقدير کړې هغه کېږي
زۀ ګرمه نه يم خلک مې څله ګرموينه
څۀ چې کوي هغه بۀ وکړي
ښکلی تقدير دی زۀ بۀ څۀ ګيله کومه

د (څ) څخه تر (ځ) پوري

څانګه بۀ نن سباکې ګل شي
ما يې پۀ سر کې سرې غوټۍ ليدلې دينه

څانګې راښکته شه خولۀ راکړه
کۀ زۀ درپورته شم راماته بۀ دې کړمه
څاه يې کېندلې ۀ موږ.ته
رقيب پۀ خپله پۀ کې ولوېدۀ مينه
څراغ ته سمه ودرېږه
چې مسافراشنادې ووينې خالونه
څراغ ته ګورم راپۀ يادشې
خولۀ خنداته جوړوم ژړاراځينه
څراغ چې بل شي بيابۀ مړشي
زړۀ چې مين شي همېشه لمبې وهينه
څراغ مې مړتېل يې تمام شو
ديارقلم مې پۀ تيارۀ کې پاتې شونه
څراغه بلې لمبې وکړه
دېلتانۀ پۀ بالښت خوب درته کومه
څراغه بلې لمبې وکړه
ورستی ديدن دی بيابۀ نۀ وي ديدنونه
څربانده ژړيو سه رويباره
دېلتانۀ غوبل مې کور راورانوينه
څرنګه سپين سپېڅلې ګرځې

خدای دې مین کړه چې خیرن دې وینمه
څښتنه بیا دې ماسخوتن کۀ
دګلو لښتې دموزیانو کټ ته ځینه
څله مې توره توره بولې
زۀ توره نۀ یم مورپۀ نازبللې یمه
څیرې ګرېوان درپسې ګرځم
دمینانو برخې خوارې دي مینه
څیرې ګرېوان مه ګرځه یاره
خلک بۀ وایي چې مین بۀ چېرې وینه
څښتنه علم مې نصیب کړې
یامې طبیب کړې چې دیاردارو کومه
څنګ ته مې مه راځه جانانه
سبا بۀ بوی دلونګین درڅخه ځینه
څنګه بې قدره بې قدري شوه
چې لحدته دې پۀ ټال ورځړوینه
څنګه پۀ سپینه سپوږمۍ راغلې
ترچنارلوړاشنایه چېرې دې ساتمه
څنګه دې خواره کړم خاونده
چې همسایه مې دخولګۍ تمه لرینه

ښنګه دې غونډه منډه خولۀ ده
وړې خبرې دې پۀ تول تللې دینه
ښنګه شهید راته ولاړیې
خولۀ بۀ درځارکړم پۀ لمانځۀ ولاړه یمه
ښنګه نرۍ یې لکه لښته
موردې ړنده شه چې پۀ تا اوبۀ راوړینه
ښنګه نرۍ یې لکه لښته
زۀ د نروښکې ونې دِ برقدر کومه
ښنګه مغروره ځان ته ناست یې
لکه چېټۍ چې د بېلتون د رسره وینه
ښنګه مې ښه اېسې سپوږمیه
چېرې لالي بۀ درته اوس کتلي وینه
ښولـه لنډې غوټې ورکړه
چې د ښکاره شي د کږوورو ښوسرونه
ښې اوږدې ښې دي کۀ لنډې
د لنډو ښو سوداګرراغلي دینه
ښې دې هسې رنګه خوند کا
لکه د غرۀ پرسرچې بادوهي ګلونه
ښوتومتونه مې یونۀ سې

کله بۀ بیا مومې زما د زلفو ولونه
څو چې د مینې مینه نۀ وی
ما پر لالي باندې پر څۀ وړل زحمتونه
څو چې د شنه اسمان زړۀ شین دی
زما لالی دې پۀ زړۀ شین نۀ وي مینه
څو د وطن یاران خبر نۀ ږي
زما بۀ یې زنه پۀ ململ تړلې وینه
څو د وطن یاران خبر ږي
زما بۀ زنې ته ول پروت وي مړ بۀ یمه
څوک بۀ دې مړ کړي ښکلیه یاره
د سپینې خولې تمه مې مه کوه مینه
څوک بۀ دې مړ کړي ښکلیه یاره
پردې برستنې جګوې شمارې خالونه
څوک بۀ برې را باندې وکا
مور پښتانۀ یو د پښتو پۀ مینه مرونه
څوک چې پۀ سر و شوندو عادي شي
قند و شکرې تو یوي چې ترخۀ دینه
څوک چې د چاد چینې ګل شي
مناسب نۀ دی چې سو کړې بۀ ور کوینه

څوک چې د چاد چینې ګل شي
مناسب نهٔ دی چې سو کړې پرې تېروینه
څوک چې د چاد چینې ګل شي
مناسب نهٔ دی چې څوک لاس ورته وروړینه
څوک چې د چاکورته ورشي
مناسب نهٔ دی چې تش لهٔ ورهٔ نهٔ ځینه
څوک چې د خپل وطن دښمن وي
تل شرمنده بهٔ د دنیا اخرت وینه
څوک چې د بخت پر تخت ناست وي
کهٔ پهٔ سندان خولهٔ لګوي کتره ترې وړینه
څوک چې د غم دریاب لاهو کړي
کهٔ لامبوزن وي ترې بهٔ هېر شي ګودرونه
څوک چې رښتیني عاشقان وي
خلک لا پر پرده اسمان کین ورسره کړینه
څوک چې ژړا پهٔ سپین سهارکا
څښتن بهٔ ورکړي د خپل یار ښهٔ دیدنونه
څوک چې سفرنه امان غواړي
د خپل وطن قدر دې ډېر پهٔ زړهٔ لرینه
څوک چې مین شي ملامت شي

د ملامتو کمک هېڅوک نۀ کوینه
څوک چې مین شي ځان یې ورک شي
نۀ د شپې خوب کړي نۀ پۀ ورځ روزګار لرینه
څوک چې یاري د ښاپېرو کا
لړزه د هجربۀ یې تل پۀ زړۀ کې وینه
څوک چې یاري کړي زړۀ سندان کړي
ببلتون لوهاردی ټکوي پرې سل غمونه
څوک چې یاري کړي ما د پوښتي
یو کال مې کړې رنګ مې ځای ته نۀ راځینه
څوک مې له حاله خبرنۀ دي
پۀ دواړو لاسو زۀ سرولې ټکومه
څوک مې له حاله خبر نۀ دي
لکه ققنس پۀ خپله ځاله کې وریت شومه
څوک مې له حاله خبرنۀ دي
زۀ د باد ام پۀ څېر سوری پۀ زړګي شومه
څوک مې له حاله خبرنۀ دي
ببلتون مې اور د زړۀ پۀ کورولګاونه
څوک مې له حاله خبرنۀ شول
لکه غنم د زړۀ پۀ سرچاودلی یمه

څوک يې د يدن پسې ړند پړي
څوک يې له کتـه غورځوي چې خوب راځينه
څولېونی را پسې نۀ شي
وبۀ مې نۀ خورې د سرکوشونډو سرونه
څووطن رنګ پۀ وينونۀ کړم
راتـول بۀ نۀ کړم د بيرغ سرۀ پلوونه
څۀ دي چې اوس سره جلا يو
کۀ ژوند باقي ؤ بيا بۀ وکړو ديدنونه
څۀ دي چې نا سته مې دلې ده
زړۀ مې بلبل دی ستا پرګل چونکی کوينه
څۀ شوکه زۀ پۀ ظاهرخاندم
پۀ زړۀ مې اوري د غمونو بارانونه
څۀ شوکۀ ناسته مې دلې ده
ارواح مې ستا پۀ کټ منګلې لګوينه
څۀ عجب خوند د شهادت دی
د ځنکدن سلګۍ وهم ژړا راځينه
څيرې ګرېوان د ګل پۀ شان يم
او ښکې سهارلکه شبنم پرې وروم
څوک چې مين شي رنګ يې زېړ شي

سودا يې مل شي پۀ اټکل مزل کوينه
څوکۍ پۀ توپو نۀ ړنګېږي
سنګ ځلمي يې پۀ سرپوښو ړنګوينه
څله پيدا شوم څله لوی شوم
څله مين شوم څله اوښکې توېومه
څنکه دې زېړه کړم خاونده
لکه زېړۍ تبې چې څوک وهلي وينه
څۀ چې تقدير کړي هغه کېږي
زۀ ګرمه نه يم خلک مې څله ګرموينه
څۀ چې کوي هغه بۀ وکړي
ښکلی تقدير دی زۀ بۀ څۀ ګيله کومه

د (ځ) څخه تر ( ح ) پوري

ځان بۀ پۀ خړ سين کې لاهو کړم
هلته بۀ وو ځم چې مې قدر پر چا وينه
ځان بۀ دا ستا پۀ مينه ځار کړم
لکه پتنګ چې دۀ بوې پۀ مينه مرينه

ځان بهٔ سل ځای کترې کړم
وطنه تا بهٔ لهٔ دښمنه وساتمه
ځان بهٔ دلو یو غرو غرځهٔ کړم
دا ستالهٔ میني څخه زړهٔ نهٔ صبرومه
ځان بې وفا راته ښکاره شو
خاورې ایرې پهٔ جدایۍ نهٔ شوم مینه
ځان پهٔ زړو جاموکې جوړکړه
لکه زاړهٔ کلي کې چې باغ دګلووینه
ځان خوبهٔ ستا پهٔ یادو ځارکړم
لکه پتنګ چې دډېوې پهٔ مینه مرینه
ځان خوبهٔ ستاد پلارنوکرکړم
پهٔ نوکرۍ کې بهٔ دې تش دیدن کومه
ځان خوملنګ که راته راشه
د ملنګانولارې چانیولې دینه
ځان خومې هېرتهٔ مې پهٔ زړهٔ یې
د بل وطن جانانه تل دې یادومه
ځان دې فقیرکه پرما راشه
د فقیرانولارې چانیولې دینه
ځان له دې لوی لونګین جوړکړ

خیال بۀ پرې تۀ کړې بوی بۀ یې مالره راځینه
ځان لېونی کړه ترماراشه
دلېونیولارې چانیولې دینه
ځان لېونی کړه ترماراشه
پۀ لېونتوب بۀ زماوکړې دیدنونه
ځای دداغلو پۀ کې نۀ شته
جانانه ولې داغوې داغلي زړونه
ځان یې لۀ خلکو ځنې ټول کړ
ځکه کاغذ داشناوکړل دیدنونه
ځغمل دغم څۀ اسان نۀ دي
غم لکه موم دسړي زړۀ ویلي کوینه
ځکه مې اوښکې یاقوتي شوې
یارمسافرشوداتحفه پسې لېږمه
ځکه مې زړۀ دومره خوشال دی
بېګامې ستابشره پۀ خوب کې ولیدنه
ځګرخوني بۀ دې نصیب شي
که دې خپل ځان دتوروزلفواشنا کنه
ځلمي ولاړتوره ترملادي
غزاله ځي پرخپل وطن سرورکوینه

ځم بۀ دلوړې غونډۍ سرته
چې مې اشنالوړې غونډۍ باندې او سینه
ځمکه بۀ ولې ګلان نۀ کړي
ترې لاندې ایښي بښۀ ځوانان زړې ګلونه
ځمکې د خدای روی مې دروړی
چې خاورې نۀ کړې نازولي صورتونه
ځمکې قسم بۀ درله درکړم
چې خاورې نۀ کړې د جانان سپین مړوندونه
ځمکې قلنګ دې زوروردی
ځلمیان ستانۀ کړې رالېږې تش پالنګونه
ځوانان پۀ تورو سره ګډ شول
موزیان پۀ تورو کې ولاړ تتندی وهینه
ځوانان سرتورلحد ته کوزشول
د نامیندۍ پګړۍ یې کورپرې ایښې دینه
ځوانانو ننګ راباندې وکړئ
پلار مې ظالم دی ماښامار لره لېږینه
ځوانانو ننګ راباندې وکړئ
پۀ سور سالوکې مې بلا لره لېږینه
ځوانانو تور لحد قبول کړ

پېغلې رندې کړې چې کونډ تون نۀ قبلوينه
ځوانانو زورپۀ بزګرۍ کړئ
سپينې پايخې دزروځلي ورانوينه
ځوانانو يوتربل ځاربړئ
مادمجلس ياران ليدۀ چې خاورې شونه
ځواني دزروا ميانۍ ده
له مانه توی شوله پۀ چول پۀ بيابانونه
ځواني دزرو روپواس دی
دبېلتانۀ پېټې چې وړي سوده بۀ شينه
ځواني مې تاپسې برباد کړه
ډېرمې ارمان دی چې ناکامه اخر شومه
ځواني مې ستا مينې برباد کړه
ناپوهه ياره ځان دې ونۀ پېژاندنه
ځه داختر پۀ سبا راشه
زۀ بۀ دروو ځم تورې سترګې سرۀ لاسونه
ځان دې وطن پۀ جنګ شهيد کړه
چې جنازه دې داسمان پرېښتې وړينه
ځانګل پۀ ټال راته اسان دي
زۀ چې دفکرپۀ ټال ځانګم زېړه شومه

ځلنده لمر شه ژړرا خېژه
پر ماتیارې دبېلتانۀ راغلې دینه
ځمکه تمامه راباندې سره شوه
یا قیامت راغی یا لمبې دهجران دینه
ځلمیه بس کړه جوړه وکړه
مومندې کونډې شوې ښېرې درته کوینه
ځواب مې ژړراوړه رویباره
چې سبانۍ پۀ سروغرموولاړه یمه
د (ح ) څخه تر ( خ ) پورې

حاجت مې نۀ شته دویلو
تاته معلوم دې سراسر دزړۀ حالونه
حاجې میرویسه جنتې شې
موږ دګرګین لۀ ظلمه تاخلاص کړې یونه
حاصل مې هېڅ ورځنې نۀ کړۀ
دسین پۀ غاړه مې عبث وکړل کښتونه
حال دزړګې ویلی نۀ شم
کۀ یې بیان کړم لبونی بۀ شې مینه

حال د فرقت را باندې راغی
لکه پتنګ په لمبو وسومه مینه
حال د ویلو لایق نهٔ دی
پر ېړده چې غم د زړهٔ د ننه تېرومه
حال مې د زړهٔ مه رانه پوښته
سوری سوری د زړهٔ د سرد پاسه یمه
حال مې د زړهٔ درته معلوم دی
ضرورت نهٔ شته چې یې بل ته ښکاره کړمه
حجره یې شته طالب یې نهٔ شته
پر حجره ګیٔ یې لکه مارو ګرځېدمه
حسن جمال د رکړی رب دی
سترګې پهٔ ورو ورو خوځوه چې ودې سومه
حسن خوډ بردئ پهٔ دنیا کې
د ناز خندا دې پهٔ لمبو وسوم مینه
حسن دې ورځ پهٔ ورځ زیاتېږي
زکات یې باسه چې نظر نهٔ شي مینه
حسن دې ډېر مهر دې لږ دی
لکه پهٔ باغ کې بې ثمره ونه وینه
حق بهٔ هېڅکله د رپل نهٔ کړم

 څو د غلیم پهٔ وینو سرهٔ نهٔ کړې لاسونه
حلالو تهٔ مې بیایې
زهٔ یې پهٔ قصاب د بېلتانهٔ خرڅ کړی یمه
حلالو ته مې بیایې
پرې خفه نهٔ یم ځکه ستا پهٔ غم کې ځمه
حلالول مې مناسب دي
مرګ مې لیدهٔ اشنا مې نهٔ پخلاکاونه
حلاله بې تکبیره نهٔ شي
ما رقیبان بې بسم الله حلالوینه
حیات زما سې برباد شو
بې وفا یار د نورو ؤ د نورو شونه
حجره پهٔ نوم د ملک جان ده
ډکې کاسې مې د اشنا لهٔ کوره ځینه
حلوا د شونډو راته کېږده
زهٔ لهٔ پردېسۍ ستړی راغلی یمه
د ( خ ) ښخه تر ( د ) پورې

خارمې د زړهٔ پهٔ سر کې حبس شو

غوټۍ غوټۍ وينې يې ځي لۀ پرهارونه
خارونې لاړه سين لاهو کړه
د سرو چار ګل يې پۀ ويالو چکروهينه
خاطر دې د پررا باندې ګران دی
ما پر ملاله خولګۍ نۀ پرېښوۀ لاسونه
خاطر دې د پررا باندې ګران دی
د چادوړاندې سترګې نۀ دراړومه
خال بۀ د يار لۀ وينو کېږدم
چې پۀ باغوکې ګل ګلاب وشرموينه
خال پۀ پلو کله ورانېږي
تا پۀ کې جوړ کړل د غاښونو پرهارونه
خال دې د ورو ځو منځ کې کېښود
لکه پاچا چې پاس پۀ تخت حکم کوينه
خال خو دې شين غاړه دې سپينه
خندا د سين دې عالمونه غرقوينه
خال خو دې شين غاړه دې سپينه
دا سپينکي غاښ دې لکه در شغلې کوينه
خال خو دې ماوران کړی نۀ دی
تا چې پلو پۀ مخ را خپور کړوران دې کنه

خال دې دوربين مخ دې ښيښه دی
پکې ښکار ېږي لرې لرې وطنونه
خال دې دوروځو منځ کې کېښود
لکه شهيد چې غاښي منځ کې اېښی وينه
خال دې دوروځو من ځکې کېښود
زما پۀ نامراد زړګي دې اورولګاونه
خال دې فقيرمخ دې زيارت دی
دانړۍ وروځې دې جنډې ولاړې دينه
خال دې واهۀ خبر دې نۀ کړم
ناغه بۀ راکړې د سرکوشونډ وسرونه
خال دې واهۀ خبر دې نۀ کړم
کۀ ز ۀخبر وی ما بۀ اېښي وۀ نذرونه
خال مې تازه سترګې مې تورې
کۀ راته وګورې بې هوښ بۀ شې مينه
خال مې سوراور ايرې ايرې شو
اوس بۀ راځوړ کړم د وودلي پېکي ولونه
خالق دې خپل وطن ته بوزه
پردی وطن د مړو قدر کموينه
خالقه ما پۀ سترګو ړوند کې

چې يارمې ولاړ دنورونۀ کړم ديدنونه
خالونه ټول سرداران دي
دزنې خاله نوکري بۀ دې کومه
خالونه واړه شنۀ خالونه
دزنې خاله نوکري بۀ دې کومه
خالي بۀ پاتې شې ميدانه
مسافرکډې باروي وطن ته ځينه
خاورې ايرې بۀ دې راټول کړم
لکه کچکول بۀ دې پۀ غاړه ګرځومه
خاورې بۀ بيادرته محتاج شم
تل خوبۀ نۀ وي ستاځواني زماسوالونه
خاورې بۀ تاله خولګۍ درکړم
پۀ ډال دې نشته دمصرۍ تورې وارونه
خاورې دشتۀ توتي پۀ سرشوې
چې بلبل واچول کارغۀ باندې لاسونه
خاوندتعالی بۀ پرې خبروي
دخنداډکه خولۀ بۀ چېرې ناسته وينه
خاوندتعالی بۀ پرې خبروي
چې دازل پرتختته څۀ ليکلي دينه

خاوند تعالی ته مې امېد دی
چې تول خواستونه مې پهٔ سرور سوینه
خاوند دې داوارې رضا کړه
زما جانانه بیا بهٔ ستا رضا کومه
خاوند دې راوله جانانه
پهٔ مخ مې ورک شو ستا دغا ښو پرهارونه
خاوند دې روغه لېونی کړه
لکه چې روغ لېونی زهٔ درپسېیمه
خاوند دې زما پهٔ شان مین کړه
چې لېونی دې پهٔ کوڅو کې ووینمه
خاوند ده بیا تهٔ پسرلی کړې
چې پهٔ خیالي ګلونو وشي بارانونه
خاوند ده بیا دې پسرلی کړه
لهٔ وچوړ اګو دلونګو بوی راځینه
خاوند ده بیا دې مازیګر کړ
پهٔ ګودر جوړ شو د منګیو کتارونه
خاوند ده بیا دې ګل سرخ کړ
سخي رخصت راکه چې خپل وطن ته ځمه
خاوند ده بیا دې مازیګر کړ

شال یې پۀ سر کړ پردۍ خونې ورانوینه
خاونده بیادې ماخستن کړ
چې نارضا کټ ته مې رېږدي اندامونه
خاونده بیادې پسرلی کړ
جونه شوتل کړي ځلمي ټول سیل کوینه
خاونده بیادې ماخستن کړ
بیابۀ مې خواکې موزیګی کوي خوبونه
خاونده پلار مې لېونی کړې
داشناغېږ پسې ړنده شبکوره شومه
خاونده تۀ خوراخبریې
چې دزړۀ وینې دبېلتون دلاسه خورمه
خاونده تۀ مې سبب وکړې
چې نارنجي مخ مې خالي داوښکوشینه
خاونده تۀ مې نګابان شې
خپل وپردي راڅخه واخستل لاسونه
خاونده تۀ مې نګابان شې
نفس شیطان مې پۀ هردم خطاکوینه
خاونده ټوله مې ترې ځارکړې
زماپرسریې جېلخانې کرلې دینه

خاونده ټوله مې ترې ځار کړې
د یار د کلي مېلمانۀ راغلي د ینه
خاونده حال مې د مجنون شو
چې لا اله وا یم لیلا خولۀ نۀ راکوینه
خاونده څنګه بۀ زۀ نۀ مرم
چې مور ته شاکړې ما ته شنه لۀ خندا شینه
خاونده څۀ کانې راوشوې
یو مې یار بایلود بل مې کور لۀ کلي ځینه
خاونده څۀ کانې راوشوې
نۀ مې یار یار شو نۀ یې خلاص لۀ غمه شومه
خاونده دا بۀ دې رضاوي
چې د ځوانئ عمر پۀ غم کې تېرومه
خاونده دا بۀ دې رضاوي
چې نور دې ګل کړۀ زۀ غوټئ ورژېدمه
خاونده دا پرده مې وکړې
بیا بۀ د خوړ پۀ غاړ نۀ کرم ګلونه
خاونده دا پرده مې وکړې
د یار دستمال مې پۀ لمن کې پاتې شونه
خاونده دا پرده مې وکړې

د تور پیکي سره زیارت ته تللې ومه
خاونده دا سوال مې قبول کړې
ببړۍ مې سیخه کړې د ګلو پر باغونه
خاونده دا سې بې نیازي شوه
شناخته سرې راشي پرلا رمخ اړوینه
خاونده دا شرم مې پټ کړې
نور بۀ دلمر ترختونۀ کوم خوبونه
خاونده دا اور یې راضي کړې
ترڅو ژوندی یم بیا بۀ یې تل رضا کومه
خاونده دومره راسره وی
لکه بربښنا چې د بارانه سره وینه
خاونده ژر مې ورله بوزې
چې جاروکنبه د مین د روضې شمه
خاونده ژر یې پسرلی کړې
چې د سیلو لپاره زۀ صحراته ځمه
خاونده ژر یې پسرلی کړې
چې هلکان ونجونې ګډې ګلوته ځینه
خاونده ژر ترژر اختر کړې
چې د عاشقانو سره وشي دیدنونه

خاونده ژرترژر ماښام کړې
چې مشغولا دیار لۀ خواسره کومه
خاونده ژرترژر ماښام کړې
چې کچکول واخلم دیار درته ودرېږمه
خاونده ستا دباغ ګلاب دی
کۀ مې نصیب کړې چې یې ښۀ خدمت کومه
خاونده سل ځلې ژوندرا کړې
چې دوطن پۀ مینه سل ځلې مړشمه
خاونده ښۀ ده چې لۀ تاده
پۀ هرهرچاده مې سوددزړګي شینه
خاونده عمرمې باقي کړې
چې دګل رنګ اشنامې وکړم دیدنونه
خاونده علم مې نصیب کړې
چې دخپل علم پۀ رڼا مقصدته ځمه
خاونده قهرپرې نازل کړې
چې پۀ عاشق دکرجن ګمان کوینه
خاونده کله بۀ ماښام شي
چې کچکول را واخلم داشنا درته ورځمه
خاونده لرې مې وادۀ کړې

چې د اشنا دغاړې هارشمه مینه
خاوندە مابې غمه مۀ کړې
چې د یار غم را سره وي خوشاله یمه
خاوندە ماکې څۀ ګناه ده
د باغ پۀ لورې مې کاتۀ مین یې کړمه
خاوندە مادبیابان ګل کړې
چې د جانان د لورې باد مې رپوینه
خاوندە مادګودر پل کړې
چې شالیلا مې پۀ سینه ږدي قدمونه
خاوندە ماشرمنده مه کړې
یار شرمنده نبۀ دی چې ځمکه ګروینه
خاوندە مالکه اینه کړې
چې هرسهار د اشنا مخ ګورمینه
خاوندە مرګ پۀ ځوانۍ ورکړې
چې جنازه یې لۀ ارمانه سره وړینه
خاوندە هېڅوک مین مه کړې
بس ده چې زما پۀ ځوانۍ اور ولګېدنه
خبر دې ګډه وډه راوړه
ورځه ورځه رو یباره بیابۀ دې لېږمه

خبرې ډېرې پۀ کارنۀ دي
زۀ فيصله د تورې خولې باندې کومه
خبرې کړې شونډې دې رېږدي
لکه سور ګل چې د سهار شمال وهينه
خبر مې يار ته نۀ رسېږي
لارکې څوکۍ د بېلتانۀ ولاړې دينه
خبر مې واخله خپله ياره
پۀ ما وطن بې لۀ تا تنګ لۀ قبره شونه
خبريې بيا دې اخستو دی
پرپروني کنډو بۀ بيا ولاړه وينه
خپلو جامو سره مې خښ کړئ
جانان پۀ غشو د بڼو وژلی يمه
خپله چاره کولی نۀ شي
خوشې بې ځايه د ځوانۍ لافې کوينه
خپله ځواني را پورې اورشوه
لکه ستۍ پۀ اورکې پټه ناسته يمه
خپله روغتيا مې خوښه نۀ ده
خوښه مې داده خدای دې تا خوشاله کينه
خت مې ديار پۀ خولو لوند دی

دصبحدم پهٔ نري باديې وچومه
خدای اشناکړي سره مه وی
چې بیا اشنا شو جدايي مه وی مینه
خدای بهٔ پوښتنه درنه وکړي
زهٔ دې لهٔ دره بېنوا شړلی یمه
خدای بهٔ دې بیا راته محتاج کړي
ځونډی ځونډی څنې مې بیا راغلې دینه
خدای بهٔ دې بیا راته محتاج کړي
کهٔ مې پرلنډه زنه ووهل خالونه
خدای بهٔ غمونه کړي اسانه
ولې دې سرپهٔ زنګنوا ښنی مینه
خدای بهٔ مو بیا سره یو ځای کړي
دسمال دروا خله اوښکې پاکې که مینه
خدای ته بهٔ داسې ځواب ورکړم
نوی مین وم پهٔ دیدن نهٔ مړېدمه
خدای ته وګوره لرې مه ځه
مرګی ظالم دی بیا بهٔ نهٔ وي دیدنونه
خدای خودې راوله دلرې
چې درته وکړمه دستړي زړهٔ نکلونه

خدای خو دې تالرې خوشاله
کۀ پرماڼ برې خواری، وي تېرې بۀ شینه
خدای خو عادل دئ ظالم نۀ دئ
دهلکتوب ګناه بۀ نۀ حسابوینه
خدای دې ابادلره کابله
چې ښۀ ځوانان مدام پۀ تا سرورکوینه
خدای دې اوس خبر راته پېښ کړي
چې مې جانان راځخه واخستل لاسونه
خدای دې پۀ تنګه کوڅه راکه
کۀ تۀ شرمېږې لاس بۀ زۀ درواچومه
خدای دې پۀ جګوغروکې مړ که
چې جنازه دې پۀ سروګلوتړمه
خدای دې پۀ خوب کې راحاضرکه
رنګ مې دې هېردی تش پۀ نوم دې یادومه
خدای دې پۀ خیرراوله یاره
لکه نارنج درپسې ورو ورو زېړه شومه
خدای دې پۀ داسې ځای کې راکه
چې بل څوک نۀ وي درته وواېم رازونه
خدای دې پۀ زړۀ سوری سوری کړه

چې در معلوم شي د درد منو زړو حالونه
خدای دې په عمر برکت کړه
چې دې دیدن باندې خپل ځان سېرابه کړمه
خدای دې په علم برکت کړه
چې د توتیانو دې بهیر لهٔ باغه ځینه
خدای دې پهٔ غېږ کې راته مړکه
چې جنازه دې پهٔ کوڅیو وتړمه
خدای دې لهٔ دغو لا بدتر کړه
چې د کم اصله بوټي ګل دې بویاونه
خدای دې جزا درکړي محبوبې
پهٔ خوب ویدهٔ اوښکې مې ستا لهٔ غمه ځینه
خدای دې جزا درکړي ناصحه
اشنا زما د مرګ ویل تا منع کنه
خدای دې خفه مه کړه جانانه
موزي ولاړؤ ځکه ګوښې تېره شومه
خدای دې لهٔ بامه را ایله کړه
ظالم غمازه چې ماغزهٔ دې سپي ښتهینه
خدای دې د حسن دوران تېر کړه
چې کبرجن ځان ته دې فکر شي مینه

خدای دې درود دغاړې ګل کړه
چې داوبو پهٔ پلمه درشم بوی دې کړمه
خدای دې دقام مخکې شهید کړه
دزنې خال بهٔ ستا پهٔ سرووینووهمه
خدای رې دنجونو عمرډېر کړي
چې ښهٔ ځوانان یې تل مدام دیدن کوینه
خدای دې دهغه باغ باغوان کړه
چې ګل ګلاب پکې لیلاکرلي دینه
خدای دې زما پهٔ غېږکې مړ کړه
چې تهٔ سلګۍ کړې اوزهٔ اوښکې تویومه
خدای دې زما دچای پیاله کړه
چې هرسهار دې پهٔ سروشونډوښکلومه
خدای دې زمادمنګل بازکړه
دزړهٔ کترې بهٔ درکوم تابهٔ ساتمه
خدای دې زماکړه ښکلیه ګله
لنډۍ کچر بهٔ چلوم تابهٔ ساتمه
خدای دې زماکه غونډۍ منډۍ
کندوکچکول بهٔ ګرزوم تابهٔ ساتمه
خدای دې زما دباغچې ګل کړه

چې همېشه دې پۀ اوربل کې ګرځومه
خدای دې زما پرحال خبر کړه
چې نوردسوو زړونو نۀ اخلې ازارونه
خدای دې زما پۀ حال خبر کړه
چې لۀ شیرینې خنداولو بړې مینه
خدای دې زما دسینې ګل کړه
چې هرسبا دې پۀ دیدن تازه کومه
خدای دې زما دباغ منه کړه
چې دهمزولو سره ځم تابویومه
خدای دې زموږ پۀ کور کې ګل کړه
چې د سپین مخ پۀ خولو تا اوبۀ کومه
خدای دې زموږ کره رنځور کړه
چې تۀ فریاد کړې زۀ ځار ځار درته لرمه
خدای دې ناصح زما پۀ دود کړي
چې بیا توبه لۀ نصیحته وکاږینه
خدای دې نصیب راسره وکړه
چې مې دعمر سودا النده شي مینه
خدای مې پاچا قران مې پیر دی
رسول الله بۀ شفاعت زما کوینه

خدای مې داوس سرومال چور کړي
دمعشوقوپۀ مخ کې تل سرومال ځینه
خدای مې دې دروليٍ وطنه
داځۀ ژوندون دی چې بې تاږدم قدمونه
خدای مې دمرګ کړي ترتادوړاندې
چې سپینه خولۀ مې میراثي نۀ شي مینه
خدای مې عادل دئ ظالم نۀ دئ
پۀ ما یې عدل چلاوه خواره یې کړمه
خدایه باران ددیدن وکړې
بیا کۀ مې سترګې جنجي وخوري راضي یمه
خدایه بې دردو ته درد ورکړې
چې ددردمنوزړونولۀ حاله خبر شینه
خدایه ببلتون کړې رانه لرې
ډ ېرنادیده دی هر ساعت کوي جنګونه
خدایه بې ننګه ځوی رامه کړې
کۀ پۀ دیدن پسې یې ړوند پۀ سترګو شمه
خدایه پۀ جنګ کې بری راکړې
شیرین اشنا راته دخولې ویلې دینه
خدایه پۀ داسولمبووسوم

چې نۀ يې دود شته نۀ يې تاوچاته ورځينه
خدايه تقديرته تدبير نۀ شته
کۀ د پولادو زغرې جوړې کړم مينه
خدايه څوک چېرې مين مه کړې
بس ده چې زما پۀ ځوانۍ اوروڵګېدنه
خدايه داپېغله مې کميس کړې
چې هره مياشت يې پۀ سينه کوم خوبونه
خدايه داخپل همزولی راکړې
کۀ نيستي راغله پۀ خندا بۀ بې تېرومه
خدايه دالوږغرونه کوندي کړي
چې رامعلوم شي داشنادپګړۍ ولونه
خدايه دزړۀ ناسورمې جوړکړې
زۀب دسترګو پۀ عالم کې رسواکړمه
خدايه دزړۀ مرادمې حاصل کړې
چې دشيرين يار سره وکړم ديدنونه
خدايه دشرک باران رانښکې کړې
چې شال يې لوند شي اومحتاج دشړۍ شينه
خدايه دموريې ورته پام کړې
چې پرلنډۍ زنه يې ووهي خالونه

خدایه د مور عمر یې ډېر کړې
چې ما زیګرشي لورا و بو ته رالېږینه
خدایه د مور عمر یې ډېر کړې
ترګل ښایسته جانان یې ماته لویا ونه
خدایه د نیلو قدر کم کړې
چې پېغلې نجونې باندې نۀ وهي خالونه
خدایه د نیلو قدر کم کړې
شنۀ کالي ډېر شول خپل اشنانۀ پېژنمه
خدایه د وصل باران و کړې
د بېلتانۀ لمبو مې سوي اندامونه
خدایه زړې مینې تازه کړې
چې د ښایسته ؤ ډېر پر خولۀ پربوا تۀ ګردونه
خدایه د ځدرانو کلي وران کړې
پۀ تورو غرونو کې یې زاړۀ کړۀ شنۀ خالونه
خدایه زما مرګ پۀ ځوانۍ مه کړې
چې مور مې ویر کړي جانان و کړي ارمانونه
خدایه زما جانان زما کړې
چې د قدم خاورې یې رانجۀ د سترګو کړمه
خدایه کوټې یې کنډوالې کړې

زما یادېږي د کېږدیو شمالونه
خدایه کوچیان پهٔ کوچ روان کړې
چې ښایسته بدرنګې ګډې وډې ځینه
خدایه لهٔ کفر سره جنګ کړي
سپینې سینې بهٔ ځوانان ږدي پرکوندا غونه
خدایه ماګل دبیابان کړې
چې داشنالهٔ لورې بادمې ښوروینه
خدایه ما ګل دګلاب کړې
چې دجانان پهٔ غېږ کې پانې پانې شمه
خدایه مرګ راولې ماواخلې
چې اشنانهٔ شته سترګې چاته واړومه
خدایه ممانې پخې مه کړې
چې جنکۍ بهٔ سپینې خولې پهٔ توروینه
خدایه موزیانوکې مرګ ګډکړې
چې دغیرت لېونۍ نجونې خلاصې شینه
خدایه نرۍ نرۍ باران کړې
چې سالووالې دلونګۍ محتاجې شینه
خدایه ویشتلی توتي جوړکړې
چې دخپل سیله سره ځي خپارهٔ ځانګونه

خدایه هغه ساعت بهٔ کوم وي
چې د وطن پهٔ بیرغ وشندم ګلونه
خدایه یو داسې ګل پیدا کړې
چې یې بلبلو یې تل کړي صفتونه
خدایه یو داسې اشنا راکړې
چې بې ویلو خولګۍ ماته راکوینه
خدمت بربادګناه لازمه
نور بهٔ دړهٔ پهٔ کترو نهٔ ساتم بازونه
خزان پهٔ جنګ دګلو راغی
رنګ د بهي لهٔ ډاره زېړو تښتېدنه
خزان پهٔ زړهٔ دګلو راغی
ځکه بوراتندی وهي پهٔژړا ځینه
خزان یې ولید مخ ناولی
ځکه بهاردونوپانېې پرې مینځینه
خزانه خدای دې ځواني مرګ کړه
بلبلان ستالهٔ لاسه سرتندی وهینه
خزانه زړهٔ دې رانه یوور
چې د سورګل ښایسته رنګ دې خاورې کنه
خط د رلبږم هېرخو مې نهٔ یې

درتلی کۀ نۀ شم غمازان پۀ مخ کې دینه
خط رالېږه راتلی کۀ نۀ شې
پۀ خط هم زما دزړۀ تسلا شینه
خط مې کاوۀ قلم مې مات شو
دا شنانوم رانه نیمګړی پاتې شونه
خط مې لیکۀ جانان رایاد شو
زړۀ مې سستي کړي پرقلم تکیه کومه
خط مې لیکۀ ببلتون رایاد شو
کاغذ لمبۀ شو قلم شنې لوخړې شونه
خط مې لیکۀ قلم مې مات شو
لۀ ډېره غمه مې زړګی پۀ ژړا شونه
خط مې لیکۀ اشنا مې راغی
لۀ خوشالۍ نۀ مې قلم پۀ خندا شونه
خط مې دیارلۀ لورې راغی
تن مې ویدۀ ورته مې روح ودرېدنه
خط مې دزړۀ پۀ وینو ښکل کړ
چې اه مې وکړپۀ لوګي تورشول حرفونه
خط یې پۀ مخ دا سې مثال کا
لکه راجمع چې مېږي پۀ قندووینه

خلک اخترله کالي مينځي
زۀ پۀ ګولو ويشتلی زړۀ ټکورومه
خلک اخترله جامې مينځي
زما جامې د يار پۀ بوی نۀ يې مينځمه
خلک بۀ ټول اورونه واخلي
کۀ سرۀ لمبه د زړۀ د باندې وباسمه
خلک بۀ ډول ډول وايي
زۀ زوړ اشنا پۀ نوي يار نۀ بدلومه
خلک بۀ وايي چې ژوندی دی
زۀ بې اشنا يه ژوند پرمرګ حسابومه
خلک بۀ وايي بوراتور دی
بورا پۀ توره خولۀ خوږلي سرۀ ګلونه
خلک بۀ وايي چې وږه ده
وړې زما پۀ زړۀ چړې منډلي دينه
خلک بۀ وايي چې شنګرف دی
ما د زړګي پۀ وينو کښلي کاغذونه
خلک بۀ وايي چې قيامت دی
قيامت بۀ نۀ وي دوه مين بۀ بېلوينه
خلک بۀ وايي لالی تور دی

تورمې په زړۀ دغم شتې منډلې دينه
خلک بۀ وايي چې اختر دی
پرما خونۀ دی چې لۀ ياره جدا يمه
خلک بۀ وايي لېونی دی
لېونی نۀ يم د يار غم لېونی کړمه
خلک بۀ وايي يار دې تور دی
تورشمند روز دی اميران يې زړوينه
خلک بۀ وايي يار دې تور دی
تور خو بورا دی چې دګلو څوکې خورينه
خلک بۀ وايي يار دې تور دی
تور خو بورا دی چې ګلونه بويوينه
خلک بۀ وايي چې خوشال دی
پۀ زړۀ زما غمازدغم کولبې کوينه
خلک بۀ هر څۀ هر څۀ وايي
جانانه مه دچا منه نۀ يې منمه
خلک پرهر باندې پټې ږدي
زما پۀ زخم ليلا مالګه دوړوينه
خلک پۀ چول کې تالا کېږي
زۀ دليلا دکور دمخه تالا شومه

خلک پۀ لومو مرغان نیسي
زۀ يې بند کړی داوربل پۀ دامو یمه
خلک پۀ لمو مرغان نیسي
زۀ يې بند کړی پۀ خمارو ستګو یمه
خلک پۀ ویښه جانان ګوري
زۀ بدنصیبه يې پۀ خوب کې نۀ وینمه
خلک پېزوان ګړندی بولي
ما پۀ نتکۍ دکلا برج ونړاونه
خلک تمامه شپه ارام کړي
زۀ پۀ خنجر وهلی زړۀ ټکورومه
خلک تومت راباندې وايي
زۀ تومتي اشنا پۀ غېږ کې ګرځومه
خلک جوړه جوړه وید پړي
زۀ کم نصیبه یار پۀ خوب کې نۀ وینمه
خلک چارګل خونړی بولي
ما دې نتکۍ پۀ ډنډ رډ پروژلي دینه
خلک داختر پۀ ورځ دیدن کړي
زما قلم کاغذ پۀ لاس ببد یاته ځمه
خلک دبل وطن خواري کړي

لۀ ما د خپل وطن خواري پاته مینه
خلک د پیرلا سو نه نیسي
ما د شین خالۍ لیلا پښې نیولې دینه
خلک د پیرلمنه نیسي
ما د کمکوټۍ نجلۍ پښې نیولې دینه
خلک د ښوبر خو صفت کا
زما دې صبر پۀ دا خپله برخه وینه
خلک د غمه امان غواړي
زما پټۍ شو پۀ کې تخم تل شیندمه
خلک د کال پر مړي ژاړي
ما پر ژوندي اشنا کمرونړاونه
خلک د ګل غوټۍ ته شپې کړې
ما لۀ سمسوره باغه واخستل لاسونه
خلک د یار سره چل نۀ کا
خاونده خدایه کم بختي بۀ زما وینه
خلک دې ټول راګماني کړل
چې د منګي لاندې دې وخوړل څرخونه
خلک دې وایي تومتونه
زۀ د جانان پۀ غېږ کې چالیدلې یمه

خلک دې وايي تومتونه
مادتومت پېټې پرسرنيولي دينه
خلک دې وايي تومتونه
مادې تومت پهٔ ډنډ کې ډېرلمبلي دينه
خلک دې هرڅهٔ هرڅهٔ وايي
زهٔ دې ديدن ته سلامي ولاړه يمه
خلک زيارت ته پتاسې وړي
زهٔ بهٔ دجوارو پولۍ وړم چې کونډه شومه
خلک زيارت ته پراټې وړي
زهٔ داشنالپاره غونډه روپۍ وړمه
خلک زيارت ته پهٔ ګونډو ځي
زهٔ حاجتمنه پرډېوال وروا وښتمه
خلک صفت دنجونو کاندي
مادې بې نيازې نجلۍ ناز رنځورو ينه
خلک طلب دمال دنياکړي
زهٔ پهٔ طلب کې دجانان لېونۍ شومه
خلک کالي کوي اخترد ی
زهٔ د شهيد جامې پهٔ خواکې ګرځوم
خلک ګل وکري ګل اخلي

ماګل کرلي مارکونډۍ ترې ټولومه
خلک لۀ غمه امان غواړي
زۀ د جانان پۀ غم کې ډوب خوشاله يمه
خلک مکې ته ولاړل حاجيان شول
زۀ دلالي پۀ کوڅه تلم اجانې شومه
خلک مې ټول ټپوس ته راغلل
تۀ بۀ رانۀ شې چې مې تبه وشلېږينه
خلک ويشتل پۀ ټوپکو کا
زۀ يې ويشتلی پۀ ملالو سترګو يمه
خلک ويشتل پۀ تمانچو کړي
زۀ دې ويشتلی د بڼو پۀ غشي يمه
خلک ويشتل پۀ تمانچو کړي
زۀ دې ويشتلی پۀ خمارو سترګو يمه
خلک هوا کړي خوشالېږي
زۀ بدنصيبه مرورېخلاکومه
خلک ياري د جينکو کا
زۀ پۀ خيالجنو پسې تل غواړم ملکونه
خلک يو وارې سلام وايي
زمادې سل ځله سلام پرجانان وينه

خلکو برباد شوم ځکه ژاړم
یارمې یارنۀ شو هسې وړمه تومتونه
خلک بېلتون ظالم ته ګورئ
چې بې کناه مې د خپل یاره بېلوینه
خلکو تقدیر ته تدبیر نۀ شته
کۀ فولادي زغرې د عقل واغوندمه
خلکو خونوې یارۍ وکړې
زۀ بۀ زړې یارۍ ته ورکړم پیوندونه
خلکو د مرګ لایقه یمه
مرګ مې لیدۀ جانان ته نۀ ورتلم مینه
خلکو زړې یارۍ تازه کړې
زما پۀ نوې یارۍ اور ولګېدنه
خلکو کفن بۀ مې رنګین شي
جانان د زړۀ پۀ سرغسل راکوینه
خلکو لایقه د سنګساریم
مرګ مې لیدۀ اشنا مې نۀ پخلا کاونه
خلکو هوا باندې زین کېښود
ستا ټټوګی د پالان لاندې زخمي شونه
خلکه بېلتون مې نۀ چلېږي

کۀ پۀ سرتورسر یې دربارجاروکومه
خلکه ددې زمانې یاردی
پۀ چول یې پرې ښودم ښامارمې ماتوینه
خلکه زمابۀ څۀ اختروي
چې ببلتانۀ راته خېمې وهلي دینه
خلکه کولې سترګوته کېږدئ
بس دی چې ماجانان ته غټ کتلي دینه
خماردهجررانه نۀ ځي
کۀ پیالې ډکې دوصال دمیوڅکمه
خماروسترګوته دې وایه
چې مې دصبرکاروان نۀ تالاکوینه
خندا پۀ غم کې کله کېږي
ماته لۀ ډېره غمه نن خنداراځینه
خندالۀ تاسره جوړېږي
پرېږده چې زۀ دا ستا لۀ غمه ستې شمه
خندادسروشونډومزه کا
هسې مزه کا چې دړزۀ غمونه وړینه
خندادسرلۀ لورې راغله
زړۀ ته مې نۀ ګوري چې ډېر دي پرې غمونه

خندادې بې اځله مرګ دی
پهٔ بې اځله مرګ مې مه وژنه مینه
خندادې ټوله لباسي ده
پهٔ لباسي خندادې تېره کړم مینه
خندادې دومره مړې وکړهٔ
لکه تبګۍ چې پهٔ یو ښارراګډه شینه
خنداکوې او یاري نهٔ کړې
تشه خندا دې بې وفا جینکو وینه
خندالهٔ تا سره ښایېږي
ماته پراتهٔ دي پهٔ ځولۍ ځولۍ غمونه
خوابدی مه شې زما یاره
زهٔ دموزي پهٔ لاس کې یم چې جدا یمه
خوانبې مې ښهٔ ده بده نهٔ ده
دتنارهٔ پرسرډوډۍ راته شمېرینه
خوب او خندارا اخخه هېرشول
جانانه ستاغمونوډېرناکرارکړمه
خوب پهٔ بې دردوزړونو کېږي
زما پهٔ زړهٔ کې پرهارشته بېداره یمه
خوب تصورمې دواړه خوښ دي

زۀ د خارۀ جانان ديدن پۀ کې کومه
خود بۀ مې سرترا سمان تېروي
چې لوی پادشاه موامد شاه پۀ مخ کې ځينه
خوربۀ يې ولې نۀ رند ېږي
چې د جوپې کاروان يې تش کورته راځينه
خوريې پېکی تارتار وررېمونځ کړ
د يار د وينو پرتندي خال ورته ږدينه
خوره وره راباندې پرېوزه
د بېلتانۀ سړو پرزړۀ وهلې يمه
خوزه اوته سره ياران وو
دريم سړی دې پۀ منځ ولې خبراونه
خوشحاله هېڅوک پۀ کې نشته
د نيادغم څپې وهي وراه بۀ شينه
خوشالي نۀ شته مدام غم دی
مېرات شي غمه پۀ خندادې تېرومه
خوشالي تۀ کړه غم بۀ زۀ کړم
زمازړګی پۀ غم عادت دی نۀ بۀ چوينه
خوشالي مه کوه صورته
مادمجلس ياران ليدۀ چې خاورې شونه

خوشالي مه کوه صورته
ما ډېر بنا يسته ليدلي دي چې خاورې شونه
خوشې خواري را پسې مه کړه
دا ينځر ګل يم پۀ لاس نۀ درځم مينه
خولګۍ بۀ خاورې درله درکم
غريب سړی يې زۀ دنجونو ميره يمه
خولګۍ بۀ خاورې درله در کم
تۀ بولګۍ يې پۀ حجره وايې حالونه
خولګۍ دخورمه نۀ مړېږم
نامردې ټوله را پۀ شاشه چې دې وړمه
خولګۍ دې راکړه پۀ خندا شوې
زۀ دې لۀ خولې نه پۀ خندا خوشاله شومه
خولګۍ دې راکړه خپله ياره
سخته جګړه ده دمرچل پۀ لورې ځمه
خولګۍ دې راکړه مور دې نۀ کړم
ته مړه مه شې ددنيا پۀ نعمتونه
خولګۍ دې سره لکه ګلاب ده
ځکه يې وا ړه بلبلان ثنا کوينه
خولګۍ مې خوره څو يې خوږې شې

شکره نهٔ ده چې پهٔ تول بهٔ کمه شینه
خولګۍ مې ستا پهٔ شونډو سره شوه
مور ته بهٔ وایم ما انار خوړلي دینه
خولهٔ بهٔ پهٔ زور درڅخه واخلم
وړوکی نهٔ یم چې زاری درته کومه
خولهٔ بهٔ لهٔ خپل یاره قربان کړم
چې تر خوارهٔ وطن خپل سر قربانوینه
خولهٔ بهٔ د شونډو لاندې درکړم
پهٔ سپینو غاښو مې لونګ ژوولي دینه
خولهٔ بهٔ د خدای پهٔ رضا درکړم
منګی مې ولې چړپوې لمده دې کړمه
خولهٔ بهٔ یاررانه څوک وخوري
بزدله نهٔ یم چې لهٔ چامې وېره شینه
خولهٔ بهٔ مې خورې زړهٔ بهٔ دې یوسم
ما پهٔ خندا دډېروزړونه وړي دینه
خولهٔ دې پهٔ خپله رضا راکړه
بیا دې ناري کړې چې لړم وهلې یمه
خولهٔ دې پهٔ مینه راکړه یاره
لهٔ ډېره وخته ستا د خولې پهٔ ارمان یمه

خولۀ دې ټوپک خندا دې ټک ده
دزنې خال خودې مردک ودې ویشتمه
خولۀ دې ټوپک خندادې ټک ده
داسرۀ شونډان دې پټاکې اورلګوینه
خولۀ دې چوڼۍ غاښ سپایان دې
دانرۍ ژبه دې کرنیل حکم کوینه
خولۀ دې ځراغ لاړې دې تېل دې
دانرۍ ژبه دې پلتنه اورلګوینه
خولۀ دې شربت دی ماته یې راکړه
زۀ دهران پۀ سفر ځم تږی بۀ شمه
خولۀ دې داصله تکه سره ده
کۀ دې شاتوت دمرنجان خوړلي دینه
خولۀ دې دکان دپټا سودی
وراچولي دې دي دسروشونډو کلپونه
خولۀ دې دکان غومبري رخت دی
زۀ سوداګر توکي پۀ غاښ معلومومه
خولۀ دې دلوړ ګرنګ چینه ده
زۀ تل راځم پردې چینې ځان اوبومه
خولۀ دې دلوړ کمرۀ چینه ده

زۀ د مېرې توتي ورځم اوبۀ ترې څکمه
خولۀ دې د زرو کوټالۍ ده
هم دې خبرې پۀ کنډه تللې دینه
خولۀ دې د سپینو زرو جام دی
دانړۍ شونډې دې د سرو زرو سیمونه
خولۀ دې رانۀ کړه پۀ خندا شوې
زۀ دې ترخولۀ لا پۀ خندا خوشاله یمه
خولۀ دې غوټۍ د ګل ګلاب ده
شونډې دې ببرته کړه چې وسپړې ګلونه
خولۀ دې کوهی زلفې دې بیاستې
زما راستۍ دې عاشقان لۀ تندې مرینه
خولۀ دې ګلاب شونډې غوټۍ دي
دانړۍ غاړه دې ډنډر ګل ښوروینه
خولۀ دې لۀ دواړو خواؤ راکه
یو دې همزولی بل زارۍ درته کومه
خولۀ مشوانۍ ناړې سپهي ده
ژبۀ قلم لیک یې دزړۀ پرتخته کړمه
خولۀ دې یاقوت ژبه الماس دی
پۀ بیه ګران زما پرې جوړه نۀ راځینه

خولۀ مې د خولې د پاسه کېږده
ژبه مې پرېږده چې ګیلې درته کوینه
خولۀ مې پۀ بیره بیره واخله
پۀ کوز سرې مې دد ادا ګمان رائینه
خولۀ مې پۀ بیره بیره واخله
شکره نۀ ده چې پۀ تول بۀ کمه شینه
خولۀ مې پرخولۀ مه ږده جانانه
لاس مې پۀ زړۀ کېږده چې مې زړۀ پۀ کرار شینه
خولۀ مې ترې غوښته غېږ یې راکړه
خدایه خیالي لیلا ته ورکړې جنتونه
خولۀ مې خرما زلفې مې ځانګې
چې خرما خوربې ځانګې یې ټیټې کړه مینه
خولۀ مې خندا ته جوړوله
هجران تر منځ شو زۀ یې ګیر پۀ غمو کړمه
خولۀ مې خندا ته نۀ جوړېږي
ببلتون ځا پېږې پر سپین مخ راکړې دینه
خولۀ مې د ځټ لۀ لورې واخله
چې خمارې سترګې پۀ ځنګ دروا ړومه
خولۀ مې ددواړو خواؤ واخله

منګی مې ولې ښوروې لنده دې کړمه
خولۀ مې ددواړو خواؤ واخله
ژبه مې پرېږده چې ګیلې درته کوینه
خولۀ مې ددواړوخواؤ واخله
مور مې میرۀ ده بند پۀ بند مې لټوینه
خولۀ مې دزنې سره ستا ده
پۀ نرګسي چشمانو خیال درته کومه
خولۀ مې دلوړ کمرۀ چینه ده
سترې توتې دبل وطن پرې اوبومه
خولۀ مې دیار پۀ شونډو سره وه
مورته بۀ وایم ماانار خوړلي دینه
خولۀ مې دې غوښته را دې نۀ کړه
تشه خندا خو دې اوس اور رالګوینه
خولۀ مې سپین زېري سړي یوړه
ځوانان ټولېږي چې ژوندی یې خښوینه
خولۀ مې واړۀ هلک ته ورکړه
زړګی مې رېږدي چېرې حال بۀ ووایینه
خولۀ یې ډېره لاړې یې تېل دي
دانری ژبۀ یې پلته رڼاکوینه

خولۀ يې پۀ پا ستي کې حلوا ده
پلا ريې طبيب دی رنځوران پرې جوړوينه
خولۀ يې پېچلې معما ده
اخوند بۀ يې چېرې پۀ معنا ورسېږينه
خولې بۀ زۀ درته چکن کړم
توره لونګۍ دې درته مور وکړي مينه
خولې له مې سوړ اسوېلی راغی
زړۀ ته مې بيا جانان لۀ کومه پۀ ياد شونه
خون بۀ يې ستا وي زما ياره
کۀ مې داوښکو سېلاب يوسي عالمونه
خوی دې دوزخ مخ دې جنت دی
زۀ دې دوزخ سختۍ جنت ته تېرومه
خيال دې چې کله راته راشي
دبېلتانۀ زحمت پۀ ما اسانوينه
خيال دې لۀ مانه مرور دی
کۀ قاصدان لېږم دفکرنۀ راځينه
خيال دې لۀ وصل نه کم نۀ دی
زۀ تسلي دزړګي ځکه پرې کومه
خال يې پۀ غونډه زنه ګوره

لکه خالداره منه زړونه خوښومه
خاونده ټکنده غرمه کړې
چې د لیلا سرۀ زۀ وکړم دیدنونه
خاونده کبریې زوال کړې
د ګل پۀ صورت مې کټ نۀ غورزوینه
خبر د مرګ راغی جانانه
د سرکوشونډو شربت راکړه مړ بۀ شمه
خبر مې واخله ګل اندامه
ستا پۀ تومت ژوندون پۀ جېل کې تېرومه
خبر مې یار ته نۀ رسېږي
لارکې پیرې د بېلتانۀ ولاړې دینه
خبرې شته عمل دې نۀ شته
تشې خبرې دزړۀ باد دي څۀ بۀ یې کړمه
ختې مې وختې پۀ کلي
کۀ تښتوې مې یاره نۀ بۀ وډارمه
خدای دې زما پۀ غېږ کې مړ کړه
چې د ململ پټکی دې زۀ لستوڼی کړمه
خدای دې د بدو زېرمه وکړه
زما لۀ غاړې اوربۍ مه کاږه مینه

خدایه خیرراته پېښ کړې
هلته مې پېښ کړې چې جانان مې چېرې وینه
خدایه کمکوټی وړکی لوی کړې
چې پۀ خیالي اوربل مې ماتې ګډوینه
خدایه مین پۀ مین ورکړې
چې سره ووایي دخوږ زړګي حالونه
خدایه هغه ساعت راپېښ کړې
چې زۀ دې خپل اشنا دیدن پۀ کې کومه
خط مې دزړۀ پۀ وینو ښکل کړ
چې اه مې وکړ پۀ لوګ یتور شول حرفونه
خلک بۀ وایي زړۀ یې روغ دی
زړۀ مې غلبېل دی دیار غم غلبېلوینه
خلک دګ لغوټ ی، ته ګوري
مالۀ تیاره باغه واخستل لاسونه
خلک سلام پۀ ژوندو وایي
زما سلام دادیرو پۀ مړو وینه
خلکو پۀ جمع دعا وکړئ
چې داشنا غم مې پۀ کاڼو بوټو شینه
خندا کو ببیلتون د ې هېر دی

کۀ درخبر شي پۀ ژړا بۀشي مینه
خندادیارسره ښایېږي
بې ننګه یاریې دغمازانو سره کړینه
خوب چې کوي تاوان بۀ وکړي
ګټې هغه کړي چې شوګیرپسې کوینه
خوب وخندا پۀ بې غمۍ شي
ماته پرات ۀدي پ ۀامبارامبار غمونه
خولګۍ دمرګ پۀ سوک ماتېږي
زۀ پټه خولۀ دمرګلۀ غمه ګرځومه
خولۀ دملا دلور خوږه ده
چې خوړلي دي دقندو شربتونه
خولۀ دې دتریو انار دانه ده
درنځورانو قافلې درپسې ځینه
خولۀ دې دسپینو زرو جام دی
زما پرې پام دی چې موزي پرې اوبۀ څکینه
خولۀ مې پر خولۀ کېږده هلکه
ژبۀ مې پربږده چې ګیلې درته کوینه
خولۀ مې خندا ته نۀ جوړېږي
دجانان غشي پۀ زړګي ویشتلې یمه

خولې خولې وجود مې رېږدي
ساخو مې خېژي زۀ پردي وطن ته ځمه
خيال دې پۀ خوب کې را حضور شي
پۀ شپه مې ويښ کړي ترسبا سلګۍ وهمه
د ( د ) ښخه تر ( ډ ) پوري

دګل مېخونو دې شرنګی شو
ماويل کوټوال دی زولنې را اچوينه
دګل ګلاب دګل دپاره
نجونې ولاړې دباغوان سلام کوينه
دګل ګلاب نوې غوټۍ وم
چې خزان راغی پۀ بيابان ورژېدمه
دګل ګلاب دګل لپاره
دپاچالوريم دبزګرسلام کومه
دګلو باغ مې خزان لوټ کړ
ربه بهار کړې چې مې بياشنۀ شي ګلونه
دګلوډک اوربل پرې ټيټ کړه
کۀ شيرين يار پرزکندن وي روغ بۀ شينه

دګلو سیل کوئ ځوانانو
کۀ خزان راغی د ډېر بۀ مړاوي کړي ګلونه
دګلوونه شي هلکه
رب دې زما پۀ لورې راوله ښاخونه
دګلو هارمې پۀ کارنۀ دی
زۀ د سرووینو هار پۀ غاړه ګرځومه
دګناه پاک لۀ خاوروراغلم
اوس دګناه پېټی پر سرخاوروله ځمه
دګناه پېټی مې پرسردی
لاس پرسینه دمدینې سردارته ځمه
دګناه کارمرګ بۀ ګناه شي
زۀ بې ګناه قتل پۀ تورو سترګوشومه
دګودرخواکې ونې کېږدئ
چې شالیلامنګی پۀ سیوري د کوینه
دګودرغاړه دې اغزي کړه
پۀ سترګوړوند شې بخملي پښې لرمه
دګودرغاړه ورته نیسه
دلیلا خوی دمرغاوۍ دی رابۀ شینه
دګودرهربوټی دارودی

چې لګېدلي پرې د پېغلو پلوونه
دګورستاه مې ګيله شي
ځوانان خوندي کړي را استوي تش پالنګونه
دګولۍ زخم ژرجوړېږي
د پېغورزخم ترقيامته پورې وينه
دلاس باهومې رانه مات شو
زۀ بۀ ديار پۀ مخ کې څۀ ځواب کومه
دلاس دسمال بۀ ورته ورکړم
چې شيرين يارمې داخپل مخ پرې پاکوينه
دلاله خدای لپاره ورشه
دګلولښته پۀ زړۀ ماته کړه مينه
دلاله فکرپۀ کې وکړه
چې شال شړۍ سره يوځای نۀ کړې مينه
دلبره راشه وخت اخر دی
چې زکندن مې پۀ ديدن اسانه شينه
دلته دزړۀ طبيبان نۀ شته
چې دمينو دزړۀ دردرامعلوم کړينه
دلونګين پۀ پړک راخېژه
پرېبزوان شپه کړه سپينه خولۀ واخله خرڅونه

دلو نګین پهٔ لړ را خېژه
شپه پرا وربل کړه خرڅ لهٔ خولې اخله مینه
دلو یو غرورانه پناه یې
دزړهٔ پهٔ سترګو دې همېش دیدن کومه
دلو یو غرو سیوری پر سمه
دتورپېکي سیوری دورځو پر سرونه
دلو یو غرو ښایسته ګلونه
غنچه دګلو بهٔ اشنالره وروړمه
دلو یو غرو سروله راشه
دلو یو غرو لوړې درې یخ شمالونه
دلو یو غرو کجیرېې مړکړ
دتیټو غرو کجیره خدای بهٔ دې ساتینه
دلو یو غرو نو سیل مې وکړ
اوس مې یاد پرېږې دشینکي وطن باغونه
دلو یې لارې مسافره
پهٔ دیدن مور شوې کهٔ مخ بیادرواړومه
دلیلادوه ځایه ناستی دی
یادسین غاړه یادلوړو غرو سرونه
دلیلاکور بهٔ غلط نهٔ کړم

چې بوراګان يې له کوڅې وړي سرۀ ګلونه
دلېونۍ داسې خندا ده
دسلوکالومرورپخلاکوينه
دماسختن دعا قبلېږي
ځوانان پړانګان دي زۀ زمرۍ پۀ غېږ ورځمه
دمازيګرا وبوته ځمه
کۀ دوی پېريان دي زۀ پېرۍ يمه مينه
دمازيګراوبوله راشه
دمازيګرپۀ اوبوکېږي ديدنونه
دمازيګراوبوله مه ځه
دمازيګراوبۀ پۀ غم لړلي دينه
دمايګراوبوله مه ځه
پۀ ګودرزانګي دکوډګرو تاويزونه
دمازيګراوبو له مه ځه
زنګي پېريان دي نجلۍ وابۀ دې ړوينه
دمازيګراوبوله نۀ ځم
دمازيګرپر اوبو ډېر دي تهمتونه
دمازيګرزېړيه لمره
پرکېږدۍ ورشه زماپرې وايه سلامونه

د مازيګر زېړيه لمره
ديدن بۀ وکړې پېغلې کړې اوس ديدنونه
د مازيګر زېړيه لمره
پررو غووايه د رنځورو سلامونه
د مازيګر زېړيه لمره
يامې د رواخله يا د رتهول کړه تنابونه
د مازيګر سيورې کاږۀ شول
د تورا وربل سيورې پرځای لاو لاړدينه
د مازيګر ګودرته راشه
ما پۀ منګي کې پراتې راوړې دينه
د مازيګر ګودره وران شې
پۀ خندا د رشم پۀ ژړا د رنه راځمه
د مازيګر لمرغوټه کېږې
زۀ يم ولاړ نجلۍ لاخولۀ نۀ راکوينه
د ماښام ستورې مې ريبار دی
خدايه ماښام کړې چې ريبار مې ووينمه
د ماښام مونځ دې قبول مه شه
ديدن دې پرېښود دايمان کوې سوالونه
د مجنون پېښې پۀ ماوشوې

چې هر څۀ وايم ليلا خولې لره راځينه
د مجنون ونې مغزې کوږ دی
باغوان يې ځکه پۀ تېشه نۀ پرېکوينه
د محبت پۀ رنځ رنځوره
راشه چې درکړم د سرکوشونډو سرونه
د مخامخ سترګو دې ځارشم
د پسې شا سترګو څوک څۀ پروا لرينه
د مخامخ ناستې دې ځارشم
پۀ اشاره د سترګو راکړه رخصتونه
د مخ پر ګل دې خزان راشه
پۀ پسرلي دې بلبلان شړلي دينه
د مخ ګلشن دې سهار جوړکړ
د زلفو باد دې غوړولي زېړ ګلونه
د مخ لمبه يې پرې لګېږي
کاکل يې وسولکه سکورو ګرځېدنه
د مخ هډوکي مې ښکاره شول
اوښکې سېلاب باندې راځي غوښې ترې وړينه
د مخه لرې شه عالمه
زۀ مسافرجانان ته غېږې له ورځمه

د مخه ولو ېږي د ېوا له
تانه پناه ده شا ليلا شينکي خالو نه
د مرګ استا ځي مې خپا رۀ شول
جا نانه را شه ارماني له د نيا ځمه
د مرګي هسې نوم بد نام شو
زۀ د يا ر مينې لا پخوا وژلی ومه
د مړوند خوب مې پرې حرام دی
چې پۀ ميدان کې لۀ د ښمن تېښته کوينه
د مسافرا شنا لپا ره
تلې مې سوځي زۀ پۀ لمرولا ړه يمه
د مسافر جانان سلګۍ دي
مخ يې وطن ته کړئ چې سا يې وخېژينه
د مسافر د ارمان مرګه
سر يې بالښته خولۀ سپېره وي پۀ ګرد ونه
د مسا فر ورنګ تغيروي
لکه ژوندي چې چا پۀ ګورمنډلي وينه
د مسافرودې رنګ ورک شي
سړی د زړۀ پۀ رنځ اخته کړي بيا ترې ځينه
د مسافر مرګونه دوه دي

يو يې سفرشي بل كفن لۀ كومه كړينه
د مسافرو كاغذ راغی
ملا يې لولي او ښكې لارنۀ راكوينه
د مسافرو ميندې ژاړي
پۀ مسافرو پسې كاندي ارمانونه
د مسافرو ياري مه كړئ
نن وي دلې سبا پرنورو ځايونه
د معشوقو دغه دستوردی
چې د تومت پۀ جامورنګ ګرځي مينه
د معشوقو غم لېونی كړم
بيابۀ ونۀ وايم دعشق سوي بيتونه
د معشوقو مثال د پيردی
پيرچې كامل شي سړی نۀ بدرنګوينه
د معشوقو مثال دګل دی
مناسب نۀ دی چې كارغان يې بويوينه
د ملكندۀ پرغرۀ مې كېږدئ
چې د درګی نجونې دعاراته كوينه
د ملكندۀ پۀ لاركې بند شې
چې پۀ خفګان كې زۀ درياده شمه

د ملنګانو سره مل وی
ناست په ځنګل وی چې مې نۀ لیدی غمونه
د ملنګۍ کچکول بۀ واخلم
څو چې د یار دیدن ونۀ کړم نۀ راځمه
د منګوټو کتارېې جوړ کړ
لنډی بازارېې پۀ ګودرونښلاونه
د مورملوکې سرې دې نوکې
ما بۀ لاهو کړې پۀ نوښار بۀ وخېژمه
د مور اولور سخته بېلتونه
مورېې ولاړه لورېې شاورته کوینه
د موزیګې د زوره نۀ یم
چې نیمه شپه شي لټ پۀ لټ مې اړوینه
د موزیګې د زوره نۀ یم
دلاس بنګړي مې خرڅوي ماژړوینه
د موزیګې شلېد لیه کټه
چې زۀ دې لنګه ټینګوم بازو دې ځینه
د مېړنو خویندې بۀ ژاړي
د موزیګې خویندې بۀ سترګې توروینه
د میمونې وړوکی زوی ؤ

دا شېر عالم يې پۀ نامبات حلالوينه
د مينې دا ننبه کړه ده
رنګ بۀ يې زېړ خوا ړۀ بۀ خوندنۀ ورکوينه
د مينې اور بۀ مې مړنۀ شي
کۀ د جامو سره درياب ته ولوېږمه
د مينتوب خبرې زور شوې
جامې مې اور شوې اندامونه مې سېزينه
د مينې اورمې پۀ زړۀ بل دی
دودونه يې خېژي پرې اخربۀ لمبه شمه
د مينې اه چې لۀ زړۀ پاڅي
تيرې لاځۀ پۀ بحروبر اور لګوينه
د مينې تول مو سره وکړ
پۀ ياريوه لوټه زۀ زياته وختمه
د مينې جال راباندې خپور دی
لکه ماهي ترلاندې سترګې تورومه
د مينې زور دی چې يې ګورې
پتنګ پۀ سرولمبو کې ځان ستي کوينه
د مينې مست کله راګرځي
څو چې د مينې د دښمن سرنۀ وهينه

د مينې يار بۀ پيدا نۀ کړم
چې پۀ تقسيم راسره وګالي غمونه
د مينې يار مې پيدا نۀ کړ
د عاشقۍ دفترمې ټول ولټاونه
د مينې ياره اوس بېدار شه
سبانژدې دی بيابۀ وکړې ارمانونه
د مينې ياره خفګان مه کړه
کاروان چې درومي سپي بۀ خود غپاکوينه
د نازولي غم رنځور کړم
خلکو ته وايم چې زېړی تبې مې دينه
د ناستې ځای دې رامعلوم کړه
کۀ د چړو پۀ څوکو لاړ وي د ربۀ شمه
د ناستې ځای دې رامعلوم کړه
چې درته کېږدم درامېل چامېل ګلونه
د ناکامۍ شمال موزي دی
زما د ښځو بوی لۀ تانۀ لرې کوينه
د نامردۍ احوال دې راغی
کۀ پر د بلې يې پسې ښکته ځه مينه
د ناوکۍ د برج دلاندې

نرۍ نرۍ اوبۀ راځي ماډوبوینه
د نتکۍ لال بۀ پرې خیرات کړم
کۀ مې اشنا پرد ښمن مات کړل سنګرونه
د نتکۍ لال بۀ مې خیرات کړم
کۀ مې جانان لۀ جنګه روغ راشي مینه
د نتکۍ لال مې اوبو د ر وړ
پۀ غم شریکه لالیه نیسه ګودرونه
د نجنکو سرداره زۀ شوم
چې مې اشنامورچل پۀ منډه ونیونه
د نجنکو لۀ خویه ځارشم
چې لوزو کړي بیا پرې کلکې وي مینه
د نجلۍ توري ښکلې سترګې
ترمرګه نۀ وځي زما لۀ زړۀ مینه
د نجلۍ تورو سترګو وسوم
کوردې خراب شي رانجۀ چاورکړي دینه
د نجلۍ تي ته مې لاس ورور
د غرځنۍ پۀ شان یې وکړل غورځنګونه
د نجلۍ ټکی ټکی مخ دی
یاریې زرګر دی ستارې بۀ پۀ کې ږدینه

د نجلۍ ټکی ټکی مخ دی
لکه پهٔ سره مڼه لونګ ټومبلي وینه
د نجلۍ خال د عقرب ستوری
د لویو غرو پر سریې مړاوي کړل ګلونه
د نجلۍ سپینې سپینې متې
لکه د چړماهي نیول نهٔ راکوینه
د نجلۍ سرولاسونو وسوم
خاوندنه وران کړې د نکریزو د کانونه
د نجلۍ سرو لاسونو وسوم
زهٔ بهٔ ښېرې د کاروان مشرته کومه
د نجلۍ مخ پردې وطن دی
څوک چې پردي ملکونه خوري سربهٔ پرې ږدینه
د نجلۍ مړاوې مړاوې سترګې
لکه ګلاب چې د دوه نیمو ورځو وینه
د نجلۍ ناسته د کجیرده
دا د ښو ترڅو کو ګوري وطنونه
د نجلۍ ونه د پومبې ده
سپینې سینې یې لاټوګان نیولي دینه
د نجونو میره سیل ته راغله

ماليار ه جوړ کړه پۀ باغچه کې چمنونه
د نصيبونو کۀ ځنګل وی
مابۀ پۀ خپله برخه اوربل کړی ونه
د نګه دې غاړه د نګه ونه
شيرينه ياره پۀ ديدن پسې د مرمه
د ننګ ټوټه بۀ مې هرهلهٔ وي
کۀ پس لۀ مړينې پرمزار راشې مينه
د ننګ غيرت ميدان کې مړشې
چې جنګې دې پۀ ګود رصفت کوينه
د ننګيالي جانان لپاره
زۀ دواړه لاسه پۀ نکريزو سرۀ کومه
دنيابۀ پاتې شي لۀ مانه
چې يار خبريږي زۀ بۀ تورې خاورې يمه
دنيا پرهغه باندې باغ دی
چې چته پيغله يې پۀ مينه مستوينه
دنيا د يار لۀ سره ځار کړه
دنيابۀ تل وي ياران کله کله وينه
دنيا د غم پۀ ورځ پيدا شوه
زۀ لبونی د بيغمۍ تمه لرمه

دنیا د سود په لور کړه ده
نجلۍ د هغو یاري کړي چې سود من وینه
د نیمو شپو اوروونه بل شوه
زه خواره ناسته مرور پخلا کومه
د نیمو شپو راتګ دې ځار شم
خوب مې پوره دی په راستۍ خوله درکومه
د نیمو شپې سندرې خوند کا
څوک به مین وي څوک به ورک وي له وطنه
دوبی دې ټول په غم کې تېر کړ
په ژمي راغلې له ما غواړې زېړ ګلونه
دورځې تورې سترګې ګرځم
د شپې پرې وینې تو یوم دیار له غمه
دورځې کلی راته ګوري
زه به دیدن کړم که به فقر ټولومه
دورځې مخ له شرمه مینځم
د شپې پرې اوښکې تو یوم ژړا راځینه
دو دیې تمام جهان نیولی
زړه مې د شونډو په سکروټو وریتومه
دوصال عمر یو ساعت وي

د بېلتانۀ يو ساعت کال را باندې شينه
دوصال کوريې ۀ جوړ کړی
د بېلتانۀ لۀ لاسه لوټې لوټې شو نه
دوصال ورکړه راته لرې
بيا بۀ جهان را پسې ګورې نۀ بۀ يمه
دوطن ترخې مې خوراک وی
خوراک مې نۀ وی د پردي وطن ګلو نه
دوطن جنګ ته ځان تيار کړه
يا بۀ سربا يلې يا بۀ لاندې کړې برجو نه
دوفا تمه ترې ونۀ کړې
چې څوک پرځان د معشوقې ګمان کوينه
دوفا ټکی درکې نۀ شته
ستا پۀ ظاهره سيکه ډېر وغولېدمه
دوفا نښه درکې نۀ شته
خوشې عبث لومې د خيال درپسې وړمه
دولې سيورې لاندې پروت وم
ليلا پرما باندې سالو وغوړا و نه
دومره پۀ بخت زورور نۀ يم
چې لرې تللی جانان بيا پۀ لاس راشينه

دومره پهٔ بخت زورورنهٔ یم
چې د تالا باغه راوړم زېړ ګلونه
دوه طرفه څوکۍ شوې جوړې
د کبرجنې یاربهٔ څوک ولاړوینه
دوه مې دي ورونه زېړ ګلونه
دوه مې وربندارې د تیرا بلبلې دینه
دوهم یوسف راته ښکارېږې
خوبان د مصردې خجل پهٔ مخکې ځینه
دوېږې غږ کولی نهٔ شم
د سوال یاري ده اوس بهٔ دړې وړې شینه
د هجران تنده نهٔ ماتېږي
څو دوصال پهٔ جام سېراب نهٔ شم مینه
د هجران زرپیالې بهٔ نوش کړم
کهٔ دوصال یوه پیاله مې نصیب شینه
د هجران زهر مې خوړلي
ستا دوصال زهرمهره نهٔ شته وبهٔ مرمه
د هدیرې پهٔ بره غاړه
ځوانان ولاړدي تورټوپک زېړي ګلونه
د هدیرې نه مې زړهٔ بد دی

ځوانان ستانهٔ کړي راليږي تش پالنګونه
دهرچاځانته ځانته خيال دی
هغه به کېږي چې دخدای پرې رضاوينه
دهرقدم نه دې زهٔ ځارشم
مادرېبارمنت کاوهٔ راغلې پخپله
دهغه چادې کورخراب شي
چې يواشنادبل اشنانه بېلوينه
دهغې خولې بهٔ څهٔ مزه وي
چې دې پهٔ توروسترګوکېږدي سرهٔ لاسونه
دهلکانوميندې مړې کړې
چې ياري نهٔ کړي سترګې ځله توروينه
دهلکانوميني زورشوې
جينکوواچول دصبرتاويزونه
دهلک تګ ددراني دی
لنډی کميس ببرې څنې ښوروينه
دهلک توروسترګووسوم
کورېې ميرات کړې رانجهٔ چاورکړي دينه
دهلک مورې جنتي شي
هلک دې جوړ کړ دلونګو بوی ترې ځينه

د هندوستان پۀ مېروورکه
میاشتې دې تېرې کړې کلونه دې شمېرمه
د هندوستان سفر دې لنډ شه
زما پۀ توراوربل کې سپین ولګېدنه
د هندوستان پېرنګې ژاړي
کۀ ژېړ ایوب پۀ دنیا ؤکونډې بۀ شونه
د هندوستان ولورته مه ځه
د هندوستان نجونې لولۍ بندبۀ دې کړینه
د هندوستان ولورته مه ځه
د شیرینوولورلۀ ماوا خاه مینه
د هندوستان ولورته ځمه
د شیرینوولورپۀ خپل لاسوګټمه
د هندوستان ولورته مه ځه
د هندوستان نجونې مې خویندې میندې دینه
د هندوستانه بۀ دې ورک کړم
ما پۀ ملالوسترګوډېرورک کړي دینه
د هندوستانه مې راستون کړې
د ګورستانه بۀ دې څوک راستنوینه
د یارانې حجت ترې واخله

پراو سنيو نجونو نۀ شته باورونه
د يارانې کول اسان دي
سخته د يار د زړۀ ساتنه ده مينه
د يارانې لايق دې نۀ يم
د مريې توب دعوه کوم کۀ قبول شمه
د يارانې مزې مې پرې شو
د خپله لاسه مې کچه تاو کړې ونه
د يارانې مې بېزارنۀ شې
کۀ څوک د سپينو تورو د رکړي ګوزارونه
د يارانې مې ورته وويل
د سرۀ سالو لاندې يې وچيچل غاښونه
د يار بې غوره عدالته
زۀ نامنظور درخواست پۀ غاښ ولاړه يمه
د يار پر سخت زړۀ اثر نۀ کړې
کۀ زۀ د اوښکو پر ځای وينې تويومه
د يار پروا را باندې نۀ شته
کۀ زۀ د اوښکو پر ځای وينې تويومه
د يار پروا را باندې نۀ شته
خوشې ملنګ لۀ ځانه ولې جوړومه

د یار پرورو ستو سلګورا غلم
لکه شپبه د بارانهٔ پرېِ تو یه شو مه
د یار پهٔ تلو مې ساه و رنکړه
ځکه مې مینه پهٔ عالم شوه د رو غجنه
د یار پهٔ غم مې زړهٔ کباب شو
بېلتون نا ترسه پرېِ لاماګه دوړوینه
د یار پهٔ غم مې زړهٔ کباب شو
ځکه لهٔ خولې مې دوریتو غو ښو بوی ځینه
د یار پهٔ مینه کې ډوب لاړم
لکه ماهي چې د دریاب پهٔ منځ کې ځینه
د یار پیغام مې راله راغی
کهٔ د هجران پهٔ شپه کې لمر را ښکاره شو نه
د یار تصو یرمې پهٔ خوب ولید
چې را بېدارشوم ترسبا وژړېد مه
د یار خندا د ګل ګوزار دی
بد یې کتل دي چې سړی رنځوروینه
د یار د سرو شونډو بهاره
پهٔ لپو لپو در د ستر ګو د ر کو مه
د یار د مخ ګلان را ټول کړه

ګل قند تريې جوړ کړه دزړۀ زنګ لريې کوينه
د يار د هجر پۀ تور تم کې
دا وښکوډک کچکول پۀ لاس کې ګرځومه
د يار د هجر زلزله ده
ځکه حيران ولاړ سر تور روار خطا يمه
د يار ديدن اسم اعظم دی
کۀ مې نصيب شو د جنت سردار بۀ شمه
د يار ديدن اسم اعظم دی
کۀ مې نصيب شو همېشه بۀ ژوندی يمه
د يار ديدن تبه شکېدن دی
مرورتيا يې بابېړی خلک تريې مرينه
د يار ديدن حج اکبر دی
د يار ديدن ته رقيبان دي دريابونه
د يار ديدن ماته عنقا شو
اوس بۀ لمن دکوه قاف پسې غواړمه
د يار ديدن يې پرماکم کړ
زۀ د ښولۀ رپېدو مروريمه
د يار سينه باغ بالا ده
کۀ دلکشا ده د جنت هوا لرينه

دیار صفت بهٔ تمام نهٔ کړم
کهٔ خوشال خان لهٔ قبره راولم مینه
دیار قیمت بهٔ پوره نهٔ کړم
کهٔ دالوی غرونه د طلا کانونه شینه
دیار غصه د ګل ویشتل دي
بده خندا ده چې د بل سره یې کوینه
دیار لید و ته هوسېږم
کهٔ موزي راشي ارمانجنه بهٔ ترې ځمه
دیار لمن کې مې حلال کړئ
چې زر زري لمن یې سره پهٔ وینو شینه
دیار لهٔ دره ځوابي شوم
ځکه مې کډه پهٔ زېړي مازیګر ځینه
دیار لهٔ دره نهٔ صبرېږم
سر بهٔ پرې ورکړم ځان بهٔ یار ته رسومه
دیار لهٔ غمه سودایي شوم
خلک ګمان دلېوني راباندې کړینه
دیار لهٔ میني بهٔ وانهٔ وړم
کهٔ پر سرو خورم د مصرۍ توري واړونه
دیار مې ټکی ټکی مخ دی

د پشکال خولې پرې ډنډ ولاړې دینه
د یارمې څۀ خوږې کیسې دي
چې د شمل دلارې مل مه وی مینه
د یارمې غونډې منډې څنې
تۀ واځلمی دی لۀ تیراراغلی دینه
د یارمې کډې پۀ مخ راغلې
ژړامې راغله د بوالۀ ته ودربد مه
د یارمې نوې زېره راغله
لکه جوهر چې لۀ پولاد وختلی وینه
د یارمې نوې زېره راغله
زما میراته سینه نۀ نیسي ګلونه
د یارمې نوې زېره راغله
دانرې بربت بۀ یې پۀ ژبه سمومه
د یارهجران دورودراز شو
ځکه داوښکو پۀ ځای وینې تویومه
د یارزړۀ صبرول ګران دي
پۀ دریابونو کرښې چاراښکلې دینه
د یاریارې کرلی کښت دی
مادکرلي کښت نه واخستل لاسونه

دیاریاري مې خوښه نۀ شوه
د چلم نل دی هر سړی پرې شونډې ږدینه
دیارۍ تکی د رکې نۀ شته
ما پۀ جدول کې دا ستانوم لیدلی ونه
دیارۍ څلی مې درجوړ کړ
کۀ پرې خوښ نۀ یې ورشه وران یې کړه مینه
دیارۍ سختې کشالې دي
چې نۀ پوهېږي هغوو خوارۀ ځانونه
دیارۍ سل ګزه کوهی دی
زۀ یې پرغاړه ګرځېدم ورولوېدمه
دیدن بۀ وشي یا ونۀ شي
تګ مې پلمه دی دیار کوربۀ ووینمه
دیدن پۀ سین کې رالاهو کړه
د تورو زلفو جام پۀ لاس ولاړه یمه
دیدن پۀ غټو سترګو وکړه
سبا بۀ ځمه نۀ بۀ وکړو دیدنونه
دیدن پۀ لک خندا پۀ زړه ده
د سپینې خولې بیه بۀ نۀ معلومومه
دیدن پۀ لک روپۍ ارزان دی

پلو مې بادیوور وړیادې ولیدمه
دیدن دبادو پیمانه ده
نۀ پرې مړېږم نۀ ترې پنډ تړلی شمه
دیدن دبادو پیمانه ده
نۀ بۀ پرې موړشې نۀ بۀ وتړې بارونه
دیدن دخدای پۀ اراده دی
دالېونی زړۀ مې منګولې لګوینه
دیدن دګلواسان نۀ دی
مګربلبل شې چې دې سیر پۀ ګلووینه
دیدن دې باغ زړۀ مې بلبل دی
بېلتون باغوان بلبل پۀ پۀ باغ کې نۀ پرېږدینه
دیدن دې بیا پرماقېمت کړ
لکه دژمي سپوږمۍ کله کله وینه
دیدن دې بیا پۀ قیامت وکه
پۀ دې دنیا مودیدن ونۀ شومینه
دیدن دې حج مخ دې مکه دی
سپینه سینه دې عرفات پرې وختمه
دین دې کړاوردې پلمه کړ
نۀ دې اوروا خست نۀ دې وکړل دیدنونه

دیدن دې ولې قیمتي کړ
زۀ دې پۀ کومه ګناه ونیوم مینه
دیدن کوم دروېزه غواړم
چې فقیرنۀ وي څوک دچاورته ورځینه
دیدن کوه مه منعه کېږه
ملک ته بدې ورکوه نۀ شته مرګونه
دیدن کوه مه منع کېږه
پۀ تش دیدن بۀ دې څوک نۀ حلالوینه
دیدن کوه مه ایسارېږه
کۀ چاپرې مړکړې ځوانان تل پۀ سینه مرینه
دیدن مې ستابانې مې نورې
زۀ پۀ زاړۀ شپالۀ کې ببرې لټومه
دیدن مې کورته پسې یووړ
پرقدرمن اشنامې ځان بې قدره کنه
دبوال سوری کړه دسمال راکړه
پلاردې خټګردی بیابۀ جوړکړي دبوالونه
دابۀ دچاپرځان پېرزووي
تله راواخلي پردی غم ځان ته تلینه
داتوراوربل دې که دوه ځایه

چې دې تندی په ستر ګو و ګورم مینه
دا سمان ستوری مې اشنادی
دو رځې ورک وي په ماښام یې وینمه
دا شنادې ظلم ته ګوره
همرا ته خاندي هم مې تېغ په مری ږدینه
دانار ګل غوندې تنکۍ یې
په تورموزي خو مې پېرزونه یې مینه
دانصاف تله په لاس واخله
بیا پرې تله خپله جفازما صبرونه
دبلۍ سرنه خولګۍ راکړه
سرتور مې خېژوه په لوړبامونه
د پېغلې خوله شینکی کاربزدی
شینکي کاربزته هرمرغه غاړه وهینه
د تاله زبې څخه ځارشم
خبرې ته کړې مزه ماته راکوینه
د تورتهوپک به دې ځونډی شم
چې ورمې نه کړې دنا کسو په لاسونه
د توتي هسې خولګۍ سره ده
دباغ ګلونه ټول بورا خوړلي دینه

د چیټ کمیس دې مبارک شه
د باندې مه وځه اورونه لګوینه
د خپل نیکۀ توره راواخله
ظالم دښمن پۀ اټک پورې که چې ځینه
د خدای پامان دې وي لالیه
ستا اشنایي بۀ زۀ ترډېره یادومه
د دروازګی سرپه څوک یې
زۀ ادم خان یم د درخو سلام ته ځمه
د دوو یارانو سخت بېلتونه
لکه ماهي لۀ ډنډه وځي زړۀ یې چوینه
د دیدن ورېي بۀ مارۀ کا
کۀ شالیلا لۀ مخې لرې کړي لاسونه
د دیدن ترږي بۀ مارۀ کړم
د کلي منځ کې بۀ مخ لوڅې تېره شمه
درګاه دې پورې شه محبوبې
چې ملنګان دې بېنوا لۀ دره ځینه
درګي ته مه راځه سرداره
درګی پاغي دی نجونې تورو غروته ځینه
درګي ته مه راځه سرداره

د زړګی د زېړو ګلو جوړ رنګ بۀ شینه
د رنجو ګوډی مې ساتلی
د موزیګي پۀ مړګ بۀ سترګې تورومه
د جنت حورې بۀ یې سیل کړي
چا چې د دین پۀ لارکې سرورکړی وینه
د رقیب خونه دې شي رنګه
زما یې رنګ کړل د زړګي لوړلوړ برجونه
د زرمل ګی دیدن مې وکړ
زرمل جاله ده غرقوي زېړې ګلونه
د زړۀ پۀ سر مې ګوتې کېږده
چې لړمانۀ ته مې دوینول لښتې ځینه
د زړۀ کترې د رته د رکړې
کم اصله بازه زۀ دې ونۀ پېژندمه
د زلفو تار راله راکوزکړه
چې د هجران کوهی ژور دی مړبۀ شمه
د زلفو تال دې راته جوړکړ
اوس بۀ زړګی پرې زنګوم فکروهمه
زنې خال دې بې مثال دی
بې بها لال دی امیران یې خوښوینه

د سبا ستر ګه شه را خېژه
یاره سبا دی ستا دیدن ته ناسته یمه
د سپینې خولې سوال مې قبول کړه
دغه نیکي بهٔ دې ترمرګه یادومه
د سپینې خولې دې دومره خرپ شو
لکه باغوان چې منه ماته کا پهٔ مینه
د ستا دحسن ګلان ډ پردي
زهٔ بهٔ یې کوم کوم ټولوم سترې بهٔ شمه
د سور سالو بهٔ زېری ورکړم
کهٔ چا دې زېری د دیدن راوړ مینه
د شامه تورې پهٔ شان تورې
پهٔ څیر راګورې مرګونی دې کړم مینه
د شونډو سور شربت بهٔ در کړم
کهٔ لهٔ مورچله دې بری راوړ ی وینه
د غاړکی پهٔ پړک را خېژه
چې د چارګل پهٔ پرو غوځ نهٔ شې مینه
د مخ پهٔ شمع دې ستې کړم
لکه پتنګ پهٔ شمع وسوځې ځانګونه
د مسافرلالي لپاره

خدايه ببړۍ وچلوې پۀ دريابونه
د مين زړۀ کله صبر بړي
کۀ خپل اشنا پۀ تبرو چړو وهينه

د مينې يار مې پۀ کار نۀ شو
لۀ بېګانه خلکو بۀ څۀ ګيله کومه
د نيمو شپو پورې رانغلې
سکروټې مړې شوې اوس ايروته ناسته يمه
دوطن دود بۀ سره وکړو
يا بۀ دې پړ کړم يا بۀ خولۀ درکړم مينه
د يار دې سروشونډو بها کې
پۀ لپو لپو درداونښکو درکومه

دا اخري مصرۍ مې واوره
پۀ زړۀ سورۍ شې چې مې وکړې ټپوسونه
دا باسين پۀ سين لاهوشې
چې مور دې شکې لټوي پلار دې چړونه
دا باسين خپوته ګوره
دا سې مې غم پۀ زهيرزړۀ څپې وهينه

دا با سين ځپولاهو کړم
پهٔ چړ يې نهٔ راوړم پهٔ زغم مې ډوبوينه
دا باسين دغاړې ګله
پرون تازه وې نن دې مړاوي ډنډرونه
دا باسين دغم ځپه وه
ليلا يې يوړه څه چې دواړه پسې ځونه
دا بند پهٔ بند بهٔ شم درماته
پهٔ بند ماتېږي دلا چې اولونګ ونه
دا بهٔ دچا پهٔ ځان پېرزو وي
چې تله واخلي پردى غم ځان ته تلينه
دا بهٔ زما نصيب قسمت وي
توتي موجودى دکارغهٔ پهٔ برخه شومه
دا بهٔ لهٔ مانه پوره نهٔ شي
چې هرساعت دې پهٔ جرګو پخلاکومه
دا بې لهٔ تامې داسې حال دى
لکه ماهي چې بې اوبو شي اخرمينه
دا پاس اسمان ګوره چې شين دى
داسې مې زړهٔ درپسې شين دى مړه بهٔ شمه
دا پاس شفق چې تا سو ګورئ

ما دزړۀ وینې پۀ اسمان شیندلې دینه
دا پخوانۍ مینه دې څۀ شوه
لکه دغزه دپانړو شوربۀ دې کاونه
دا پخوانۍ مینه دې څۀ شوه
لکه ښامارېۀ تاوېدې پۀ دېوالونه
دا پر ګلاب پرخه پرته ده
کۀ دجانان پرمخ خولې راغلې دینه
دا پسرلی مې نیمه خواشو
اوس مې دشناختو پر سر وتړئ ګلونه
دا پورې غر دې پر ما پروت وي
پرما دې نۀ وي دموزي سړي لاسونه
دا پۀ پښتو ژبۀ کې نۀ شته
چې بې لوزې دخپل اشنا سره کوینه
دا پۀ خیرخیر چې درته ګورم
ما درکې ننبې دیارۍ لیدلې دینه
دا پۀ لاله کې ژاله زېب کا
کۀ دې پۀ سرو شونډو کې غاښ راښکاره شونه
دا پېغلتوب مې دغم دود کړې
خیالي څوانان راپسې مرې خونکاره شومه

داتهٔ چې ځې اخر بهٔ ولاړ شې
ماته ګړۍ پهٔ ګړۍ مه وایه چې ځمه
داجدایي ده کهٔ قیامت دی
وارمې خطا سرتورولاړ پهٔ ژړا یمه
داچې سوربښکاري شفق نهٔ دی
اه مې دزړهٔ پهٔ قلم اور ولګاونه
داخپل ښایست راپورې اورشو
لکه پردی پهٔ بدرګوځان تېرومه
داخرت باربهٔ دې دروند شي
ډېرمې دزنې خال ته مه ګوره مینه
داخرت پېټی دې دروند کړ
دا ستا پهٔ سپینه خولهٔ مې وکښل ارمانونه
داخرت سخته خواري ده
څوک چې توښه ورته لري خوشال بهٔ وینه
داخرته خدای خبردی
پهٔ دې دنیا ستادوصال پهٔ ارمان مرمه
داخوداستادیارۍ خوب دی
پرکتاب پروت یم سم الف نهٔ پېژنمه
داخوداستادیارۍ زوردی

لکه ماهي پر بیابان سلکۍ وهمه
داخودې داسې ځواب راکړ
لکه ژوندی چې پهٔ مړهٔ خاورې اړوینه
دادا پهٔ خپل کورکې زړه کړم
د پېغلتوب باغ مې خزان لوټ کړمینه
داددنیا ساعت بهٔ تېرشي
کهٔ یو پاچاوي بل ملنګ ددوهي وینه
دادزړګي برجونه ټینګ کړه
ماخپژولي پهٔ خیالي اوربل توپونه
دادسفر مې اتم کال دی
زهٔ د شهي کلکوشرطوورک کړی یمه
دادښایست ناوې سینګارشوه
هریوځلمی نارې وهي زمادې شینه
دادګودرغاړه راواخله
لکه زخمي هیلۍ پهٔ ډم کې ناسته یمه
دادمرغهٔ وزرکهٔ زما وی
مابهٔ داستادیدن پهٔ هرګړي کاونه
دادمینود ستورنهٔ دی
چې بې قولي دخپل مین سره کوینه

دادم ختہ چې خميره شوه
تہوله دغم سره تړلې ده مينه
داداسمان ستوري بۀ شمارم
لارې کوڅې بۀ درته څارمه مينه
داده‌غو مېرمنو کاردی
چې د پرد پس اشنا پۀ پټ کې ناسته وينه
دادې جفاده کۀ وفاده
چې دې بلاته دهجران ورکړې يمه
دارغوان ګلونه راوړه
جانانه ياره پۀ اوربل کې يې تہومبمه
داریاته شرنګ دګوتو ورکړه
چې وادې نه وړي دبخملي ګوتوبندونه
داړنګه بنګه بۀ درځارشم
لکه انګورپۀ ونه واچوي تاکونه
دازادۍ پۀ لارکې مړشې
چې جنازه دې داسمان ملکې وړينه
دازادۍ پۀ ناوې جنګ دی
ځلمي پۀ مينه کې سرونه ورکوينه
دازادۍ سندرې وايم

چې ځلمي ملا وتړي جنګ ته تیار شینه
دازادۍ معشوقه وایي
دغلامۍ یارته خولګۍ نۀ ورکومه
دازادۍ نه ځان قربان کړه
چې هرسهار نجونې زیارت لره درځینه
دازل کښلي بۀ نورنۀ شي
کۀ وچې ونې زرغونې پۀ اوښکو کړمه
دازل کښلي بۀ نور نۀ شي
طالبه ولې توروې سپین کاغذونه
دازل کښلي بۀ نورنۀ شي
کۀ څوک داخل شي دمکې پۀ حرمونه
دازل کښلي رارسېږي
لالیه نورپۀ ترویت مه وهه لاسونه
دا زکندن بۀ مې اسان شي
چې لېونۍ مې پۀ بازومچان شړینه
دازنګېدلی پۀ لار مه ځه
مرګی راغلی زنګېدلي ټولوینه
دا زۀ چې ژاړم عالم خاندي
نۀ شته زړۀ سواندی چې مې خواته نژدې کینه

دا زۀ چې زېر زېښلی ګرځم
دبېلتانۀ دباز لۀ خولې خلاص شوی یمه
دا زۀ چې غټې غټې وایم
ماته مې یار پۀ سپینه خولۀ خندلي دینه
دا ژړې څۀ بدې بلا دي
توروتوپکو ته ورځي پۀ غورزنګونه
دا سپین کفن بۀ مې رنګین شي
جانان دزړۀ پۀ وینو غسل راکوینه
دا سپینه لېچه دې اوږده کړه
یووار مې پربږده چې پرې سرولګومه
دا ستابۀ هېر کۀ بۀ پۀ یاد یم
زۀ چې قدم پۀ قدم ږدم تایادومه
دا ستا پرتشو مېنوراغلم
مېنې هغه وې سترګونۀ کړل دیدنونه
دا ستا پۀ شانې سترګې نۀ شته
کۀ پسې وغواړمه واړه عالمونه
دا ستاپۀ غم مې زړۀ کباب شو
ځکه لۀ خولې مې دوریتوغوښوبوی راځینه
دا ستاپۀ غوږوالۍ خوځېږي

لکه استاذ شاګرد ته ګوته خوځوینه
د استا پۀ هجر کې جانانه
ځي مې لۀ سترګونه د وینو سېلابونه
د استا تومت پۀ ماویل شي
لونګۍ دې راکه چې پرسر یې ګرځومه
د استا د دوو سترګو لپاره
وطن مې پرېښود همسایه د نورو یمه
د استاد دوو سترګو لپاره
تمام کالۀ ته پۀ سلام ولاړه یمه
د استاد دوو سترګو لپاره
ماتر شاکړي موراو پلار کشران ورونه
د استاد دوو سترګو لپاره
د کلي جنګ د مور خبرې تېرومه
د استاد دوو سترګو لپاره
د کوڅې سر پۀ اجاره اخلم مینه
د استاد زلفو یو تار راکه
کۀ مسافر شوم تل بۀ تا پرې یادومه
د استاد زلفو یو تار راکه
چې پرې پیوند کړم د زړګي نري درزونه

دا ستا د شونډو شربت راکړه
ژبه مې وچه ده ستانوم پرې يادومه
دا ستا لۀ لاسه زما ګله
بلخ ته بۀ لاړشم پرسخي ب ۀعرض کومه
دا ستا دا غونډه منډه زنه
لکه انار د کندهار زړۀ خوږوينه
دا ستا دين د برېښنا پړق دی
کله رڼا شي کله تپه تيارۀ شينه
دا ستا ديدن زمانارې دي
چې تۀ کورنۀ يې زۀ نهاره ناسته يمه
دا ستا زړۀ ته مې سلام دی
ته پۀ خندا زۀ پۀ ژړا درسره ځمه
دا ستا رسۍ زما يې غاړه
کۀ پۀ بازار مې خرڅوې درسره ځمه
دا ستا غمو داسې اوبۀ کړم
لکه پۀ اوړي واوره لمر اوبۀ کوينه
دا ستا لۀ حاله خبر نۀ يم
زما پرحال بلبلان کاندي فريادونه
دا ستا لۀ غمه غمجن نۀ يم

د غم سړی یم غم پهٔ غم غلطومه
دا ستالهٔ لورې کاغذ راغی
ملا يې لولي زهٔ پرې اوښکې تويومه
دا ستالهٔ لورې بادراوالوت
پرنوروتریخ ؤ پرما ښهٔ ولګېدنه
دا ستاوصال چې راپهٔ یادشي
سترګې مې لېې لېې اوښکې تويوينه
دا ستاوصال مې دسرتاج ؤ
بېلتون تاراج کړمه بې تاج ګرځم مينه
دا ستایاري اورو اوبهٔ دي
اورمې سوځي اوبهٔ مې ښکته ډوبوينه
دا ستایاري دپرورړواوردی
نهٔ پرې تود ېږم نهٔ مې زړهٔ صبرکوينه
دا ستایاري دې ګنډېري ده
ګنډېری تریخ دی پهٔ زاری يې تېرومه
دا ستایاري دوه نیمې شپې وه
زمادې رنځ دسلوکالوکړمينه
دا ستایاري ډوبه جاله ده
ډوبې جالې ته لېوني ځان غورځوينه

دا ستا ياري مې کړې نهٔ وی
ترمنځې سره وم ترنا رنجه زړه شومه
دا ستا ياري مې کړې نهٔ وی
ترانارسره وم ترپلالې زړه شومه
دا ستا ياري رنګ شوی کور دی
زهٔ پهٔ رنګ شوي کور کې عمرتېرومه
دا سمان ستوري پهٔ شمار دي
پهٔ شمار نهٔ دي دوړې نجلۍ خالونه
دا سمان ستوری شوې جانانه
دورځې ورک شې پهٔ ماښام دې وويمه
دا سمان ستوری شوې جانانه
نهٔ د رختی شم نهٔ مې زړهٔ صبرکوينه
دا سمان ستوري مې پهٔ شمارکړهٔ
پهٔ شمار مې نهٔ کړهٔ دوړې نجلۍ خالونه

دا سمان ستوری مې رويباردی
ربه ماښام کړې چې رويباررا وخېژينه
دا سمان ستوری مې غمازدی

خدایه سهار کې چې غمار زمې نهٔ وینمه
د اسمان ستوری مې کړې خدایه
چې همېشه د یار پر سرولاړه یمه
د اسور کمیس دې مبارک شه
تهٔ را نژدې شه چې تنهٔ دې وترمه
د اسې خو هېڅوک پهٔ چانهٔ کا
زهٔ دې مین کړم اوس دې کورلهٔ کلې ځینه
د اسې د مینې یار مې نهٔ شته
چې پهٔ کنډه راسره وویشې غمونه
د اسې طبیب بهٔ پیدانهٔ شي
چې ګوري لاس مرض د زړهٔ معلومو ینه
د اسې وخت مه راولې خدایه
چې زهٔ دلې جانان مې بل وطن ته ځینه
د اسې مې نهٔ ګڼله خدایه
چې جدایي بهٔ مې د یار پهٔ نصیب وینه
د اشنا خیال را باندې نهٔ شته
خوشې مجنون لهٔ ځانه ولې جوړومه
د اشنا زوړ کهول مې ولید
چې جانان نهٔ ؤ پهٔ ژړا وګرځېدمه

د اشناغم بۀ پرې ورنۀ کړم
کۀ څوک خطاب د پاچهۍ پرې راکوینه
د اشناغم پرما مېلمه دی
د مېلمنو خلک همېش عزت کوینه
د اشناغم پرما مېلمه دی
د روغو خلکو لۀ مجلس یې وویستمه
د اشناغم راباندې زورشو
پۀ تش ختو مې پردی بام ونړاونه
د اشناغم زما مېلمه دی
د چرګ پۀ ځای بۀ ورته ځان حلالومه
د اشنا غم زما مېلمه دی
د زړۀ پۀ کور کې ورته کوراباد ومه
د اشنا غم مې زړۀ قلم کړ
ځکه مې غم پۀ هرقدم لۀ سترګو ځینه
د اشناغمېږ د ګلو باغ دی
خاونده زۀ ترې بې نصیبه پاتې شومه
د اشناکور بۀ غلط نۀ کړم
د دروازې پۀ سریې ګل کرلي دینه
د اشناکور پۀ لمرخاتۀ دی

سبا دلمرڼا تې راوړل سلامونه
دا شنا مرګ راته اسان دی
چې د یولا ړوي زۀ بۀ بل ته وخاندمه
دا شنا مینه زلزله ده
زما یې وران کړل د زړګي نري برجونه
دا شنا مینه خزانه ده
چې خزانه چا سره وي پا چا بۀ وینه
دا شنا مینه زولانه ده
بندي خانه ده پۀ کې شپې سبا کومه
دا شنايي دعوه دې نۀ کړم
د غلامۍ دعوه کوم کۀ قبول شمه
دا شنايي د کړومې نۀ یې
پۀ زړۀ ظالمه ویښوې د خلکو زړونه
دا شین توتي مې ترلاس والوت
پرسردرو بۀ غوړوم ورته جالونه
دا عاشقي د غم زانګو ده
پۀ چا زنګېږي پۀ چا و شکېږي مینه
دا فقرنۀ دی څۀ بلا ده
چې زرغونې کوښې پۀ پښو غوا ړي خیرونه

دافلاطون حکمت دې څۀ کړم
چې مې دزړۀ پۀ درد پوه نۀ شې مینه
داکبرخان غازي پۀ توره
وطن رڼا شو دښمنان پۀ ماتې ځینه
داکوڼې پۀ میدانونو
لونګۍ تامبو کړه دواړه زلفې تنابونه
دالف قد مې لکه جیم شو
زۀ داشناغمونو کړو په پۀ ملاکړمه
دالمرزبړی وخت مازیګردی
پۀ چااختردی څوک دغم ژړاکوینه
دامازیګرګوره چې تېرشو
داسې بۀ تېره شي داشنالېونۍ مینه
دامخامخ پۀ کوڅه راغله
کجک بانۀ یې ترسالوختلي وونه
دامخامخ کتودې وسوم
درب لپاره راته ټیټ ګوره مینه
دا مې پۀ خپله پۀ ځان کړي
لکه د پړي ول پۀ ول تاوشوی یمه
دا مې پۀ خپله پۀ ځان کړي

يارمې خفه کړ د سنګسار لايقه يمه
دامې لۀ سترګو نه اورڅاڅي
کۀ ګرمې اوښکې مې ياقوت پۀ مخ راځينه
دامې د مرګ وعده پوره شوه
چې سرو ګلانو لره راغلۀ تورزاغونه
داميل داري اميل مات کړې
چې پۀ بازاريې ګرځوي نې جوړوينه
دانازولې لورد چاده
چې هرسبا توروي سترګې ږدي خالونه
دانازولې لورد چاده
اوريې زما پۀ زړګي بل کړويې سومه
دانتظار بازارمې جوړ کړ
ستا دوصال خريداري پۀ کې کومه
داند ښنو بازاريې جوړ کړ
څوک چې د غم سوداکوي هلته دې ځينه
داند ښنو پرنيلي سپور شوم
د غم لښکر پېره داران راپسې ځينه
داند ښنو تصور مه کړه
دا سپينه خولۀ بۀ پېشکي درکړم مينه

دا نیمه شپه کراره شو مه

زما ما شو مه یاره څوک دې ژړوینه

دا واړه ستا دزړګي لپاره

زۀ دې د ټولې کورنۍ خدمت کو مه

دا وربل سیوری دې رنګي دی

دا نګو د سر دې مړاوې دي سرونه

دا وربل سیوری دې رنګي شو

پۀ شینکي خال باندې دې لمرولګېدنه

دا وربلو نو سودا کړه

اول مې بیه کړه شینکي دواړه خالونه

دا و سپلو خبر مې وا خله

دا ورلمبه ده د چا کوربۀ و سېځینه

دا و سپلو علاج مې و کړئ

زیاتی بۀ و کړي ستا سو کوربۀ و سېځینه

دا و سپلو غور مې و کړئ

زړۀ مې اوروا خست لوګی بۀ شي مینه

دا وښو غاړې مې خولې شوې

ما پرې بار کړې دلیلاد سرشالونه

دا هره موربۀ ځامن راوړي

دا احمد شاه پۀ شان بۀ لږ لږ پيدا شينه
دا هنګر پۀ دکان راغلم
دا خپل مين زړګی پۀ ځټکو ټکومه
دا يلځي د سرټوټې وی
پۀ اورستي وی تومتي نۀ وی مينه
دادې غلطه يارانه ده
چې وعده وکړې بيا خولګی نۀ راکوېنه
د بابا کور لکه جنت دی
ما پۀ دې ښۀ جنت کې ونه کړل سيلونه
د باچاهي دعوه بۀ وکړم
کۀ بې پروا ديار د ځنګه ودرېدمه
د باچاهۍ لارې چلېږي
ما ته خبر د جانان هېڅوک نه راوړينه
د باغ پر ګلو مينه نۀ کړي
ليلا د ګلو سره دسته پر مخ لرينه
د باغ لۀ لورې مې يار راغی
ماله يې راوړۀ د سرو ګلو امېلونه
د باغ مې هر بوټی لونګ دی
چې شاليلا پۀ باغ کې ستر ګې تورونيه

د باقي ژوند بهٔ څهٔ مزه وي
چارې پهٔ لاس پهٔ اشنا خاورې اړومه
د بلبل هسې نوم پرې بد شو
د باغ ګلونه ټول بورا خوړلي دينه
د بنې غرې را باندې وشو
لکه ډوډۍ پهٔ تنارهٔ خامسوزه شومه
د بې انصاف جانان دلاسه
زهٔ نامنظور درخواست پهٔ لاس ولاړه يمه
د ببرې حال ويلى نهٔ شم
د خواست ياري ده بيابهٔ ورنه شي مينه
د ببرې غرې کولى نهٔ شم
زما ديار مزاج نازک دى قهربهٔ شينه
د ببرې غرې کولى نهٔ شم
خداى دې پهٔ خپله مهربانه که مينه
د بېلتانهٔ احسان را باندې
ما د جانان له غمه ورو ورو خبروينه
د بېلتانهٔ احسان را باندې
زهٔ يې ديار له قدره اوس خبره کړمه
د بېلتانهٔ استاځى ګرځي

ډېرپهٔ خندامې مخ ته مه راځه مینه
د بېلتانهٔ بهٔ خاص مرېی شم
کهٔ مې لهٔ خپله یاره نهٔ جدا کوینه
د بېلتانهٔ بهٔ ګیله نهٔ کړم
بېلتون لهٔ تخته پاچاهان کوزکړي دینه
د بېلتانهٔ پهٔ ژرنده راغلم
ناوې یې تېرکړم څرخ مې مات کړل زنګنونه
د بېلتانهٔ پهٔ ژرنده دل شوم
اوس غمازان مې لهٔ غلبېله چاڼوینه
د بېلتانهٔ پرکښتۍ سپور یم
دوصال بادراپسې نهٔ شته غرق بهٔ شمه
د بېلتانهٔ پهٔ تاریکو کې
د توکل څراغ پهٔ لاس درپسې ځمه
د بېلتانهٔ پهٔ تېغ حلال شوم
اوس مې کوڅه پهٔ کوڅه غوښې ګرځوینه
د بېلتانهٔ پهٔ ټال کې سپورشوم
مادوصال دباغه لرې لرې وړینه
د بېلتانهٔ پهٔ خړدریاب کې
دغم څپې مې تاووي ډوبه یې کړمه

د ښځو حقوق
د ښځو حقونه ورکړې
د ښځو حقونه د ښځو حقونه

دبېلتانهٔ پهٔ دسترخان کې
برخې قسمت شوې زما غم ورسپدنهٔ
دبېلتانهٔ پهٔ سرو سکروټو
ترنامهٔ خښ شوم دزړهٔ وینې غورځومه
دبېلتانهٔ پهٔ کوټ کې بند شوم
دهندوکش ترغرهٔ یې لوړ دي دېوالونه
دبېلتانهٔ پهٔ کوردې غم شي
چې دغمجنو دزړهٔ واخلي خبرونه
دبېلتانهٔ پهٔ کورکې راغلم
برخې قسمت شوې زما غم پهٔ برخه شونه
دبېلتانهٔ پهٔ مدرسه کې
وارهٔ اولوی دبېلتانهٔ سبق واینه
دبېلتانهٔ پهٔ مدرسه کې
خسنې وشوزما غم ورسپدنه
دبېلتانهٔ پهٔ مدرسه کې
دغم کتاب شروع کوم ژړاراځینه
دبېلتانهٔ لویه ښاماره
ځوک دې خوړلي ؤ کهٔ زهٔ دې وخوړمه
دبېلتانهٔ تیاروکې پروت یم

جانانه راوړه ستاد حسن مشالونه
دبېلتانهٔ خول مې پر سردی
دغم لښکرې راپسې لهٔ ملکه ځمه
دبېلتانهٔ داسې غوغاده
لکه دچاپهٔ کورچې ورشي سېلابونه
دبېلتانهٔ دبادلهٔ لاسه
لکه خزان وهلې پاڼه زېړه شومه
دبېلتانهٔ دبازپهٔ پښوکې
نری نری فریادکوم غوښې مې خورینه
دبېلتانهٔ دجګړې نهٔ یم
ولې بهٔ ځان پردي وطن ته ورک کومه
دبېلتانهٔ دریاب کې غرق شوم
لاس دې رانهٔ کړدماهیانوخوراک شومه
دبېلتانهٔ دریاب لاهوکړم
غمخواره راکړه پهٔ اخلاص دواړه لاسونه
دبېلتانهٔ دفتره واوړې
چې ښایسته ژڼې دې ورک کړلهٔ وطنه
دبېلتانهٔ دوره راګرځي
وصال غریب دی ترېنه وتړئ بارونه

د بېلتانهٔ دهقانه خوارشې
زما د زړهٔ شو د يارو کړي دي خندونه
د بېلتانهٔ دې لاس را خلاص وي
يا ريې جدا کړنوريې څهٔ پروا لرمه
د بېلتانهٔ زندان کې بند شوم
پرېښوېې را کړهٔ د پولادو ځينځيرونه
د بېلتانهٔ سپايان سپر بېړي
هر څوک وبربېړي چې بهٔ ما تالاکوينه
د بېلتانهٔ سرای کې بندي شوم
د کوه قاف يې لوړدي د بوالونه
د بېلتانهٔ سره شاګرد شوم
ما لا سبق ويلی نهٔ ؤ عاق يې کړمه
د بېلتانهٔ سره مې جنګ دی
د صبر توره بهٔ خپل څنګ ته اچومه
د بېلتانهٔ سره مې څهٔ دي
چې پهٔ سراغ را پسې ګوري محلونه
د بېلتانهٔ سنګر مې مات کړ
د وصال تړي پهٔ ديدن او بهٔ کومه
د بېلتانهٔ ظالم دلاسه

پهٔ ژړا ژاړم پهٔ سرخاورې بادومه
د بېلتانهٔ ظالم دلاسه
پرسرد ځمکې چې زيارت وي زهٔ ورځمه
د بېلتانهٔ ظالم دلاسه
لکه يتيم پهٔ ځای کې ناست ژړاکومه
د بېلتانهٔ ظالم دلاسه
دزړهٔ د پاسه مې پولۍ ولاړې دينه
د بېلتانهٔ ظالم دلاسه
ګرېوان بهٔ ځيرې پهٔ محشرولاړه يمه
د بېلتانهٔ ظالم دلاسه
پهٔ لړمانهٔ کې مې درياب دوينو ځينه
د بېلتانهٔ ظالم دلاسه
ديارمې کډې پهٔ زبړې مازيګرځينه
د بېلتانهٔ ظالم دلاسه
داوښکوسيل مې همېشه پهٔ مخ راځينه
د بېلتانهٔ غمازان ګرځي
ډېرمې خوشاله ځنګ ته مه راځه مينه
د بېلتانهٔ فوځونه راغلهٔ
زمادزړهٔ پهٔ سرچونۍ ابادوينه

د بېلتانۀ کوتوال بندي کړم
لاس پر تنندي کړم پر سرخاورې بادومه
د بېلتانۀ کوتوال بندي کړم
زما جانانه را شه مات کړه زندانونه
د بېلتانۀ ګرداوکې بندیم
خلاصی مې نۀ شته چې هر څو وهم لاسونه
د بېلتانۀ لاس دې ازادوي
چې معشوقه را سره خپله روغه وينه
د بېلتانۀ نه ډېر و ېرېږم
مادې د خپله ياره نۀ جدا کوينه
د بېلتانۀ نه ډېر و ېرېږم
ما بۀ د خپل خوارۀ اشنانه جدا کړينه
د بېلتانۀ نه مې زړۀ بد شو
ما د اشنا لۀ قدره ورو ورو خبروينه
د بېلتانۀ کو ردې رب وران کړي
پرمايې وکړل نا اشنا نا اشنا ظلمونه
د بې ننګې کچکوله مات شې
چې درپۀ دردې ګرځوم تش دې راوړمه
د بې ننګې کلونه راغلۀ

څوک چې د یار کلي ته ځي توښه دې وړینه
د بې وفا اشنا دلاسه
ما پسې تل د بېلتانۀ ماسلان ځینه
د بې وفا اشنا دلاسه
د زړۀ د پاسه مې پولۍ ولاړې دینه
د بې وفا جانان دلاسه
خیرې ګرېوان بۀ پۀ محشر ولاړه یمه
د بې وفا جانان دلاسه
پۀ نارنجي مخ مې سېلاب داوښکو ځینه
د پاسه تور ګردونه راغله
پۀ مخ بېلتون دی درسره دغم فوځونه
د پاسه دوې شین خالۍ راغلې
مراندۍ د زړۀ یې دهرچا شلولې دینه
د پاسه دوې کوترې راغلې
لکه بیرۍ چې د مغانو ښکار کوینه
د پاسه راغلې پۀ خندا شوې
ترسپینې خولې دې پرخندا خوشاله شومه
د پاسه وا ورې پۀ ما اورې
جانان راځي پرسرنیولي سره ګلونه

د پاولوډک کمیس مې ولید
زۀ وار خطا شوم پۀ سینه ورونښو پړ مه
د پتاسې پۀ شان خوږه یې
پۀ کوم ماښام کې دې رب راوله مینه
د پتاسې پۀ شان خوږه یې
ځکه دې مورته دود سته سلام کومه
د پتروډ که پرې را پرېوزه
کۀ دې اشنا پۀ زکندن وي روغ بۀ شینه
د پردېسۍ داسې ژړاده
لکه پرتو روغرو چې اوري بارانونه
د پردېسۍ مرګیه خوارشې
چې پرتخته دې خلاصوي د پګړۍ ولونه
د پرنګي کوتوال بندي کړم
ځو دا سلام پاچا خبرېږي و بۀ مرمه
د پسرلي بادرا الوتی
د یارلۀ لورې د یار بوی راله راځینه
د پسرلي پۀ رتلو پوه شوم
جینکو راوړۀ پۀ اوربل کې زېړګلونه
د پسرلي پۀ مانده راغلم

ګلان غوړېږي وختي ځان سنبالوينه
د پسرلي پهٔ مياشت دې مړګ شه
شناخته دې ګل شه چې عالم يې بويوينه
د پسرلي ترګل تازه وم
ستا د بېلتون پهٔ غم کې زېړه پاڼه شومه
د پسرلي د ګل پهٔ شانته
داسې مې زړهٔ درپسې پاڼې پاڼې شونه
د پسرلي غم اوښادي يو دی
ګل پهٔ خندا دی اسمان اوښکې تويوينه
د پسرلي لوونه ګڼه شول
د ښمنان مړهٔ شول لاس يې سرهٔ پهٔ وينو شونه
د پښو تنها کې مې اوبهٔ شوې
نصيبه مه مې ګرځوه پهٔ وطنونه
د پيربابالارې دي سختې
د ګلولښتې زهٔ پرې ستا لپاره ځمه
د پېشلمي اورونه بل شوهٔ
زهٔ خواره ناسته مرورپخلاکومه
د پېشلمي اورونه بل شوهٔ
نجلۍ پهٔ سرومنګلو يار را وېښوينه

د پېښور بازاره ګل شي
چې مې اشنا پهٔ تا کې شپې سبا کوينه
د پېښور د پاچالورې
حکم جاري که نوکري بهٔ دې کومه
د پېښور د ستورمې خوښ دی
نجونې يې واړه سور سالو پهٔ سر کوينه
د پېښور سور سات يې ټول کړ
د شاليلا د نتکۍ لال پرې جوړوينه
د پېغلې تګ د قوماندان دی
دا دواړه زلفې اردايان لاس لګوينه
د پېغلې خولهٔ د زړهٔ دواده
بې لهٔ دې نهٔ ځي د خوږمن زړګي رنځونه
د پېغلې خولهٔ د جنت ور دی
د جنت ورته هر مومن تمه کوينه
د پېغلې خولهٔ تنکۍ ګنې دی
د ناوې خولهٔ نګه غوړې خواوې وهينه
د پېغلې خولهٔ سپينکۍ څراغ دی
دا ژبره ژبهٔ يې بياتي خولې لګوينه
د پېغلې دری شيه مزه کا

زرې پڼې ګېبې پرتوګ لنډې ګامونه
د پېغلې هغه تګ مې خوښ دی
چې مازيګرشي د ګودر په لورې ځينه
د پېکې ول دې راخراب کړ
راسم دې نه کړ چوټې سربه ناسته يمه
د پيو اسرد پرېښونه دی
څو د ځلميو پرې جوړ نه شي زيارتونه
د تاترې لويه جګړه کې
ګوره غليم نه تېښته و نه کړې مينه
د تازبړی شه زماتبې
چې به جوړه په طبيبانو پسې ځونه
د ترکانۍ د کان ته راغلم
د خوارمين زړګی په سر اره کوينه
د تصور تصويرمې مات شو
نوربه د خيال خنداد چاسره کومه
د تنارۀ لمبه پرې ښه ده
د مين توب لمبې سرې ستې کوينه
د تنارۀ لمبه کړه شوه
زمايې وسول د کړوزلفو سرونه

د تن تنابه مې کړې ورانه
چې لورپۀ لورسېلاب داوښکوپرې راځینه
د تن جاموکې نۀ ځابږم
چې مرورجانان مې راکړل سرۀ لاسونه
د تندې خال دې داسې زیب کا
لکه پۀ سپینه واوره کاغه ناسته وینه
د تنهایۍ پۀ کوټه راغلم
نیازمن ویدۀ بې نیازه ځای نۀ راکوینه
د توتوپانې مې خوراک وی
دلبره مه وی د موزې د کورغمونه
د توراوربل پۀ پاچاهۍ کې
جانانه ډېردې راته کړې سلامونه
د تورټوپک ویشتل مې خوښ دي
دادچړوویشتل سړی بدرنګوینه
د تورټوپک ویشتلی جوړشو
د سپینې خولې ویشتلی وینې اچوینه
د تورو ننګ د ننګ میدان دی
شمع بلبړی د عشق اورتازه کوینه
د تورو جنګ وی مابۀ وکړای

د نصیب جنګ دی وار خطا ولاړه یمه
د تورو څڼو شړک یې راکړ
ترتېږې تورې یې زیات غوڅ کړی یمه
د تورو زلفو په ځنګل کې
یار په منګول کې ګرځوم چې ورک به شینه
د تورو زلفو دام دې جوړ کړ
پرې بندوې د بې وزلو مرغانو زړونه
د تورو زلفو مې زړه بنه دی
زه په بلې جانان مې لاندې زنګوینه
د تورو زلفو لومې وکړ
په کوده وېش کې مې پېکی ورسېد نه
د تورو زلفو وار مې تېر شو
هغه شیرین اشنا مې خواته نه راځینه
د تورو زلفو وار مې تېر شو
ځکه مې یار په کوڅه غلی غلی ځینه
د تورو زلفو یو تار دادی
که ته زمری یې نو پرې وتړه بارونه
د تورو زلفو یو تار راکړه
که مسافر شوم نرۍ ملا به پرې تړمه

د تورو سترګو اشارت کړه
د سپینو غابنو خندا مه کړه څوک بۀ وینه
د تورو غرونو پنا یاره
د دیدن تخم رالېږه چې یې کرمه
د تورو غرونو پنا یاره
دیدن د یار پۀ مخ را پرېږده چې راځینه
د تورو غرونو دې پنا کړم
پۀ زړۀ کافرې مورې نۀ دې یادېد مه
د تورو وینو پۀ ګرداو کې
سر د عاشق لکه حباب دورې وهینه
د توریالي اکبر لۀ برمه
ځوانان د ننګ تورې وهي سرور کوینه
د توریالیو خویندې ژاړي
د سپو موزیانو خویندې سترګې تورو ینه
د تورې وار را باندې وکړه
را ته را نۀ کړې د بې پتو پېغورونه
د تو متو بۀ دې خلاص نۀ شم
کۀ پېڅول د غرۀ پر سرو د رومه
د تو متو بۀ دې خلاص نۀ شم

ما د تو مت پۀ او بو وللي دي لا سونه
د تو متو نو ځای يې زۀ يم
د ماليدې کاسې بل کالۀ ته ځينه
د تو متو نو پرې باران دی
اشنا د شرمه سترګې نۀ پورته کوينه
د تو متو نو يار دې زۀ يم
د سپينې خولې ياران دې نورنيولي دينه
د تيرا څوکو کې غږ وشو
پښتنې څۀ شوې چې پښتون ځوی لويوينه
د جانان باده پرما ګرانه
تا لۀ جانانه ماته څۀ راوړي دينه
د جانان بد وولو منځ دی
هلته بۀ يې وينم چې مې سترګې شاته شينه
د جانان بوی مې درته راوړ
ته خو پرد بس يې ستا تحفه دي دا څېزونه
د جانان پښو ته مې ځان فرش کړ
ځکه پۀ عرش د عاشقۍ ختلې يمه
د جانان تورو سترګو وسوم
کورېې خراب کړې رانجۀ چاورکړي دينه

د جانان دوه رنګه کاتهٔ دي
چې د عاشق پهٔ زړهٔ رنګ رنګ اثر کوینه
د جانان دې ظلم ته ګورئ
یو راته خاندي بل مې تېغ پهٔ مرۍ ږدینه
د جانان زړهٔ دې لهٔ ما بد کړ
د ژبې سره پهٔ غیچې دې پرېکومه
د جانان زوړ بورجل مې ولید
چې جانان نهٔ ؤ پهٔ ژړا وګرځېدمه
د جانان سترګې مې یاد پرې
پهٔ خوب یې وینم چې ګیلې راته کوینه
د جانان غم بهٔ مې هېر نهٔ شي
کهٔ د لحد پهٔ شاځه سرولګومه
د جانان غم راباندې زور شو
ځکه لهٔ سترګو مې روان دي سېلابونه
د جانان کور پهٔ لمر خاتهٔ دی
سبا د لمر ړنا یې راوړل سلامونه
د جانان مخ د ګلو باغ دی
د یدن کوم امېل د ګلو جوړومه
د جانان مخ د جنت ور دی

ماېې پر دواړو تمبو اېښې دي لاسونه
د جانان مینه زلزله ده
زماېې وران کړ د زړګي نري برجونه
د جامو رنګ خو دې تک سپین دی
زما د وینو غوټه ورکه چې رنګ شینه
د جدایۍ په تېغ زخمي شوم
ستا د دیدن ملهم که راکې جوړ به شمه
د جلالا ګودره وران شې
په جینکو دې سالنډۍ ولګاونه
د جلالا ماڼۍ جړ کېږي
چایې له ښخه کشمالې اېستلې دینه
د جنازې بازو مې نیسه
ناوخته کېږي نا اشنا وطن ته ځمه
د جینکو اصیله خویه
چې خوله تری وا خلې سترګې مړاوې واچوینه
د جینکو اصیله خویه
چې خولګۍ راکړې سترګې مړاوې واچوینه
د جوړېدو هېله مې نه شته
د بېلتانه ښامارپه زړه خوړلې یمه

د جبل خانې ترخوا پيپله
رب خودې ګل کړه چې بنديان دې بويوينه
د چا بۀ مورو پلار ياد ېږي
زما ياد ېږي د ليلا شينکي خالونه
د چا به دار کميس مېرمنې
پۀ لاره راشه چې چابې دې وشمارمه
د چا پۀ برخه عاشقي شي
پۀ تصور باندې ببګا سباکوينه
د چانتکۍ د چا پېزوان وي
ما دنجلۍ پۀ پوزه دواړه وليدنه
د چړوزوررا پسې راغی
د مېړوزوررا پسې نۀ شته مړبۀ شمه
د چلم د روی بۀ دې زۀ شم
د شونډوزوررا باندې مه کړه مات بۀ شمه
د چلم سر پۀ ببړه ډک کړه
دا وښولړ ترميرام شاتېرشومينه
د چنډن لښته مې ګنډلې
د مېرو ځوزه لۀ اغزو دې ډکه کړمه
د چهل ګزي با با پۀ خوا کې

چرګي اسونه غازي خان ترلي دينه
دحال ويلو ځای مې نۀ شته
دګيلوډک زړګی بۀ تورلحد ته وړمه
دحسن بازدې پۀ غضب شو
دزړګي زرکه مې وزرونه ربړدوينه
دحسن جام بۀ دې نسکور شي
ناترسې مه اخله دعاشقو ازارونه
دحسن ساری يې څوک نۀ شته
کۀ سوات بونير پسې دواړه وغواړمه
دحق پۀ سترګو هرشی ګوره
چې حقيقت دهريو شي دربنکاره شينه
دخان رامداد پالنګ يې راوړ
خلکو دسرې ډولۍ کول پرې ګمانونه
دخاوندرحم بۀ پرې وشي
چې پۀ عاشق دمعشوقې زېرې کوينه
دخپل اشنا نه مانيې جن يم
دبېګانه خلکو بۀ څۀ ګيله کومه
دخپل جانان پۀ مينه يم
دمحبت کفن پۀ غاړه ګرځومه

د خپل ښایست روی ته دې ګوره
نور مې د اور په لمبو مه سېځه مینه
د خپل مین ترزړګي ځارشم
چې تمامي عمر په صبر تېروینه
د خپله لاسه مې پرې مړ کړې
چې چیغه و شوه زهٔ په مخه د رغلمه
د خپله لاسه مې پرې مړ کړې
چې ډزې و شوې زهٔ په بام د روختمه
د خپله لاسه مې حلال کړه
چې مې د استا یارۍ ته زړهٔ ښهٔ کړی ونه
د خدای په لوی قدرت بهٔ کېږي
پهٔ عقل ګرانه ده زما د جانان مینه
د خدای خدایي ګورئ عالمه
دورځې لمر د شپې سپوږمۍ ولاړه وینه
د خدای خدایي ګورئ عالمه
څوک یې پاچاکړ څوک ملنګ د دوهۍ شونه
د خدای لپاره خولګۍ راکړه
مدام بهٔ نهٔ وي ستا ځواني زما سوالونه
دخای لپاره راته ګوره

ستا پهٔ لمن مې لګولي دي لاسونه
د خدای لپاره مخ راستون کړه
د سپېلني پهٔ دود لوګی درپسې شومه
د خدای درګاته چې دربېږم
لاس پهٔ دعا ستا د وصال ارزولرمه
د خدای کرم چې پهٔ چاوشي
هغه کاروشي چې پهٔ خیال یې نهٔ راځینه
د خدای کرم رابانديوشو
دیاردیدن مې پهٔ ځنګل کې پیدا کنه
د خدای مخ ګوره لرې مه ځه
زما د زړهٔ مراندې پهٔ تاولاړې دینه
د خلاصېد وعلاج مې نهٔ شته
لیلا د زلفو پهٔ رسو تړلې یمه
د خلکو یو ځلې سلام وي
زما دې سل ځله سلام پرا شناوینه
د خمارو سترګو دې ځارشم
داتوربانهٔ دي پهٔ قلم جوړشوي دینه
د خمارو سترګو د ځارشم
چې هرطرف یې اړوې راوړي غمونه

د خنداړ که خولۀ دې راکه
کۀ بیا مې ووژنې ارمان مې بۀ نۀ راځینه
د خندا شنه پۀ ملا شوې ماته
د جنت حورې پۀ ګولۍ دې وویشتمه
د خوار مجنون کانه را وشوه
پۀ غروکې ګرځم خپل پردي نۀ پېژنمه
د خوار بدو نصیب مې راغی
د جانان مینه مې روزګار ته نۀ پرېږدینه
د خوبه ویښ شه کۀ دیدن کړې
پۀ پټو سترګو چېرې نۀ شي دیدنونه
د خوبه ویښ شه ځواني مرګ شې
خولګۍ مې واخله پۀ بانه راغلې یمه
د خوشالۍ ورځ خورانغله
نۀ مې خوشال اشنا پۀ سترګو ولیدنه
د خولې خندا دې راسره ده
د زړۀ کوڅې دې رانه بېلې دي مینه
د خولې خواست را باندې پور دی
خولۀ بۀ درځار کړم پۀ مانځۀ ولاړه یمه
د خولې مې اه وځي ناڅاپه

چې مې د نیازمن اشنا په زړه کې را یاد شینه
د خیبر جنګ چې مې په زړه شي
له دواړو سترګو مې د وینو ځاځکي ځینه
د خیال دې ستا په شانې خوی دی
په جدایي مې همېشه زهیروینه
د خیال اوربې مې ده په غاړه
شونډې مې ښکل کړه بیایې ونیسه ګلونه
د ځوار لسم سپوږمۍ راخېژي
راځه چې دواړه د ګل باغ سېل ته ورځونه
د ځانه اوروا خلې چناره
مین پرما دی خوب ترتالاندې کوینه
د ځمکې سر که پسې چاڼ کړم
پیدا به نه کړم د وفا د بڼ ګلونه
د ځوانۍ مرګ د اسې ناتاردی
لکه په زېړو ګلو رنګ شي د بوالونه
د دانه دار هیکل مېرمنې
په غاړه ستا دی مزه ماته راکوینه
د دروازې به دې ملنګ شم
دیدن به ستا کړم رزق به خدای رارسوینه

د دروازې چم دې رازده کړه
سپوږمۍ چې لوړه پرا سمان شي د ربۀ شمه
د دروازې سړی خونۀ یم
د سپینې خولې دې خریدار راغلی یمه
د دروازې ملنګه پاڅه
اوس بۀ دې سپینې چړې سرې پۀ وینو شینه
د دریاب څګ دونو پاڼې
دومره سلام مې د جانان پۀ لور لېږمه
د دریابونو لامبوزن وم
د بېلتانۀ پۀ چړمې مات شول زنګنونه
د دلبر کورمې دی پۀ زړۀ کې
سترګې مې څکه زړۀ ته څي پوښتنې کړینه
د دوزخ اور بۀ ترېنه سوړوي
کۀ چا انګار د بېلتانۀ لیدلی وینه
د دنیا پای دې ورانېدو دی
کم عقل خلک بۀ بنګلې پرې جوړوینه
د دنیا تخت مې پۀ کارنۀ دی
د ملنګ یار سره بۀ غواړم زیارتونه
د دنیا ژوند کړه خوشی مه شه

ځوبۀ زما پۀ مینه مست ګرځې مینه
د دنیا عمر تول عبث دی
عبث عبث دی چې ځوک زړۀ باندې تړینه
د دنیا عمر تول تېرېږي
راځه چې دواړه مدینې ته سره ځونه
د دنیا عمر نیمه خوادی
ځوک چې پۀ ناز خنداکوي نادان بۀ وینه
د دنیا غم امبار امبار دی
د اخرت غمو ته فکرو ړی یمه
د دنیا غم را سره نۀ ؤ
اوس مې ببلتون پۀ زړګي راوستل غمونه
د دیا ګې بازاره وران شې
پۀ تاکې بله سودا نۀ شته بې لۀ غمه
د دنیا ګې بازار ته لاړم
ما سودا تکل کاوۀ مازیګر شونه
د دنیا ګې بازاره وران شې
چې نا اشنا خلک راځي اشناترې ځینه
د دنیا ګې غمونه پرېږده
زما غم وکړه چې جنجال کې ناسته یمه

د دوو مینو سوله وکړئ
پرزرغونۀ بالښت یې یو ځای کړئ سرونه
ددې ټکې مانامې راکړه
ګولۍ یوه مرغان یې دوه ویشتلي دینه
ددې ټکې مانا دې واخله
نجلۍ یوه یاران یې دوه نیولي دینه
ددې مسرۍ ځواب مې راکه
کورمې د سین پۀ غاړه دی لۀ تندې مرمه
ددې مسرۍ ځواب دې دادی
څوک چې مین شي همېشه لۀ تندې مرینه
د دیوال سوري لره راشه
یو څو ګیلې د نامیندۍ درته کومه
د دیوالۀ سوری راغبرګ شو
راغبرګې نۀ شوې جنګې لۀ ګودرونه
دډاره حال ویلی نۀ شم
دخواست یاري ده اوس بۀ ګډه وړه شینه
دډېر ارمان سره دنیا ده
د پاچاهانو ځنې پاتې شول تختونه
درامداد خان د مرګ اواز شو

پاس پهٔ اسمان کې زانړ وران کړل کتارونه
درباب کوزې پردې نيسه
دکوټې خواته جنکۍ راغلې دينه
درب لپاره رحم وکړه
دا ستالپاره دريبارسلام کومه
درپسې روغ لېونی زهٔ شوم
تاثيريې دادی چې مين درباندې يمه
درځئ درځئ چې سره ځونه
دشيرينوولورمې غواړي پهٔ بارونه
درزي ګنډلوکې ستومان شو
پېغلې دبرکلي بياځان سنبالوينه
درقيبانولاس دې خلاص وي
ماته دسروشونډواشناويلي دينه
درنګه توره مسلۍ يم
زړهٔ مې باچادی شهزاده نهٔ قبلوينه
درنه بهٔ لاس وانخلم ياره
کهٔ مې پرسرباندې باران دتوروونه
درنه پهٔ منډه نهٔ خلاصېږم
مولازمادوجودسيوری کړې مينه

دروژې هرماښام اختردی
ټوټې ټوټې د پېشلمي دلاسه یمه
دربیبارانو ځای دوزخ دی
خدایه زماربیبارته ورکړې جنتونه
دریبې ته شرنګ دګوتو ورکړه
شونډو ته دې رنګ د دنداسې ورکړه مینه
دریدي ګل بهٔ ترېنه جوړ شي
کهٔ مې پرلنډه زنه ووهې خالونه
دزرو قدر پهٔ زرګر دی
غمازدتورو سترګو څهٔ پروا لرینه
دزړګي بیا شوه هوا بله
شین توتي ستا پهٔ طرف کړي پروازونه
دزړګي باغ خو مې ټول وچ شو
دبېلتانهٔ ترخې اوبهٔ پرې لګومه
دزړګي حال مه وایه چاته
تهٔ بهٔ یې دیارپهٔ شان ګڼې غمازبهٔ وینه
دزړګي حال ویلی نهٔ شم
لکه خولپوټی تنوربلې لمبې خورمه
دزړګي زخم مې ناسورشو

ملهم د سروشونه وراولېږه مینه
دزړګي زور مې په کمي شو
درانه درانه د بېلتانه پېټې په وړمه
دزړګي زورمې نه شته خدایه
جانان مې لا د بېلتانه په اورسېځینه
دزړګي غوښې مې رانیسي
تجلی د سروشونه وامبورپرې لګوینه
دزړګي مراد مې پوره نه شو
سیاهي شوه خلاصه قلم دړې وړې شنه
دزړونو پټ حال یې ښکاره کړ
دې سرکړي قلم وکړه پسا تونه
دزړه باغچې دې خزان مه شه
زه د دیدن لښتې جوړه در تېرومه
دزړه برجونه دې محکم کړه
زه د دیدن غونډۍ ته توپې خېژومه
دزړه بلبل مې په ژړا شو
راته ګویا شو چې خزان راغی مینه
دزړه بلبل مې همېش ژاړي
تل رانه غواړي د مین دباغ ګلونه

دزړهٔ بلبل مې همېش ژاړي
دخدايه غواړي دجانان دباغ ګلونه
دزړهٔ پرباغ مې خزان راغی
دبېلتانهٔ شمال يې پاڼې رژوينه
دزړهٔ پرسرمې اوربلېږي
کهٔ څوک تود ېږي زماخواته دې راځينه
دزړهٔ پرسرمې اور بلېږي
شربت دشونډوراته راکړه ګوندې مرمه
دزړهٔ پرسرمې منقل جوړشو
دډېروغمه سرې سکروټې غورځومه
دزړهٔ پهٔ سر مې نوشته يې
دسرپهٔ سترګو بهٔ دې کله وينمه
دزړهٔ پرهارمې پهٔ ناسور شو
دبېلتون مالګه دغم مرچ پرې دوړوينه
دزړهٔ پهٔ سترګو کې مې ګرځې
دسر پهٔ سترګوبهٔ دې کله وينمه
دزړهٔ پهٔ سرکې مې باغ جوړکړ
دصبربوټي رنګارنګ پهٔ کې کرمه
دزړهٔ پهٔ سرمې اغزی مات شو

پهٔ پولادي ستن بهٔ يې ورو ،ورولټومه
دزړهٔ توتي مې پهٔ چغارشو
چې دهجران قفس کې پرېوا تهٔ مينه
دزړهٔ سوالونه مې زښت ډېردي
لهٔ دغوټولو مې ايمان زړهٔ خوښوينه
دزړهٔ صدف مې هجران مات کړ
ځکه لهٔ سترګو مرغلرې تويومه
دزړهٔ غوټۍ مې پرې غوړېږي
هره ورځمه چې دجانان لهٔ خوارا ځينه
دزړهٔ غوټۍ مې پرې غوړېږي
چې داوربل ورځمه دې بادراله راوړينه
دزړهٔ کترې بهٔ تر دهٔ ځارکړم
کهٔ دجانان دسترګو بازمې مېلمه شينه
دزړهٔ کترې راڅخه بېلېږي
زهٔ دارمان پرځوزو خوب ورته کومه
دزړهٔ کترې مې پهٔ اورنيسي
بې نيازاشنا دکبابې پېښې کوينه
دزړهٔ کترې مې درکولې
کم اصله بازه زهٔ دې ونهٔ پېژندمه

دزړۀ کورسئ بۀ درته کېږدم
کۀ جانان ناسته ترسبا پورې کوينه
دزړۀ لۀ درده بۀ نارې کړم
ويدۀ بۀ ويښ کړم ويښ بۀ خوب وزنګوينه
دزړۀ لۀ سوخته بۀ نارې کړم
خلک بۀ وايي زړۀ يې جوړنارې وهينه
دزړۀ لۀ سوخته بۀ نارې کړم
چې بنديوان اشنامې واورې فريادونه
دزړۀ لۀ سوخته بۀ نارې کړم
ګوندې اوازمې دجانان ترغوږوشينه
دزړۀ مې شين لوګی راخېژي
لکه دشنولمبوتنور چې لمبه شينه
دزړۀ مې وينې راجلا شي
دباڼوڅوکې له چې راشي اوښکې شينه
دزکندن ترسلګوسخته
دياربېلتونه پۀ ضرورډې تېرومه
دزکندن حال مې نژدې شو
ورشه قاصده يارته وروړه احوالونه
دزکندن سلګئ پۀ ورو کړه

دښمن به زړۀ پۀ سړوي چې يار يې مرينه
دزلفو تار پۀ اشرفۍ دی
مادجانان پۀ لاس ګېډۍ ورکړي دينه
دزلفو تار دې ماته راکړه
کۀ مسافرشوم نرۍ ملا بۀ پرې تړمه
دزلفو جال کې دې بندي کړم
مستې ناترسې توتيان چابند کړي دينه
دزلفو څوکې دې چنګک دي
لکه چنګک دماهي پرې کاږې زړونه
دزلفو دام دې راته خپور کړ
زۀ مسافر پۀ لارې تلم بندي دې کړمه
دزلفو سوری دې رنګي شو
داننګو ګلان دې مړاوي شول مينه
دزلفو فوځ يې ورسره دی
جانان مې سرې ستر ګېرلحد ته کوزوينه
دزلفو فرش مې غوړولی
دسترګو اوښکې مې جانان پسې لېږمه
دزمانې پۀ بازارګډ شوم
سود مې ونۀ کړ ترې زياني راووتمه

دزنې خال دې راپهٔ یادشو
سترګې مې دواړه رڼې اوښکې تویوینه
دزنې خال دې ماوران نهٔ کړ
تاچې پلوپهٔ مخ راخپورکړوران دې کنه
دزنې خال دې مبارک شه
تابهٔ دزړهٔ پهٔ ځګرخون وهلی وینه
دزنې خال دې مبارک شه
تابهٔ دزړهٔ لهٔ ډېرې مینې اېښی وینه
دزنې خال دې مجلسي دی
دتندي خال دې مرورپخلاکوینه
دزنې سربهٔ درنه ځارکړم
تهٔ پهٔ دښمن باندې موربوره کړه مینه
دزنې سرېې پهٔ خولهٔ راکړ
قسم یې راکړ چې مې وران نهٔ کړې خالونه
دزورورو مې یاري کړه
پهٔ مخ مې سیند داوښکو ځې خولهٔ ورکومه
دژبې سردې پهٔ خولهٔ راکړ
شونډې دې چالره ساتلي دي مینه
دژبې سردې خولهٔ کې راکړه

خلک توتیانو ته شکرې ورکوینه
د ژبې سر دې خولۀ کې راکړه
پۀ شیرینۍ مې دزړۀ سرتناکه شونه
د ژبې سر مې شوتناکې
چې دبې ننګه اشنانوم پرې یادومه
د ژوند سفر بۀ دې ژرتېرشي
مرګی دې نۀ وي بیابۀ وکړې دیدنونه
د سالوګي نه دې قربان شم
چې پرسپین مخ یې رپوې ستي دې کړمه
د سباباده عرض مې واخله
زما اشناته زمایوسه سلامونه
د سبایي شماله راشه
پۀ خوږ اشنا باندې مې وایه سلامونه
د سبایي نسیمه راشه
دلبرخبرکه چې وروستۍ سلګۍ وهینه
د سپینوتوروپروانۀ کړي
چاچې د استاد میني خوند کتلی وینه
د سپینوتورو استاکاره
دښوځوانانو خون بۀ ستاپۀ غاړه وینه

د سپینو غاښو دې برېښنا شوه
چاویل ږلۍ ده پرتیرا یې اورو ینه
د سپینې خولې نظر مې وا خست
تهٔ راته دود کړه د نرو ورو ځو سرونه
د سپینې خولې بیه دې وا خله
مورږ سودا ګرد کندهار راغلي یو نه
د سپینې خولې تن راته کېږده
کهٔ د چړو پر څو کو لا روي د ربهٔ شمه
د سپینې خولې دې داسې خوند دی
لکه وچ قند چې د بادامه سره خورینه
د سپینې خولې زکات رابا سه
زهٔ یم غریب تل دې د خولې تمه لرمه
د سپینې خولې قیمت دې وایه
چې سر پرې درکړم با قیدا ربهٔ څو مره شمه
د سپینې خولې واک مې درکړی
جانانه راشه زیاتي مه کړه بېلتو نو نه
د سپینې خولې خیرات دې راکړه
زهٔ قلندر د استا پهٔ درکې ولاړ یمه
د سپینې خولې خوراک مې زده دی

اول بۀ شونډې لګوم پسې غاښونه
د سپينې خولې لاس راته راکړه
بيا دې دا داته چاړه ورکړه چې راځينه
د سپينې خولې بلا دې واخلم
ايله بيله زړۀ مې پۀ ځای ولګېدنه
د سپينې خولې واک مې درکړی
دزنې خال مې ياره وران نۀ کړې مينه
د ستا دزنې ترسرځارشم
وړې وړې خبرې کړې غلط دې کړمه
د ستا د سرترسترګو ځارشم
چې يې راواړوې لۀ ماواخلې غمونه
د سترغليو مې ځي وينې
پاس پرتندي مې بيا دغم ښامارو هينه
د سترګو اوښکې ياقوتي شوې
يارمسافردی داتحفه پسې لېږمه
د سترګو بازمې درايله کړ
ستاد ديدن کوترې واوښتې ترغرونه
د سترګو باز يې هوايي شو
زۀ دزړۀ کترې تومه ورپسې وړمه

د سترګو تورا شنا مې ورک دی
لکه شاهين لوړې ژورې لټومه
د سترګو توربهٔ ورته کېږدم
کهٔ مرورجانان پرې کېږدي قدمونه
د سترګو تورد زړګي سره
پري پيکره لېونی د رپسې شومه
د سترګو د زړهٔ ملهمه
د جانان غمه پهٔ خندادې تېرومه
د سترګو تورد زړهٔ ملهمه
تا ته بې د مه ګولۍ چادرکړې دينه
د سترګو تورلالی مې ورک دی
پرزړګرنا سته يم څېره يې جوړومه
د سترګو تورلالی مې تللی
د سوداګر لهٔ رنجوما لوړلي دينه
د سترګو تورمې دې ړاندهٔ شي
چې بهٔ يې ستا پهٔ شان بل چاته اړومه
د سترګو تورمې ژړا سپين کړل
سپين بهٔ د يار پر قبرږدم چې خاورې شينه
د سترګو تورمې يې جانانه

د ستر ګو تور کۀ لرې کړم رنده بۀ شمه
د ستر ګو توره د زړۀ سره
د ستر ګو تور بۀ خرڅوم تا بۀ سا تمه
د ستر ګو ټول نظر پر ما کړه
ستا د يدن پسې مې کړيد ي مزلونه
د ستر ګو کسي مې خوږېږي
دا شنا غم پۀ کې غرېږي ړوند يې کړمه
د ستر ګو کسي مې رانيسي
چې ه امبور پرې د ښور الګوينه
د ستر ګو کسي مې کا رېږۀ شول
د خپل جانان پرخوا مې د ېر کتلي د ينه
د ستر ګو ګاټې مې خوږېږي
پۀ ما بوبې پسې مې د ېر ژړلي د ينه
د ستر ګو يو نظر کا تۀ د ي
ما د رسته ورځ پۀ کتو تېره کړه مينه
د ستر ګو يو نظر پر ما کړه
چې لکه لمرغوند ې مشهور پۀ جهان شمه
د سخي جان پۀ د روازو کې
ځوانان ولاړ د ي د ايمان د رخواست کوينه

د سربېرو مې ياري کړه
د تېلوډک بوتل پۀ جېب کې ګرځو مه
د سرپۀ سترليداى نۀ شي
دزړۀ پۀ سترګويې همېش ديدن کومه
د سرڅخه تېرشه ديدن وکړه
چې سرساتې خاورې بۀ وکړې ديدنو نه
د سر درو د سر توتي وى
پۀ اورستي وى تومتي نۀ وى مينه
د سرلۀ سترګو تۀ پنا يي
دزړۀ پۀ سترګو دې همېش ديدن کومه
د سردښمن مې هوښيارخوښ دى
زۀ دبې عقله پۀ دوستۍ ستومانه شومه
د سرک سربۀ ورته نيسم
دګل روکي لارې لونګ راوړي دينه
د سروپۀ تله بۀ تلل شي
شيرين صورت چې دجانان ډېرقېمت لرينه
د سرې غرمې خوب دې رايادکړۀ
زمازلفانوستاپرمخ سيورى کاونه
د سلامپور پاچادعاده

پۀ خپله مخکې مريدان ورپسې ځينه
د سل پۀ تبه اخته خوښ يم
پۀ دې خوښ نۀ يم چې لۀ تانه جدا يمه
د سماوار پۀ شان خوټېږم
د سپېلني پۀ شان لوګی د رپسې شومه
د سمندر دریاب پۀ منځ کې
عاشق غوټې پۀ معشوقې پسې وهينه
د سمندر کانې راوشوې
ځکه مې ځای د سرۀ انګار پۀ منځ کې شونه
د سمنک پۀ شپه رانغلې
زۀ دې همزولو ته خجله کړم مينه
د سور سالو خيرات بۀ وکړم
کۀ د سوډر لۀ ملکه جوړ راغلې مينه
د سور کونډو پرماتم ژاړم
روپۍ يې کوراور بل يې خاورې زړوينه
د سور مايي لونګۍ ښتنه
تۀ چې راتلې پرما دې اورولګاونه
د سهار باده پۀ ورو ، ورو ځه
چې ګاړګوټي ښېې پۀ تا خورې نۀ شينه

د سهار باده رب دې وچ که
مخ مې د يار په لاړو لوند ؤ وچ دې کنه
د سهار باده ژر شه پاڅه
پرلاره ناځه يار ته يو سه سلامونه
د سهار باده نامراده
مخ مې د يار په لاړو لوند ؤ وچ دې کنه
د سهار چرګه پرې نارې که
اشنا زما په شرم خوښ دی نۀ پاڅينه
د سهار چرګه غاړې وخورې
ما د اشنا په سينه اوس ايښي لاسونه
سهيل ستوری مې ريبار دی
د قطب ستوری مې چنغول ورسېدنه
د سيابند هر بوټی دوا دی
باندې تېر شو بدې د چټو پلوونه
د سيال سيالي مې ژړوينه
ناسياله ستا خبرې اور رالګوينه
د سيند پر غاړه شو مه بنده
سينه جاله کړه دواړه زلفې تنابونه
د سيند هغې غاړې ګلابه

یا به دې راوړم یا به ډوب درپسې شمه
د سیند په منځ کې جاله راغله
راته ښکار یږي لیلا ښتې له ملکونه
د سینې باغ به دې پرې نږدم
له باغه کله سړی زړه صبر کوینه
د سینې باغ دې راایله کړه
نه به ورانې کړم نه به لښتې ماتومه
د تا د زلفو قیمت نه شته
که غرونه سره شي کاڼي بوټي شي لعلونه
د شاځلمي د قلا شاته
وندر پرته ده د ښمنان به پرې تړونه
د شالیلا د بنګړو شرنګ شو
زه داوبړی په شان منګلې ته ورځمه
د شالیلا مینې موړنه کړم
ځکه هرڅوېې یادوم مزه کوینه
د شاهي تخت مې په کار نه دی
بخت مې په کار دی چې همیش راسره وینه
د شپې په خوب کې ګلان وینم
د جانان مینه مې پر ګلو ګرځوینه

د شپې را پاڅم ستورې شمارم
را یادوم د خپل اشنا شینکي خالونه
د شپې مې خوب نهٔ وي بېدار یم
د خپل جانان پهٔ انتظاریم سبا شینه
د شرمه مخ دورځې مینځم
د شپې پرې وینې تویوم د یار لهٔ غمه
د شفاعت میدان کې کېنه
چې امتیان دې ګنهګار درته راځینه
د شمله دار ټیکرې مېرمنې
قدم دې نیسه ځوخبرې درته کړمه
د شوخو سترګو نظربازه
اوس تېروه د کورو کلي تومتونه
د شونډې خال دې مجلسي دی
دزنې خال دې مرور پخلاکوینه
د شهادت پهٔ خنجر مړشې
چې جنازه دې داسمان ملکې وړینه
د شهید انو بدل واخله
بیا مې کوه د سینې تخت باندې خوبونه
د شینخالۍ مرکه راغله

خواره دي زۀ شم چې مې نۀ وهل خالونه
د شينکي خال بيه دې وايه
زۀ سوداګر د پورې خوار اغلی يمه
د ښاپېريو ياري مه کړه
دوی بې وفادي بې پرواکوي کارونه
د ښمن ته شنه شم پۀ خنداشم
دوست ته د غم ژړاکوم چې غرقه شومه
د سوات بونيرممانړې راوړه
نورې ممانړې ماته خوند نۀ راکوينه
د صورت ونه مې زړه شوه
د حرس ونه مې لااوس نيسي ګلونه
د طالبانو مينه مه کړه
د طالبانو اسپې زين ولاړې دينه
طالع ستوری بې ځلاندوي
کۀ پښتانۀ پرپښتونو اله ولاړوينه
د طبيبانو دارونۀ خورم
پرېږده چې خون مې د جانان پۀ غاړه شينه
د ظالمانو دې کورو ران شي
دلبونی ديدن يې خورد د روپی کنه

دعاشقانو پهٔ محفل کښې
زهٔ داخل شمع پهٔ لاس ولاړه يمه
دعاشقانو دامزاج وي
چې پهٔ خولهٔ خاندي پټ پهٔ زړهٔ لړي داغونه
دعاشقانو زړهٔ نازک وي
معشوقومه کوئ رټلي ځوابونه
دعاشقانو ژوند خراب وي
څوک چې ژوندون خرابوي عاشق دې شينه
دعاشقانو سترګې سرې دي
چې معشوقو ورته شراب ورکړي دينه
دعاشقانو مرګی نهٔ شته
چې دمجنون پهٔ شان عاشق پهٔ جهان وينه
دعاشقانو مل شې خدايه
دمعشوقو دوترې شته ځان بهٔ ساتينه
دعاشقۍ پهٔ تېغ حلال شوم
زمازيارت ته دې ورې نجونې راځينه
دعاشقۍ پهٔ تېغ شهيد شوم
غاسله مراوړه ماته لاسونه
دعاشقۍ پهٔ تبه پرېوځې

چې پۀ خپرو زلفو مچان د رنه شړمه
دعشقۍ پۀ توره غوڅ شوم
پرهارېې نۀ شته دزړۀ سرمې درد کوينه
دعاشقۍ پۀ جال بندي شوم
بېلتون چاړه راته دغم تېره کوينه
دعاشقۍ پۀ خوب ويدۀ يې
رب دې راويښ کړه زېړی ګل راو ختمه
دعاشقۍ پۀ خزانه کې
ماته ټيکس دبېلتانۀ راکړه مينه
دعاشقۍ رنځ مې جوړنۀ شو
کۀ ټول څاښتونه دملا خورمه مينه
دعاشقۍ شهيدان ګورئ
نجوني ځلمي ياد ګاردمينې جوړوينه
دعاشقۍ مثال دتېغ دی
څوک چې پۀ تېغ لوبې کوي زخمي بۀ شينه
دعدالت پرکرسۍ ناست يې
عرض مې قبول که فريادي راغلې يمه
دعشق پۀ سرو لمبو کې سوځم
جانان مې نۀ شته ځمکه ځای نۀ راکوينه

د عشق ډېوه کړئ پۀ مابله
چې پتنګان مې پۀ مزار دورې وهینه
د عشق رنځوره روغ بۀ نۀ شې
چې څوونۀ څکې د سر کوشونډو سرونه
د عشق رنځوره خدای دې جوړ که
درتګ مې نۀ شته دعا کوردرته کومه
د عشق رنځوره روغ بۀ نۀ شې
څو چې پۀ خولۀ د یارلبان نۀ کړې مینه
د عشق یاسین رابانډې وایه
پرما خولې د زکندن راغلي دینه
د غاړې هار مې اوبو یووړ
پۀ غم شریکه یاره نیسه ګودرونه
د غاښو څوکې بۀ مې سرې وي
غمونه خورم دوینو غړپ پسې کومه
د غرمې خوب خو جینکۍ کړي
چې ګاړګوټي څښې د سرلاندې کوینه
د غرۀ پرسردې لنډۍ وخوره
چې جنازه دې د ښترو وتړمه
د غرۀ پرسردې ځاله وکړه

لکه سره زرکه رنګه بنګه بۀ درځمه
دغرۀ پرسردې ځاله وکړه
کوتره نۀ یم چې پۀ سېل کې بۀ درځمه
دغرۀ پرسرد ګلو بش دي
دادغاتهول ګل مې دیارپۀ برخه شونه
دغرۀ پۀ سرد ګلو بش دی
نۀ مې یارشتۀ دی نۀ د ګل تمه کومه
دغرۀ پۀ سرد ګلو بش دی
یارمې پۀ کې دی ګل بۀ کورلره راوړینه
دغرۀ پۀ سرمې ته سهي کړې
داسورسالودې دبېلتون شمال وهینه
دغرۀ پۀ سردزرکو سېل دی
بازیې ویشتلی لۀ زړۀ وینې غورزوینه
دغرۀ پرسرښکاري ناري کړې
تازیانو وشکول دغاړو ځینځیرونه
دغرۀ پرسردې چلم ډک کړ
دسرې اوربۀ پۀ پېزوان درخېژومه
دغرۀ پرسرتوره ښاماره
چې دې خوړلی یم جوړ کړی بۀ دې ومه

دغرۀ پرسرلویه چینه ده
دادخارامرغان راځي اوبۀ ترې څښینه
دغرۀ پرسرراوختمه
نۀ مې یارولیدنۀ یې غږ راته کاونه
دغرۀ پرسردې کاروان تېرکۀ
پۀ زړۀ کافره یاره نۀ دې یادېدمه
دغرۀ پۀ سرهوسۍ نارې کړې
تازیانوو شکول دغاړې ځینځیرونه
دغرۀ پۀ سرکې دې بندي کړم
اوس مې نوپرېږده غورژو ونیول ګلونه
دغرۀ پۀ سرکې دې ځای جوړکړ
کوتره نۀ یم چې شانه ورانه درځمه
دغرۀ پۀ سرکې دې ځای جوړکړ
ستاجنازه بۀ پۀ سرګړووتړمه
دغرۀ پۀ سرکې دې ماروخوره
چې ډلې ډلې پاړوګر درخېژومه
دغرۀ پۀ سرمې دیارکوردی
دپسرلي برخه بۀ واورې رالېږینه
دغرۀ لۀ سره مې راتوپ کړ

د شاليلا کاروان تېرېږي سپل يې کړمه
دغرۀ لۀ سره مې سهي کړې
پرې بۀ دې نړدم د کېږدۍ ترپېڅولونه
دغرۀ لۀ سره مې سهي کړې
پرچلم پروت وې سه خولۍ سرۀ تاويذونه
دغرۀ لمنه راته نيسه
زۀ جينکو سره غاټولو پسې ځمه
دغمازانو خواسرې شوې
کترې کترې دخپل اشنالۀ لاسه يمه
دغمازانو کوردې وران شي
پخلاا شنا يې رانه بيامرورکنه
دغمازانولۀ هيبته
دجانان لورى زۀ پر خولۀ نۀ يادومه
دغمازسپى بۀ دې بياوخوري
جانانه مه غواړه بې وخته ديدنونه
دغم باران راباندې اوري
دخوشالۍ شپه پۀ کلونونۀ راځينه
دغم باران مدام ورېږي
دخوشالۍ شپبه بۀ کله وي مينه

دغم پالنګ دغم بستردی
پۀ غم ورخېژم پرې کوم دغم خوبونه
دغم پلټنې راپسې دي
دبېلتانۀ تاج مې پرسرلۀ ملکه ځمه
دغم پولیس راپسې ګرځي
زۀ دلیلا پۀ یارانه غل شوی یمه
دغم ترونې لاندې پروت یم
سوی بدن ستاددیدن ارمان کوینه
دغم جامې دغم پۀ ورځو
پۀ غم مې واغوستې پۀ غم بې زړومه
دغم جلودې پۀ لاس راکړ
داند ښنوپراسپه سپوروړپسې ځمه
دغم څراغ راته لګېږي
دبېلتانۀ پربالښت خوب ورته کومه
دغم څراغ دغم کتاب دی
دغم ملاراته دغم تقریرکوینه
دغم لۀ داغ نه بۀ خلاص نۀ شي
یاري زما دعشق داغونه ورکوینه
دغم دریاب ته دې ګوزارکړم

اوس د وصال جاله را ولېږه مینه
د غم د ریاب ته دې لاهو کړم
لاس دې رانۀ کړ د ماهي خوراک دې کړمه
د غم د ریاب کې دې لاهو کړم
نامردې ستا مینې پخوا وژلی ومه
د غم د ریاب د غم کښتۍ ده
د غم ګرداب د غم غوټۍ بۀ پۀ کې خورمه
د غم رباب مې غېږ کې کېښود
د غم سرود پرې د شپې و ورځې غږومه
د غم سپایان دې راپسې کړه
د سپینې خولې برخاست را ولېږه مینه
د غم سپاهي راپسې ګرځي
بې بېلګې غل د یار پۀ تشه خندا یمه
د غم سېلاب کۀ پۀ تاراشي
د توکل پۀ پړي زر خېژه مینه
د غم سیلۍ راباندې راغله
د وجود ونه مې تربېخه خوځوینه
د غم غلبېل دې پۀ لاس راکړ
همېشه ناست یم د استا غم غلبېلومه

د غم غلبېل دې پهٔ لاس را کړ
تهٔ را نه لاړې زهٔ دې غم غلبېلو مه
د غم قلم د غم د وات دی
د غم خطو نه پرې د غم پهٔ ورځ لیکمه
د غم قلم د غم کاغذ دی
د غم مسرۍ بې غمه یا رته ورلېږمه
د غم کتاب د غم معلم دی
د غم مکتب د غم سبق پهٔ کې وا یمه
د غم کلا د غم بنګلهٔ ده
د غم سرود پکې د غم نارې و هینه
د غم کوټه د غم ساعت دی
د غم پیرې را ته غمګین سرود کوینه
د غمګینۍ تالې مې د پرې
د خوشالۍ تالې مې نهٔ شته وبهٔ مرمه
د غم لړم پهٔ زړهٔ کړم کړم
زما د سترګو نه خوناب و بهېد نه
د غم لړم بهٔ دې کړم کړي
د د ښمنۍ پهٔسوړو مه وهه لاسو نه
د غم مکتب ته دې دا خل کړم

دغم کتاب شروع کوم ژړا راځینه
دغنم رنګ شونډو نښه کړم
داچې زۀ سرپۀ زنګانۀ فکرکومه
دغنم لوخاونده ګډه کړې
چې بغدادي کوترې وربې ټولوینه
دغولي منځ ته شه نیمزالې
دطلبګارپۀ مخ کې واخله قدمونه
دغونډ کی زنې دې ځارشم
پۀ ټولوونو کې ګلاب غونډ کی وینه
دغه باران نۀ دی چې اورې
داپۀ ماخواربانډې اسمان ژړلي دینه
دغه داستاد میني خرپ دی
چې پۀ زیږي مازیګرکډې بارومه
دغه زانګو دغه سوزنی ده
وسله دې راکړه زۀ پۀ خپله جنګ ته ځمه
دغه زماد مرګ سبب دی
چې مخامخ شمه پلو مخې ته وړینه
دغه سپیرۀ چیرته ولاړدی
سارۀ سارۀ او سیلي کړي بادیې راوړینه

دغه مرجان یا سرۀ یاقوت دي
کۀ د شهید د وینو څاڅکي دي مینه
د قلم زړۀ لۀ غمه وچاود
چې مې خبر دزړۀ پۀ غم د اشنا شونه
د فکر تال دې راته جوړ کړ
ته رانه ولاړې زۀ یو ائې زنګېږمه
د قتل وینې رانه څاڅي
اشنا د ستر ګو تېغ ویستلی ګرځوینه
د قلندر بابا ملنګ شه
د سپینې خولې چیتهٔ پر مار اوړه مینه
د قند خوږې راباندې لږې
څوک چې خبرې د اشنا راته کوینه
د کندهار پۀ بره ډډه
کلاولاړه ځوانان جنګ ته تللي دینه
د کندهار پۀ دروازه کې
لالی ولاړ پۀ د سمال اوښکې پاکوینه
د کندهار د ګلو زۀ یم
د دې پر دو ګلو څخه یو نۀ پېژنمه
د کندهار شین ارغنداوه

کۀ مې یار راغی کال پۀ تا کې تېر و مه
د کابل ژمی زمهریر دی
ما د بتخاک لۀ ګاګرو تېره کړه چې ځمه
د کاذبانو ژبه پرې کړه
ځکه غنچه پۀ پټه خولۀ مجلس کوینه
د کافرګل پۀ شان کړه شوې
چې را سمبړې ورځ بۀ نیمه تېروینه
د کافوري کاغذ د پاسه
د زړۀ پۀ وینه خپل احوال یار ته لېږمه
د کال یاري مې اوبو یوړه
بیا بۀ د سین پۀ غاړه نۀ کرم ګلونه
د کامراني پۀ کنډواوړم
ما ته د سوات کاڼي ګوهر بنکاري مینه
د کبابي پر د کان راغلم
د خوارمین زړۀ یې پۀ سیخ پېلی ونه
د کبر جام بۀ دې نسکور شي
ډېر د زخمي زړونو مه اخله ازارونه
د کبر جن کبر زوال کړې
پۀ سلامي مې ورته سترې شول لاسونه

د کړه مارپۀ سرلوګی شو
غازیانو وا چول سیکانو ته لاسونه
د کېږدۍ خوا ته یې ولاړه
مرګی دې هېر دی پۀ اوربل وهې لاسونه
د کشمالو بۀ دې باغوان شم
چې هرسبا دې پۀ وړیا دیدن کومه
د کشمالو ترخوکو توره
د بوی د زوره دې پۀ جېب کې ګرځومه
د کشمالو منجیله وکړه
چې خوشبویې دې د منګي لۀ بېخه ځینه
د کنبې د رود غاړه راواخله
زۀ بۀ منګی پۀ لپو ورو ،ورو ډکومه
د کفن نۀ مې وینې څاڅي
پۀ سرو منګلو بېلتون غسل راکوینه
د کلا سر کنډو کنډو دی
پۀ هر کنډو کې لیلا سترګې توروینه
د کلي منځ ته بۀ لاړ نۀ شم
لیلا د باز پۀ شان غوټې کړي زړونه وړینه
د کلي منځ کوڅه راواخله

د کوڅې سر کې د رته زۀ ولاړه يمه
د کلي منځ کې بۀ نارې کړم
ليلا زما لۀ ياری، واخستل لاسونه
د کوټې تيربۀ دې شم ياره
د خاورو زورراباندې مه کړه مات بۀ شمه
د کوټې تيرراباندې پروت وی
راباندې نۀ وی د بې ننګ سرې لاسونه
د کوټې څټ کړکی، ته راشه
يو څو خبرې د ګيلې د رته کومه
د کوټې وردې مخامخ دی
د غاړکی، تاويزدې کړي اشارتونه
د کوټې وردې مخامخ دی
اوردې بلبرې ماته خوب کله راځينه
د کوډا اخپلو راروان شو
د ماسل خان لښکرلومړی حمله کوينه
د کومه راغلې ستړی مه شې
زۀ ستا پۀ خيال د ببلتانۀ شپې تېرومه
د کو نړسين چرې چرې دی
زمادياړ جاله پۀ کومه چره ځينه

دګلاب ګل کړې پاڼې پاڼې
زما اشنا چې بو یا وۀ رنځور یې کنه
دګل بدن خندا کۀ غواړې
لکۀ شبنم پۀ سحر تل ژاړه مینه
دګل خندا پۀ تبسم ده
بلبل پۀ کوکو ورته تل فریاد کوینه
دګل دذات پوښتنه وکړه
غنچه ترې هلته جوړوه چې اصل وینه
دګل مېخونو شړق یې راکړ
دوینو شرپ مې پۀ دېوال ولګېدنه

د ( ډ ) څخه تر ( ر ) پوري

ډبرې وا خله ما پرې وله
دزورورو پۀ یارۍ چې نازېدمه
ډډې مې ستا غمو نوو سوې
لکه نري رنځ کې چې وسوځي اړخونه
ډلې ډلې ځلمیان راغلل
زما دورور ډله وروستی ده رابۀ شینه

ډوډۍ مې وخوړه مړه شوم
تۀ بۀ د چاورته ولاړ اوسې مينه
ډوډۍ بۀ يارته پۀ سريوسم
د سرکوشونډو بۀ زۀ نګولي ورکومه
ډوايا ښۀ ده بده نۀ ده
مډوايا کميس کاوۀ روغه بۀ ومه
ډول وسينګار ځواني کې ښايي
پيرۍ کې بدښکاري چې ځان سينګاروينه
ډولۍ دې سره لۀ ورايه ښکاري
يادليلا مړی د قبرخواته وړينه
ډمبری خورم خولۀ مې ميږی شوه
اوس د کمودو خوراک خوند نۀ راکوينه
ډېر دې پۀ مينه کې ستې شوم
نورمې پۀ سوي زړۀ کې مه وهه لاسونه
ډېره خواري راپسې مه کړه
د شګې ګل يم پۀ لاس نۀ درځم مينه
ډېرې دعاراته ښېرې شوې
نورې ښېرې راته کوه چې دعاشينه
ډېرۍ ډېرۍ غلې شوې خلاصې

خلاص خو بهٔ نهٔ شي ستا د ہرے د ہرے غمونه
د ہل چې ونکړې رارسېږه
وروستی دیدن دی بیابهٔ نهٔ وي دیدنونه
د ہوه رنړا کړه دیدن وکړه
سبا بهٔ وایې چې ما خوب لیدلی ونه
د ( ر ) څخه تر ( ز ) پورې

راباندې وژاړئ عالمه
یو زکندن دی بل د یارلهٔ غبرږې ځمه
راپسې مه غېږېږه سپیه
ستا د مېرمنې پهٔ سلا راغلی یمه
راته معلوم شوې خپل مې نهٔ کړې
برباد مې لاړل د ټول عمر کوششونه
راڅخه لاړې رابهٔ نهٔ شې
تېره ساعته ارمانجن درپسې یمه
راځه پهٔ کټ کې سره کېنو
د سترګو جنګ بهٔ د بنهولاندې کوونه
راځه چې باغ ته سره لاړ شو

يا بۀ مين شو يا بۀ غبرګې چړې خورونه
راځه چې بيا سره پخلا شو
مرګ راپسې دی نيمه خوا بۀ شو مينه
راځه چې غاړه غړی پرېوزو
بېلتون کۀ راشي ما او تا بۀ جلا کړينه
راځه چې پير بابا ته لاړ شو
سوال بۀ پۀ دواړو سره کړو چې قبول شينه
راځه چې دواړه پرکټ کېنو
دا سمان ستوري بۀ شمېرو سهار بۀ شينه
راځه چې دواړه پر ټال کېنو
ټال بۀ بانه کړو د سينو جنګ بۀ کوونه
راځه چې دواړه غرۀ ته خېژو
يا بۀ مين شو يا بۀ تورې خاورې شونه
راځه چې دواړه ټال ته خېژو
ټال بۀ پلمه کړمه خولګۍ بۀ درکومه
راځه چې دواړه سره کېنو
مرګ راپسې دی ارماني بۀ پاتې شونه
راځه چې دواړه سره کېنو
يو خوځواب دی بل د تندې څخه مرمه

راځه چې دواړه سره کېنو
دنیادژمي مازیګردی تېره بهٔ شینه
راځه چې دواړه سره کېنو
دنیا دغم تالیٔ وهي ورانه بهٔ شینه
راځه چې دواړه سره ژاړو
دمرګي غږدی ښهٔ ځوانان پناکوینه
راځه چې دواړه شهیدان شو
دجنت حوروشهیدان خوښ کړي دینه
راځه چې دواړه ورته ورشو
دشیرین یارمې زکندن دی روغ بهٔ شینه
راځه چې دواړه ورله ورشو
اشنادلوی سفرجامې اغوستې دینه
راځه چې شرع پهٔ ملاکړو
پورپهٔ ابادې خولهٔ لهٔ ماغواړې مینه
راځه چې غم سره شریک کړو
یواځې ماپهٔ لمبومه سبځه مینه
راځه چې کلي ته نژدې شو
بېلتونه زهٔ دې پهٔ صحرامونده لې یمه
راځه چې لاس ترلاسه نیسو

بېرته خبرې به سپين ږيري خلاصوينه
راځه چې لاس تر لاسه ورکړو
د تورې لورې پټاسې به درکومه
راځه راځه پرکټ راخېژه
کۀ بازومات شو موزيګی به يې جوړوينه
راځه راځه چې خولګۍ درکړم
زموږ پۀ کلي کې مرګی دی مړه بۀ شمه
راځه راځه چې سره درومو
يا بۀ ياران شو يا بۀ تورې خاورې شونه
راځه راځه چې سره ځونه
يا بۀ مين شو يا بۀ غبرګې چړې خورونه
راځه راځه زما جانانه
پاس پۀ پالنګ بۀ سره غاړه غجوشونه
راځه راځه زما جانانه
نيلی دې زين کړه دو پوشته درسره ځمه
راځه راځه راسره کېنه
اوس مې د ړۀ مراندې پرې درپسې مرمه
راځه راځه شيرينه ياره
انګړ خالي دی زۀ يواځې ناسته يمه

راځئ چې ټول سره يو ځای شو
خدای ته بهٔ ژاړو ګوندې وکړي رحمتونه
راځئ چې ځو د جنګ ميدان ته
د دين غزا ده خدای بهٔ راکړي ثوابونه
راځئ راځئ چې لنډی پر بېړدو
ما پهٔ لنډيو ماتې کړلي دينه
راځئ راځئ چې لنډی پر بېړدو
لنډی نابودې ديارغم تازه کوينه
راځئ راځئ چې لنډی پر بېړدو
لنډی چړې دي دزړهٔ ځوکې پرې کوينه
راځئ راځئ چې لنډی پر بېړدو
لنډی لا ښې دي ديار غم غلطوينه
راشه پرزړهٔ مې ګوتې کېږده
چې غم پرتا کهٔ پرماډېردی مينه
راشه پرزړهٔ مې ګوتې کېږده
چې يارانه مې درمعلومه شي مينه
راشه پرقبرمې اوربل کړه
کهٔ مې پهٔ مړينه پرشاوويني ټپونه
راشه پرکټ راسره کېنه

پهٔ صراحي غاړه مې واړوه لا سونه
راشه پهٔ دغه ځای بهٔ يې پرېږدو
څوک چې مين وی تل دغم رباب وهينه
راشه پهٔ دې بهٔ يې فيصله کړو
څوک چې ښايسته اشنالري رنځوربهٔ وينه
راشه پهٔ دې ځای کې يې پرېږده
ډ ېرې لنډۍ د سرې غم تازه کوينه
راشه پهٔ سترګو کې مې خوب شه
د ښېلتانهٔ شوګېروډ ېرو هلی يمه
راشه جانانه سره ځارشو
کهٔ ښېلتون راغی ما او تا بهٔ جلا کړينه
راشه چې دواړه کټ ته خېژو
د پېغلو قدرد ځلمو پهٔ غېږ کې وينه
راشه خبرمې درته راووړ
چې نازولې نجلۍ ځان سنبالوينه
راشه خوږې مرکې بس کړو
ګونګوما ښام دی مرغۍ شنو ونو له ځينه
راشه داخپل مين وګورو
زړهٔ يې چاودلی ترخولې وينې تويوينه

راشه د خان نوکري پرېږده
نوکر زما شه سپینه خولۀ بۀ درکومه
راشه د نفس پۀ رضا مه ځه
شیطان د نفس پۀ رضا تلو پۀ لعنت شونه
راشه د شونډو شربت وڅکه
سبا بۀ تور سنګرله ځې ترږی بۀ وینه
راشه د قبر حال مې واخله
کفن مې خیرې ځان مې ټول چینجي خورینه
راشه د ناز خبرې وکړه
بېلتون دورۀ ترشا ولاړ دی را بۀ شینه
راشه د یار احوال دې واخله
لکه دوچې ماهي پروت سلګۍ وهینه
راشه د یار خبر دې واخله
پۀ غرمه پروت دی تر خولې وینې تویوینه
راشه ډبره لاس کې واخله
پر سر مې وله چې د زړۀ خوشاله شینه
راشه رانجۀ اینه دې واخله
نۀ دې یاري کړم نۀ دې ننبه ګرځومه
راشه زما تر څنګ کېنه

کۀ تۀ شرمېږې لاس بۀ زۀ دروا چومه
راشه زما ترخنګ کېنه
کۀ تمباکو غواړې لونګ بۀ درکومه
راشه زما د پلار مزدور شه
مزدور بۀ تۀ وې کار بۀ زۀ درته کومه
راشه زما د پلار طالب شه
ترمطلوبه بۀ دې زۀ ورسومه
راشه زما د منګول باز شه
دزړۀ کترې بۀ درکوم تا بۀ ساتمه
راشه زما د سینې ګل شه
چې هر سهار دې پۀ دیدن تازه کومه
راشه زما پۀ لومه بند شه
لکه توتې پۀ مالیدو بۀ دې ساتمه
راشه زما دلښتې ګل شه
چې هر سهار دې پۀ دیدن تازه کومه
راشه زمونږ کره مېلمه شه
چې درته کېږدم دسرکوشونه وسرونه
راشه دانور کارونه پرېږده
دیدن دیار دمخ کوه قیامت راځینه

راشه قسم راسره وکړه
کۀ نازولی مې ساتې درسره ځمه
راشه لالیه چې خولۀ درکړم
چې د سفرپۀ سختو پوه نۀ شې مینه
راشه یو نوی کفن راکه
کفن مې زوړ شو چینجي خولې رالګوینه
رابنکاره مه شې سپینه مخه
چې یو ګړی دې خوشالي د ېردې غمونه
راغلی بیا هغه دوران دی
کۀ څوک د ګلو سیل کوي باغ ته دې ځینه
راغلی مه وی اباسینه
پۀ نیمه شپه دې نو بنارلوټې لوټې کنه
راکړی ګل دې ببړته واخله
زۀ د هجران پۀ سفرځم مړاوی بۀ شینه
راګ دارم راته غړېږي
چې لېونی د بنا پېرۍ خندا کوینه
راکړی ګل دې ببړته واخه
زۀ د مرګي پۀ سفرځم خزان بۀ شینه
راولاړېږه زړۀ مې نیسه

پۀ تابا يللی زړۀ مې ځای ته نۀ راځين
راولاړېږه زړۀ مې نيسه
پۀ تابا يلودی زړۀ مې ځای ته نۀ راځينه
رباب پاچاتمبوروزيردی
داارمونه دسرې غم غلطوينه
رباب دې بيا پرزنګون کېښود
رباب شوقي دی مابۀ هېره کړې مينه
رباب دې راکړرانه لاړې
زۀ بۀ دغم رباب ترڅوپورې وهمه
رباب زما پۀ غېږ کې پروت دی
خوږې خبرې دجانان راته کوينه
ربابه مات شې اند ېښمنه
مين پۀ مادی غم پۀ تاغلطوينه
ربابه مات شې دړې وړې
رايادوې اشنا پۀ لرې وطنونه
رب خودې بيا پرمامېلمه کړه
دزړکی غوښې بۀ ترتاځارکړم مينه
رب خودې داځلې راجوړکه
خلک بۀ وايي بخت يې بددی ياريې مرينه

رب خو دې دورد ځوانۍ تېر که
چې کبر جن ځان ته دې فکر شي مینه
رب دې اباد لره وطنه
ذرې ذرې زړګی بۀ بیا درواړو مه
رب دې پۀ چول بیابان شپه کړه
چې درپۀ یاد شي دتو دې غېږې خوبونه
رب دې پۀ خوب کې را حاضر کړه
چې مشغولا دې دا روا سره کو مه
رب دې دعلم باغ سمسور کړه
چې طالبان دې ملا یان لۀ باغه ځینه
رب دې زما پۀ حال خبر کړه
چې سرو کار دې دغمونو سره شینه
رب دې زما پۀ حال خبر کړه
چې لۀ شیرینې خندا لاس وا خلې مینه
رب دې زما دباغچې ګل کړه
چې هر سهار دې پۀ دیدن خړوبو مه
رب دې زما کره دخیال چتې
چې سپین مړوند دې لۀ خپل سرلاندې کو مه
رب دې زموږ کره مېلمه کړه

چې درته کېږدم د سر کو شونډو سرونه
رب دې زموږ کره رنځور کړه
چې نرې برېت دې اړوم خولۀ درکومه
رب دې ښايست درپورې اورکړي
پرمادې اورکړۀ دهمزولو مجلسونه
رب دې لۀ لرې راروان کړه
پرمادې زېرې دهوا مرغان کوينه
رب دې ويښتۀ پر مخ زرغون کړه
چې دا ښايسته ځواني دې ګډه وډه شينه
ربه پۀ داسې اوردې وسوم
چې نې لمبې شته نۀ يې تاو چاله ورځينه
ربه ته بيا هغه ساعت کړې
چې د يار غېږ کې بوړې بوړې ولو يږمه
ربه دا پورې غرسورې کړې
چې ترې راوځي شنۀ توتيان خپارۀ ځانګونه
ربه د زړۀ ناسور مې جوړ کړې
خوناب داوښکو پۀ عالم کې رسوا کړمه
ربه کوچيان پۀ کوچ روان کړې
چې دا ښايسته بدرنګې ګډې وډې ځينه

ربه ودان کورونه يې وران کړې
چې پهٔ غمجن د کبرجن ګمان کوينه
ربه ويشتلی توتي جوړ کړې
مېوې پخې دي دا يسارو ګړنګونه
رخصت دې راکړ درنه لاړو
پيوند دې نهٔ کړل پهٔ خنجرو هلې زړونه
رسول الله مومخ کې شته دی
شيطان بهٔ پړ کړي موږ بهٔ ټول جنت ته ځونه
رګ مې سوری وينې ترې ځاځي
هره قطره يې د بېلتون نارې وهينه
رنجومه جوړه دياری که
پهٔ کې رانجهٔ د مينې واچوه مينه
رنځ دې د هجرپرمازورشو
اوس پهٔ اميد ستا د وصال د دوا يمه
رنځورا شناله مې خولهٔ ورکړه
د بابېړی نه يې و برېږم وبهٔ مرمه
رنځوردې کړم دوا مې نهٔ شته
بې ننګه ياره خونړی بهٔ شې مينه
رنځوره ياره رب دې جوړ کړه

زۀ چواري شونډې پۀ خولۀ کې درکومه
رنګ بۀ مې ولې نۀ زېړېږي
يو مسافريم بل مې يار جفا کوينه
رنګ بۀ مې ولې نۀ زېړېږي
چې غنم رنګ اشنا د کال پۀ سفرځينه
رنګ ته مې ګوره چې زېړ دی
بېګا مې ستا لۀ غمه ډېرژړلي دينه
رنګ خو دې زېړ را معلومېږي
زړۀ ته مې لوېږي لۀ يارۍ اخلي لاسونه
رنګ خو مې تور پۀ دې سبب دی
چې ستا د زلفو خيال کوم سودايي شومه
رنګ خو مې زېړ پۀ اورستي يم
پۀ اورستي يم ترې بۀ روغ نۀ شم مينه
رنګ د ګلاب بوی د سنځلې
سوری د ولې ښنګ د نجل مزه کوينه
رنګ د بې ملکه سرې ورک شه
سرې د زړۀ پۀ رنځ اخته کړې بيا ترې ځينه
رنګ دې د ګل خوند دې د پيازدی
زۀ کور د ليله ستا پۀ رنګ وغولېدمه

رنګ دې زېړې را معلومېږي
خدای دې زما په ګناه مه نیسه مینه
رنګ دې زېړې را معلومېږي
د کور کافرې د رته څۀ ویلې دینه
رنګ مې پۀ تا پسې زېړېږي
خلکو ته وایم چې زېړي وهلې یمه
رڼا د مخ دې را ښکاره کړه
چې د خلوت زاهدان ټول پۀ فریاد شینه
روپۍ څوک څۀ کوي جانانه
کلمه دارې پۀ اوربل مزه کوینه
روپۍ مې وې کتارمې نۀ کړې
اوس مې یادېږي د روپیو کتارونه
روپۍ کلدارې مزه دارې
کلمه دارې پۀ اوربل مزه کوینه
روپۍ دې ټولې ښې ښکارېږي
د منځ روپۍ دې پۀ زړګي ویشتلې یمه
روغ بۀ د روغو سره ناست وي
پۀ زړۀ زخمي بۀ چېرته ښېل لۀ خلکو وینه
روکی چې سپوشي د خپل کورشي

لالی دې سپورشي چې سپره ورپسې ځمه
روح مې پۀ تن کې ځکه پايي
زۀ ورته وايم جانان نن سبارا ځينه
روح مې پۀ تن کې مروردی
ديار دمخ خال ننواتې ورولمه
روح مې دځان يارته ببنلی
بهتر لۀ روحه څۀ شی دي چې ببنمه
روح مې لۀ تنه پۀ رفتن دی
وروستی ديدن دی مخ راواړوه چې ځمه
روح مې لۀ تنه جانان وړی
ملک الموت بۀ مې دروح پۀ تمه وينه
ريباره لۀ مانه بختور دی
چې مې ديارسره دخوند خبرې کړينه
ريباره حال بۀ راته وايې
زماجانان مجلس دچاسره کوينه
ريباره راشه چې دښکل کړم
تابۀ پۀ دې سترګو جانان ليدلی وينه
ريباره ژرشه تلوارو کړه
زمابې غوره يارته يوسه سلامونه

ریباره ستالۀ لاسه سوځم
هرڅۀ ناري کړم او بۀ څوک نۀ راکوینه
ریباره عمردې پۀ دارشه
پۀ ایرو پټ اوردې لیدو پرې ودې سومه
ریباره فکرپۀ کې وکړه
چې مې د کال خواري عبث نۀ کړې مینه
ریباره ورشه ورته وایه
ستاټوله بدي مې پرلېمومنلي دینه
ریباره ورشه ورته وایه
کۀ د بدیو زور لرې درسره ځمه
ریباره ورشه ورته وایه
پس لۀ ماښامه څوکیداره ناسته یمه
ریباره ورشه ورته وایه
چې ستالۀ هجره داوروستۍ سلګۍ وهمه
ریبار یې ډېرکړندی راغی
چې مروراشنابۀ څۀ ویلي وینه
د ( ز ) څخه تر ( ژ ) پورې

زار د هجران مې دي خوږلې
څو د وصال طبیب خبر ېږي و بۀ مرمه
زخم د زړۀ مې نۀ روغېږي
کۀ د وصال ملهم پۀ کېږدې روغ بۀ شینه
زړګره ښۀ پېزوان راجوړ کړه
چې مې جانان پۀ انتظار پرې اېښې دینه
زړګی بۀ صبر کړم ظالمه
چې مخامخ دې راته راکړل ځوابونه
زړګي ته ډېرې پلمې وکړم
د یار سرې شونډې پۀ پلمونۀ هېروینه
زړګي ته هسې ځواب ورکړه
چې دیدن تۀ کړې غم دې زۀ ګالم مینه
زړګی دې صبر کړه جانانه
دا ینځر ګل یم پۀ لاس نۀ درځم مینه
زړګی ډاډه کړه او ښکې وچې
کۀ ژوندباقي ؤ بیابۀ وکړو دیدنونه
زړګی سلا کړه ځواب راکړه
زۀ دې د بلې یارۍ ویستم مینه
زړګی ساتلی پۀ کارنۀ دی

چېرې يې ګروکه چې کباب ګرځي مينه
زړګی مې پټ پۀ تا مين دی
لکه اوبۀ د کمره پټه خواوهمه
زړګی مې پټو غمو وخوړ
لکه رباب خالي ګوګل نارې وهمه
زړګی مې پټو غمو وخوړ
لکه دونې منځ چينجو خوړلی وينه
زړګی مې پټو غمو وخوړ
لکه بادام سوری سوری وينې ترې ځينه
زړګی مې تا سې کره هېرشو
تۀ دې د زړۀ پۀ پنجروځای ورکړه مينه
زړګی مې تا سره بندي دی
د خدای لپاره بندي بنۀ ساته مينه
زړګی مې تا يوور طالبه
ارس يې رهيل کړه پۀ کې وايه سبقونه
زړګی مې تا يوور محبوبې
لکه رباب خالي ګوګل نارې وهمه
زړګی مې تا سې کره هېرشو
خوربۀ دې ځای جاروکوي پيدا بۀ يې کړينه

زړګی مې چوي نهٔ پاتې کېږي
جانان د تور لحد بندي شونهٔ راځینه
زړګی مې داسې راته وایي
چې کتاب پرېږده لیلا واړوه تر غرونه
زړګی مې داسې راته وایي
د پلترو سره یې وژویه غوږونه
زړګی مې ستا ترزړهٔ چاپېردی
لکه پېروتې چې ترګل چاپېرې شینه
زړګی مې ډک لکه ټاکی دی
کمیس خونهٔ دی چې یې غوټې خلاصې کړمه
زړګی مې ډېر راته تېږي
ستا پهٔ بېلتون کې صبر کله قبلوینه
زړګی مې سخت پهٔ بلا کښېوت
چې ستا د زلفو د ښامار همسایه شونه
زړګی مې غم ټوټې ټوټې کړ
هره ټوټه یې د فراق نارې وهینه
زړګی مې نهٔ شته چېرته ورک دی
زېری بهٔ ورکړم کهٔ جانان میندلی وینه
زړګی مې هلته دی چې تهٔ یې

زۀ تش کالبوت پۀ دا مانو ګرزم مینه
زړګي ویل ملامت نۀ یم
سترګو پۀ هر طرف کا تۀ مین یې کړمه
زړګیه چوې کۀ پاتې کیږې
جانان د تور لحد بندي شونۀ راځینه
زړګیه خانده خوشالي کړه
نن مازیګر بۀ د جانان کډې راځینه
زړګیه خانده خوشالیږه
د تورو خاورو لاندې ډ یر دي ارمانونه
زړګیه ښنګه لیونی شوې
چې لۀ روانو کډو غواړې مدارونه
زړګیه راشه ترې کرارشه
پردي راوړي د چاڅۀ پروالرینه
زړګیه ښۀ شوې چې زخمي شوې
چې نصیحت مې درته کړو نۀ دې माننه
زړګیه صبر دې پر خدای شه
اشنادې لاړ پۀ تور لحد کې بندي شونه
زړګیه صبر دې پر خدای شه
پۀ هغه ګل چې نازیدې د نورو شونه

زړګیه صبر شوې کۀ نۀ شوې
کۀصبر نۀ یې تر ګرېنګ ځان غورځومه
زړګیه صبر شه مه ژاړه
څوک نر قیامته اشنانۀ غواړي مینه
زړګیه صبر شه مه ژاړه
ستا پۀ ژړا اشنا دناز خندا کوینه
زړګیه ولې لېونی شوې
چې پۀ دې چول بیابان غواړې دیدنونه
زړۀ بۀ پر ځمکه ورته کېږدم
کۀ مې جانان ورباندې کېږدي قدمونه
زړۀ بۀ مې څنګه پۀ کرار شي
پربسترا وړي لکه یو خوار ګلونه
زړۀ بۀ مې صبر ورنه نۀ شي
کۀ مې دهجر پۀ لمبو سېزي مینه
زړۀ بۀ مې ولې خفه نۀ وي
پۀ خپل بورجل کې د پردو خدمت کومه
زړۀ بۀ مې هلته پۀ کرار شي
چې دوصال دولې کې دواړه کېناستونه
زړۀ بۀ مې هلته پۀ کرار شي

چې د جانان پۀ زنګانۀ وکړم خوبونه
زړۀ ته بۀ دا سې سلاورکړم
چې شاګدا بۀ سره ټول خاوروته ځونه
زړۀ ته مې ډېر نصیحت وکړ
سترګو لیدلی جانان کله هېرو ینه
زړۀ ته مې سترګې رانژدې کړه
چې پۀ کې وویني د سرووینوډنډونه
زړۀ ته مې مه راوړه لاسونه
زړۀ مې ناسوردی پرې اخته بۀ شې مینه
زړۀ ته مې ځوښ د مینې راشي
چې د جانان بشره پۀ خیال وګرځومه
زړۀ ته مې کولپ دصبرپروت دی
د عرصات پۀ ورځ بۀ ووایم حالونه
زړۀ چې پۀ خپله مین نۀ وي
مین یې مه کړې د ملا پۀ تاویزونه
زړۀ چې پۀ مینه د یارداغ شي
لکه لاله د تن دامان پۀ رنګین شینه
زړۀ چې مین شي سترګې ژاړي
بانۀ ولاړوي اوښکې غواړي رخصتونه

زړۀ خومې تاوړی دی یاره
لکه ماهي پروچه پروت سلګۍ وهمه
زړۀ خومې هغه جانان وړی
چې پرلنډۍ زنه یې ابښي شنۀ خالونه
زړۀ دې ارام که مسافره
بوی مې دباد پۀ لاس دروا ستاوۀ مینه
زړۀ دې پۀ ګل رانه بدمه شه
پۀ یارانه کې هم ګیلې وي هم جنګونه
زړۀ دې زموږ لۀ کوره یوسه
ډېره ده ګرانه دمینوزړو ساتنه
زړۀ دې لۀ شنۀ کاڼي نه سخت دی
کوټه مې بخت دی چې په تامین کېدمه
زړۀ سوداګرستړګې دلالې
دي خوارصورت لره راوړي مدام غمونه
زړۀ صبرول دیاره ګران دي
اشناچې داسې خوی کوي صبربۀ شینه
زړۀ صبرول دیاره ګران دي
دډنډه پۀ منځ کې کربښې چاویستلې دینه
زړۀ مرغلره ده چې مات شي

روغ خوبۀ نۀ شي دجانان پۀ لباسونه
زړۀ مې هیلۍ پۀ ډنډ کې ګرزي
جانان دبازپۀ شان غوټې پسې وهینه
زړۀ مې بادرنګ هجران چاکودی
پرلوړه ناسته یم ترازې ترې بېلومه
زړۀ مې بلبل مېن پرګل دی
رب دې بلبل لۀ ګله نۀ جداکوینه
زړۀ مې بېخي لکه ارټ دی
لوټکی دغم غم ترینه ډک ډک راخېژوینه
زړۀ مې تخته ژبه قلم دی
دیارنادودې پرې لیکم افسوس کومه
زړۀ مې پانوس رڼاترې خېژي
دغم باتۍ دفکرتېل پۀ کې سېزمه
زړۀ مې پرهغه ګل مېن شو
چې بوراګان یې پۀ باغوکې لټوینه
زړۀ مې پۀ تاپسې غلبېل شو
غلبېلومه ستا دهجرډ برغمونه
زړۀ مې پۀ تاپسې کرېږي
لکه چناراړکې پټرې غورځوینه

زړۀ مې پۀ تن کې پۀ دې پايي
چې ورته وايم جانان نن سبا راځينه
زړۀ مې پۀ تا پسې فرياد کړي
لکه نرۍ اوبۀ پۀ چړ کړي فريادونه
زړۀ مې پۀ څوښ راغی عالمه
صبر خمخۀ دی پۀ وروورو بۀ يې سړومه
زړۀ مې پۀ داسې اشنا بايلود
نۀ دياري دی نه دخولې لباس لرينه
زړۀ مې پۀ داسې ځای کې بند شو
دکوه قاف ترغرو يې لوړدي ديوالونه
زړۀ مې پۀ داسې رنځ اخته دی
چې بې وصاله نوردارو نۀ قبلوينه
زړۀ مې پۀ داسې ځای کې بايلود
چې نۀ ورتلای شم نۀ مې زړۀ صبر کوينه
زړۀ مې پۀ ډم اوبو کې پروت دی
غمخوريې نۀ شته چې جاله ورواچوينه
زړۀ مې پۀ ډب کې شنه اوبړی شو
نۀ يې ماهيان خوري نۀ يې ښکته اوبۀ وړينه
زړۀ مې پۀ زړۀ کې درنه بد دی

زما اشنا ته دې کنځلې کړې دینه
زړۀ مې پۀ شمار ځلو رټوټې دی
زر ګرته نا سته دا ټوټې کوشیرومه
زړۀ مې پۀ شمار ځلو رټوټې دی
هره ټوټه د بېلتانۀ ژړا کوینه
زړۀ مې پۀ وینو کې غرقاب دی
غماز قصاب یې پۀ ساتول میده کوینه
زړۀ مې تخته قلم پرې ګرځي
چې ستانا خوالې پرې لیکم ژړا راځینه
زړۀ مې ترشنۀ کانې لاکلک ؤ
بېلتون ورو ،ورو سولاوه نرۍ یې کنه
زړۀ مې توتي سینه قفس دی
عمر عبث دی چې بې تا یې تېرومه
زړۀ مې توتي ؤ تا بندي کړ
نا ترسه یاره توتیان چا بند کړي دینه
زړۀ مې ټوکر بېلتون خیاط دی
دغم بیا تي وربا ندې ورو ورو خوځوینه
زړۀ مې ټوټې دغم پۀ تبغ دی
دجانان هجر مې پۀ وینو ژړوینه

زړهٔ مې د استا خبرو تورکړ

لکه د ژمي دود چې تورکړي د ښوالونه

زړهٔ مې د استا خبرې غواړي

لکه للمي غنم چې غواړي بارانونه

زړهٔ مې د استا پهٔ لورې کوږ دی

لکه جنډه د شهيدانو کږه وينه

زړهٔ مې د استا پهٔ لورې کوږ دی

زانګو خونهٔ ده چې يې پرې کړم تنابونه

زړهٔ مې د اورکباب خانه ده

لهٔ خولې مې خېژي د پخوغوښو دودونه

زړهٔ مې د پانې پهٔ شان رېږدې

يا زلزله ده يا نژدې دي ببلتونونه

زړهٔ مې د تورو وينو ډک دی

کهٔ غرغړې کړم اوس بهٔ رنګ کړم د ښوالونه

زړهٔ مې د تورو وينو ډنډ دی

دا مستانه نجونې منګي ترې ډکوينه

زړهٔ مې د تورو وينو ډنډ دی

شيرينه ياره ورته وباسه ورخونه

زړهٔ مې د توپ پهٔ ګولۍ نهٔ چوي

داستا يوې خبرې درې ورې کنه
زړۀ مې دچين انځورخانه ده
پۀ کې انځوردي دخوارۀ اشناغمونه
زړۀ مې دد بګ پۀ شان جوشېږي
کترې دزړۀ مې پۀ کې خوري دغم جوشونه
زړۀ مې دسترګولۀ خواوسو
مخ چې دې ګورم تورلوګې مې لۀ خولې ځينه
زړۀ مې لۀ سترګوګيله من دى
چې ديدن تۀ کړې غم پرماباندې راځينه
زړۀ مې دسروسکروتوډک دى
پۀ اوسپلي مې دمرۍ وسوۀ رګونه
زړۀ مې دشنونکريزوپاڼه
پۀ ظاهرشنه پۀ باطن سره پۀ وينويمه
زړۀ مې دغم درياب کې ډوب دى
چې ديارغم شي راپۀ ياد پۀ ژړاشمه
زړۀ مې دغم بازارته يوور
بېلتانۀ واخيست اوبزان يې ګرځوينه
زړۀ مې دغم درياب لاهوکړ
اوس بۀ يې دفکرپۀ چړونولتومه

زړهٔ مې دهجر توري غوڅ کړ
ملهم د یار دوصل نهٔ شته وبهٔ مرمه
زړهٔ مې دغم ځانګو کې پروت دی
ټالی د فکرو ر کوم ژړ ا ر ا ځینه
زړهٔ مې لهٔ غمه ځکه ژاړي
کوڅې خالي شوې د اشنالهٔ قدمونه
زړهٔ مې د مینې خزانه ده
پهٔ کې پراتهٔ وي دخوارهٔ جانان غمونه
زړهٔ مې دننه ټول جلبل دی
عالمه ماته ناخوا ی خندلي دینه
زړهٔ مې دننه راته ژاړي
بدنامې سترګې دي چې اوښکې تویوینه
زړهٔ مې دننه بهرنهٔ دی
چې درښکاره یې کړم بې شماره پرهارونه
زړهٔ مې دوینو چینې وکړې
زهٔ یې ورخونه لړمانهٔ ته سمومه
زړهٔ مې دوینو کټوری دی
دخپل جانان دتلو خاورې پرې مینځمه
زړهٔ مې دوینو چینې وکړې

پاس پهٔ پردويې شنې مرغۍ ولاړې دينه
زړهٔ مې دوينو ځنې ډنډ شو
اوس يې رګونه فوارې شولې مينه
زړهٔ مې دهجرنشترغوڅ کړ
ديار دوصل مرهم زدم پرې روغ بهٔ شمه
زړهٔ مې ديار ميني کولبه کړ
دبېلتانهٔ دهقان پرې وکرل غمونه
زړهٔ مې زخمي وينې ترې ځاڅي
اشنادستر ګوپهٔ خنجروهلې يمه
زړهٔ مې سلادی ځواب دادی
چې بې لهٔ تانه بل اشنا نهٔ قبلوينه
زړهٔ مې سندوخ دپاړوګردی
داستاغمونه ښاماران پهٔ کې ساتمه
زړهٔ مې سندوخ دی دفولادو
داشنا مينه خزانه پهٔ کې ساتمه
زړهٔ مې سندوخ دګرافون دی
دغم رکاټ پې سپروم ژړاراځينه
زړهٔ مې سوری وينې ترې ځاڅي
دبېلتانهٔ کچکول ترې لاندې ګرځومه

زړۀ مې سوری وینې ترې څاڅي
جانانه کېږده پرې دوصل ملهمونه
زړۀ مې سوری وینې ترې څاڅي
بېلتون لۀ قهره پۀ زړګي ويشتلی يمه
زړۀ مې شيشه ده درزېږ وکړ
ستا دلباس پۀ خندانۀ اخلي کوشيرونه
زړۀ مې غمونه لاندې باسي
لکه اوربل چې لاندې باسي شنۀ خالونه
زړۀ مې کباب اه مې لوګی دی
شاهد پۀ دې خوناب ددوو سترګو لرمه
زړۀ مې فقير سترګې کچکول دي
پۀ کوروګرځم ديدن فقر کومه
زړۀ مې کباب سينه مې دېګ دی
اندېښنې اورلرګي دغم پسې کوينه
زړۀ مې کت کت ستا پۀ فرقت شو
کم مې طاقت شو چې لۀ تا نه جدا شومه
زړۀ مې کترې کترې شو خدايه
هره کتره نارې وهي چې جدا شومه
زړۀ مې کتره پۀ انګارپروت دی

بېلتون بوزي د بنو ورته وهينه
زړۀ مې ققنس تن مې قفس دی
لکه بلبل پۀ سپين سهرنارې وهينه
زړۀ مې لۀ تانه نۀ صبرېږي
کۀ د پولادو زولنې وروا چومه
زړۀ مې ماشوم شوراته ژاړي
زانګو دغم ورته ترم دی زنګومه
زړۀ مې مرغۍ شوه پۀ هوا شوه
د مانه غواړي دا شنا د ملک سيلونه
زړۀ مې ماشوم شوراته ژاړي
لۀ مانه غواړي د سرکوشونډو سرونه
زړۀ مې مين دی نۀ صبرېږي
د شاليلا زلفې هردم رايادوينه
زړۀ مې مين پۀ ښکي ګل دی
خدای د بلبل لۀ ګل نه نۀ جدا کوينه
زړۀ مې ناسور پۀ وينو سور دی
پۀ کلي ګرځم د ناسوردارو کومه
زړۀ مې ناسوردی لويه خدايه
د دم دوا سړی مې نۀ شته وبۀ مرمه

زړهٔ مې ناسوړېهٔ وينو سوردی
سرپوښ تنوردی غرغړې وهي دننه
زړهٔ مې ناسوړېهٔ وينو سوردی
دازېړګلان مې لهٔ غوسې ټومبلي دينه
زړهٔ مې نادان زرګرکوشيرکړ
داوسيلي سره يې خېژي کوشيرونه
زړهٔ مې ناري سورې سورې کړي
زهٔ دجانان لهٔ قبره اوس راغلی يمه
زړهٔ مې نري درزونه وکړهٔ
لکه دېوال چې زلزله وخوځوينه
زړهٔ مې نری نری فريادکا
لکهٔ نری اوبهٔ پهٔ چړکافريادونه
زړهٔ مې ن بيا پرپرغورځي
ګمان مې دادی چې بېلتون حمله کوينه
زړهٔ مې هجران کتره کتره کړ
دبېلتانهٔ قصاب کباب ترې جوړوينه
زړهٔ مې هغې سپوږمۍ مين کړ
چې داسمان ستوري سلام ورته کوينه
زړهٔ مې هغهٔ چې تايووړ

خالي پنجرې د ګوګل ځکه ګرزومه
زړهٔ مې هغه ؤچې تا يووړ
غاټول خونهٔ دی چې بهٔ بيانيسي ګلونه
زړهٔ مې هلته دی چې تهٔ يې
نصيب قسمت مې لهٔ تا لرې ګرځوينه
زړهٔ مې هلک شوراته ژاړي
رايادوي د تورو خاورو ښرونه
زړهٔ مې هلک شوراته ژاړي
لهٔ مانه غواړي د پردو باغچو ګلونه
زړهٔ يې يتيم يسير شو خدايه
اوس يې د تن پهٔ ګهواره کې ګرځومه
زړهٔ يې پهٔ دالهٔ مانه يووړ
چې مخ ښکاره کړي ستر ګي پټې شي مينه
زکات د خولې بهٔ زهٔ ورنهٔ کړم
پر قلندرو نجون نهٔ شته زکاتونه
زلفې اوربل دې توره شپه وه
سپين مخ دې لمرپهٔ کې راوخوت سباشونه
زلفې اوږدې پر برېږدم کهٔ لنډې
دومره بهٔ يې پر برېږدم چې اشنا پرې زنګومه

زلفې به ستا د تورې بند کړم
کۀ پۀ غلیم باندې دې و کړۀ ګوزارونه
زلفې پرمخ کړې، کړې، کړې
خالقه خیر چې د چاڼزړۀ پرې بندوینه
زلفې دې بیا پرمخ خورې کړې
رضا دې داده ورکه وې مې لۀ وطنه
زلفې دې تاو پرمخ پرتې دی
لکه وربځې د پسرلي پر اسمانونه
زلفې دې تاو کړې کټ دې ورکړ
چې پۀ سپین مخ یې زنګوې رنځور دې کړمه
زلفې دې تورې پۀ مخ زانګي
ما پر مالیار کړه چې ګلان وشرموینه
زلفې دې دام خال دې دانه ده
زۀ خوار مرغۀ پۀ دام د زلفو بندي شومه
زلفې دې ول ول پۀ مخ زانګي
تورښاماران دی خلک یې ډېرخوړلي دینه
زلفې مې تاو کړې کږې نۀ شوې
د مسافرا شنا پۀ سروو بربډمه
زلفې دې دام خال دې دانه ده

مکېزکاتۀ دې دزړونونښکارکوینه
زلفې لندې ګودرته راغله
لکه بلبله چې باران وهلې وینه
زلفې مې مه پرېکوه مورې
پۀ سر پرېکړو ونونۀ کېنې بازونه
زلفې مې مه غوځوه مورې
مارچې لنډې شي دوه سره خوړل کوینه
زلفې مې ټولې ترتاځاردې
کۀ ته مېړۀ یې ځنې وتړه بارونه
زلفې مې یارکړې وربې کړې
باد پرې بد نام شو چې کاږۀ یې کړۀ سرونه
زلفې ول ول که سترګې تورې
دمسافرلالې دې غږدی رابۀ شینه
زلفې وهه پرمنځ یې پرې که
مار چې لنډې شي دوه سره خولې لګوینه
زلمی ولاړتورې ترملادی
غزاته ځي پرخپل وطن سرورکوینه
زماارمان وتلی نۀ دی
لاسونه جګ کړه غبږته بیا راشه مینه

زما اشنا ته سلام وایه
ستا لهٔ جفا بهٔ ارماني وګورته ځمه
زما اشنا چېرته ولاړ دی
سارهٔ سارهٔ او سېلی کړي بادېې راوړینه
زما اشنا ډېر ښایسته دی
لکه مشال د نیمې شپې رڼا کوینه
زما اشنا درته ولاړ دی
باغوانه ورکه چې سور ګل ماله رواړینه
زما اشنا خو تور بورا دی
د ګل پهٔ شان پرماوزر راخپروینه
زما اشنا ګل د ریحان دی
د مینې بوی یې نسیم ما ته راوړینه
زړهٔ مې هوا وخوړو خدایه
لکه هیلۍ چې لهٔ ډنډ پورته کړي ځانګونه
زلمو چړو ته موټې ورکړل
سبا غزا د ملندرۍ ته بهٔ ورځینه
زما اشنا ګل د ګلاب دی
خزان یې مه کړې الهي تازه ګلونه
زما اشنا لهٔ موره یو دی

چېرته چې يو دی زۀ دعا ورته کومه
زما اشنا ګل دلمردی
سهار ما ښام ما پسې مخ ګرځوينه
زما شنا ګل دنرګس دی
دامې هوس دی چې يې ښکل کړم قدمونه
زما اشنا ګل دنرګس دی
زۀ دبورا پۀ شان سينه پۀ سرړومه
زما او ستا پټه ياري وه
پۀ شنۀ بادرنګ دې وويشتم رسوادې کړمه
زما او ستا ترمنځ شول غرونه
سپينې سپوږمۍ ته سلام کړه سلام بۀ کړمه
زما او ستا ترمنځ شول غرونه
الله پا چاته سوال کوه سوال بۀ کومه
زما او ستا چې پرې ناستی ؤ
پۀ هغه ځای بېلتانۀ ګل کرلي دينه
زما او ستا چې پري ناستی ؤ
پۀ هغه ځای دې مولا شنۀ کاندي ګلونه
زما او ستا چې پرې وعده وه
بېګا پۀ هغه ځای کې اور ولګېدنه

زما اوستا دیدن دې وشي
بیا دې قیامت شي چې موقوف شي دیدنونه
زما اوستا غرونه ترمنځ شول
سپینه سپوږمۍ شه چې شغلې دې وینمه
زما اوستا لېونۍ مینه
ترمنځ مو چاو کړل د صبر تاویزونه
زما اوستا یاري به نۀ شي
لالیه تۀ یې خانتمه زۀ کبرجنه
زما اوستا یاري دروغ وه
چې تۀ پۀ ګوریې زۀ پۀ کورشپې تېرومه
زما اوستا یاري دګل وه
بېلتون چینجی شو دونې منځ یې وواهنه
زما اوستا یاري محال ده
زړګی دې ولې کړوې دځان دښمنه
زما اوستا دیارۍ څۀ ؤ
خدای بۀ مې زړۀ لۀ اندېښنو نه خلاصوینه
زما اوستا یاري پۀ څۀ شوه
دشین غمې ګوتې زارۍ درته کومه
زما اوستا روغه یې ونۀ کړه

پۀ ناقابل ریباردې وشي پساتونه
زما اوستادیدن دې وشي
نوردې قیامت شي چې ونۀ شي دیدنونه
زما بنګړی بۀ دې پۀ کارشي
کۀ کټ خطاکړې زۀ بۀ یې ورو ورو شرنګومه
زما پۀ تا پسې زړۀ چاود ؤ
کۀ مې د شپې پۀ خوب کې نۀ لیدی مینه
زما بۀ تۀ یاد یږې یاره
کۀ د جنت پۀ ښو ماڼو کې ناسته یمه
زما بۀ تۀ یاد یږې یاره
کۀ د جنت پۀ منارو ولاړه یمه
زما بۀ ښنګه رنګ تازه شي
چې اند ښښنې مې اغوستې خوراک غمونه
زما بۀ ښنګه رنګ تازه شي
پۀ زړۀ ښورنګ د غنم رنګ دلاسه یمه
زما بۀ هلته ارمان درشي
چې پرماواوړې تورې خاورې انبارونه
زما بۀ هلته ارمان درشي
چې کټ مې واخلې هدیرې لره مې وړینه

زما بۀ هلته ارمان درشي
چې سور پالنګ درته يوازې پاتې شينه
زما پر باغ چې خزان راغی
کۀ ستا پۀ باغ کې زېړ ګلان وي څۀ يې کړمه
زما پر سروزرو قبول دي
کۀ دا شنالۀ لاسه خاورې ايرې وينه
زما پر سپينه خولګۍ مړدی
عالمه مه يې لمبوئ شهيد بۀ وينه
زما پر سردې خاورې واوړي
چې جانان نۀ شته ژوندۍ څله ناسته يمه
زما پر شناخته باندې توکئ
کۀ مې د شالۀ خوا ګولۍ خوړلې وينه
زما پر مخ دې پرهار جوړ کړ
ما بنام بۀ څۀ ځواب زۀ مور ته ورکومه
زما پرې هسې نوم بدنام شو
د نجلۍ سرې شونډې پېزوان خوړلې دينه
زما پۀ برخه دې کمکی کړ
زۀ چې کمکی يار لويوم زړه بۀ شمه
زما پۀ برخه دې ګلاب کړ

مدام يې غم درژېد وراسره وينه
زما پۀ برخه کې ژړاده
ژاړم کۀ نۀژاړم پرمخ مې اوښکې ځينه
زما پۀ برخه کې پرته وه
زۀ دازل دعوه دچاسره کومه
زما پۀ برخه مينتوب شوځکه بېلتون ته دود سته سلام کومه
زما پۀ پت کې ژوند پۀ کاردی
بې پته ژوند د تخت پۀ سرنۀ قبلومه
زما پۀ تا پسې رنګ زېړ شو
کم عقله مور مې دزېړي دواکوينه
زما پۀ تشه خندا مسته
کۀ خولۀ مې درکړه لېونی بۀ شې مينه
زما پۀ تومت جانان بتدي شو
پېزوان بۀ ګروکړم يار بۀ خلاص لۀ غمه کړمه
زما پۀ ټول مجلس سلام دی
دامې کلام دی چې خام د ټولويمه
زما پۀ خپل جانان باوردی
کۀ تردکنه پورې لاړشي رابۀ شينه
زما پرخپل جانان باوردی

کۀ د نیزو پر څوکه لا روي را بۀ شینه
زما پۀ خپل اشنا باور دی
کۀ پۀ شپېلو بلی ورېږي را بۀ شینه
زما پۀ خیل وطن کې خوښ یې
نصیب تقدیر دې را نه بل وطن ته وړینه
زما پۀ خپله زړۀ خفه ده
ما ته پۀ لویه لار کې مه ژاړه مینه
زما پۀ خدای باندې قسم دی
ستا جدایي مې خوشالی ته نۀ پرېږدینه
زما پۀ خوښې سلام وایه
خلک اختر کړي زۀ ژاړۀ پیوند ومه
زما پۀ حال خبره خدایه
یا مې یار دوست کړې یا مې صبر کړې مینه
زما پۀ حال مولا خبر دی
د انور عالم بۀ پرځان ولې خبر ومه
زما پۀ دې وطن کې څۀ دي
ملا لو ستر ګو د اشنا بند کړی یمه
زما پۀ رنځ جانان خبر دی
دارو خونۀ کړي تش مې نۀ کوي پو ښتنه

زما پهٔ زړهٔ دې بانهٔ خنبن کړهٔ
رب دې پهٔ داسې یارۍ اورولګوینه
زما پهٔ زړهٔ دې بانهٔ خنبن کړهٔ
سترګې پهٔ وروپورته کوه نامردې مرمه
زما پهٔ زړهٔ کې اوربلېږي
کهٔ څوک تودېږې زما خواته دې راځینه
زما پهٔ زړهٔ کې اوربلېږي
ځکه تودې جامې لهٔ ځانه غورځومه
زما پ هٔزړهٔ کې تاته سوال دی
ستالهٔ ملالوسترګوډېر وشرمېدمه
زما پهٔ زړهٔ کې هسې داغ دی
لکه لاله ګل چې توړداغ پهٔ زړهٔ لرینه
زما پهٔ زړهٔ کې درتهډېر دي
کهٔ مولا راوړي دفاني دنیا وارونه
زما پهٔ زړهٔ کې داسې غم دی
نهٔ یې ایستی شم نهٔ یې حال ویلی شمه
زما پهٔ زړهٔ یې داغ جوړکړی
پهٔ نباتي شونډودې خدای کېږده داغونه
زما سالوکې ګرمي کېږي

پۀ زړۀ ظالم بېلتون م پاورته کشوينه
زما پۀ سترګو کې دې ګل شي
چې بې لۀ تا پۀ باغ کې ګل وينم مينه
زما پۀ سر بۀ دې شهيد کړي
د مينې ياره دځان مه اخله ازارونه
زما پۀ سرتوره تېکريه
وربۀ دې نۀ کړم دخانانو پۀ شالونه
زما پۀ غاړه دې شړۍ وي
د استا کميس بۀ د بخملو جوړومه
زما پۀ غم الله رضا دی
ځکه م بزړۀ لۀ غمه نه خالي کوينه
زما پۀ غم خوشالي مه کړه
سبا بۀ ستا پۀ کورغوغا دغمګي وينه
زما پۀ غم يار خوشالېږي
اوس بۀ لۀ اوښکو سترګې ډکې ګرزومه
زما پۀ کاغذ ک ښنظروکړه
پۀ غم اخته يم خطايي بۀ پۀ کې وينه
زما پۀ ياری اعتبارو کړه
لۀ کندهاره بۀ دې ښکته تېره کړمه

زما تر یاره ښایسته نۀ یې
ګلابه څله پۀ چرګ بانګ سپړې ګلونه
زما توري سترګې اوښکو یوړې
ستا پرد اشکو ښتو پر ېو تل ګردونه
زما ټولګی دښاپېرو ده
دښلپېرو ټولګی بۀ کله کله وینه
زما جانان پۀ زړۀ ظالم دی
نۀ بۀ ګیل هکړم نۀ بۀ زړۀ ترې بدومه
زما جانان چې ځان سینګارکړي
دجنت حورې یې دیدن لره راځینه
زما جانان دانځر ګل دی
دانځر ګل بۀ چا لیدلی و یچې وینه
زما جانان سنګ پارس دی
کۀ لاس پروا چوم دسروزرو بۀ شمه
زمجانان لرې دی تللی
نۀ یې لیدی شم نۀ مې زړۀ صبر کوینه
زما جانان ګل دغاټول دی
زړۀ مې پرې ټول دی دچا څۀ پروالرمه
زما جانان ګل دانار دی

عمريې خواردی پۀ زړګي خوري نشترونه
زما جانان ګل د رابېل دی
پۀ لاس کې بېل دی سرۀ ګلان او بۀ کوینه
زما جانان ګل د زمبق دی
زما سبق دی هر سهاریې زو تو مه
زما جانان ګل د کوکنار دی
نصیب م پخوار دی چې مې لرې ګرځوینه
زما جانان ګل د ریحان دی
پاس پۀ اسمان یې ملایکې بو یو ینه
زما جانان ګل د انار دی
ډېر راته قار د ی چې خولګۍ نۀ ورکومه
زما جانان ګل د شستي دی
پۀ ه رلښتي یې وا ړې نجونې بو یو ینه
زما جانان ګل د سوسن دی
ډېر ارمانجن د یځان تر ېنۀ جدا کو مه
زما جانان ګ لد غاټول دی
عالم پرې ټو ل دی تو رو خاو رو ته یې وړینه
زما جانان ګ لد ریحان دی
پۀ ماډېر ګران دی پۀ سینه یې ګرځومه

زما جانان ګل د پلوسی
چې لو څې پوځې دیارۍ راته کوینه
زما جانان ملک الموت دی
هره ګړۍ م بۀ اروي چې روح د ې وړمه
زما جانان دګلو ونه
لۀ یوې ځانګې یې ځولۍ ګلونه وړمه
زما جانان دې راسره وي
کۀ روزي نۀ و یت شدیدن ب ۀسره کړونه
زما جانان دې راسره وي
پۀ مادې تیرې دمېرو راچلوینه
زما جانانه مسافره
دخدای دهېره شم چې تابۀ هېرومه
زما جانانه شاه دهقانه
پۀ هره پوله دې لونګ کرلي دینه
زما جانانه لېونیه
تۀ لېونی وې زۀ دې هم لېونۍ کړمه
زما جانانه ژوندی اوسې
زۀ دمستۍ ته پونه ستا پۀ سروهمه
زما جانانه بې لۀ تانه

پهٔ ماودانه دنیاورانه شوه مینه
زماجانانه مسافرشوې
تهٔ چې راځې باغ بهٔ خزان وهلی وینه
زماجانانه نېشه داره
زهٔ مزه داره خولګۍ تاته درکومه
زماچارګل بهٔ دې ټوټې کړي
مادچارګل پهٔ پروډ بروژلي دینه
زماخوارهٔ جانان ته وایه
ماکله کله یادوې کهٔ هېردې کړمه
زماخولګۍ دهغه چاده
چې بې ننګ ی، ته یې طلاق ورکړی وینه
زماخواري معلومه نهٔ شوه
بیابهٔ دزړهٔ پهٔ کټرونهٔ ساتم بازونه
زماخوارهٔ جانان ته وایه
چې مې دزړهٔ کاروان ترڅای ورسوینه
زماځخه بدپردنیانهٔ شته
مرګیه راشه چې پرده مې پټه شینه
زماځخه پټ مکې ته لاړې
قبول دې مه شه دالله پهٔ درسوالونه

زما څخه ولې مروریې
ما شو مه یاره پۀ پردي اختیار کې یمه
زما داوړی زړګی راکړه
پۀ نادانۍ مې درکاوۀ نۀ پوهېدمه
زما داوښکو علاج وکړه
زما پۀ څیري ګرېوان ځي ناسور بۀ شینه
زما دبخت پیاله چپه شوه
چې پخلا کړې لیلا خولۀ نۀ راکوینه
زما دتوراوربل جانانه
زۀ بې لۀ تا عمر پۀ غم کې تېرومه
زما دجانان دیدن لپاره
داټولې پېغلې سلامي ولاړې دینه
زما دحاله امان غواړه
خوشالي لاړه دغم څټې چلومه
زما لۀ حاله خبر مه شې
پۀ خپلو وینو کې مې زړۀ غوټې وهینه
زما دخان بابا نوکره
دتمباکو پۀ ځای لونګ بۀ درکومه
زما دخپلې خوښې یاره

راشه چې خط د کل اختیار درکړم مینه
زما د داړو ستر ګو توره
په هوا ګیرو چنوراو ره دید نو نه
زما د رنځ طبیب به څوک وي
د زړګي پټ مرض به چا ته ښکاره کړمه
زما د رنځ طبیبه راشه
علاج مې وکړه چې دې پروت لۀ غمه یمه
زما د رنځ حال را معلوم که
طبیب م پاوس سامان تړ یپۀ سفرځینه
زما د زړۀ ارمان به سر شي
کۀ شهادت مې د جانان لۀ لاسه وینه
زما د زړۀ ارامه راشه
پر تمامي جهان اختر پر ما غمو نه
زما د زړۀ بازاره وران شې
پۀ تاکې بله سودا نۀ شته بې لۀ غمه
زما د زړۀ بازار دې لوټ کړ
پۀ دې لوټ کړي بازار بیا راشه مینه
زما د زړۀ پر تخته لیک شو
چې بیا دې نوم پۀ بې سدۍ خولې ته راځینه

زمادزړهٔ پردې دې پرې کړې
تاته خنجرپهٔ لاس کې چادرکړی ونه
زمادزړهٔ پرسراغزی شوې
دفکرستن درپسې وړم نهٔ دې مومه
زمادزړهٔ پرهارناسورشو
شربت د سروشونډو راولېږه مینه
زمادزړهٔ پهٔ بازارجنګ دی
زړګی مې ربړدي وارخطاولاړه یمه
زمادزړهٔ پهٔ تختهٔ لیکه
هېربهٔ مې نهٔ شې کهٔ مې خاورې شي هډونه
زمادزړهٔ پهٔ سرشوې جمع
میرات شي غمه دسیالي دې ویستمه
زمادزړهٔ پهٔ سرزرغونه
میاشتې کلونه دې پهٔ طمع تېرومه
زمادزړهٔ پهٔ کلا جنګ ؤ
ستاد سینې مرچل ته غلی کېناستمه
زما دزړهٔ پهٔ شان لهٔ یاره
خمارو سترګو دې غمجن پهٔ دنیا کړمه
زمادزړهٔ تسلي وکه

پس لۀ هغو مې پۀ وجود وهه لاسونه
زمادزړۀ توتي خفه دی
وزر رانغاړي چې بۀ کوم وطن ته ځینه
زمادزړۀ توتي دې مړ کۀ
زۀ بۀ دا شنه پنجره چېرته ګرځومه
زما دزړۀ توتي کم عقله
چې پۀ کچه ځانګو کېنې ماتې بۀ شینه
زمادزړۀ توتي خوشال دی
دواړه وزرونه وازوي وطن ته ځینه
زمادزړۀ توتي دروالوت
تۀ یې قفس کې د سین ښساته مینه
زمادزړۀ خبره خدایه
جانان زما پۀ زړۀ خبرکه چې راځینه
زمادزړۀ دبڼ ګلابه
پرون تازه وې نن دې مړاوي دي ګلونه
زمادزړۀ دسر ګلابه
رب ب دې دغم لۀ باد هوساته مینه
زمادزړۀ دسر ګلابه
مدام دې غم درژېدو راسره وینه

زمادزړهٔ دسر اغزیه
نهٔ دې و ښستی شم نهٔ دې حال ویلی شمه
زمدزړهٔ دکومې یاره
پهٔ برخه ستا یم نور دې خاورې شي مینه
زمادزړهٔ روانې وینې
دجانان سترګودرنه واخستل رنګونه
زمادزړهٔ زخم ناسور دی
ملهم دسروشونډوراولېږه مینه
زمادزړهٔ زخمونه ګوره
شمېرای یې نهٔ شي پهٔ دفتر کې قلمونه
زما دزړهٔ صبرېدهٔ ګران دي
اشنا چې داسې خوی کوي صبربهٔ شینه
زمادزړهٔ صدف دې مات کړ
زهٔ بهٔ ترسترګو مرغلرې تویومه
زما دزړهٔ طاقت ته ګوره
چې څونه اخلي رالېږه دومره غمونه
زما دزړهٔ ګلاب د یمړاوی
بیا پسرلی کړې چې شنهٔ شي سرهٔ ګلونه
زمادزړهٔ ګلابه راشه

پهٔ نورو خلکو پسرلی پهٔ ماغمونه
زما دزړهٔ نه ماشوم ښهٔ دی
چې پهٔ ژړا شي مور يې تي ته واچوينه
زمادزړهٔ نريه رنځه
نهٔ دې دارو شته نهٔ دې حال ويلی شمه
زمادزړهٔ ويني دې څکلي
ځکه دې شونډې دلعلونورنګ لرينه
زمادزړهٔ نوی مرض دی
چې بې لهٔ مينې نوردارو نهٔ قبلوينه
زمادزلفو ارمانجنه
اوس يې بالښت که پرې کوه دناز خوبونه
زما دزنې دسر خاله
امانت مله خپل اشنا له دې ساتمه
زما دزنې خال د ږرنګ کړ
ماته مې مور پهٔ ډېر کړاووهلی ونه
زمادزنې خال دارودی
کهٔ ته پرې جوړشوې چاته مه وايه حالونه
زمادسترګوتوره څهٔ شوې
پهٔ رڼا ورځ کې دشوکورپهٔ شانې ځمه

زما د ستر ګو څراغ ته یې
چې ته نه یې رڼا ورځ په ما شپه وینه
زما د سوي زړه لمه تاوه
په ځنګل او رو لګېده سوزي ګلونه
زما د ښکلې توري شرپه
د تور دښمن په ملک دې جوړ کړل قبرونه
زما د عار د ته ښېرا شوه
او س به ښېرا درته کوم چې دعا شينه
زما د عشقه بېماري ده
طبيب نادان مې د زېړي دارو کوينه
زما د علم تاوان راکړه
نری نری خندا دې کړه امې دې کړمه
زما د علم تاوان راکړه
چې په سرو شونډو دې خندل امې دې کړمه
زما د علم نصيب نه شته
د غم ساعت دی په سفر به يې تېرومه
زما د علم نصيب نه شته
څوک چې مين شي ځنې پاتې شي علمونه
زما د عمر سره بس دي

ډ کې خېمې راته دغ مولاړې دینه
زما دعمره سره سمه
دجانان غمه پ ۀخنداذې تېرومه
زما دغم نه زکندن دی
اشناته چاوکړل دصبرتاویزونه
زما دغېږې رباب مات شو
اوس بۀ دیار غم پۀ سلګیو تېرومه
زما دګل پۀ شان صورت ؤ
ستادبېلتون پۀ خزان مړاوی شو مینه
زما دګل پۀ شان جانانه
زۀ ب ۀزړګی لۀ تانه څنګه صبرومه
زما دګل پۀ شان جانانه
پۀ ناچارۍ لۀ مانه پاتې شوې مینه
زما دګل پۀ شان جانانه
تۀ رانه لاړې زۀ دې چاته پرېښودمه
زما دګل پۀ شا نجانانه
رب دې دغم لۀ باده وساته مینه
زما دګور مړي یادېږي
ماګورګوتۍ کړې چې قبرونه لټومه

زما دلاس ګوتې د سرو که
چې یار نه بیا پهٔ راستئ د رسره کړمه
زما دلاس ګوتې د سرو که
زهٔ بهٔ دې کورپهٔ سرو منګلو تهٔ لو مه
زما د لبو شربت و څکه
چې تر قیامته پورې مست ګرځې مینه
زما د لندیو وقت تمام شو
ملا را غواړه چې یاسین پرې شروع کینه
زما د لورې لرې ګرځه
سل مې وژلي سل سلګئ راته وهینه
زما دلرې وطن یاره
رنګ مې دې هېر دی پهٔ نامهٔ دې یادو مه
زما دلرې وطن یاره
دیدن د باد پر مخ را پرېږده چې راځینه
زما دلرې یار یاد ېږي
خدایه تهٔ لن ډ کړې داځمکې تنابو نه
زما د مور زړګی کو شیر کړې
نه چې زما پهٔ انتظار تا خو نه شینه
زما د لیلا تندی پراخ دی

د شنو مرو شاباز يې تل پۀ مخ راځينه
زما د مخ ګلونه ټول کړه
ګل قند ترې جوړ که د زړۀ درد لرې کوينه
زما د مخ کودی چې تور دی
ما د هجران پۀ اورنسکور نيولی دينه
زما د مور ځواب بۀ وايې
د سپينې خولې واک مې در کړی دی مينه
زما د مينې اشنائۀ شته
چې پۀ تقسيم راسره وو بښي غمونه
زما د مينې اشنائۀ شته
دوينو ډک زړګی بۀ تورلحد ته وړمه
زما د ننه زړۀ سوری دی
خلک مې کاندي د ظاهر صورت پوښتنه
زما د يار پۀ شان دې رنګ دی
ګالبه ځکه دې پۀ سرکې ګرځومه
زما د يار حجرې له ورشه
چلو د سرو نلی د سپينو جوړوينه
زما د يار سترګې د زړکې
کارۀ بانۀ يې د زړۀ سرسوری کوينه

زما د یار د اسې خندا ده
چې پهٔ خندا يې د زړهٔ غم لرې کومه
زما د يار شونډې خرما دي
خوږې ترې دا دي هره ورځ يې ښکلومه
زما د يار کوکۍ منې دي
رنې رنې د چالاس پهٔ نهٔ پرېږدمه
زما د يار سترګې نرګس دي
چاته پهٔ ترخ دي پهٔ چا کېنج مکېز کوينه
زما د يار د اسې خندا ده
د سلو کالو مرور پخلا کوينه
زما د يار وصال محال دی
زهٔ لېونی د هر محال طمع لرمه
زما د يار د راتلو غږ دی
لکه ريدي پيياله پهٔ لاس ولاړه يمه
زما د يار لهٔ لورې باده
ملهم زما شې چې پهٔ خوږين زړګي دې ږدمه
زما د يار مينه زړه شوه
ډېره خوږه شوه پهٔ مزه يې اوس پوه شومه
زما د يار عمر دې ډېر شي

لکه د ببرې پاڼه اوړی ژمی وینه
زما د یار مثال د ګل دی
زۀ پۀ خندا د ګل ویسا کله کومه
زما دې بیا تمه پیدا کړه
چې پۀ کارۀ مغزي دې مخ راواړونه
زما دې بیا تمه پیدا کړه
چې پۀ سرکوشونډو دې وخندل مینه
زما دې بیا تمه پیدا کړه
چې پۀ کارۀ اوربل دې ببرته وکاتنه
زما دې ټول عمر پۀ دار کړ
لکه هوسۍ پۀ مېرتون شپې تېرومه
زما دې د تش دیدن بس نۀ دی
خولګۍ دې هم راله ساته چې یار دې یمه
زما دې پېۍ وریژې ګنډ پرشي
زما جانان بۀ د دوهۍ ککوړی خورینه
زما دې څۀ نصیب کړ خدایه
چې پخلا کړې لیلا خولۀ نۀ راکوینه
زما دې څۀ نصیب کړ خدایه
پۀ ظاهر روغ پۀ زړۀ رنځور له غمه یمه

زما دې څۀ نصيب کړ خدايه
چې د دياب پۀ غاړې ځم لۀ تندې مرمه
زما دې څۀ نصيب کړ خدايه
نۀ مې ديدن شي نۀ يې د غمه خلاصه شومه
زما دې څۀ نصيب کړ خدايه
ګل مې کرلي مارکونډۍ ترې ټولومه
زما دې څۀ نصيب کړ خدايه
عالم خندا کړي زما اوښکې پۀ مخ ځينه
زما دې څۀ نصيب کړ خدايه
اور مې سېځي اوبۀ مې لا مخ ښکته وړينه
زما دې څۀ نصيب کړ خدايه
چې لاس پۀ زېړو ګلو ږدم اغزي پرې ځينه
زما دې څۀ نصيب کړ خدايه
يو مسافر شوم بل د ياره جلا شومه
زما دې څۀ نصيب کړ خدايه
چې پۀ جوړ ېږم هغه سترګې نۀ وينمه
زما دې څۀ نصيب کړ خدايه
د سين پۀ غاړه غاړه ځم لۀ تندې مرمه
زما دې څۀ نصيب کړ خدايه

چې لعل ګوهر مې پۀ کودۍ نۀ چلېد نه
زمادې څۀ نصيب کړ خدايه
همزولې ګل شوې زۀ غوټۍ ولاړه يمه
زمادې څۀ نصيب کړ خدايه
لکه هوسۍ پۀ مېړتون شپې تېرومه
زمادې څۀ وکړ چې ولاړې
ځان دې پۀ خپله بې ديدنه کړمينه
زمادې څۀ وکړ چې لاړې
نرۍ نرۍ زړګۍ بۀ ستا را پسې چوينه
زمادې ځای پربرتيرا کړ
تۀ پۀ خيبر کې ښوروې سپين مړوندونه
زمادې دوې سترګې څلورکړې
تۀ پرېښودای نۀ شې دنورو مجلسونه
زمادې زړۀ ټوټې ټوټې کړ
نۀ دې خولۀ راکړه نۀ دې وخندل پۀ مينه
زمادې رنګ دزردالو کړ
تۀ دغاټول ترګل تازه ګرځې مينه
زمادې رنګ لکه نارنج کړ
تۀ دګلاب پۀ شان تازه ګرځې مينه

زمادې زړۀ قلم قلم کړ

رب دې پۀ داسې يارۍ اورولګوينه

زمادې زړۀ سراسر خوږين کړ

تاته دبنګوپيالې چادرکړي دينه

زمادې زړۀ ذرې ذرې کړ

ذرې ذرې شې چې دې بادراپسې وړينه

زمادې زړۀ ذرې ذرې کړ

تاله پۀ خولۀ کې اماس چادرکړي دينه

زمادې زړۀ ټوټې ټوټې کړ

مادې خدای خواره کړي چې تاسې کره تلمه

زمادې ژبه کړې خدای وچه

چې بې لۀ تازۀ دبل صفت کومه

زمادې ستاپۀ سرسوګندوي

چې بې لۀ تانه شپې پۀ اورکې تېرومه

زمادې ستاپۀ سرقسم وي

دبېلتون عمرستاپۀ يادوتېرومه

زمادې سرپۀ کاردی ياره

دنيادې دروزه شه چې اورپرې لګومه

زمادسرومال تالا شي

د جانان زړۀ دې رانه بد نۀ شي مينه
زما دې سر ستا دې قدم وي
ستا دې قسم وي چې مې هېر نۀ کړې مينه
زما د بسل سمنده زيان شي
رب دې د يار زړګی لۀ ما نۀ بد وينه
زما دې سوي زړۀ ته ګوره
نور مې د حال پوښتنه مه پرېږده مينه
زما دې غاښ پۀ انبور مات شي
کۀ بۀ دې ما زنې ته زور رور کړې مينه
زما کوم کبر سبب کړ
چې نور دې ګل کړۀ زۀ غوټۍ ورژېد مه
زما زړګی ترې نۀ صبرېږي
جانان ته چا کړي د صبر تاويزونه
زما زړګی د شګو ورخ دی
د شګو ورخ چې ټينګوې او بۀ يې وړينه
زما زړګی د رنګرېز خم دی
پۀ کې رنګېږي د ښو پېغلو کميسونه
زما زړګي ته نژدې ياره
مه ځه لۀ ما نه چې رنځور د رپسې يمه

زمازړکی دغم پټی دی
تخم یې نۀ شته اند ښنې پۀ کې کرمه
زمازړکی دغم ډکردی
ښلتون بۀ اس پۀ کې پۀ منډه ځغلوینه
زمازړکی دغم نهال دی
خزان پرې راغی زېړې پاڼې تویوینه
زمازړکی دغمو ډنډ دی
جانانه خلاص یې که نري نري ورخونه
زمازړکی دغمو پل دی
پاس پرې تېرېږي د ښلتون درانۀ بارونه
زمازړکی درپسې وچاود
کۀ ته جفا کړې زۀ وفا درسره کړمه
زمازړکی د تیرا غردی
مدام پرې اوري دغمو نوبارانونه
زمازړکی د شیبرغردی
پۀ نورولمردی پۀ ماو اورې اوروینه
زمازړکی دې پۀ ناروکړ
لکه د چړاو بۀ چې ځي ناري وهینه
زمازړکی ورانه بانډه دی

اشنالۀ ورانو باندۀو غواړي قلنګونه
زما زړګی ورانه باندۀ دی
رب دې پۀ ورانو باندۀو راوله مینه
زما زړګیه پۀ ښادۍ شې
چې مین تۀ شوې روغ دې زۀ لېونی کړمه
زما زړګیه لېونیه
تۀ پۀ روانو کدۀو غواړو دیدنونه
زما زړګیه لېونیه
تۀ دې پردي عالمه غواړې عزتونه
زما زړګیه لېونیه
دلېونۍ او بۀ دې چېرته څکلي دینه
زما ړاندۀ کسي بۀ جوړ شي
کۀ یې د پل لاندې رانجۀ دسترګو کړمه
زما سر تور لېوني یار دی
کۀ شهزادګان پۀ لارې ځي څۀ یې کومه
زما سلام پۀ قلم وایه
چې یار ته کښل کړي د زخمي زړګي حالونه
زما سلام پۀ هغه چا دی
چې د ما ښام ډوډۍ دا و ښکو سره خورینه

زما سوګند په لوی خاوند دی
چې بې له تا نه بل خاوند نه پېژنمه
زما شامته ملامته
په شنو توتیانو کې زاغانو ماته کړمه
زما شیرین جانان را پرېږده
بېلتونه سوال دعاجزۍ درته کومه
زما صنمه پسرلی دی
زه ستا له باغه خالي لاس راغلی یمه
زما صورت به څه ښادي کړي
چې زه ولاړیم په تا خاورې اړوینه
زما قسم دی که به روغ شم
اشنا د سترګو په خنجرو هلی یمه
زما قلمه پرماګرمه
زما د زړه احوال دې ښکل نه کړ چې مرمه
زما کلدلرې روپۍ زانګي
عمر دې ډېر شه یاره ستا دلاسه دینه
زما لالی که بتهیاری دی
جانان دې بت کړي زه به اورورا چومه
زما لالی چې په کې اوسي

هغه وطن دې مولا ګل وګلزار کړینه
زما لهٔ چلمه سره څهٔ وُ
لیلالونګ راکړ چلم کې رورېد یېې کړمه
زما لهٔ دښمنه وېره نهٔ شي
کهٔ یوښتوورپسې بارپهٔ چړووینه
زما لهٔ زړهٔ نه وینې ځاځي
دبېلتانهٔ خنجرپړې اېښي پرهارونه
زما لهٔ زړهٔ نه ماشوم ښهٔ دی
چې پهٔ ژړاشي موریې غېږکې ونیسینه
زما لهٔ سترګو وینې درومي
تهٔ رانه لاړې زهٔ پهٔ غم کې یاتې شومه
زما لهٔ غمه زکندن دی
مخ راڅرګندکړه چې خوشال قبرته ځمه
زما لهٔ غمه زکندن دی
جانان لهٔ چاوکړل دصبرتاویزونه
زما لهٔ هېچاګیله نهٔ شته
ماته خپل بخت کړلي دي خوارغمونه
زما لېورونه زېړګلونه
کهٔ زهٔ ستوره پهٔ کې یم پټه بهٔ یمه

زما مثال د مجاور دی
اشنا زیارت زۀ ورته عمر تېرومه
زما مرض د عاشقۍ دی
دارو دې مه عبثوه طبیبه مرمه
زما مرګی پۀ خپل وطن کړې
چې دلالي لونګۍ کفن پۀ غاړه وړمه
زما مغروره ناپوه یاره
نۀ دې خولۀ را کړه نۀ دې موړ پۀ دیدن شومه
زما مقصود پۀ دنیا تۀ یې
کۀ بې تا نه زۀ پاچا یم څۀ یې کړمه
زمنتکۍ دا ټک پل دی
چې پرې تېر بېږي پښتانۀ کاږۀ کریچونه
زما نصیبه ملامته
ولې دې نۀ کړۀ دازل پۀ ورځ عرضونه
زمانه پاتې یې وطنه
کۀ چنارونه دې لونګ شي څۀ یې کړمه
زمانه بل کم عقل نۀ شته
چې بې وفا جانان ته ناست پۀ تمه یمه
زمانه ولې مرور یې

کم عقله یاره پهٔ پردي اختیار کې یمه
زمانبکي دې درپسې وي
کهٔ تهٔ جفا کړې زهٔ وفا درسره کړمه
زمانبکي دې لېمهٔ سپین کړل
چې مې ملاله خولهٔ پهٔ خپله درکوله
زما دې سرو سترګو ته ګوره
چې د زخمي زړهٔ درته ووایي حالونه
زما وصال دهغه چا دی
چې مخامخ د دښمن مات کړي مرچلونه
زما هردم تا ته سلام دی
دا مې پیغام دی چې قبول کړې سلامونه
زما هغه ساعت یاد پرېي
چې دې کړکۍ شمال پهٔ دواړو لګېدنه
زما هغه ساعت یاد پرېي
چې پهٔ ورو ورو وې راته ګډ سبا بهٔ شونه
زما هغه ساعت یاد پرېې
چې د جانان پهٔ درکې خاورې ایرې شمه
زما هغه ساعت یاد پرېي
چې سر مې پروت ؤ ستا پرسپینو مړوندونه

زما هغه ساعت یاد یږي
چې چیغې ګډې وې وهي ځلمي ډولونه
زما هغه ساعت یاد یږي
چې دې لیلا لږه وعده ډېر قسمونه
زما هغه ځلمی اشنا دی
چې دبر چې څوکه یې لۀ ورایه پرک وهینه
زما هغه غښتلی یار دی
چې پۀ پټکي کې کشمالي شمله وهینه
زما همزولي دې ټول نشت کړل
خوارشې مرګیه ګیله من درڅخه یمه
زما همزولي ملایان شول
زۀ دجانان مینې دعلم ویستمه
زما یاري چې چېرته وشي
بېلتون ظالم چاړۀ پۀ لاس یې پرې کوینه
زمری پیدا زمری بۀ لوی شم
زمری بۀ مړ زمری بۀ تورې خاورې شمه
زمونږ پینځه وخته دعاده
رب دې بری پۀ هر دښمن درکړي مینه
زما یې تش دیدن پۀ کار دی

زوی د خپل پلار دی رب دې روغ ورته لرینه
زموږ د باغ مالیارې وا خله
چې هرسبا دې پهٔ سرو شونډو مړومه
زموږ د ملک ښهٔ پسرلیه
پرسپېرهٔ د ښت دې وپا شل زېړ ګلونه
زموږ مرکه ترسپیده داغ ده
څوک چې د غېږې خوب کوې کورته دې ځینه
زنګون مې نهٔ دی لګولی
د زړهٔ پهٔ سرېې پهٔ ګولیو ویشتمه
زنه دې ماته خولهٔ کې راکړه
خلک توتیانو ته شکرې ورکوینه
زنه منه مې د کابل ده
چې یار مې نهٔ شته مړغونې یې ګنمه
زنه مې مه تړه مورکې
روح مې ایسار دی د جانان پهٔ رخصت ځینه
زوال د کبر را معلوم شو
د جانان مینې تومتې د خلکو کړمه
زورا وقوت مې پهٔ کار نهٔ دی
بخت مې پهٔ کار دی چې مې تل مدد ګاروینه

زورمې پۀ زنه مه کړه یاره
دزنې خال مې لباسي دی وران بۀ شینه
زورمې پۀ مخ ونۀ کړې یاره
مورمې میرۀ ده زمامخ سهي کوینه
زۀ ارمانجن پۀ غم غمجن یم
خفه پۀ ژوند یم چې بې تاېې تېرومه
زۀ اوسپلی کولی نۀ شم
کۀ اوسپلی کړم زړۀ مې خولې لره رائینه
زۀ بۀ ترې ښنګه نۀ ځاربږم
چې اوربۍ زنې ته اړم کړي وخاندینه
زۀ بۀ ترې ولې نۀ ځاربږم
زماپۀ سرېې جېلخانې منلې دینه
زۀ بۀ دفقهې طالب یارکړم
چې زۀ شبهې کړم دی دلیل پرې تېروینه
زۀ بۀ دې مورته زارۍ وکړم
پلاردې ظالم دی دولورتمه کوینه
زۀ بۀ چشمان ورلره فرش کړم
کۀ مې جانان ورباندې کېږدي قدمونه
زۀ بۀ کولال ته زارۍ وکړم

چې مې د یار لپاره وور منګی جوړ کړینه
زۀ بۀ له سرو ماله تېر شم
کۀ شالیلا زما د ژوند ملګرې شینه
زۀ بۀ لۀ هېچا ګیله نۀ کړم
نصیب مې خپل دی هر ساعت مې ژړوینه
زۀ بۀ دا استاد سینې ګل شم
د بېلتانۀ خزان کۀ راغی وچ بۀ شینه
زۀ بۀ د یار تر ستر ګو ځار شم
چې پۀ خمار و سترګو یې زۀ ویشتلی یمه
زۀ بۀ دې سر سلامت غواړم
کۀ سرې ګولۍ لکه باران اورې مینه
زۀ بېګانه وطن ته راغلم
نیازمن ویدۀ بې نیازو ځای نۀ راکاونه
زۀ د بېلتون د جګړې نۀ یم
پخې مرچې ورته پرېږدم پۀ ماتې ځمه
زۀ بېلتانۀ د رنه بندې کړم
ځکه سلام پۀ کاغذونو درلېږمه
زۀ پۀ بورجل یمه ولاړه
توان مې تمام شو یار مې رانغی مینه

زۀ پرهغه جمال مین یم
چې بوراګان یې پۀ باغوکې نۀ مومینه
زۀ پرې لۀ سرو ماله تېریم
پۀ جانان ګرانه ده دتشې خولې پوښتنه
زۀ پۀ بلۍ ورته ولاړه
داکبرجن اشنامې نۀ کوي سیلونه
زۀ پۀ زوال دکبرپوه شوم
اوس مې دغېږې اشنالاس نۀ راکوینه
زۀ پۀ جانان هسې نازېږم
لکه پۀ قام کې مېړنی چې دچاوینه
زۀ پۀ تومت کې داسې خوښ یم
لکه ماهي چې پۀ اوبو خوشاله وینه
زۀ پۀ مین سړي پوهېږم
ددروازې پۀ ځنځیر ځان مشغولوینه
زۀ پۀ مین سړي پوهېږم
رنګ یې زېړی وي سترګې ورو ورو اړوینه
زۀ پۀ نیستۍ ملامت نۀ یم
زۀ خپل جانان ته پۀ خپل سرملامت یمه
زۀ پۀ هغه نګارشیدا یم

چې ملايک يې پۀ اسمان صفت کوينه
زۀ پۀ مرض ناروغه نۀ يم
تاوکړي غشي مې پۀ زړۀ خوړلي دينه
زۀ ترسبا پورې زګيروی کړم
ناترسه ياره تاته خوب څنګه درځينه
زۀ چې پۀ برېتو کې مسکی شوم
بېګامې ستا پۀ سينه کړي دي خوبونه
زۀ چې پيدا شوم پۀ ژړا شوم
پۀ وطن خپورنصيب بۀ چېرته لټومه
زۀ چې تراوسه ژوندی ګرځم
پۀ زړۀ کې کلک دوصال امېد لرمه
زۀ چې دا ستا سترګو ته ګورم
لکه نرګس دفکرتال مې زنګوينه
زۀ چې کتاب پۀ لاس راواخلم
ستا خمارې سترګې مې درس ته نۀ پرېږدينه
زۀ چې ماښام پرځای پرېوځم
بوه شېبه ژړا پۀ تا پسې کومه
زۀ چې ديار پۀ کورتېرېږم
ديدن لپاره پۀ ورو ،ورو ږدم قدمونه

زۀ چې د استا ستر ګو ته ګورم
ما پۀ کې نښې د يارۍ ليدلې دينه
زۀ چې د ازبېږ ښبښلی ګرځم
د بېلتانۀ د باز لۀ پښو خلاص شوی يمه
زۀ چې وږه وم لېونی وم
د سپينې خولې لۀقدره څۀ خبرومه
زۀ خپل نصيب لۀ کوره بوتلم
عالمه ولې مې پرياکړې تومتونه
زۀ خورشتيا پرتا مين يم
د ګودرغاړه اجاره اخله مينه
زۀ خو بۀ بيا منګی ډک نۀ کړم
منګی چې ډک کړم نرۍ ملا مې خوږوينه
زۀ خو دې ځارشم غنم رنګې
زلفانې چنګې ګرځوې رنځوردې کړمه
زۀ خو دې وينمه ولاړيې
د تومت ډکه د روتی نۀ شم مينه
زۀ خو هغه مسته ليلا يم
چې رنګ مې زبږدی لۀ همزولو بېله يمه
زۀ خويې ستا پۀ توربندي کړم

شرنګايې خېژي زولنې راله راوړينه
زۀ د اشنانه ګيله نۀ کړم
غمازه ستالۀ لاسه سر تندی وهمه
زۀ د اشنا د مخ پۀ شمعه
لکه پتنګ غوندې پرې ځان ستي کومه
زۀ د جانان پۀ مينه مست يم
خلک ګمان دلېوني رابانديې کړينه
زۀ د جانان جانان زمادی
د نورو خلکو بۀ زۀ څۀ پروا کومه
زۀ د جانان پۀ ننداره شوم
منګی مې مات شو کور ته تشه غړې وړمه
زۀ د رته ښکته پورته نۀ شوم
ستا د پېزوان شغلې مې سترګې بربېښوينه
زۀ د شيرين اشنا پۀ غېږ کې
لۀ خوشالۍ نه ترسهاره ربړد بړد مه
زۀ د کابل لاروته ګورم
چې مې پرد بس لالی پۀ کومه لار راځينه
زۀ د ګلاب پۀ شان تازه وم
اوس مې د يار پۀ غېږ کې زېړه پاڼه شومه

زۀ دګلاب دګل لپاره
د پاچالوریم دباغوان سلام کومه
زۀ دګلاب دګل نه سره وم
ستا پۀ یارۍ کې لۀ نارنجه زیړه شومه
زۀ دګلاب لۀ ګل تازه وم
ستا پۀ فراق کې ترپلالې زیړه شومه
زۀ دګناه پۀ رنځ رنځوریم
کۀ پاک رسول مې شفاعت کړي روغ بۀ شمه
زۀ دوصال پۀ انتظار کې
لکه نرګس تش جام پۀ لاس کې ګرځومه
زۀ دلیلا باغ کې باغوان یم
پۀ زیړو ګلو کې یې شپې سباکومه
زۀ دوصال پۀ تمه تمه
د یار ببلتون کې شپې اوورځې تېرومه
زۀ دهجران پۀ تبه پروت یم
ما ته دارو دخپل وصال راکړه مینه
زۀ دې پرتو روجامونۀ یم
کړه وړه پرلاره ځې مین دې کړمه
زۀ دې پۀ ګوتو مین نۀ یم

د سور چار ګل رڼا دي زهٔ لېونی کړمه
زهٔ دې دا خپله ځواني وخورم
چې بهٔ دا ستا مینه پربل باندې کومه
زهٔ دې پهٔ دیدن پسې ړنده شوم
لکه حافظ همسا پهٔ لاس کې ګرځومه
زهٔ دې خالونو لېونی کړم
پهٔ لاره ځم لکه قصاب ګوتې شمېرمه
زهٔ دې لهٔ هجره لېونی یم
تا سرفراز پهٔ یو سلام نهٔ کړم مینه
زهٔ سر سرتور پړی پهٔ غاړه
د ناورکړې نجلۍ مخې ته ورځمه
زهٔ قلندر وی در پهٔ در وی
اشنا مې مل وی ګرځېدی پهٔ وطنونه
زهٔ ګل پهٔ لاس درته ولاړه
یا مې ګل واخله یا رخصت را کړه چې ځمه
زهٔ لا کمکی پهٔ زړهٔ زخمي شوم
ږېره مې را غله جوړ مې نهٔ شول پرهارونه
زهٔ مخامخ خلکو ته خاندم
د ننه زړهٔ کې مې د اور سکروټې دینه

زۀ مړاوی ګل پۀ لارکې پروت وم
لیلا پۀ سرومنګلوجګ کړم تازه شومه
زۀ مسافردرته ولاړ یم
ماته خیرات د سپینې خولې راکړه چې ځمه
زهربۀ وخورم ځان بۀ مړکړم
دډېرو خلکو منت کله قبلومه
زهرقاتل لا ځنې ښۀ دي
چې بې لۀ تا شکرترې پۀ لپو خورمه
زهرشربت کړه ماته یې راکړه
زۀ دفراق دژوندون نۀ لرم تابونه
زۀ یې پۀ تورو سپینو نۀ یم
کږه وږه پۀ لاره تله رنځوریې کړمه
زیارت دټول عالم قبول کړي
اول زما چ ډېرد بس راغلی یمه
زیارت کوم نۀ رارسېږي
یا ټکه زۀ یم یا ویدۀ دی زیارتونه
زیارت کوم نۀ رارسېږي
خدایه کۀ ګډ کړې داد کاږوزیارتونه
زیارت وتاته نۀ رسېږي

ترتا د مخه پرې ما ا ښنې لا سو نه
زیارت هغه ته نۀ رسېږي
څوک چې اخلاص ورته پۀ زړۀ کې نۀ لرینه
زبړی مرض مې عشق کې وا خېست
یارمې طبیب دی پۀ وصال یې روغوینه
زخم د زړۀ بۀ هېڅ جوړ نۀ شي
مګر د یار د ناز خندا یې دوا شینه
زړۀ مې پۀ دې خبره ښۀ دی
چې دا ښا یسته بدرنګې ټولې خاوروله ځینه
زړۀ مې پۀ دوه ځایه مین دی
یو پۀ میلن دی بل د زرمل پۀ ډاګونه
زړۀ مې ترګل هم ډېر نازک دی
یار چې خندا ا راته کوي ژړا را ځینه
زړۀ مې د زلفو پۀ دام ګیر شو
نۀ ترې خلاصېږي نۀ ترې رپ وهلی شینه
زما بۀ تل د رته سلام وي
کۀ د رپۀ یاد شوم زما اخله سلامونه
زما پۀ مرګ مه خوشالېږه
مرګې شمال دی هره ونه ښورو ینه

زړهٔ مې ناسوردیارغموکړ
رقیب پرې مالګه دوړوي ماپرې سېزینه
زلفې مې دوه دي ماڅلورکړې
دوه مې دخیال دوه مې دلوی اخترتالونه
زماخواشینی زړګی راکړه
پهٔ ناپوهی مې درکاوهٔ نهٔ پوهېدمه
زمادزړهٔ صبرېدهٔ ګران دي
ناصح ته وایه چې نور نهٔ کوي پندونه
زمادقبرخواته راشه
کهٔ دیدن نهٔ وي راته پورته که لاسونه
زماوصال دهغه چادی
چې پهٔ مېړانه یې میدان ګټلی وینه
زیارته ولې نهٔ رارسې
پښې مې تناکې شوې منګولې لګومه
زېړ مازیګرشغلې شغلې دی
پهٔ زړهٔ ظالمه یاره زهٔ ولاړه یمه
زېړه نتکۍ سورېې چارګل دی
پهٔ کې پراتهٔ دي دسروزرو ځنځیرونه
زمادې زړهٔ راپهٔ کې خوږین کړ

تاته دبنګو پیالې چادرکړي دینه

د ( ږ ) څخه تر ( س ) پوري

ږلی، دیارلۀ لورې راغله
خلک ترې تښتي زۀ یې مخې ته ورځمه
ږلی، دې ستاپۀ فصل راشي
زماجانان لۀ نری، ملاکړي فریادونه

د ( س ) څخه تر ( ش ) پوري

ساتلی باز مې رانه لاړۀ
پۀ مارګله بۀ ورته دام دزلفو ږدمه
سادرکې وه وتلې نۀ وه
څنګه دې زمالۀ یاری، واخستل لاسونه
سارۀ سارۀ اوسېلي راشي
کله چې زورراباندې راوړي ستاغمونه
سامې پۀ لنډه لنډه خېژي
دتوراوربل لړم پۀ زړۀ خوړلې یمه
سامې پۀ لنډه لنډه خېژي

راشه اشنا زما پۀ زړۀ کېږده لاسونه
سامې د يار پۀ غېږ کې خېژي
ځکه مې سلګۍ پۀ خندا خولې ته راځينه
سبا اختر دی خوشالي ده
زۀ بۀ بې ياره خوشالي څۀ کړم مينه
سبا اختر دی يار مې نۀ شته
د ګانې ډکه بۀ د چا غېږې ته ورځمه
سبا بۀ بيا ژاړې مينه
د خپل اشنا پۀ ديدن کاږه ارمانونه
سبا بۀ بيا کډې بار يږي
د د ښت ګلان بۀ دې لمنې بويوينه
سبا بۀ لوړ با موته خېژم
کۀ دې جانان احوال مې باد راوړی وينه
سبا بۀ ټولې باغچې غواړم
کۀ چېرې ګل د يار پۀ خېرزۀ پيدا کړمه
سبا بۀ جنګ پۀ سپين ميدان وي
ځوانان بۀ وينې تويوي جنګ بۀ ګټينه
سبا بۀ څنګه شرمندګي وي
چې بې توښې د خپل پېشوا سلام ته ځمه

سبا بهٔ دا مهال اختروي
زما زړګي ته بهٔ دغم جرګې راځينه
سبا بهٔ دا مهال سفروي
سمنده کېږده پهٔ راستۍ راستۍ ګامونه
سبا بهٔ سختې نندارې وي
سره بهٔ ډولۍ وي هلکان بهٔ پسې ځينه
سبا بهٔ کاڼي بوټي ژاړي
چې يو اشنالهٔ بله غواړي رخصتونه
سبا بهٔ کډې روانېږي
پهٔ سربهٔ پېټي پهٔ زړهٔ وړم دیارغمونه
سبا بهٔ لوړ چنار ته خېژم
بادبهٔ پوښتمه چې يارځهٔ ويلي دينه
سبا بهٔ لويه تماشه وي
چې شاليلا پهٔ ګودرمخ ښکاره کوينه
سبا پرسپين ميدان غزاده
ترخدای مې ځارکړې پښتانهٔ غزا ته ځينه
سبا ته بياد جنګ وعده ده
ځوانان ځنګلې لګوي جنګ له ورځينه
سبا ته بياد جنګ وعده ده

ځلميان به سپينې سينې ږدي په کوندا غونه
سباته بيا د جنګ وعده ده
موزيانو وترل په شنو لتو سرونه
سبا دورځې غرمه راشه
د نيمو شپو دروازه څوک درخلاصوينه
سبا زمونږ کوڅې له راشه
د خيرات غږ کړه چې دې مور په ديدن کړمه
سبا کابل ته روانيږم
تر خدای مې ځار کړې بيا به وکړم ديدنونه
سبا لالمرنۀ وي ختلی
زما جانان سنګرته ځي اتڼ کوينه
سبا مې بيا تکيه په خدای ده
بېګالۀ تانه راضي مند راغلی يمه
سبا مې ستا په تومت وژني
ځای دراستی دي چې منکرنۀ شې مينه
سپوږمۍ پرغرۀ راپورته کيږه
چې مسافر په سين ګډ يږي غرق به شينه
سپوږمۍ پرما دې څۀ احسان دی
د کوکۍ غل يم د بلۍ په سيوري ځمه

سپوږمۍ پرمنځ داسمان راغله
بې یاره خوب نۀ شته کۀ ماله نۀ راځینه
سپوږمۍ پرمنځ داسمان راغله
زۀ خواره ناسته مرور پخلاکومه
سپوږمۍ دخدای روی مې دروړی
ددوو مینو ترمنځ مه وړه مشالونه
سپوږمۍ دغرۀ پ ۀڅوکه راغله
دچتۍ یارلکه شاهین غوټۍ وهینه
سپوږمۍ دې هلته خوشالي کا
چې دوه مین دبابوزوبه پۀ ډاګ کې ځینه
سپوږمۍ سلام بۀ درته وکړم
جانان مې مه رسواکوه ماته راځینه
سپوږمۍ شوه بیاورکه اوروکې
زۀ ځم جانان پسې کۀ توره تیارۀ وینه
سپوږمیه تاته مې سلام دی
زماجانان بۀ تاته ډېر کتلي وینه
سپوږمیه تاوکړۀ سیلونه
درته پرتې دې سپینې خولې توروربلونه
سپوږمیه تاوکړل سیلونه

چتې پرتې دي سپينې خولې زېړ پېزوانونه
سپوږميه سروهه راخېژه
جانان دګلولو کوي ګوتې رېبينه
سپوږميه سروهه رالوېږه
کاروان باشي جانان مې کډې باروينه
سپوږميه سروهه راخېژه
دګړندي جانان مې هيله رابۀ شينه
سپين ګبينی مې پۀ کې بيا موند
چې مې دتوروزلفوبندولټاونه
سپينوپا يخودې لېونی کړم
توروکوخودې لۀ سبقه ويستمه
سپينه خولګۍ دې راته کېږده
کۀ دنيزو پۀ څوکولا روي دربۀ شمه
سپينه دې خولۀ سپين دې ځنځيردی
پلار دې اميردی نجلۍ نۀ دې راکوينه
سپينه خولګۍ زۀ درسره يم
دبې ننګۍ ځلميه خوب دې زنګوينه
سپينه سپوږمۍ مې ده دښمنه
نوی مين يم دکلا سيوري ته ځمه

سپینه سینه مې لاله زار شوه
ځکه د سرو اوښکو باران پرې تل کومه
سپینه مې خولۀ سپین مې ځنځیر دی
چې ورته ګورې لېونی بۀ شې مینه
سپینې خولګۍ له مې راخېژه
بیا بۀ دې کوز کړم د پاولو پۀ کتارونه
سپینې خولګۍ له مې رادرومه
کۀ چا پرې مړ کړې ځوانان تل پۀ تورو مرینه
سپینې خولکۍ له بۀ دردرومم
یا بۀ پرې مړ شم یا بۀ وکړم دیدنونه
سپینې چړې د رپسې راغلې
چې مې لۀ یارۍ توبه ګار نۀ شې مینه
سپینې د پښې سپینې دې بانکې
د پلار پۀ غولې ګرځېدې رنځور دې کړمه
سپینې سپوږمۍ کۀ خولګۍ راکه
پۀ تروږمۍ کې دې نتکۍ خولې ته راځینه
سپینې سپوږمیه بختورې
در ته پرتې سپینې سینې پربامونه
سپینې سینې ته مې راخېژه

کۀ چاپرې مړ کړې ځوانان تل پۀ تورو مرینه
سپینې سپوږمۍ ته شه خولۀ وا خله
چې تورپیکی مې پرمخ کوږ نۀ کړې مینه
سپینې سپوږمۍ ترتاځار بږم
زما جانان بۀ تا ته ډېر کتلي وینه
سپینې سپوږمۍ حال راته وایه
چې مې جانان پروطن څۀ روزګار لرینه
سپینې سپوږمۍ حال راته وایه
چې نن د چا سره مجلس جانان کوینه
سپینې سپوږمیه کبرجنې
سپینې سینې د رته پرتې دي پرېامونه
سپینې سپوږمۍ ته شه خولۀ وا خله
د کلا سیوري ته مې مه بیا یه ډارنه
سپینې کوټې دې کنډوالې شه
زما یاد بږي د کبږدیۍ بنۀشمالونه
سپېدې راوچاودې رڼا شوه
د ګرېوانۀ څخه مې لاس وکاږه مینه
ستا شنايي د شګو ورخ دی
کۀ چنارونه پۀ کې ږدم اوبۀ يې وړینه

ستا اشنايي د پروړې اوردی
تو ده دې نۀ کړم لوغړنه شوم مينه
ستا اشنايي دونو سيوری
کله پۀ ما کله پۀ نورو خلکو وينه
ستا بۀ د حسن دوران تېرشي
مدام بۀ نۀ وي ستا ځواني زما سوالونه
ستا بۀ د ښو څۀ نصيب نۀ ۇ
خلک اوس وايي پۀ سرو شونډو تو متونه
ستا بۀ زۀ هېر کۀ بۀ پۀ ياديم
زۀ چې قدم پر قدم ږدم تا يادومه
ستا بۀ ګيله لۀ مانه کېږي
پرما پيرې د بېلتانۀ ولاړې دينه
ستا پردېدن مې لمونځ قضا شو
پۀ اخرت بۀ خدای ته څۀ ځواب کومه
ستا پر جفانۀ يم چې ژاړم
ما ژړوي د رقيبانو پېغورونه
ستا پۀ وربل کې نرۍ لار ده
لکه پۀ باغ کې نرۍ لار ماليارپرې ځينه
ستا پۀ بشره چې زۀ شيدا شوم

اوس نو کفن ترملا تړلی ګرځومه
ستا پۀ تندي کې سورکی خال دی
کۀ پۀ اسمان کې زېړی لمرړنا کوینه
ستا پۀ تومت مې جامې رنګ کړې
اوس بۀ رنګ کړې جامې چېرته ګرځومه
ستا پۀ تومت مې جامې رنګ شوې
پۀ تومت رنګ جامې بۀ چېرته زړومه
ستا پۀ تومت کې هسې خوښ یم
لکه ماهي چې پۀ اوبو خوشاله وینه
ستا پۀ جمال مې دې قسم وي
چې ډېر کړا ودې پۀ دیدن پسې کومه
ستا پۀ دالان کې اثري شوم
اوس راته دود کړه دغونچو ځنو سرونه
ستا پۀ دیدن پسې جانانه
سترګو مې وکړل دچینو پۀ شان ډنډونه
ستا پۀ دیدن پسې جانانه
پۀ نم د سترګو باغ دزړۀ اوبۀ کومه
ستا پۀ دیدن پسې جانانه
لکه یعقوب پیغمبر ړوند درپسې شومه

ستا پۀ ديدن بۀ مړه نۀ شم
کۀ تمامي وجود مې سترګې شي مينه
ستا پۀ ديدن مې دو نه ښۀ شي
لکه رنځور چې امسا واخلي وګرځينه
ستا پۀ ديدن کله مړېږم
زۀ يم پرد پس دبل وطن څوورځې يمه
ستا پۀ ښمن دې خاورې واوړي
ته مې بورا زۀ دې دګلو غنچه يمه
ستا پۀ راتلو بۀ څۀ ونۀ شي
پرما بۀ کېږدې دعمرونو احسانونه
ستا پۀ راتلو موزي قاربږي
زۀ بۀ خولګۍ پۀ دروازه کې درکومه
ستا پۀ رضا زما رضاده
تۀ مې پاچازۀ دې پۀ درکې ګدا يمه
ستا پۀ روضه مې ځان داخل کړ
يامې حلال کړه يامې سرکه حاجتونه
ستا پۀ فراق مې زړۀ ژړېږي
عالم ژړېږي پۀ ما اوښکې تويوينه
ستا پۀ کتو خاورې زرکېږي

ماته دې وکتل نو خاورې ایرې شومه
ستا پهٔ کتو خاورې زر کېږي
کهٔ راته وګورې د سرو زرو بهٔ شمه
ستا پهٔ لیدو مې زړګی وچاود
لکه د یوال چې زلزلې چولی وینه
ستا پهٔ مړوند مې دی سرا ښنی
اوس د رقیب دې وي لاس خلاص چې هر څهٔ کوینه
ستا پهٔ نتکی کې شیطان ناست دی
چې پهٔ ورو ،ورو یې رپوې راوړي غمونه
ستا پهٔ نتکی کې ریبار ناست دی
هره شپه مې ستا خولګی ته لمسوینه
ستا پهٔ نیستي مې پروانهٔ شته
نیستي وسله ده هلکان یې ګرځوینه
ستا پهٔ یاری کې داسې وچ شوم
لکه چې غزیه نری باد کړي فریادونه
ستا پهٔ یاری کې سودایي شوم
لکه میزوب پهٔ لارې ځم ګوتې شمېرمه
ستا پهٔ یاری کې مې رنګ زېړ شو
دواوې خورمه رنګ مې ځای نهٔ راکوینه

ستا پهٔ یارۍ کې مې حال دا شو
خپل مې پردي شول پردي ځای نهٔ راکوینه
ستا پهٔ یوهٔ تومت رنګ زبېړ شو
زهٔ د تومت ځنځیر پهٔ غاړه ګرځومه
ستا پهٔ یوهٔ تومت رنګ زبېړشو
زهٔ د تومت جامې پهٔ غاړه ګرځومه
ستا تر خمارو سترګو ځارشم
کاږهٔ بانهٔ دې دزړهٔ سرزخمي کوینه
ستا تر خمارو سترګو ځارشم
چې پهٔ کتو زړهٔ لهٔ کوګل راځخه وړینه
ستا تردې ښکلي بوړي ځارشم
پهٔ اوږه ستادی کږه زه درسره ځمه
ستا تصور چې خوب کې راشي
نیمه شپه پاڅم ترسبا سلګۍ وهمه
ستا توربانهٔ مې پهٔ زړګي ښخې دي
پهٔ اننګو مې وینې ډنډولاړې دینه
ستا جدايي داسې ستې کړم
لکه د ښکارغوښه چې اورکې وریته شینه
ستا خوابدي مې خوابدی دی

رب دې خوشاله که چې زۀ خوشاله شمه
ستا خو بۀ تمه د دیدن شي
پرما پرتې دي تورې خاورې انبارونه
ستا د اوربل نه ډزې کېږي
د سینو ختکو ته دې ځان پناه کومه
ستا د بڼو پۀ غشو خوږ شوم
سرې سرې وینې مې ځي پرګرېوانونه
ستا د بېلتون پۀ داغ ستي شوم
څو چې وصال پۀ لاس راځي قیامت بۀ شینه
ستا د پوټې چارګل لپاره
زۀ د زرګرپۀ دکان ورځې تېرومه
ستا د تومته نۀ خلاصېږم
کۀ زۀ هرڅو هرچاته وخورم قسمونه
ستا د ټکې تسپې پۀ لاس دي
زۀ پۀ درکړې شکرانه پېښمانه یمه
ستا د چارګل پۀ پروغوڅ شوم
وړوکی لوی شوم جوړمې نۀ شول پرهارونه
ستا د چارګل پۀ پروغوڅ شوم
سرې سرې وینې مې ځي لۀ پرهارونه

ستا لۀ خمارو سترګو ځارشم
چې تازه کېږي پرې زمازړۀ ګلونه
ستاد خولګۍ دا سې مزه ده
مسرى نبات مې پۀ خولۀ تريخ ولګېدنه
ستاددېدن باران دې وشي
چې دغه تږي مينان پرې اوبۀ شينه
ستاددېدن باران دې وشي
کۀ ځمکه ختۀ شوه امسابۀ لګومه
ستاددېدن پۀ تمه تمه
پۀ توره ږيره کې مې سپين ولګېدنه
ستاددېدن پۀ تمه تمه
کچکول پۀ غاړه ګرځوم ملنګ دې کړمه
ستاددېدن پۀ تمه تمه
لکه اوبړۍ پۀ چړکې وچه پاتې شومه
ستاددېدن پۀ تمه تمه
لکه فقيرچې دخيرات پۀ تمه وينه
ستاددېدن پۀ تمه تمه
سترګو مې وکړۀ دچينو پۀ شان زيمونه
ستاددېدن پۀ تمه تمه

لکه ریدي پهٔ دامانو ورژېدمه
ستادديدن پهٔ تمه تمه
لهٔ ډېره غمه لکه دروې وچه شومه
ستادديدن پهٔ انتظارکې
پهٔ سترګو ړوند شوم اوس پهٔ زړهٔ دیدن کومه
ستادديدن څونه قېمت دی
کهٔ سرپهٔ درکړم باقیدار بهٔ څومره شمه
ستاديدن سېلاب رانغی
لکه اوبړی پهٔ خوړکې وچه پاتې شومه
ستادديدن کاختي دې نهٔ وي
کهٔ دبل هرشي کاختي وي تېره بهٔ شينه
ستادراتلو پهٔ انتظارکې
دديدن وربيه پهٔ ژړا وخت تېرومه
ستادراتلو پهٔ انتظارکې
سپوږمۍ ته ګورم شپه سبارابانديې شينه
ستادزخمونو علاج دادی
چې زهٔ پرې کېږدمه دوصل ملهمونه
ستادسروشونډو شربت راکه
شونډان مې وچ دي چې سېراب وربانديې شمه

ستا د سرو شونډو غلا شوه ګرانه
پهٔ لنډه زنه دې شين خال پيره کوينه
ستا د سفر ملګري را غلل
تا دې ميرات کابل کې څهٔ ليدلي دينه
ستا د سينې انار پا خهٔ شوهٔ
ما پرې باغوان کړه چې هرڅوک ترېنه شړمه
ستا د سينې پر کلا جنګ دی
يا بهٔ ځان با يلم يا بهٔ و نيسم برجونه
ستا د شين خال پهٔ تصور کې
زړهٔ مې شو شين ديدار مې و نهٔ کړمينه
ستا د ښايست دوران بهٔ تېرشي
زما پهٔ زړهٔ بهٔ پاتې شي نوي داغونه
ستا د عزت لا پې مې وکړې
ما د همزولو شرمنده نهٔ کړې مينه
ستا د غاښو پهٔ ننداره شوم
تا ورته وا چول د سرو شونډو کلپونه
ستا د ګيلاس پهٔ شان غړی ده
زما شړی ده ستا بهٔ کله خوښه شينه
ستا د قامت فکر مې يو سي

زړهٔ مې زخمي ارام مې نهٔ کېږي مینه
ستا د قامت پهٔ خیال کې تل وی
صبر لمبه شي ځنې پورته شي دودونه
ستا د مجلس نه مې زړهٔ نه شي
بېلتون دې خوارشي ما او تا جدا کوینه
ستا د نیستۍ پېغورېې راکړ
مینه ملا تړه چې بل هېواد ته ځونه
ستا د وصال باران کهٔ نهٔ وی
ستا د بېلتون لمبو بهٔ سوي وی ګلونه
ستا د وصال پهٔ بدله کې
قبول زما دي د دنیا ټول زحمتونه
ستا د وصال پهٔ تمه تمه
ما قبول کړي تمامي عمر غمونه
ستا د وصال د ستا خان راغی
څوک بهٔ مارهٔ شي څوک بهٔ وچې شونډې ځینه
ستا د وصال زمانه لرې
زهٔ بهٔ د هجر عمر چېرته تېرومه
ستا د وصال پهٔ تمه پایم
کهٔ لهٔ بېلتونه دې خبر شوم مړ بهٔ شمه

ستا د وصال په کوڅه راغلم
د بېلتانه پوليس مې وتړل لاسونه
ستا د هجران په جېلخانه کې
زه د وصال په تمه شپې سباکومه
ستا د هجران له تاب وتبه
لکه ماهي چې بې اوبو شي زړه مې چوينه
ستا د هجران د غم لښکرته
وارمې خطا کلا د صبر جوړومه
ستا د هجران شتې زخمي کړم
خدا يږو لاليه خون به ستا په غاړه وينه
ستا د هجران خزان پرې راغی
زما د زړه د باغچې ګل ورژېدنه
ستا د هجران په لمبو وسوم
ته د وصال شربت را ولېږه مينه
ستا له ياري به لاس وانخلم
که مې د زړه کترې د تورو سره ځينه
ستا د ياري پېغورېې راکړ
مينه ملا تړه چې د واړه سره ځونه
ستا د ياري نه توبه ګارشوم

درسوایی پهٔ رنګ دې زهٔ وشرمېږمه
ستا دیاری نه بهٔ وانهٔ وړم
زهٔ پاړوګر یم ښاماران اوده کومه
ستا دې پهٔ خپل حسن قسم وي
چې د دیدن پهٔ وخت کې ورورېږده قدمونه
ستا دې پهٔ خپل حسن قسم وي
پرطبیبانو بهٔ جوړه ګرځومینه
ستا دې قسم پهٔ پاک الله وي
ما دغماز پهٔ خنجرمه وژنه مینه
ستا دې قسم پهٔ ذوالجلال وي
کهٔ مې د احال وي نورخصت راکړه چې ځمه
ستا د قسم پهٔ ذوالجلال وي
چې مخ ته راشې مخ ته مه نیسه لاسونه
ستا د قسم پهٔ ذوالجلال وي
سلام د باد پهٔ لاس راولېږه چې مرمه
ستا د قسم وي چې زرګرشه
زما خیالي اوربل ته جوړکړه تاویزونه
ستا دې قسم وي خپله یاره
دعا کوه چې ستا دیدن مې نصیب شینه

ستادې قسم وي مرګه راشه
یاربې وفا شو نور ژوندون چاته کومه
ستاد قسم وي خولګۍ راکړه
لکه مېږی پهٔ د ېوالوراغلی یمه
ستادې قسم وي مرګه راشه
زهٔ د بېلتون پهٔ عمرۀ پرستومانه شومه
ستادې قسم وي خولګۍ راکړه
نورمې دغم پهٔ اورکې مه سوځه مینه
ستاد قسم وي یووارراشه
د سهاربادہ خزان مړاوي کړل ګلونه
ستادې قسم وي پهٔ خنداشه
زهٔ مسافریم سوی زړهٔ پرې سړومه
ستادې قسم وي خوبه راشه
چې د شیرین جانان دیدن درکې وکمه
ستادې قسم وي مرګه راشه
د بېلتانهٔ پهٔ تبه ۂ برناجوړه شومه
ستادې قسم وي یووارراشه
د زړهٔ کنبتۍ مې دغم بادنسکوروینه
ستاد قسم پهٔ ذواجلال وي

پلو که لرې مخ ته مه نیسه لاسونه
ستا دیوۀ دیدن لپاره
اورمې بانه کړ کورپۀ کور وګرځېدمه
ستا دیوۀ ګلاب لپاره
زۀ دباغوان پښو ته سرتوره ولوېدمه
ستا لوپټه مې دې کفن شي
چې تورلحد را باندې زېړ ګلونه شینه
ستا دیوۀ دیدن لپاره
زۀ خوشاندې د ټول ټبر کومه
ستا لۀ بېلتونه هسې تنګ یم
لکه بلبل چې پۀ قفس کې بندي وینه
ستا لۀ دې سروشونډو قربان شم
کله غوټۍ شي کله وسپړي ګلونه
ستا لۀ وطنه مې زړۀ نۀ ځي
نصیب روان دی زۀ بندي ورسره ځمه
ستا لۀ یارۍ بۀ توبه نۀ کړم
کۀ جلاتان مې سرلۀ تورو سره وړینه
ستا لۀ یارۍ مې تمه پرې شوه
اوس دې دغمه لېونی ګرځم مینه

ستا یارانه خولوی افت دی
مالۀ افته ځان ساتۀ پرې اخته شومه
ستا یارانه د کمرۀ ګل دی
ګل مې بوی نۀ کړلۀ کمره ولوېدمه
ستا یارانه ډوبه جاله ده
زۀ دې جالې ته وار خطا ولاړه یمه
ستا یارانه مې سود ګڼله
سود مې ونۀ کړ زیان مې راوړ امبارونه
ستا یارانه د شمکې ده
شمکی تریخ دی لۀ ناکامه یې تېرومه
ستا یارانه مې کړې نۀ وی
ځان مې د سین پۀ څپو وړی وی مینه
ستا یارانه د کاچل ټال دی
کاچل ولاړوې ټال یې ځې پۀ ګړنګونه
ستا یارانه د شوې ټال دی
د شوې ټال مې خپژاوۀ رنځورېې کړمه
ستا یارانه دونیمې ورځې
زمادې رنځ د سلو کالو کړ مینه
ستا یارانه کې مې زړۀ بایلود

زۀ پۀ بايللي زړګي څۀ تکيه کومه
ستا ياړانه د شګو بند دی
ماچې د شګو بند تاړۀ ستومانه شومه
ستا ياراني ته مې زړۀ کېږي
پۀ څۀ خبره بۀ اشنا درسره شمه
سترګو اوزړۀ مصلحت وکړ
د مينې غم دی پۀ تقسيم بۀ يې ګالونه
سترګو پسات راباندې وکړ
نور بۀ يې د باز پۀ شان ګنډلې ګرځومه
سترګو تر سترګو پورې فرق دی
د جانان سرې سترګې اصيل غلامونيه
سترګو ته رنګ د رنجوو رکړه
خولې ته رنګ د دنداسې ورکړه مينه
سترګو ته رش د رنجوورکړه
د مسافر وخت نژدې دی را بۀ شينه
سترګو دې بياناغې پيدا کړې
د ناغه دارو سترګو څوک طاقت لرينه
سترګو دې جنګ را سره وکړ
بانۀ دې تللي دي لښکرې ټولوينه

ستر ګو دې زخم په زړه راکړ
وړه خندا دې لا پرې مالګې دوړوينه
ستر ګو مې زړه ته ضرر پېښ کړ
نوريې د بازېه شانتې پټې ګرځومه
ستر ګو مې زړه ته ځواب ورکړ
چې مين تهٔ يې اوښکې موږه تويونه
ستر ګو نه کومه ګناه شوې
چې زړهٔ مين شي سترګې تل کاتهٔ کوينه
ستر ګو و زړهٔ ته ګيله وکړه
چې مين ته شوې اوښکې موږه بهونه
ستر ګه دلمر تندي ته راغله
ورځ مې ښهٔ نهٔ شوه ليلا خولهٔ نهٔ راکوينه
سترګې بهٔ ولې اوښکې نهٔ کړي
چې پهٔ موسم دخوشالۍ راغله غمونه
سترګې دې بيا رابنکاره نهٔ کړې
ګوره چې مړ دې دراتلو پهٔ ارمان شومه
سترګې پهٔ چل غړوه ياره
دلالان ګرځي غتې سترګې خوښوينه
سترګې خو ترا کړې خدايه

ظالم موزي مې لۀ کتو منع کوينه
سترګې خوتاورکړي خدايه
کۀ يې راواړوي نسکور بۀ شم مينه
سترګې دبازپۀ شان غورځنګ کا
پۀ منګل نيسي د مينو ځګرونه
سترګې د ستا ستګې زما دي
ماتاته کله دياری ويلي وونه
سترګې ديارچې پۀ کې نۀ وي
کۀ وطن ټول شي سرۀ ګلونه وران دې شينه
سترګې دې بيا تورول غواړي
لکه دللمې پټی غواړي بارانونه
سترګې دې بيا دګل غوټۍ کړې
بانۀ دې پورته که چې وسپړي ګلونه
سترګې دې بيا خونکارې سرې دي
ګمان مې کيږي عاشقان دربان دې مرينه
سترګې دې بيا رابنکاره نۀ کړې
پربږده چې مړه دې دراتلو پۀ تمه شمه
سترګې دې بې اثره نۀ دي
لکه دکوډومری برګې برګې دينه

ستر ګې دې بې تاثیره نۀ دي
چې بې محصوله منګی ورې پۀ ګودرونه
ستر ګې دې بې تاثیره نۀ دي
راته دې وکتل دځان غلام دې کړمه
ستر ګې یې تورې پۀ ښنګ ګوري
د نجلۍ ستر ګې مې د ملکه ورکوینه
ستر ګې د تورې پۀ ښنګ ګوري
د سپوږمۍ خورې لۀ ژوندون دې وویستمه
ستر ګې دې تورې پۀ ښنګ ګوري
د سپوږمۍ خورې پۀ شغلو دې واخستمه
ستر ګې دې تورې پۀ ښنګ ګوري
د پاچالورې مخ راواړوه چې مرمه
ستر ګې دې تورې پۀ رنجو کړه
د مسافراشنادې غږ دی رابۀ شینه
ستر ګې دې تورې راته ګورې
د کاکالورې مابۀ ورک کړې لۀ وطنه
ستر ګې دې تورې اورراپورې
د جنت حورې پۀ خالو دې مین کړمه
ستر ګې دې ډېرې اثرداري

چې یې کړې تورې روغ سړی رنځور وینه
سترګې دې ډکې تمانچې دي
زهٔ دې پهٔ ډکو تمانچو ویشتلی یمه
سترګې دې ډکې تمانچې دي
پهٔ برج پرتې دې وارلهٔ واره ډزې کړینه
سترګې ډولۍ بانهٔ لرګي دي
د جانان مینه پهٔ کې ناوې ګرځومه
سترګې دې جګې کړه ابدارې
دوینو دارې مې لهٔ زړهٔ درپسې ځینه
سترګې دې زرکې نه ښایسته وې
پهٔ شوګیرونو دې خرابې کړې مینه
سترګې دې سرې راواړولې
داصله سرې دې کهٔ دې ډ برژړلي دینه
سترګې دې سرې بانهٔ دې توردي
لکه لونګ چې پهٔ منه ټومبلي وینه
سترګې دې سرې زلفې دې تورې
ماته چې ګورې لیونی دې کړم مینه
سترګې دې سرې ردې ردې دي
ردې ردې د ښامارانو سترګې وینه

سترګ بډې سرې لکه دزرکې
ترې ګرزېدلي درنجو تورد پوالونه
سترګې دې ماته راکړې کړه
ستا پۀ کتو پسې مې ډ ېر کړي مزلونه
سترګې دې مړې راواړولې
ګمان مې کېږي لۀ یارۍ اخلې لاسونه
سترګې دې نرمې کړه راپورته
ستادېنولاندې مې زړۀ دی خوږ بۀ شینه
سترګې دې ولې تورولې
پۀ زخمي زړۀ دې زما اورولګاونه
سترګې دې ووزه راته ګوره
ترسالولاندې لکه ګل ولاړه یمه
سترګې دې ووځه راته ګوره
پۀ تش کاتۀ بۀ دې څوک سرنۀ پرېکوینه
سترګې دې وې وتلې نۀ وې
پۀ ایروپټ اوردې لېدۀ پرې ودې سومه
سترګې دې وې وتلې نۀ وې
چې پۀ مالت دې لوېدم نۀ دې لیدمه
سترګې راواړوه سردارې

دوینوداري مې دزړهٔ لهٔ سره ځینه
سترګې راواړوه خمارې
زهٔ مسافرشوم بیابهٔ نهٔ وي دیدنونه
سترګې راواړوه جانانه
وژنې مې څهٔ لاغم پخواوژلی یمه
سترګې زماپهٔ واک کې نهٔ دي
چې هرې خواته یې اړوم مین مې کینه
سترګې زماپهٔ ژړاسرې دي
دمین یار دیدن مې نورخلک کوینه
سترګې کچکول که دیدن واخله
ملنګه یاره پهٔ بانه راغلې یمه
سترګې لهٔ خوبه کړه راپورته
ګل مې پهٔ لاس کې سلامې ولاړه یمه
سترګې لهٔ سترګونه شرمېږي
اشنالهٔ مانه شرمېدهٔ نهٔ یې لیدمه
سترګې مې تاته تورولې
چې تهٔ را نهٔ غلې پهٔ سالو یې پاکومه
سترګې مې تورې پهٔ رنجوشي
چې تورکاکل تورې دې زلفېووینمه

ستړګې مې توري پۀ رنجو کړې
د مسافر جانان مې غږ دی رابۀ شینه
ستړګې مې خپلې دي پرې ژاړم
خولۀ دا شنا ده اوښکې نۀ پرې تویومه
ستړګې مې خوږ لاس مې پرې اېښی
دا شنا غم پۀ کې غرېږي ړوندبۀ شمه
ستړګې مې دواړه تکې سرې دي
زۀ تل ژړا پۀ خپل جانان پسې کومه
ستړګې مې ډېرې ولیدلې
زما د یار ستړګې شغلې وهلې دینه
ستړګې مې ډېرې ولیدلې
د ښارو ستړګې د چنار غومبسې دینه
ستړګې مې ډېرې ولیدلې
د نجلۍ ستړګې مې تتېر سوری کوینه
ستړګې مې ډېرې ولیدلې
زما د یار ستړګې منګولې لګوینه
ستړګې مې ډېرې ولیدلې
چې پرې رغېږم هغه ستړګې نۀ وینمه
ستړګې مې ډکې لۀ ژړاوې

چې یار مې راغی ورته شنه لۀ خندا شو مه
سترګې مې زړۀ ته شوې رابښکته
ستا دیدن غواړې تا مې زړۀ کې لټوینه
سترګې مې زړۀ ته رانژدې کړه
چې پۀ کې ووینې د سروو ینو ډنډونه
سترګې مې ستا پرلورکږې شوې
لکه جنډه د شهیدانو پر قبرونه
سترګې مې ستا پرلور څلور شوې
چې تۀ رانغلې سودایي د جهان شومه
سترګې مې ستا پۀ غم کې سرې دي
خلک بۀ وایي چې شراب یې څکلي دینه
سترګې مې تا پسې خوږېږي
د مورلۀ ډاره پۀ رنجویې تورومه
سترګې مې ستالورې ته اوړي
خدای مهربان دی ګوندې وشي دیدنونه
سترګې مې سرې ګربوان مې لوند دی
ماداشنالۀ غمه ډېر ژړلي دینه
سترګې مې سرې لاس مې پرې ایښی
د جانان غم پۀ کې رغړېږي ړوند یې کړمه

سترګې مې سرې دوينو ډکې
پۀ کې اغزي ستا د جفا ختلي دينه
سترګې مې سرې ګرېوان مې لوند دی
د يار پېغور يې راکاوۀ پۀ ژړا شومه
سترګې مې مه پټوئ خلکو
روح مې معطل دی دا شنا ديدن کوينه
سترګې مې يار پسې خوږېږي
د مورلۀ ډاره تور دارو پورې کومه
سترګې نرۍ، تورې مزه کا
دا ګډې وډې سترګې دې مې تورو ينه
سترګې ورې ښې دي کۀ غټې
ورې لا ښې دي غټې او ررالګوينه
سترګې وهي بانۀ پرېباسي
زۀ پرې پوهېږم مسافرپرې غولوينه
سترګې ياقوت غاښ دې الماس دي
زلفې سنبل دې پرګوګل مز ه کوينه
سترګې يې بازغوندې کړې غټې
ګمان مې کېږي چې زړۀ را څخه وړينه
سترګې يې تورې پۀ کجل کړې

ګمان مې کېږي چې بهٔ بيا کوي قتلونه
ستړی خو مه شې پهٔ خيررا غلې
ستړې خوزهٔ يم چې مې لارې ته کاتنه
ستم دې مه کړه ستمګره
د ستمګرو پهٔ دوزخ ځايونه وينه
ستن دې بانهٔ کړه تار د زلفو
زما د زړهٔ پرهار پرې وګنډه مينه
ستن د ښو ته حاجت نهٔ شته
مخ ته مې ګوره چې دې روغ شي پرهارونه
سخته رنځوره خدای دې جوړ کړه
د رتګ مې نهٔ شي تشه دعا د رته کومه
سختې نارې د زړهٔ پهٔ زور شي
زهٔ دې د سختو نارو وويستم مينه
سختې مې د برې وليدلې
لهٔ سختو سخته جدايي ستاده مينه
سر بهٔ لهٔ خپل وطن نه ځار کړم
بيا بهٔ سيالي زهٔ د همزولو سره کړمه
سر بهٔ د خدای پهٔ نامهٔ کېږدم
کهٔ مرور اشنا پخلا را سره شينه

سرپربالښت پهٔ اواری ږده
ستاتربالښت لاندې مې زړهٔ دی وران بهٔ شینه
سرپرکږه څنګله کېږدم
خوب دکږې څنګلې دٔ پرمزه کوینه
سرپهٔ پنجرووهل اسان دي
فرهاده ګران دي دهجران سوي داغونه
سرپهٔ کږه څنګله کېږده
مخ مې راستون کړه ښکلوه شینکي خالونه
سرپهٔ نرۍ څنګلې کېږده
تادنرۍ څنګلې دٔ پرکړل ارماندونه
سرخومې هلته درښکاره کړ
چې پهٔ نارومې غاړې وچې شوې مینه
سرددپوالهٔ رااوچت کړه
نامردې ياردې ستاپهٔ سرزندان ته ځینه
سردښیښونه رابېرون که
ستاپهٔ دیدن پسې سیلۍ راوړی یمه
سردکړکۍ نه رابهرکړه
پرچلم زانګي تورې زلفې شنهٔ خالونه
سردې اسمان څښې دې وربځې

غاښ دې برېښنا او خوله دې پرخې اوروينه
سر دې په سرو لستونو کېږده
تا به د سرو لستونو ډېر کړل ارمانونه
سر دې په غېټه تيږه کېږده
پردى وطن دى ياره نه شته بالښتونه
سر دې په لوړه تيږه کېږده
شيرينه ياره دلته نه شته بالښتونه
سر دې د خداى په امان اوسه
خولګۍ مې ستا ده زه به يې تالره ساتمه
سر دې د تورلحد نه هسک کړه
زه په اوربل ټومبلى ګل راغلې يمه
سر دې د قبرنه راهسک کړه
زه دې د شناختې خواکې غلې ناسته يمه
سر دې راپورته کړه جانانه
د ګلوډکه دې پرسرولاړه يمه
سر دې زما په ځنګل کېږده
چې لونګين دې بويوم تازه پرې شمه
سر دې زما په ورانه کېږده
پردى وطن دى ياره نه شته بالښتونه

سرديٍ زما پهٔ غېږکې رېږدي
هلته بهٔ څهٔ کړې چې باران دګولو وینه

سرديٍ ترهرې وني لوړ دی
چناره ولې نهٔ راوړې دخيال ګلونه

سرکړه راپورته لهٔ کتابه
ستاد کتاب لهٔ ټکوډېر دي زما خالونه

سرګړی نهٔ یم چې لمبه شم
زهٔ بهٔ داخپلې غوښې ورو ورو وريتومه

سرمې پهٔ ښیَ څنګلې کېږده
پرکینه لېچه مې بنګړي دي مات بهٔ شینه

سرمې تاته قرباني دی
ځان بهٔ قربان کړم کهٔ وصال مې نصیب شینه

سرمې دخپلې پېغلې ځار دی
پټی بهٔ ګروکړم مرکې بهٔ ورلېږمه

سرمې خوږېږي جوړه نهٔ یم
پرما مین جانانه وکړه خیراتونه

سرمې دخدای مال مې دکلي
کهٔ تورپېکیَ راپسې واخلي قدمونه
سرمې دخدای مال مې دکلي

اشناکهٔ دوه سترګې ښکاره کړې خون ښمه
سرمې د خپل اشنانه ځاردی
دا مې پهٔ کاردی چې همېش دیدن کومه
سرمې دغم پربالښت کېښود
اول مې خوب د بېلتانهٔ پرې ولیدنه
سرمې دغم پربالښت کېښود
پهٔ تصورکې دجانان پرکاله ومه
سرمې دیارترسرځارکړی
دامیراثي خولګۍ بهٔ چاته ورکومه
سرمې دیارپهٔ غېږ کې غوځ کړۀ
چې زرزري لمن یې سره پهٔ وینو شینه
سرمې دې ځارترخپل وطن شي
چې د مېوند پهٔ شهیدانو حساب شمه
سرمې سرتورقران پهٔ غېږ کې
دوفاداریارننواتې ته ورځمه
سرمې لهٔ تن څخهٔ جلاکړۀ
کهٔ مې پګړۀ دبې ننګي ترلې وینه
سرمې نری نری خوږېږي
دمینانو کمبختي ده وبهٔ مرمه

سرمې وړې وړې کوڅې کړه
وړې کوڅې مې یارپۀ تول تللې دینه
سرمې وهه مال مې تالا کړه
که مې دا ستالۀ یارې واخستل لاسونه
سرمې وهۀ مال مې تالا کړۀ
چې مې یاري دې بې وفاوکړه مینه
سړی ژوندی خاوروته بیایي
چې یونېستي بل جدایي پۀ سړې شینه
سفرپرځای د سقرګورم
دا هم سقردی چې لۀ تانه جدا یمه
سلام پۀ سروشونډومزه کا
د مسافروسلام ځي پۀ کاغذونه
سلام دیارلۀ لورې راغی
زۀ نامراده بۀ یې پۀ سترګوباندې ږدمه
سلام دې راغی تۀ رانغلې
پۀ کارمې نۀ دي بې دیدنه سلامونه
سلام سلام اشنا سلام دی
پس لۀ سلامه دديدن ارزولرمه
سلام سلام پۀ تا سلام دی

عجب اسلام دی چې مې نۀ کوې پوښتنه
سلام سلام یاره سلام دی
پس لۀ سلامه ژروطن لره رادرومه
سلام سلام دی درنه لاړم
زمادناستي پرځای ګل کره مینه
سلام سلام دی خپله یاره
پس لۀ سلامه پۀ دیدن پسې دې مرمه
سلام سلام زۀ درنه ولاړم
پیوند دې نۀ کړل پۀ خنجروهلي زړونه
سلام سلام سپینې سپوږمیه
سلام مې یوسه دهمزولوتروطنه
سلام سلام کلام کلام دی
عذرتمام دی یاري نۀ درسره کړمه
سلام سلام دی زمایاره
پۀ سپین کفن کې فوارې داوښکوکړمه
سلام سلام پسې مې عرض دی
عرض خومې دادی چې مین درباندې یمه
سلام علیکم درنه لاړو
ورستی دیدن بۀ دقیامت پۀ ورځ کوونه

سلام سلام بيا پۀ چاريارو
پۀ دې باقي يارانو هم ډېر سلامونه
سلګۍ وهم وارمې خطادی
دا جدايي ده کۀ اسمان ونړېدنه
سندليکی بۀ ترې واخلم
داوسنۍ زمانې ياردی تګ بۀ وینه
سنګردځان پۀ وينوسورکه
چې شااوخواپرتاغاټول زرغونۀ شينه
سوال بۀ درب پۀ دربار کاندم
بيابۀ عرضونه نيازمنوباندې کړمه
سوال بۀ درب پۀ درباروکړم
بيابۀ ځولۍ پۀ نازولو ګرځومه
سوال بۀ يې ولې نۀ قبلېږي
چې توراوربل پۀ بابړدي ژړاکوینه
سوال دې پۀ کوم زيارت قبول شو
چې پۀ سپين مخ مې اوښکې ځي خولۀ درکومه
سوال دې پۀ کوم زيارت قبول شو
اوس يې راښيه چې لنګريې تودومه
سوال دې پۀ کوم زيارت قبول شو

چې ړنګه بنګه دې پهٔ غېږ کې پرېوتمه
سوال دې پهٔ کوم زيارت قبول شو
ماته يې ښيه چې ستوره ورته ځمه
سودا دزړهٔ واخيستم خلکو
خلک پرمادکبرجن ګمان کوينه
سودادوصل پهٔ کې کېږي
خدای دې ابادلري دحسن بازارونه
سوداګري دسترګوګورئ
ديدن کوي زړهٔ پهٔ بدل کې ورکوينه
سودمې پهٔ صبرکې ونهٔ کړ
باقي بهٔ لاس پهٔ بې صبرۍ پورې کومه
سودمې دياروربانديې نهٔ شي
کهٔ تمامي خوبان امېل دغاړې کړمه
سورپسرلی مې نيمه خواشو
زمادشناختې ترسرتاو کړئ زېړګلونه
سورت ياسين رابانديې وايه
پهٔ ماخولې دځکندن راغلې دينه
سورت ياسين رابانديې وايه
زماورانېږي دغونډۍ زنې خالونه

سورخې دمخ دې شغلې وکړې
لکه سورخي دمابنام سرۀ کاوطنونه
سوړاوسېلی دې ځان پسې شه
زماپۀ زړۀ باندې دې اورولګاونه
سوی بۀ یم سوی بۀ ګرځم
سوې ښېرې بۀ نجلۍ ستاپلارته کومه
سوی پۀ اوریم پرې رغېږم
کۀ دې دسروشونډوملهم راکړمینه
سوی زۀ سوې مې برخه
سوی بازارسوې سودا پۀ کې کومه
سوی لړمون درپسې ګرځم
شیرینه یاره بې پرواګرځې مینه
سهاردوخته خلک پاځي
زۀ دلیلا لۀ غېږې څنګه وپاځمه
سبا سهارباغچوته مه ځه
ګلان شرمېږي مخ پۀ پاڼوپټوینه
سهارسبا دی سوال مې دادی
جانانه خلاص شې دبېلتون دجنجالونه
سهارسبا دی سوال قبلېږي

خلکو زما پهٔ حق کې پورته کړئ لاسونه
سهار سبا دی ژړا خپرژي
چاویل مین دی چې ناکام لهٔ ملکه ځینه
سهار سبا ساړهٔ مې شینه
راباندې واچوه لونګی د واړه لاسونه
سهار سبا شبنم وریږي
بې خوبه یار پهٔ بستر پروت سرزنګوینه
سیال خولهٔ سیال سره جوړیږي
چې پهٔ سیالانو کبر کړي زوال بهٔ شینه
سیال مې یې مخی مې نهٔ یې
ځان دې مخی کړه بیا سیالي کوه مینه
سپر خوشالي د سړي بس ده
چتاکی غم سړی لهٔ ملکه ورکوینه
سینه توده پاولی دې یخ دی
چې درنژدې شم زړهٔ مې یخ لاندې کوینه
سینه دې باغ مخ دې ډېوه دی
زهٔ دې حیران کړم چې پتنګ کهٔ بوراشمه
سینه دې تخت زما پرې بخت دی
پلاردې کم بخت دی مالهٔ تخته کوزوینه

سینه دې تخت د پاچاهۍ دی
دادواړه تې دې شاهزادګان حکم کوینه
سینه مې فرش زلفې بالښت دی
کۀ مرورجانان پرې سرولګوینه
سینه مې تخت بالښت مې زلفې
کۀ بې پرواآشنا مې سرولګوینه
سینه مې د یک زړګی مې غوښې
اوښکې اوبۀ ښیلتون مې اور پسې کوینه
سینې ته غټ لونګین جوړکړه
ډول بۀ یې ستاوي بوی بۀ یې مالره رائینه
سالو مې ؤپۀ سرمې نۀ کړ
اوس یې ګودرکې ارمانونه زۀ کومه
سبا بۀ پیربابا له ځمه
هلته به ستادوصل وکړم درخواستونه
ستابۀ د حسن دوران تېرشي
زمابۀ پاتې شي پۀ زړۀ سوي داغونه
سپوږمیه سروهه راخېژه
زماجانان د توروغروم زل کوینه
سپوږمۍ ته ولې یې ولاړه

زۀ کۀ ولاړه یارمې خړې لګوینه
سپېدې وچاودې سبا شو
چټه د یار لۀ غېږې څنې ټولوینه
ستا پۀ اوربل مې دې قسم وي
کۀ سر مې لاړشي غوندۀ وکله دې پرېږدمه
ستا پۀ یارۍ کې تومتي شوم
پۀ اورستي شوم څوک مې خوا له نۀ راځینه
ستا دهیلۍ پۀ شان غړۍ ده
زما شړۍ ده ستا بۀ چېرته خوښه شینه
ستا دې قسم وي کتاب خوانه
چې د کاتب پۀ حق کې پورته که لاسونه
سترګې دې باز زړۀ مې تومه ده
هر ما زیګر یې پۀ سرونو کو شکوینه
سترګې دې دواړه را نژدې کړه
چې پۀ ژړا شي مرغلرې تو یوینه
سترګې دې ډکې تو مانچې دي
چې لۀ ګودره راختم ودې ویشتمه
سترګې دې ډنډ د پېښاور دی
بل ترې چاپېر د تورو زلفو ډیوالونه

ستر ګې دې تورې پۀ رنجو کړه
شونډو ته رش د دنداسې ورکړه مینه
ستر ګې کرارې کړه راپورته
ستا تربڼولاندې مې زړۀ دی خوږ بۀ شینه
ستر ګې مې سرې دوینو غړپ شوې
ماداشنالۀ غمه ډېرژړلي دینه
ستر ګې مې مه پاکوه ژاړم
چې یارلۀ دره بېنوا شړلی یمه
سوال دې پۀ کوم زیارت قبول شو
اوښکې مې لپې لپې ځي خولۀ درکومه
سینزېږی نۀ یم چې اوروا خلم
دعاشقۍ غوښې پۀ ورو ورو تویومه
سینه دې تخت دپاچاهي دی
کۀ مې نصیب شي دجهان سرداربۀ شمه
سینه دې ډاګ دکمبېري دی
مخ دې چارباغ دی زۀ غرمه پې تېرومه
د ( ش ) څخه تر ( ښ ) پوري

شا خو دې را ته کړه رهي شوې
دا وښکوډ کې سترګې څوک را پا کې کړينه
شا د ګو در لۀ لو رې را غله
لکه پا چا ورته پيرې ولا ړېد ينه
شا ړې بنجرې شوې و دا نې
اوس ليلا غوا ګانې چېرته څروينه
شا لو نګين پۀ ژړا را غی
ما ته هيکل پر سينه ځای نۀ را کوينه
شا مت زما کۀ مې د يا ردی
پۀ اوردې و سوزي د دوا ړو شا متونه
شبنم بۀ دا سې پۀ ګل نۀ وي
لکه خولې چې د ا شنا پۀ مخ را ځينه
شبنم د ګل کره مېلمه دی
نرګس لۀ شرمه سترګې نۀ پورته کوينه
شپه دا خترو ه کۀ د قدر
چې د ا شنا سره مې و شوۀ د يدنونه
شپه د جمعې وخت د ما ښام دی
څۀ مې نا کام دی چې ياري د ر سره کړمه
شپه د جمعې و خت د ما ښام دی

پرماتورتم دی چې دې نۀ وینم مینه
شپه دهجران پۀ ماسبا شوه
چې داشنامې راته راغلل سلامونه
شپېلکی وهي بټېری غواړې
بټېری نۀ شته ژنې زۀ لیدلې یمه
شربت دشونډو راله راکړه
زۀ دفراق پۀ مېره ځم تږی بۀ شمه
شرمنده یارمخې ته راغی
لۀ خپلو بدوشرمېدو ټیټ یې کاتنه
شش خو مې شش ګوتې مې ګوتې
زرګره ټوله دیارۍ ته جوړه کړمه
شفق یې مه بولئ عالمه
اسمان زما پۀ ژړا وینې تویوینه
شکر چې ته لۀ خیره راغلې
دغمازانو پرکورو پربوا تۀ ویرونه
شکرچې یارزما پخلا شو
کۀ نه پۀ کوم ملا او میابۀ ګرځېدمه
شکردی ورونه مې جوړه دي
دواړه چې غبرګې ملاتړي دښمن بۀ مرینه

شکر کوه ناشکري مه کړه
چې سپین مرونددې زۀ ترسرلاندې کومه
شمال دښکې دی کۀ د پاسه
پرمایې بوی دخپل جانان ولګاونه
شمس تابان جانانه راشه
چې ماهرویان دې نوکران پۀ مخ کې ځینه
شمس الضحی جانانه راشه
پرماتیارۀ ده چې رڼارا باندې شینه
شمه بلېږي پتنګ نۀ شته
رامعلومېږي بېلتون بند پۀ لومه کنه
شمه بلېږي پتنګ نۀ شته
دابد نصیب بۀ بېلتانۀ بندکړی وینه
شمه زما پۀ حال پوهېږي
چې زۀ دیار پۀ غم کې سوم ویې لیدمه
شمه زما پۀ حال پوهېږي
زۀ چې داوښکو پرځای وینې تویومه
شناخته مې جوړه کئ دزړو
چې دې مین پۀ مینه زۀ شهیده شومه
شوتالو ګل باران ورېږي

زمالاندۀ شول دلنډی زنې خالونه
شوروفریادمې لۀ خولې خېژي
زۀ مې اشناپۀ زړۀ ویشتلی یم مینه
شوله دزړۀ کرکه دې وشه
زۀ درته ژاړم ستاخنداراپورې شینه
شونډې بۀ یې ولې پستې نۀ وي
چې د پېزوان د سیورې لاندې مدام وینه
شونډې شربت کړه ماته یې راکړه
ماترخۀ زهردهجران خوړلي دینه
شونډې شربت که ماته یې راکه
زۀ دجګرې پۀ لورې ځم ترې بۀ شمه
شونډې شربت که ماته یې راکه
دګمبیري پۀ دښت کې جل وهلی یمه
شونډې دې سرې پۀ دنداسه دي
کۀ دې دچالۀ زړۀ کپونه کړي دینه
شونډې دې سرې پۀ دنداسه دي
کۀ دې پرې پان دهندوستان وهلي دینه
شونډې دې مزي دوربښمو
مرواري غابښ دې پرې ښایسته رڼاکوینه

شونډې دې لال غاښ دې مرجان دي
تورې پۀ لاس دې عاشقان زخمي کوينه
شونډې مې سرې پۀ دنداسه کړې
بېګارانۀ غلې بې نصيبه شوې مينه
شونډې مې وچې وچې کېږي
ماته ريبار ديار ګيلې راوړې دينه
شه پۀ ولاړې راترغاړه
پۀ کېناستو خولګۍ مزه نۀ راکوينه
شهيده تالره بۀ درشم
مراد مې حاصل کړه سوربيرغ درته راوړمه
شيرين اشنا مې مسافرشو
ترګلاب سره وم ترنارنجه زېړه شومه
شيرين جانان مې برى راووړ
د سرتېکرى بۀ د شهيدانو جنډۍ کړمه
شين خال دې اېښى پۀ جبين دى
پاچاد چين دى اېلوې ياغي ملکونه
شين خال دې ستورى د عقرب دى
دلوړوغرو پۀ سريې مړاوې کړه ګلونه
شين خالۍ ټيټه شه خوله راکه

بلا پسې کۀ پا چا وا خستل جرمونه
شیرین اشنا بۀ ثوک خبر کا
چې ما سلان مې د مرګي را غلي د ینه
شمع زما پۀ حال خبره ده
ځکه زما لۀ غمه او ښکې تو یو ینه
د ( ښ ) ښخه تر ( ص ) پوري

ښادي د دوا ړو مبارک شه
اول زموږ چې مېلمانۀ را غلي یو نه
ښا رو پر تګ دې خدا ی مین کړم
ما ته پۀ لو یه لا ر کې کېږده قدمونه
ښا غلی یو ځلې پر ځای مري
مو زیګي هر ساعت پر ځای بې ځا یه مرینه
ښایست دې ډېر دی کم خو نۀ دی
د ناز خندا دې پۀ لمبو وسوم مینه
ښا یست خو دې ډېر دی کم خو نۀ دی
زۀ دې مین پۀ نا غه دا رو ستر ګو یمه
ښا یست دې ډېر لۀ حده تېر دی

د جنت حورې زۀ دې روغ لېونى کړمه
ښايست مې خپل راپورې بد شو
اشنامې وچې شونډې ګرځې وبۀ مرمه
ښايست مې ډېرپۀ سترګو ولید
مګرد استاسيا مې هېچېرې ونۀ ليد نه
ښايسته دګل غوندې جانانه
لکه بلبل مدام فرياد درپسې کومه
ښکاره پۀ خولۀ ویلی نۀ شم
د مينې رازدى لۀ غمازه يې ساتمه
ښکارېږې زماغريب صورت کړ
د مينې بازدې پۀ منګول کې ونيومه
ښۀ پۀ دنيا کې معلومېږي
مرګ د هرچاقبرپۀ تيږو پټوينه
ښۀ دى چې بيامې وليد لې
لکه يعقوب پۀ سترګوړوند درپسې يمه
ښۀ دى چې مرګ موسره يوشو
ترڅوبۀ ورک د ښلتانۀ دلاسه يمه
ښۀ دى چې تۀ لۀ خيره راغلې
ماپرکچکول پټرې وهلې درپسې تلمه

ښهٔ دی چې حال دې را معلوم شو
زهٔ خبر نهٔ وم پهٔ ظاهر دې نازېدمه
ښهٔ دی چې حال دې را معلوم شو
ما سر و مال پهٔ تا ښاندهٔ هوښیاره شو مه
ښهٔ دی چې حال دې را معلوم شو
سپلمۍ ملخه پهٔ ظاهر دې نازېدمه
ښهٔ دی چې دواړه پهٔ دنیا یو
کهٔ نن جدا یو بیا بهٔ وکړو دیدنونه
ښه ده چې ستالهٔ یارۍ خلاص شوم
د بنګړو یاره پهٔ یارۍ دې شرمېدمه
ښه ده چې ستالهٔ لورې بس شوه
چې ملامته در ته زهٔ نهٔ شوم مینه
ښهٔ دی چې ستا دیدن مې وکړ
د خپله ژونده ما پرېولي وو لاسونه
ښهٔ دی چې ستالهٔ غمه خلاص شوم
مدام بهٔ سرې سترګې را تلم پهٔ بورجلونه
ښهٔ دی چې غم دې را سره دی
زهٔ پهٔ سفر کې د ځان مل پیدا کومه
ښهٔ دی چې لاړې مسافر شوې

زۀ بۀ دځمکې خوب کوم چې زېړه شومه
ښۀ شو دغم دسمال دې راکړ
دفراق اوښکې بۀ زۀ تل پرې پاکومه
ښۀ مخامخ شه راته ګوره
مادې دسترګوارمانونه کړي دينه
ښۀ ملاترلی یارمې ورک دی
چې ملاترلی ووينم ژړاراځينه
ښيښه دزړۀ مې ماته نۀ شوه
بېلتانۀ ډېرپرې دګولووکړۀ وارونه
د (ص ) څخه نر (ط ) پوري

صبربۀ کړم ښېرابۀ نۀ کړم
صبرسروردی ځواني مرګ بۀ شي مينه
صبربۀ کړم ښېرابۀ نۀ کړم
کۀ مې دصبرتوره وکړي ګوزارونه
صبربۀ کړم ښېرابۀ نۀ کړم
صبرډېرښۀ دی بيالی بۀ شم مينه
صبربۀ کړم ښېرابۀ نۀ کړم

ګوندي زمالۀ صبره اوروا خلي ملکونه
صبرپۀ هرځۀ کې پۀ کاردی
پۀ عاشقۍ کې بې صبري مزه کوینه
صبردریاب زړۀ مې ماهی دی
بېلتون دصبردریاب وچ کړماهی مرینه
صبردزړۀ راکړې خاونده
چې نور ونۀ ګرځم پۀ ورانوبرجلونه
صبردزړۀ راکړې خاونده
چې بې وفااشناپۀ خولۀ نۀ یادومه
صبرکوه خدای بۀ مې درکړي
پۀ بې صبرۍ معشوقې چاموندلې دینه
صبرکوه خدای بۀ مې درکړي
اخربۀ وزانګې دزلفوپۀ تالونه
صبرکوه خدای بۀ مې درکړې
خدای پۀ قران کې فاصبروویلي دینه
صبرکۀ هرڅوزړۀ ته ورکړم
لۀ نازنین اشنایه نۀ اخلي لاسونه
صبرکوه صبرډېرښۀ دی
پۀ صابرانو وي دخدای ډېررحمتونه

صبر کوم طاقت مې نۀ شي
زړۀ مې د یار لۀ غمه شین لۀ ژړا شینه
صبر مې ۀ پرور پسې وکړ
نور مې د صبر جام لبریزدی وا بۀ وړینه
صبر نه ما ګټه و نۀ کړه
کۀ نور و خلکو کړې وي څۀ یې کومه
صحرا ته ووځم غم غلط کړم
پۀ غم لړلي کوردئ بیا ورله راځمه
صدف دندان بلوري غاړه
زما شیدا زړګی یې کله هېروینه
صورت د استالکه د باغ دی
چې زړۀ مې داغ دی سودا یې ګرځم مینه
صورت دې خوب کې راته راشي
د شپې مې ویښ کړي ترسبا مې ژړوینه
صورت دې ټول د ښا پېرو دی
ځکه دې هڅه پۀ یارۍ پسې کومه
صورت د سپین کمیس دې شین دی
لکه نرګس چې شین یې نار سپین یې ګلونه
صورت دې ونه خولۀ دې ګل دی

کله غوټۍ شې کله وسپړې ګلونه
صورت زما واک یې د نورو
خدایه ته ؤ واخلې دا بې واکه صورتونه
صورت قفس زړۀ مې ققنس دی
ترخولۀ بۀ وباسم شین دود لمبه بۀ شمه
صورت مې اس زلفې مې لومې
بېلتون پرې سپور دی پۀ ملکو یې ګرځوینه
صورت مې ټول پۀ وینو رنګ دی
د تورو جنګ کې مې ګولۍ خوړلې دینه
صورت مې ټول ذرې ذرې دی
یاره قدم را باندې ږده چې کوشیر شمه
صورت مې ټول کوبۍ کوبۍ دی
ستا د بنو غشو وژلې یم مینه
صورت مې ټول مورې مورې دی
تا د بنو پۀ اشارو وهلی یمه
صورت مې ټول د زهرو ډک دی
زۀ منګري موزي پر زړۀ خوړلې یمه
صورت مې ټول پۀ وینو رنګ دی
د زړۀ پۀ سر مې کارګان ناست غوښې یې خورینه

صورت مې ټوله درته ربړدي
چې پۀ رنجو دې سترګې تورې وو ينمه
صورت مې ټول لعل وجوهر دی
سنګ پارس پۀ غبږ کې ونيومه
صورت مې ټول پۀ غم زهير دی
غوځ مې ضمير دی خود بۀ مړلۀ درده شمه
صورت مې ټوکی دا طلس دی
يار مې ناکس دی پۀ خوارۍ مې زړۀ وينه
صورت مې خپل پۀ کټ ويدۀ دی
اروا مې ستا پۀ کټ منګولې لګوينه
صورت مې خپل واک مې پردی دی
صورته خاورې شې چې نوردې واک کوينه
صورت مې زر غمازز زرګر دی
پۀ پولادي بياتي مې غوښې پرې کوينه
صورت مې زريار مې زرګر دی
ما دهجران پۀ لمبو ځکه تورو ينه
صورت مې ستا هجر رنځور کړ
کۀ دوصال دارورانۀ کړې مړ بۀ شمه
صورت مې وچ لکه رباب دی

زړۀ مې شهبازدی اند ېښنې پرې غړومه
صورت مې وچ لکه رباب دی
د ېلتانۀ سازګرېې کاږي فريادونه
صورت مې وچ غموزېښلی
لکه چې وزېښې ژوره دچاوينه
صياده لاس دې بند کې مات شه
شيرين بلبل دې پۀ زړۀ ولې وويشتنه
د (ط) څخه تر (ظ ) پوري

طاقت دزړۀ فکراوصبر
جانان زمنه پۀ غمزوکې وړې دينه
طالبان راغلل ډلې ډلې
زمادزړۀ طالب رانۀ غی وبۀ مرمه
طالبان مه کړې مين خدايه
يوغم دعشق وي بل دعلم کړي مينه
طالبان واړه ملايان کړې
عبث يې مه کړې دټول عمرزحمتونه
طالبان واړه ملايان شول

هسې زما پر کتاب پرېوتل ګردونه
طالبان وختل وطن ته
زهٔ د جانان سترګو رنځور کړم مینه
طالبان وختل وطن ته
زهٔ د اشنا سترګو نیولی پاتې شومه
طالب پهٔ قبر کې نارې کړي
قلم مې کور ګوتې مې تورې خاورې خورینه
طالبه بس که ژړا مه کړه
څوک خو دې نهٔ شته چې دې اوښکې پاکې کړینه
طالبه خدا یږو کهٔ ملا شې
پر کتاب پروت یې یادوې شینکي خالونه
طالبه ړوند شې کتاب کت کړه
ستاد کتاب ترحاشوډېر دي زما خالونه
طالبه زبری مې دربان دې
دد برې خواته سیلانۍ راغلې یمه
طبیبان ټول د مخې راغلل
زما درنځ طبیب رانهٔ غی وبهٔ مرمه
طبیبه پوه نهٔ شوې پهٔ نبض
ماته پهٔ کار دي د سروشونډو شربتونه

طبیبه پوه نهٔ شوې پهٔ نبض
ماله پهٔ کار د یار د وصل ملهمونه
طبیبه څه پهٔ مخ دې بنهٔ شه
ناروغه نهٔ یم د یار غم مې ژړوینه
طبیبه واوره حال مې ګوره
توري بلا دعاشقۍ خوړلې یمه
طبیبه رنځ مې لاعلاج دی
خوشې خواري دې پهٔ مانهٔ کړې اثرونه
د (ط) ښخه تر (ع ) پورې

ظالمه راشه راته ګوره
ببړۍ شوه غرقه پر تختته ولاړه یمه
ظالم یاره خبروا خله
ماستا لپاره پر ځان وړي زحمتونه
ظاهر د خلکو سره خاندم
د ننه زړهٔ مې د بېلتون ژړا کوینه
ظاهر مې خلک روغ جوړ بولي
باطن مې زړهٔ د وینوډنډ دی وبهٔ مرمه

ظاهرمې خلک ګدابولي
باطن د درست جهان پاچاپاچهي کړمه
ظاهرعالم ته روغ ښکارېږم
پۀ زړۀ سوری لکه بادام درپسې یمه
ظلم دې ډېرراباندې وکړ
اوس دې لۀ مینې د انصاف تمه لرمه
ظالمه دا ظلم دې بس دی
چې یو دې خوارکړم بل دې ورک کړم لۀ وطنه
ظالمه نوربندیان دې ډېر دي
بوډارا خلاص کړه خلک یې ډېر ډېر یادوینه

## د (ع ) څخه تر ( غ ) پوري

عاشقان ټول سوي سکارۀ دي
لیلا پۀ تورو سکرو مه ږده قدمونه
عاشقان واړه جنتیان دي
غمازان ولې جنتیان ازاروینه

عاشق پاچا معشوقه تاج دی
تاجونه تل د پاچاهانو په سروینه
عاشق چې ورشي معشوقې له
اول یې ښکل کړې بیا پرې واچوي لاسونه
عاشق د خدای ملامت نهٔ دی
پهٔ ښایسته ؤ د هرچا مینه راځینه
عاشق سړی نهٔ غلطېږي
پهٔ لارې ځي د فکرتال یې زنګوینه
عاشق سړی نهٔ غلطېږي
رنګ یې زېړی وي سترګې تورې ګرځوینه
عاشق سړی د رنګه توروي
سوی پهٔ اوروي معشوقې رټلی وینه
عاشق ګلاب معشوقه بوټی
ګل چې لهٔ بوټې شکوې مړاوی بهٔ شینه
عاشق ماهی مینه یې ډنډ دی
چې ډنډ و چېږي ماهی کله ژوند کوینه
عاشقه حال دې راته وایه
چې پهٔ زخمي زړګي دې څهٔ تېرشوي دینه
عاشقي لوی ژورکوهي دی

زۀ يې پۀ غاړه ګرزېدم ورولوېدمه
عاشقي تېغ ځنې پېدا ده
څوک چې پۀ تېغ لوبې کوي زخمي بۀ شينه
عاشقي ټوله محتاجي ده
کۀ څوک پاچاوي دريبار احتياج بۀ وينه
عاشقي درد دلړمانۀ دی
دلړمانۀ لۀ درده د ېرمړۀ شوي وينه
عاشقي روغ سړی رنځور کړي
پرمايې وکړل د پولادوګوزارونه
عاشقي روغ سړی رنځور کړي
څۀ دي ضرورچې روغ صورت رنځورومه
عاشقي غم دی ښادي نۀ ده
څوک چې د غم طاقت لري مين دې شينه
عاشقي لال بېلتون ښاردی
څوک چې دلعل تمه لري ښاربۀ يې خورينه
عاشقي مه کوه روغ ګرځه
بس که چې زما پۀ ځوانۍ اورولګېدنه
عاشقي مه کړه عاشق خواروي
کۀ دی سرداروي دريبارموتازبۀ وينه

عاشقي نيمه پاچاهي ده
څوک چې پوهېږي په هنر يې چلوينه
عاشقي ورکه کړې خاونده
اصيل سرې به دکم اصلو غلام کړينه
عاشقي ورکه کړې خاونده
چې سيال سړی به دنا سيالو محتاج کړينه
عالم به ټول پرتا مين شي
که دې زما په سترګو ووينې مينه
عالم تومت راباندې وايي
زه تومتي اشنا په سترګو نه وينمه
عالم خوډ پر راته ګوابنېږي
خدای زده چې مرګ به مې دچاله لاسه وينه
عالم خوډ پرپرماچا پېږ دی
په سترګو بده شوم خپل يار نه پېژنمه
عالم دغمه پناغواړي
زه دا اشنا په غم کې ډوب خوشاله يمه
عالم دې ټول په انتظار دی
مخ دې ښکاره کړه چې عالم خوشاله شينه
عالم مې ټول تپوس ته راغی

هغه رانغی چې یې پروت لهٔ غمه یمه
عالمه بل د ستورمې ولید
پهٔ خولګۍ موړدی د سروشونډو کړې سیلونه
عالمه تاسې ورته ګورئ
نجلۍ پهٔ لاس کې سرې منې نیولې دینه
عالمه تاسې ورته ګورئ
ترپښویې غبرګې زولنې ترسرشالونه
عالمه تاسې ورته ګورئ
ویشتلی مادی پهٔ دیدن یې روغومه
عالمه تاسې ورته ګورئ
نجلۍ ده ښکلې کهٔ رب زهٔ پرې مین کړمه
عالمه ټګه زمانه ده
یارته لستوڼی ورکوي منګول ساتینه
عاله ټول شئ جرګه وکړئ
لیلا پټی غواړي لونګ پهٔ کې کرینه
عالمه حال مې د ققنس شو
پهٔ مېره بوټې ټولوم ځان پرې سبزمه
عالمه خاصه شهیدګۍ ده
چې مې عاشق سره جوړه حلالوینه

عالمه خاورې مې پۀ سرشوې
پۀ زېړو ګلو کې خزان ولګېدنه
عالمه څنګه بۀ پسې نۀ مرم
يوبې نظير دی بل زما رضا کوينه
عالمه څوک ملامت نۀ دي
چې يو بېلتون شي بل يې يارملامت شينه
عالمه څۀ کانې راوشوې
عمل مې نۀ شته پۀ ارمان لۀ دنيا ځمه
عالمه څۀ کانې راوشوې
جانان زما لۀ غېږې ځي ماژړوينه
عالمه ځان بۀ ترې قربان کړم
کۀ مسافراشنا مېلمه راباندې شينه
عالمه دوه چارې راوشوې
يو مې ياربا يلود بل مې کورلۀ کلي ځينه
عالمه راشئ تماشې له
شمعه دناز خنداکوي پتنګ سېزينه
عالمه راشئ سيل وکئ
نن پۀ باغو کې کشمالې چېپې وهينه
عالمه راشی تماشوله

سهاروختي بهٔ مې یاردارته خېژوینه
عالمه راشئ تماشوله
دیاربېلتون مې لکه ناوې ژړوینه
عالمه راشئ پناکېږي
دکشمالوپنډ یې نوکرورسره وړینه
عالمه راشئ مخ مې تورکړئ
دغېږې یارمې لباسي وخوت مینه
عالمه راشئ ماسنګسارکړئ
اولاددبل غم یې مالره رائینه
عالمه راشئ مخ مې تورکړئ
مادبې ننګویاري کړه وشرمېدمه
عالمه روغ یې لېونی کړم
دجانان سترګې روغ سړی لېونی کړینه
عالمه روغ یې لېونی کړم
پهٔ مایې کړي دي دمینې تاویزونه
عالمه روغ ئې لېونی کړم
پهٔ توروربل کې یې ټومبلي سرهٔ ګلونه
عالمه سترګوته یې ګورئ
چې پهٔ ژړاشي مرغلرې تویوینه

عالمه ستر ګوته يې ګورئ
دا کج باڼهٔ يې ترسالو ختلي دينه
عالمه سور کفن راجوړ کړئ
دا سپين کفن مې دزړهٔ وينې رنګوينه
عالمه ښهٔ بهٔ راته ګورئ
دځوانۍ تاج مې پرسر د ملکه څمه
عالمه لاړ د دکن فرش کړئ
يارمې پادشاه دی د دکن پهٔ لورې ځينه
عالمه لرې شئ لهٔ مخې
د ديدن ورې پهٔ ديدن زهٔ مړومه
عالمه لرې شئ لهٔ مخې
ويشتلی مادی پهٔ ديدن يې روغومه
عالمه ماته دعاوکئ
دزړهٔ کښتۍ مې دغم بادنسکوروينه
عالمه ماته دعاوکئ
چې ناکرارزړګی زماپهٔ کرارشينه
عالمه ماته ګناه نهٔ شته
بخت چې کوږه شي پاچاهان ټکرې خورينه
عالمه نن مې زړګی ښهٔ دی

ترکجاوې لاندې جانان راسره ځینه
عالمه نن مې زړګی ښۀ دی
یارمې جامې دمینتوب اغوستې دینه
عالمه ورشئ حال یې راوړئ
ماته وعده دوصال کله راکوینه
عالمه وګورئ تالاشوم
زما پۀ نوې یارۍ لوټ ولګېدنه
عالمه یارمې بازاري شو
دخولې خندا پرما پۀ بیه خرڅوینه
عالمه یوتربل ځاربړئ
دنیافاني ده مېلمانۀ دي صورتونه
عالمه یوتربل ځاربړئ
دنیادغم ټالۍ وهي ورانه بۀ شینه
عالمه یوتربل ځاربړئ
مادمخلس یاران لیدۀ چې خاورې شونه
عرض خومې تۀ واخله خاونده
جانان مې نۀ اوري پۀ مینه کې عرضونه
عرض خومې تۀ واخله خاونده
زخمي زړګی دبېلتانۀ پۀ تورو یمه

عزرائیل هسې ځان بدنام کړ
زۀ لا پخوا د یار بېلتون وژلې و مه
عزرائیل راغی روح مې اخلي
ما د جانان ترغولی ژریو سه مینه
عسکرولاړ توپک پۀ لاس کې
غزاله ځي پۀ خپل وطن سرور کوینه
عشق جامه ما یې بدن کړې
چې خپل بدن کې ترعمره ګرځو مه
عشق د خدای زاری زما دي
قسمت ته ګورم چې بۀ څۀ را پېښو ینه
عشق کچکول پۀ لاس کې را کړ
اوس بۀ لۀ کورو کلي غوا ړمه نذرونه
عشق کچکول پۀ لاس کې را کړ
ځکه پۀ مینه زۀ د یار غولي ته ځمه
عشق مې زړۀ قلم قلم کړ
ځکه ناچار د یار پۀ در کې ولاړیمه
عقل د سرفکر د زړۀ وی
دیدار د سترګو د خولې ښې خبرې وینه
علم دریاب طالب ماهي دی

بېلتون جال ګیر پهٔ غاړه غاړه راسره ځینه
علم دریاب عمل کښتۍ دی
کبر طوفان دی چېرې غرق نهٔ شې مینه
علم دریاب طالب اوبازدی
یابهٔ ځان ډوب کړې یابهٔ وباسې ګوهرونه
علم مې کولپ دی دپولادو
فکر کلۍ ده پهٔ ورو ورو یې خلاصومه
عمر برباد راباندې تېرشو
داپاتې عمر زهٔ پهٔ مرګ حسابومه
عمر برباد راباندې تېرشو
نصیب مې نهٔ شول دلیلا سپین مړوندونه
عمر برباد راباندې تېر شو
لکه برباد چې پهٔ صحرا تېرشي بادونه
عمر برباد راباندې تېرشو
زهٔ د جانان پهٔ دیدن موړ نهٔ شوم مینه
عمر برباد راباندې تېرشو
لکه پهٔ لویو غرو چې تېرشي بارانونه
عمر چې تېرشي اشنا هېرشي
ستادې قسم وي چې ما هېر نهٔ کړې مینه

عمر د باد پۀ شان تېر ېږي
کۀ مې يار سل کاله بندي وي خلاص بۀ شينه
عمر د نوح بۀ مې نصيب شي
کۀ د وصال شراب پۀ شونډو و وهمه
عمر دې ټول پۀ خوب کې تېر کړ
راشه اوس ويښ شه د خپل ځان و خوره غمونه
عمر دې ډېر شه خپله ياره
زمد زړۀ ستنې پۀ تاولاړې دينه
عمر دې ډېر شه خپله ياره
لکه چې ببرې پانې اوړى ژمى وينه
عمر عبث را باندې تېر شو
لکه ربډې پربيابان ورژېډمه
عمر مې تېر شو غم مې ډېر شو
نۀ مې يار هېر شو نۀ مې زړۀ صبر کوينه
عمر مې ټول پۀ غم کې تېر شو
تردې ژوندونه اوس پۀ مرګ خوشاله يمه
عمر مې ډېر درسره تېر شو
ستا د يارۍ پۀ بند هېڅ پوه نۀ شوم مينه
عمر مې ټول پۀ غم کې تېر شو

زړګی تپوس دخوشالۍ رانه کوینه
عمرمې ټول پهٔ غم کې تېرشو
قادره خدایه خوشالي بهٔ کله وینه
عمرمې ټول پهٔ شوا خون دی
غمونه خورم دمینې ګوټ پسې کومه
عمل مې خپل دی رارسېږی
پهٔ یاربهٔ ولې دظالم حکم کومه
عالم ګل بوټي ته شپې کړي
ماله سمسوره باغه وا خستل لاسونه
عاشقي لال قېمت بها دی
څوېې قېمت پوره کوم قیامت بهٔ شینه
عشق مې پهٔ زړهٔ کې سورانګاردی
دیارګوزاردی چې زما پهٔ زړهٔ یې کړینه
عمردباد پهٔ شان تېرېږي
زړهٔ مې لړزېږي چې خزان نژدې راځینه
عمردې تېرپهٔ اېل بندوکړ
پهٔ مني راغلې اوس تازه غواړې ګلونه
د (غ ) ښخه تر ( ف ) پوري

غاټول بۀ ټول امېل بۀ جوړ کړم
د یارلپاره بۀ یې پۀ غاړه ګرځومه
غاټول پۀ یاد ستاد رخسار کې
پرد امان سرې پیالې د میونو شوینه
غاړه غړی بۀ د ر قربان شم
کۀ دې د جنګ پۀ ډګر وکړل یرغلونه
غازي پرلوړه غونډی کېږدئ
چې یې زیارت کړي د ګیلان ملالې نجونه
غاښ دې پۀ خولۀ کې هسې ښکاري
لکه صدف چې پۀ الوان ټومبلي وینه
غاښ دې کنډو ږېره دې سپینه
پۀ یارانه پسې ملنګ ګرځې مینه
غرونه بۀ ولې نۀ غځېږي
چې پښتانۀ پرې د غیرت چیغې وهینه
غریق پۀ بحرد عصیان یم
ستاد غفران کښتۍ ته زۀ هیله لرمه
غزاته ځې نۀ پاتې کېږې
د دین غزاته عاشقان پرسرور ځینه

غزاته لاړشه چې غازي شې
دنغري غاړه کې خونۀ شته جنتونه
غشی دې ټینګ پۀ ګورت کې نیسه
دیارۍ نښه دې خطائۀ شي مینه
غل دصحرابیتی لۀ کوره
زمادزړۀ سندوخ یې دړې وړې کنه
غلی زمالۀ ښنګه پرېوزه
زۀ خپل مین ترخپل وزرلاندې ساتمه
غماز بۀ ښنګه ماجلاکړي
دمینې ټال کې زۀ دیارسره زانګمه
غمازدې خاورې کورته یوسي
زۀ دګلوغنچه لاس کې ګرځومه
غمازکۀ سل ځله ځان دوست کړي
هېربۀ مې نۀشي دهجران ترخۀ غمونه
غمازه اوردې کورکی واخله
زموږ پۀ خوږه یاري دې اورولګاونه
غمازه خوارشې موږ دې خوارکړو
شړۍ دلنګ شه چې شلوې پردې شالونه
غمازه غبرګ زامن دې ومره

چې یو خبښړي بل د مرګ سلګۍ وهينه
غمازه مخ بۀ دې خدای تور کړي
زما اشنا ته زياتې مه کړه غيبتونه
غم او بېلتون ظلم یو شان کړي
چې چا ته يې مخ شي تر قيامته وير کوينه
غم بۀ دې کله را نه هېر شي
غم مې خوراک شو اند ېښنې بۀ دې کومه
غم پسې شاګرزه جانانه
کۀ غم د روړاندې شوځواني خاورې کوينه
غم پۀ کنډه را سره نيم کړه
ګوښې مې سرولمبو ته مه نيسه مينه
غم پۀ قسمت را سره نيم کړه
مناسب نۀ دی چې تنهايې تېرومه
غم ته پيدا پۀ غم کې لوی شوم
وړکوټی مړوی چې مې نۀ ليدی غمونه
غم ته پيدا پۀ غم کې لوی شوم
پۀ غم بۀ مړ پۀ غم بۀ تورې خاورې شمه
غم ته پيدا پۀ غم کې لوی شوم
پۀ غم لړلې يارنې سترې دې کړمه

غم تېروه ښادي به راشي
اخربه وزانګي دزلفوپه تالونه
غمجنه زه غمجن مې یاردی
غمجن به دواړه په غمجنه لاره ځونه
غمجنه یاره چېرې لاړې
زه ددادا انګړ کې ګوښې ناسته یمه
غم چې په غم باندې افزون شي
سړی مجنون شي له دنیاواخلي لاسونه
غم دا شنادی نورخه نه دي
چې مې په مخ داوښکودرومي سېلابونه
غم دجانان مې په زړه ګرځي
ځکه مې رنګ دمرغونې په شان شونه
غم دجانان لکه هلال کړم
تن مې اوبه شوتول له سترګونه توی شومه
غم دې پرما باندې چاپېردی
دسروبارخودې غمازان کوي سېلونه
غم دې په غم باندې زیاتېږي
نوربه دې غم په غم کې نه حسابومه
غم دې په مانه دی چې ژاړم

غم دې شمال دی هره پاڼه ښوروينه
غم دې تالا ببېلتون ايرې کړم
رضادې بادده چې مې هرلورې ته وړينه
غم دې چاړۀ زۀ يې ونډې کړم
رضاديارده چې مې هرلورې ته وړينه
غم دې درياب زۀ پۀ کې ډوب شوم
لاس دې رانۀ کړدماهي خوراک دې کړمه
غم دې زمالۀ تندي خېژي
پۀ نارنجي سينه دې نورکوي خوبونه
غم دې دغم سره سم نۀ دی
مينه دې لاپرپرهارمالګه دوړوينه
غم دې زماترزړۀ چاپېر دی
لکه پېروتې چې ترګل منجل وهينه
غم دې زماترزړۀ چاپېر دی
پۀ توروزلفوبۀ دې څوک وهي لاسونه
غم دې زمادتن جامه شوه
دتن جامه بۀ زۀ پۀ صبرزړومه
غم دې زماکره بندي دی
سباکۀ ووت کلی کوربۀ ورانوينه

غم دې سبق غم دې کتاب دی
غم دې استاد را ته د غم تقریر کوینه
غم دې غمخور اشنا ته راغی
جانانه ته د بېغمۍ کوه خوبونه
غم دې لۀ تانه وفادار دی
تۀ کله کله غم دې تل را سره وینه
غم دې لۀ ځانه سره یوسه
ما ته یې مه پرېږده رنده کنه بۀ شمه
غم دې یوائې را ته پرېښود
راځه پۀ ګډه سره وګالو غمونه
غم شو یوائې زما پۀ برخه
خپل او پردي را سره نۀ ګالي غمونه
غم کې لۀ تانه کمه نۀ یم
کم عقله نۀ یم چې بۀ کلي خبروم
غم مې د زړۀ پۀ سرغوټۍ شوه
هله بۀ ګل شي چې جانان مې ووینمه
غم مې د زړۀ نه را چاپېر شو
ترخولې مې وینې ځي د سل مرض مې شونه
غم مې لۀ غم سره زیاتېږي

نور بۀ دغم پۀ غم کې نۀ شمېرم مینه
غم مې لۀ زړۀ نه را چاپېرشو
لکه چنار پۀ تن مې اورولګېدنه
غم مې لۀ غمه نۀ شرمېږي
ځکه جوړه جوړه راځي پرما غمونه
غمودي هسې لېونی کړم
ځیرې ګرېوان پر بیابان ګرځم مینه
غمودي هسې چارې وکړې
چې دسفر پۀ لورې ځم ژړا راځینه
غمونه ټول پرما انبار شه
تۀ دې دګل پۀ شان تازه اوسې مینه
غمونه ټول لۀ ما چاپېر دي
د اشنا غم مې لکه وازګه ویلوینه
غمونه ټول را باندې راغلل
پۀ بیابان ګرځم خپل پردي نۀ پېژنمه
غمونه ټول پۀ ما انبار شوۀ
ببرې خونۀ یم چې پۀ سرداوبو ځمه
غمونه ډېر رانه چاپېر شول
جانانه ستا غم یې پاچا نورېې فوځونه

غمونه خپل را سره د پرؤ
ستارا سره شو هوا ګیریږي وا خستمه
غمونه خورم غمخور مې نۀ شته
لکه وچ خس پۀ تن مې اورولګېد نه
غمونه خورم غمخور مې نۀ شته
پریکتنهاصورت زمار غلل غمونه
غمونه خورم د وینو غوړپ کړم
ځکه مې سرۀ دي د سرکوشونډو سرونه
غمونه خورم غمخورمې نۀ شته
لکه ربدي پردا مانوورژبد مه
غمونه خورم غمخور مې نۀ شته
لکه چنارپۀ ډډ مې اورولګېد نه
غمونه راغلل څتې ختې
اندې زما اندې د یارکره لېږمه
غمونه شاته که جانانه
غم چې پۀ مخکې وي ځوانان خرابوینه
غمونه واړه برابر دي
د جانان غم مې پۀ ځوانۍ کې زړوینه
غمونه یو تربل تېری کړي

جانانه تا دې خدای لري نۀ شته غمونه
غمونو ستا تالاو الاکړم
یقین مې نۀ شته چې بۀ بیا خوشاله شمه
غمونو ستا زۀ ځګر خون کړم
لکه مجنون زۀ درپۀ درګرځم مینه
غنچه پۀ باغ کې پۀ خندا شوه
بلبل سینه پرا غزوړدي ورله ورځینه
غنچه پۀ باغ کې پۀ خندا شوه
بورا دصبر دروازې ورته ساتینه
غنچه دګلو مې پۀ لاس ده
بوراته پټ وایه چې ځان رارسوینه
غنچه دګلو مې پۀ لاس ده
کۀ څوک ګلونه بویوي ژردې راځینه
غندل دې غاړه خولۀ دې ګل ده
زۀ دې ګلشن ته درغلم ګل بویومه
غوټۍ پۀ باغ کې پۀ خندا شوه
بوراپرې شپې سباکوي چې ګل بۀ شینه
غوټۍ چې ګل شي بیا رژېږي
زما جانان دګل غوټۍ ورژېدنه

غوټۍ غوټۍ وينې مې څاڅي
د جانان مينې په زړګي غوځ کړې يمه
غوښه او اور کله جوړېږي
عالمه زۀ د عشق اور زړۀ کې ساتمه
غوښه د سيخ په سرور ېټيږي
نامرده تا پرې سراسر نيولې يمه
غولی جارو کړه د ېوه بله
سپينې لمنې اپرېدې راغلې دينه
غيرت کوه غيرتي ياره
چې په ټولګي د جنګو کې ميره شمه
غېږ په غېږ ژرراشه جانانه
تا بۀ زما د غېږې د پرارمان کاونه
غېلې خپرې که راته ګوره
چې په لمرڅرک بۀ دې ليدولره درځمه
غم دې لۀ عمره سره سم دی
تمام بۀ نۀ شي څوژوندی په دنيا يمه
د ( ف ) څخه تر ( ق ) پوري

فراق دریاب دی پای یې نۀ شته
زۀ ورلاهو شوم دهجران غوټې وهمه
فرش بۀ د سترګوورته خپورکړم
کۀ مروراشنا پرې کېږدي قدمونه
فریاد دخوږو زړو راخېژي
چې پۀ زړۀ روغ وي هغه نۀ کړي فریادونه
فریاد فریاد ناري وهمه
دبې وفااشنا جفالېونی کړمه
فریاد مې یارته نۀ رسېږي
دبېلتانۀ څوکی پۀ لاړولاړې دینه
فقیرته وخت بې وخته نۀ شته
څوک چې سخي وي هغه تل خیرورکوینه
فقیره تېرشه فقیرنۀ یې
لۀ سرایه ووزه هېڅوک خیرنۀ درکوینه
فقیره ته پروخت رانۀ غلې
پۀ نیمه شپه خیرونه چاورکړي دینه
فقیرته خیرراوړه مېرمنې
کچکول پۀ لاس فقیردعادرته کوینه
فقیره داعادت دې څۀ دی

چې تراواز دمخه سرښکاره کوينه
فقيره درکې يې هل وکړه
کۀ جانان خاورې درکوي تړه پنډ ونه
فقيره دوې ګټې دې وکړې
يودې خيريوو ړبل دې وکړل ديدنونه
فقيره هل کړه ودرېږه
چې پۀ کچکول کې دې پېزوان درواچومه
فکرکوم نۀ رايادېږي
چې داشناديدن مې کله کړی ونه
فلک دې خوارشي دايې کاردی
چې ښۀ ياران وي دی پۀ کين ورسره وينه
فلکه نن دې کمک غواړم
چې خواپۀ خوامې خپل جانان لره وروړينه
د ( ق ) څخه تر ( ک ) پوري

قادره خدايه تۀ مې مل شې
دبېلتانۀ غم ته يواځې پاتې شومه
قاصده ځه سلام مې وايه

پرهغه یارچې مین پهٔ خالووینه
قاصده بخت دې زورور دی
پهٔ دواړو سترګو بهٔ دیاروکړې سیلونه
قبرپراخه ورته جوړکړئ
زهٔ دا شناسره جوړه قبرته ځمه
قبرخوسل ګزه کوهی دی
ځوانان کوزېږي دناکام پهٔ تنابونه
قبرسوری شوخښتې ماتې
جانان شوخاورې دبیابان بادونه یې وړینه
قبرسوری کړه حال مې ګوره
پهٔ خمارو سترګو مې پرېوتل ګردونه
قبرسوری کړه حال مې ګوره
چې مې غونډۍ زنه چینجي دلحد خورینه
قبرشوزوړ تختې شوې ماتې
پرګلابي جانان مې پرېوتل ګردونه
قبر مې خواکې ورته جوړ کړئ
چې مروراشنا پهٔ ګورکې پخلاکړمه
قبرمې جوړپهٔ لویوغروکړئ
چې دوطن شمال مې شناختې ښوروینه

قبرمې مه پټوئ خلکو
کۀ اشنا راشي داوروستی دیدن کومه
قبریې ښۀ جوړ کړئ عالمه
مین پرد بس دی پۀ کې تېربۀ کړي کلونه
قدر کوه قدر خو ښۀ وي
پۀ بې قدرۍ عالم تبالۀ دنیا ځینه
قد دې چند ړونې پۀ څېر دی
هر څۀ مې هېر ښامار دزلفو خوړمه
قد دې د سروې پۀ څېر لوړ دی
لکه شمشاد دغمه تور درپسې شومه
قدم پۀ وروړده پښې دې ګوره
ستا تر قدم لاندې مې زړۀ دی وبۀ چوینه
قرار خومه کېنئ عالمه
د تورو جنګ دی لالې سر قربانوینه
قسمت خو ښې چارې ونۀ کړې
چېرته تو تیان د سر درو چېرته دامونه
قسم پۀ خدای باورپرې وکړه
چې را پۀ یاد شې لۀ خولې وینې غورځومه
قسمت زما دی کۀ دیار دی

پهٔ اوردې و سوځې ددواړو قسمتونه
قسمت مې خپل دی رارسېږي
زهٔ بهٔ لهٔ چانه ګیله منه شم مینه
قسم پهٔ خدای باورپرې وکړه
چې بې لهٔ تامې هېڅ ارام دزړهٔ نهٔ شینه
قسم پهٔ خدای باورپرې وکړه
چې ځکندن دی پهٔ دیدن پسې دې مرمه
قسم پهٔ خدای باورپرې وکړه
پهٔ تش دیدن پسې دې اوښکې تویومه
قسم پهٔ خدای باورپهٔ وکړه
د جانان غم مې خوشالۍ ته نهٔ پرېږدینه
قسم پهٔ خدای باورپرې وکړه
چې ودې نهٔ وینم نرۍ تبه مې وینه
قسم پهٔ خدای روغه بهٔ نهٔ شم
اشنادسترګو پهٔ خنجروهلې یمه
قسم پهٔ خدای هېربهٔ دې نهٔ کړم
کهٔ داسمان ترستوریوډېرتېرشي کلونه
قسم پهٔ خدای کهٔ شرم نهٔ وی
ګرېوان پاره بهٔ پهٔ عالم کې ګرځېدمه

قصابه تبربۀ دې مات شي
زما هډوکي ببلتانۀ وچ کړي دينه
قلم بۀ مات ګوتې بۀ پرې کړم
کاغذه تاکۀ اشناونۀ ژړاونه
قلم بۀ مات ګوتې بۀ پرې کړم
پۀ وينو رنګ کاغذ بۀ يارلره لېږمه
قلم پۀ لاس اشنا را ياد شو
لۀ نيمايي کربښې مې لاس وخوت مينه
قلم پۀ لاس غمونه کاږم
دۀ بره غمه پۀ قلم تکيه کومه
قلم پۀ لاس غمونه کاږم
زما پۀ لاس کې قلم دړې وړې شونه
قلم پۀ لاس کاغذ ته ګورم
اشنا را ياد شو زما هېر شول تقريرونه
قلم پۀ لاس کاغذ پۀ ګوتو
ستا د جفا کاغذ ليکم ژړا را ځينه
قلم پۀ لاس کاغذ پۀ ګوتو
اوښکې مې وارنۀ راکوي چې څۀ ليکمه
قلم پۀ لاس ګوتې مې رېږدي

ستا د هجران خبرې کړم ژړا راځینه
قلم په لاس ګوتې مې رېږدي
دا شنانوم رانه نیمګړی پاتې شونه
قلم په لاس مخې ته راغلې
د زړهٔ پرسردې راته ولیکل غمونه
قلم په لاس کې فکریوړم
چې بې وفا اشنا ته څهٔ شی ولیکمه
قلم ته ګوتې پهٔ ژړا شوې
خطبهٔ باقي وي مورِ بهٔ تورې خاورې شونه
قلم ځنځیروی مابهٔ مات کړی
پرازلي قلم وهلي دي مېخونه
قلم د سرو کاغذ د سپینو
د زړهٔ پهٔ وینوېې لیکم افسوس کومه
قلم دې رب وهلی نهٔ دی
ماتهپهٔ لویه لارکې مه ژاړه مینه
قلم دې مات ګوتې دې پرې شه
زما خیالي اوربل ته نهٔ کړې تاویزونه
قلم زما پهٔ حال خبرشو
ځکه د خولې نه تورې وینې غورځوینه

قلم قلم زړۀ مې قلم شو
مل خو مې غم شو چې بندي د هجران يمه
قلم قلم د رپسې زۀ شوم
پۀ نارنجي سينه دې نور کوې خوبونه
قلم قلم د رپسې نۀ شوم
لۀ خپله ځانه مې ګيله وشوه مينه
قلم کاغذ ته پۀ ژړا شو
چې زۀ شوم پاتې تۀ بۀ وکړې ديدنونه
قلم مې بيالۀ غرېوه ډک دی
پر کاغذ کارېږم د بېلتون د غم بيتونه
قلمه بس کړه وړاندې مه ځه
نۀ پوره کېږي د زخمي زړۀ غرضونه
قلمه بس کړه وړاندې مه ځه
ماته ياد ېږي د غمجنو زړو غمونه
قلمه دا دې مبارک شه
چې د جانان سلام پۀ تا باندې ليکمه
قلمه ډېر دې احسان مند يم
زما دې حال يار ته بيان کړ پخلا شونه
قلمه زر شه کاغذ ليک کړه

قاصد دیارپۀ لورې ځي ناوخته شونه
قلمه ژرپۀ کاغذ ګرزه
ځواب دیارپۀ لورلېږم ناوخته شونه
قلمه مات شې بخته واوړې
تندیه مات شې پرتاڅۀ لیکلي دینه
قلمه مات شې بخت دې واوړه
صورته خوارشې چې موزیان دې زړوینه
قلمه هېڅ اثرپرې نۀ کړي
کۀ یارته تورکړې دغمونو کاغذونه
قهردخدای دې باندې وشي
چې بۀ ددوو پۀ منځ کې اچوي درځونه
قېمت دیاربۀ پوره نۀ کړي
کۀ غرونه سرۀ کانې شي لعلونه
قېمت دې ووایه جانانه
چې روح مې ستاشي نوربۀ څومره پاتې شینه
قلم پۀ ګوتوزړۀ مې رېږدي
د (ک) ښخه تر ( ګ ) پوري

کابل ته مه وایه چې وران شه
په کې پراته دي ښه ځوانان کاږه برېتونه
کابل ته مه وایه چې وران شي
په کې پراته دي پښتانه د ننګ مېړونه
کابل خوښه مزل یې بد دی
زما ګل رنګ جانان یې زېړ زبېښلی کنه
کابل د ښو ځوانانو ځای دی
ما د نېستۍ دلاسه پرېښوده مینه
کابل د ګلو ډک دی خدایه
زما یاد ېږي کندهار شینکي باغونه
کابل کې څه غواړې نادانه
کابل کې نه شته سلارۍ سره پلونه
کاته د ګلو منع نه دي
اشنا مې ګل ماتړې په څه منع کوینه
کارد دنیا شوله ما پاتې
چې ستا صورت کړمه را یاد ژړا راځینه
کاروانه کم کوه مزلونه
یار مې نادان دی سهار خوب یې زنګوینه
کارونه ټول ازلي دي

مین بۀ صبرپرې کوي وړي بۀ غمونه
کارونه واړه دتقدیر دي
عالم پۀ ماخاندي چې ولې مین شونه
کاږۀ اوربل دې لېونې کړم
یايې بیاتي کړه يايې غوټه کړه سرونه
کاږۀ وري بۀ مې سم نۀ شي
زۀ دلیلاروغې راستۍ وهلی یمه
کاشکی مین دربانديې نۀ وی
چې اوس مین شوم بېلتون مې ژړوينه
کاغذ چې درشي غمجن مه شه
پۀ زړۀ غمجن یم وارخطانۀ شې مینه
کاغذ چې لولې ورته ژاړه
ماچې لیکلې ورته مې ډېرژړلي دينه
کاغذ دزړۀ پۀ وینولیک دی
اه مې پرې وکیښ څکه توريې شول حرفونه
کاغذدنیم دیدن څواب دی
پۀ ماموقوف شول دیارانودیدنونه
کاغذدیار پۀ اوښکولوند ؤ
زماخوږمن زړګی پرې وینې تويوينه

کاغذ دې يو پربله راغی
د ما زيګر کاغذ دې نوکې نوکې کنه
کاغذ ليکم اوښکې مې څاڅي
د اوښکې رود خبرې تولې رانه وړينه
کاغذ مې ګډوډ نوشته کړ
اوښکې مې څاڅي ليک مې بهرته ورانوينه
کاغذ مې يارته نۀ رسېږي
پۀ لارپيرې دبېلتانۀ ولاړې دينه
کاغذه بخت دې مبارک شه
نن دې قاصد د يارو طن لره وروړينه
کاغذه بخت دې مبارک شه
مورږ بۀ دلې يو تۀ بۀ وکړې ديدنونه
کاغذه بخت دې مبارک شه
زما جانان سره بۀ وکړې ديدنونه
کاغذه تۀ زمورږ دلال يې
پربې پروا اشنا مې وايه سلامونه
کاغذه څه مخ ته دې ښۀ شه
زۀ بۀ دلې يم تۀ بۀ وکړې ديدنونه
کاغذه ډېرتلوار وکړه

د سوي زړۀ مې يار ته يو سه پيغامونه
کاغذه دومره نېکي وکړه
د سوي زړۀ مې يار ته وکړه بيانونه
کاغذه راشه چې دې ښکل کړم
ښکلي جانان بۀ پۀ تالاس وهلی وينه
کاغذه راشه چې مشغول شوو
زما جانان بۀ تاته حال ويلی وينه
کاغذه ژر ژر ترې رادرومه
چې مې جانان پۀ حق کې څۀ ويلی دينه
کاغذه ژر راپسې راشه
چې يار زما پۀ حق کې څۀ ځواب کوينه
کاغذه والوزه شاهين شه
لۀ خنداشين شه بيا پرې وايه سلامونه
کاغذه ورشه حال يې راوړه
چې مې جانان مجلس د چاسره کوينه
کاغذه ورشه پۀ سلام شه
بيا پۀ کلام شه چې د يار سلام کوينه
کاغذه ورشه ورته وايه
چې ستا بېلتون مې لکه ناوې ژړوينه

کاغذه ورشه احوال وروړه
جانان ته وایه یاردې تورې خاورې خورینه
کاغذه ورشه پهٔ تعظیم شه
اول ترې ځارشه بیا پرې وایه سلامونه
کاغذه ورشه ورته وایه
پهٔ غم لړلی یاردې پروت زګېروی کوینه
کاغذه ورشه ورته وایه
پهٔ غم کې ډوب اشنادې ډېرډېریادوینه
کاغذه ورشه ورته وایه
یاربهٔ دې تل مسافرنهٔ وي رابهٔ شینه
کاغذه ورشه ورته وایه
یاردې دمرګ سلګۍ وهي تایادوینه
کاغذه ورشه ورته وایه
ماچواري شونډې لېږلي دربهٔ شینه
کاغذه ولاړشه بېرته راشه
زمادملک پهٔ خاورووایه سلامونه
کانې بهٔ ولې نهٔ اورېږي
ددوو مینوسره بندشول دیدنونه
کانې راواخله ماپرې وله

داسې خومه وایه چې خولهٔ نهٔ درکومه
کبرمې کړزوال مې بیاموند
لکه سپوږمۍ پهٔ ځوانۍ تندرونیومه
کتاب تمام طالب روان شو
ترحجرې ګرده تاوېدم پهٔ لمبوسومه
کتاب مې کوت جانان رایادشو
اوښکې مې لاړې دکتاب پرېیاضونه
کتابه ژر ژر تمامېږه
ماپهٔ وطن کې رنځوران پرې اېښې دینه
کټ مې پهٔ لوړه غونډۍ کېږدئ
چې داشنادملک شمال راته راځینه
کټ پولادي پوزی دزرو
نجلۍ دسرو ګلوغنچه خوب پرې کوینه
کټ مې دګورپرلورې یویسئ
غسل مې نهٔ شته توروزلفو شهید کړمه
کټ مې دګورپهٔ غاړه کېږده
دنوي کورمبارکي راکړه مینه
کټه ځلوردې بازوګان دي
پنځم جانان شپېږمه زهٔ درسره یمه

کچکول پۀ لاس شړی مې لنګ وی
جامې مې رنګ وی یاره ستا پۀ تومتونه
کچکول پۀ غاړه قلندریم
فقر دیار د دیدن کړم ببرته راځمه
کچکول د سترګو مې نیولی
کۀ مې جانان د دیدن واچوي خیرونه
کچکول د سترګو ورته نیسم
د دیدن خیریې زۀ لۀ مخه ټولومه
کچکول د سترګو ورته نیسم
زړۀ مې مین خیرات د حسن ټولومه
کچکول د سترګو ورته نیسم
چې پۀ کې واخلم د ښۀ حسن زکاتونه
کچکوله دړې وړې مات شې
چې درپۀ در دې ګرځوم تش دې راوړمه
کله دې دیار پۀ مخه راغلې
ژړا مې راغله د بوالۀ ته ودربدمه
کله دې ولاړې کېږدۍ بارشوې
پرلویه لاره بۀ دې څرک باسم مینه
کړی شپه ماته خوب رانۀ غی

ستاد قلم کرښو ته اوښکې تویومه
کړېږ وږېږ وروځې دې غرونه
دوروځومنځ دې لوی کنډو شپه پرې کومه
کسي ببړۍ اوښکې دریاب دی
د سمندرلۀ غولي وینم ګل کڅونه
کشکې اسمان کې ستوری زۀ وی
چې جانان خوب کړی زۀ بۀ رون پرې ځلېدمه
کشمالونوې غوټۍ کړي
داکشرورور دې رالېږه چې غنچې وړینه
کفن شوزوړ تختې شوې ماتې
جانان مې خاورې دصحراشوبادېې وړینه
کفن مې ښۀ وکنډه مورې
دځوانی عمرپۀ کفن کې تېرومه
کلادې لوړه تربرجو کړه
کنډو یې پربېږده چې سالومې بادوهینه
کلاله غبرګ زامن دې ومره
منګی مې درونډ دی نرۍ ملامې ماتوینه
کله بۀ سود کله بۀ زیان وي
کۀ جانان دواړه قبلوي ورسره ځمه

کله بۀ یم کله بۀ نۀ یم
پۀ بورجلونو مې ډاډه اوسه مینه
کله بۀ یم کله بۀ نۀ یم
زما یاري پۀ ورانه مه شمېره مینه
کله بۀ یم کله بۀ نۀ یم
کۀ کله نۀ وم بیا بۀ وکړې ارماندونه
کله چې ځې کله ودرېږې
تردې ختلي زړۀ دې ځارشمه مینه
کله چې راشې خوشالېږم
کله چې نۀ راځې رنځوردرپسې شمه
کله د خیال سلطنت جوړکړم
کله د فکرتال کې کېنم وزانګمه
کله دې غم راباندې زور شي
کله دې مینه پۀ درنو کاڼو تلمه
کله ښکاره کله پټېږې
لکه سور ګل چې باد پۀ پاڼو کې وهینه
کله غوټۍ کله غنچه شې
کله باغچه شې دزړۀ غم لرې کوینه
کله کراره کراري شي

کله راواوړي پر سینه دغم ګرزونه
کله مې غم لیدلی نۀ ؤ
لکه دصبرونه پورته جګېدمه
کله مې یاد کله مې هېرشې
کله مې خوږ دزړګي سردرپسې شینه
کله ناکله دیدن راوړه
ستاددیدن بۀ ارمانجن لاړشم مینه
کلی بۀ خپل غمونه ژاړي
زماوستاپۀ یارۍ څۀ غرض لرینه
کلي پۀ کلي بدي زورشه
مازورور کلي ته تېره کړه چې ځمه
کلي ته غوټه راته وکړه
مشریې څوک دی ننواتې ته ورځمه
کمباړه غټه روپۍ واخله
دملالوپرمنګي واچوه لاسونه
کم عقل خلک پرې غولېږي
ددنیاګۍ فاني بازاردی وران بۀ شینه
کمکۍ نجلۍ پۀ یارۍ پوه شوه
لکه لړم پۀ دېوالوخولې لګوینه

کمکۍ نجلۍ ګوره چې لمونځ کړي
قبول یې مه کړې تورپېکۍ پۀ خاورو ږدینه
کمکۍ نجاۍ ملالې سترګې
داتور پېکي یې پۀ مااورولګاونه
کمکۍ نجلۍ ملالې سترګې
داتورپېکی یې تنکي وښتي غورځوینه
کمیس دې تي پۀ سرسوری دی
لکه غاټول چې لۀ پردې وتلی وینه
کمیس دې تورمټې دې سپیني
لکه ښامارچې ترچندڼ تاوشوی وینه
کمیس مې ښۀ تورکړه رنګرېزه
زۀ دورېښمو چمچمار پرې خېژومه
کمیس مې لنډ ونیسه مورې
وطن پردی دی بوټې خولې رالګوینه
کمیس مې لنډ ونیسه مورې
یارمې طالب دی خوښوي لنډ کمیسونه
کمیس یې توردی ګل پرې سپوردی
دبنګړوشوردی کټ کوټې ته خېژوینه
کوتره بازوخوړه خدایه

زۀ خوارشاهين منګولې سرې پرې بدنام شومه
کوتره بازسره جوړېږي
ارمان مې دادی چې کارغه کوتره خورينه
کوچيانې بيا پۀ کوچ رهي شوې
زماليلا يې ده سرداره مخکې ځينه
کوچيانو کوچ وکړکوچېږي
دليلا بارشوۀ داوښانو کتارونه
کوډګروبيا کوډې تازه کړې
ورۀ ته راغلی اشنابېرته ګرځوينه
کوربۀ پۀ خوشې ډاک ودان کړم
ببلتون بۀ څۀ کاچې پۀ خوشې ډاک راځينه
کوردې پۀ شنوونوکې پټ دی
مړوند راهسک کړه دشنوونوترسرونه
کوردې اسمان ته پۀ کې حوره
لمروسپوږمۍ دې نوکران نيولي دينه
کوردې پۀ کلي کې معلوم دی
ددروازې پۀ سردې ګل کرلي دينه
کوردې دهسکوغرو پنادی
زۀ واوره نۀ يم چې پۀ غرودرجګه شمخ

کوردې نژدې دیدن دې لرې
دېوال دې ړنګ شه چې ورېا دې وینمه
کوردې نژدې دیدن دې لرې
دکوه قاف ترغرۀ دې لوړدي دېوالونه
کوردې دغرۀ پۀ سرکې جوړکړه
نۀ درختی شم نۀ مې زړۀ صبرکوینه
کورمې لۀ ګوره هېڅ کم نۀ دی
چې بې جانانه پۀ کې شپې سباکومه
کوریې دمرګ پۀ چیغه وران کړې
چې پۀ مین دلبوني ګمان کوینه
کوشش مې ډېردرپسې وکړه
مګرافسوس دی سراسرناکامه یمه
کوشش مې ډېر درپسې وکړه
لوح محفوظ کې یې جدالیکي وونه
کوکریه مه راته غېږېږه
زۀ دې مېرمنې پۀ رېبار بللی یمه
کوکۍ دې خورمه نۀ مړېږم
نامردې تولة راپۀ شاشه چې دې وړمه
کوندې کوندتون دې مبارک شه

زوی دې ځلمی دی پۀ برېتو وهي لاسونه
کۀ اباسین بند شوی نۀ وي
پۀ بایګنو کې بۀ چاڅۀ مندی ټیکونه
کۀ اباسین بند شوی نۀ وی
ترګل ښایسته نو ښاربۀ ولې ورانېدنه
کۀ اشارت کړې د بڼو کړه
د سپینو غاښو برېښنامه کړه څوک بۀ وینه
کۀ اشنایي راسره نۀ کړې
پۀ مینه غرږ راته کوه چې یاردې یمه
کۀ او سپلی پۀ دنیا نۀ وی
زما د زړۀ سندوخ بۀ اوراخستی ونه
کۀ او سپلی ترخولې وباسم
پۀ دې نژدو کلیو بۀ اورولګومه
کۀ او سپلی ورسره نۀ وی
ستا اند ېښنو بۀ مې زړۀ پړک چوولی ؤنه
کۀ او سپلی کړم اوربۀ واخلې
دلو نګین مېرمنې صبرمې دې وینه
کۀ او سپلی کړم اوربۀ واخلې
کۀ غړ غړې کړم اوس بۀ رنګ پۀ وینو شېنه

کۀ او سېلی مې نۀ کولی
پرلړمانۀ بۀ مې دېګونه پخېدنه
کۀ بریالی لۀ جنګه راغلې
داتوروربل بۀ لۀ تاځارکړمه مینه
کۀ بۀ زما پۀ دعا کېږي
رب دې باداركړه چې سلام ته دې درځمه
کۀ بۀ زما پۀ دعا کېږي
رب خو دې درکړي پۀ جنت کې ښۀ ځایونه
کۀ بۀ زما روغه راستي وي
لالی پۀ سمه لارچې ځي بودری دې خورینه
کۀ بۀ مې یو ګړی هېرېږې
زما دې هېرشي داویلي کتابونه
کۀ پروخت راغلې خیربۀ یوسې
بې وخته نۀ شته فقیرانو له خیرونه
کۀ پسې ځم خلک پوهېږي
کۀ پسې نۀ ځم لیلاکړي اشارتونه
کۀ پسې مرم مرګ مې پرځای دی
زما پرسرېې جېلخانې منلې دینه
کۀ پۀ پیمخو کې وفاوی

د کوتیلال خوند به د قند په شان وینه
که په ځلموکې بریالی شوې
قسم مې کړی د یاری لاس درکومه
که پر دنیا هر څوګذر کړم
هېر به مې نه شي ستاد سپین مخ شنه خال وینه
که په دیدن څوک مړېدلی
جاله وانانو به ترلي ووبارونه
که په دیدن څوک مړېدلی
زما جانان به ترورولې ګرځېدنه
که پر ربنتیا پر ما مین یې
پر خوست ګرمي ده ماته کېږده چنارونه
که په ژړا جانان موندی شوی
ما به دا وښکو په مخ جوړکړهٔ سېلاوونه
که په ژړا اشنارا ګرځي
وچې ګیاه به زرغونې په اوښکو کړمه
که په ښایست مې خپه کېږې
زهٔ به د ځمکې خوب کوم چې زېړه شمه
که په سلام تهٔ خوشالېږې
زهٔ به مې لاس پر تندي تل ولاړه یمه

کۀ پۀ لیلا باندې چامړ کړم
دغه دستوردی ځوانان تل پۀ تورو مرینه
کۀ پۀ منت کۀ پۀ زاري وی
مابۀ اشنالۀ بېلتانۀ خلاص کړی ؤنه
کۀ پۀ میوند کې شهید نۀ شوې
خدايږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه
کۀ پۀ وطن دې سرورنۀ کړ
زۀ بۀ دا پاکې شودې نۀ دروبښمه
کۀ تاوی غږرا پسې کړی
مابۀ پۀ تورو سترګو ابښې وی لاسونه
کۀ تږی یې رانژدې کېږه
زمادسرو شونډو شربت وڅکه مینه
کۀ تږی یې اوبۀ بۀ درکړم
زما پۀ سپینه خولۀ کې ډنډ ولاړې دینه
کۀ تښتم تښتم نۀ خلاصېږم
قسمت مې بد دی دصورت راسره ځینه
کۀ تښتم تښتم نۀ خلاصېږم
بېلتون مې سیوری دځان سم راسره ځینه
کۀ تښتېدلی پۀ شاراغلې

پهٔ تا حرام دي د سرکو شونډو سرونه
کهٔ تو رو ربل مې مېرا تېږي
د ننګ غزاده جانان نهٔ منع کومه
کهٔ تو رلحد تهٔ نری لاروی
ما بهٔ اشناته پېشکشي وړلی ګلونه
کهٔ تو رلحد ته نری لاروی
ما بهٔ جارو کړی د جانان د مخ ګردونه
کهٔ توره یم تا بهٔ رنځور کړم
د مینتوب اثر پهٔ ستر ګو کې لرمه
کهٔ توره یم تا بهٔ رنځور کړم
د مینتوب ستوری پهٔ وروځو کې لرمه
کهٔ توره یم تا بهٔ رنځور کړم
لهٔ رنګه توره تل ځوانان رنځورو ینه
کهٔ توره یم تا بهٔ ملنګ کړم
تو رخولو نګ دي امیران یې بو یو ینه
کهٔ تو متونه پرې انبا رشي
څوک لهٔ خوارهٔ جانانه نهٔ اخلي لاسونه
کهٔ تو متونه چېرې نهٔ وی
قسم دی یاره پهٔ جو په د رسره تلمه

کۀ تۀ راځې بېګاه ته راشه
د څور لسمې پۀ سپوږمۍ بۀ دیدن کړونه
کۀ تۀ رښتیا پرمامین یې
د ګودرغاړه اجاره واخله مینه
کۀ تۀ رښتیا پۀ سفردرومې
د تور وزلفو کمربند بۀ درکومه
کۀ تۀ شهید شولې جانانه
پۀ تورور بل باندې بۀ دې زۀ قبرپاکومه
کۀ ټول وجود لۀ تا قربان کړم
بې نیازه یار نېکۍ نۀ منې مینه
کۀ جهان مري اکبر دې نۀ مري
یو خوښۀ ځوان دی بل یې کړي جهادونه
کۀ چا بېلتون لیدلی نۀ وي
ما ته دې راشي چې یې کوروروښیمه
کۀ چا بېلتون لیدلی نۀ وي
د سبا چرګ د بېلتانۀ نارې وهینه
کۀ چا خبر د جانان راوړ
سر بۀ خیرات کړم مال بۀ زېری ورکومه
کۀ چا خبر د جانان راوړ

کۀ مې سلګۍ د ځکندن وي روغ بۀ شمه
کۀ چارباب پۀ لاس کې راکړ
زۀ بۀ د خپل اشنا سرود پۀ کې وهمه
کۀ چا سپوږمۍ لیدلې نۀ وي
د شالیلا مخ دی سپوږمۍ شغلې یې ځینه
کۀ چا ویل چې یار دې راغی
یو بۀ ورځار شم بل بۀ زړی ورکومه
کۀ چلم کښ یې دود مې خوښ دی
د لمر مخ ته تل وربځې وي ګرزونه
کۀ خدای کول لالی بۀ راشي
ما یې غنچې خنې پۀ خوب لیدلي دینه
کۀ خدای کول مینه ستایم
مینه مه شلوه تنې پۀ زیارتونه
کۀ خدای کول خدای بۀ دې راکړي
ترتاړومبی پرزیارت ما ایښي لاسونه
کۀ خدای کول خدای بۀ مې درکړي
ما دې د سرپرزیارت ایښي لاسونه
کۀ خدای مې ښه ساتي کۀ بده
راتول بۀ نۀ کړم د سالو سرۀ پلوونه

کۀ خوا بدي دربانديږ زورشوه
تروربل لاندې خال مې يادکړه خوښ بۀ شپنه
کۀ خولۀ مې اخلې ژړيږ و اخله
دکلاشاته مېلمانۀ راغلي دينه
کۀ څوک پاچادلوی وطن وي
چې مسافرشي يادوي بۀ خپل ملکونه
کۀ څوک خپه کۀ خپه نۀ وي
دخپل جانان سره جوړه سنګرته ځمه
کۀ څوک لۀ غمه خبرنۀ وي
خدای دې خبرکړي چې لۀ غمه خبرشينه
کۀ څوک لۀ ماسره سيالي کړي
حجره دې واچوي ډوډۍ دې ورکوينه
کۀ څوک ياري کړي مادې پوښتي
دياری دوې شپې خوشالي نوريې غمونه
کۀ څۀ احوال وي راته وايه
سامې ترنيم بدن راغلې وبۀ مرمه
کۀ ځمکه اوړي خوبۀ واوړي
راوابۀ نۀ وړي خاورې شوي بدنونه
کۀ دادخوب ليدۀ رښتياوی

اوس بۀ دیارسره لاس ترغاړې ومه
کۀ دادنیاپۀ څېرډګل شي
زماپۀ ستونې کې اغزي راشنۀ کوینه
کۀ دا خترپرشپه رانۀ غلې
نصیب دې مه شه دلندۍ زنې خالونه
کۀ دازړګی دکتوشی وی
مابۀ اشناته پۀ لاس نیولی ؤنه
کۀ دا ولس بدنامي نۀ وی
شیرینه یاره تا سره بۀ ګرځېدمه
کۀ دبهلول پۀ شان داناوي
چې بخت یې خواروي څوک یې نۀ اخلي سلامونه
کۀ دبېلتون جلاددې مړکړ
سره بادرۍ بۀ دوصال دروښیمه
کۀ دجانان سره یوځای شوم
زۀ بۀ ګیلې دبدرقیب ورته کومه
کۀ دجانان غمونه نۀ وی
دپسرلي ترګل بۀ زۀ نازکه ومه
کۀ دجهان طبیبان راشي
چې مې جانان پوښتنه نۀ کړي وبۀ مرمه

کۀ د چاروغ زړګی پۀ کاروي
زما دې واوري یارانه دې نۀ کوینه
کۀ د ځوانۍ دوران مې تېرشي
دومره بۀ پاتې شي چې تاپرې ځورومه
کۀ د دښمن مخ ته یې مخ کړ
سپینه خولګۍ بۀ لکه څوری پسې وړمه
کۀ د دښمن نه پۀ خټ راغلم
بیا مې پښتون د تیرا مه بوله مینه
کۀ د دیدن باران یې نۀ وی
د بېلتانۀ ګرمۍ بۀ سوي ؤ ملکونه
کۀ د دیدن محتاج دې نۀ وی
سرتوربۀ ولې ګرځېدم پۀ زیارتونه
کۀ د رغلم کۀ دره نۀ غلم
زما یاري پۀ رنګه مۀ شماره مینه
کۀ د زړۀ حال درته بیان کړم
خندا بۀ پربېږدې پۀ ژړا بۀ شې مینه
کۀ د زړۀ سرورته پېشکش کړم
مغرور د حسن سترګې نۀ پورته کوینه
کۀ د سرۀ اورپۀ سرمې شپه وی

تهٔ راسره وی زهٔ بهٔ تل خوشاله ومه
کهٔ دشودو لښتی پرې سم کړم
خزان وهلی باغ مې نهٔ نیسي ګلونه
کهٔ دنتکی خاطردې نهٔ وی
تابهٔ زمادغاښوزورلیدلی ونه
کهٔ دنیایي شرمونه نهٔ وی
تابې منګی ووړ زهٔ بهٔ تش درسره تلمه
کهٔ دنیایي شرمونه نهٔ وی
قسم دی یاره پهٔ جوپه درسره تلمه
کهٔ دوصال امېد مې نهٔ وی
قسم دی خدایه اوس بهٔ خاورې ایرې ومه
کهٔ دوصال پرتخت پاچاشوم
پرببلتانهٔ بهٔ دپانسی حکم کومه
کهٔ دوصال زېری دې راووړ
قاصده لاس بهٔ دې پهٔ سترګو ښکلومه
کهٔ دوطن پهٔ ننګ شهید شوې
بیابهٔ دې نجونې دمزارسلام کوینه
کهٔ دیارغم راسره نهٔ وی
دپسرلي ترګل بهٔ زهٔ نازکه ومه

کۀ دیار غېږ راباندې وشو
دلاس بنګړي بۀ ورته زېړی ورکومه
کۀ دیار غېږ راباندې وشي
مال بۀ خیرات کړم سربۀ زېړی ورکومه
کۀ دیار ګوتې مې پۀ لاس وی
مابۀ ترېولونجونو پورته ورۀ لاسونه
کۀ دې باڼۀ قاتلان نۀ وی
پۀ دروازوکې بۀ دې چاکړل فریادونه
کۀ دې پۀ برکلي کې کاروي
پۀ لېوني باندې مې وایه سلامونه
کۀ دې پۀ خدای اعتبارکېږي
درپسې وینې غوڅوم مړه بۀ شمه
کۀ دې خندلي راته نۀ وی
دکورکمن پۀ شان بۀ ولې زېړېدمه
کۀ دې خندلي راته نۀ وی
زماویدۀ زړګی بۀ ولې ویښېدنه
کۀ دې خندلي راته نۀ وی
غریب سړی وم خپل روزګاربۀ مې کاونه
کۀ دې خولۀ راکړې څۀ بۀ وشي

زړۀ بۀ مې ښۀ شي خولۀ بۀ بيا درسره وينه
کۀ دې زما پۀ سلام ښۀ شي
زۀ بۀ دا سرې منګولې تل پۀ تندي ږدمه
کۀ دې دن غوارې زما ياره
مور دواړه خويندې پرکوټه ځرخې کوونه
کۀ دې دن کړې تلوارپرې وکړه
د نرېدلي پاڼ پرسرولاړه يمه
کۀ دې دن کړې تلوارپرې وکړه
ملک الموت راته ولاړ دی روح مې وړينه
کۀ دې دن کړې تلوارراوکړه
د بېلتانۀ کاروان راځي قيامت بۀ شينه
کۀ دې دن کړې تلوارپرې وکړه
پرمخ مې شال د بېلتانۀ وغوړېدنه
کۀ دې دن کړې تلوارپرې وکړه
ختې يې کړې کنډونه بندوينه
کۀ دې دن کړې تلوار پرې وکړه
کښتی غرقېږي پرتخته ولاړه يمه
کۀ دې دن کړې تلوارپرې وکړه
دم کړې خاورې مې پرسترګو دوړوينه

کۀ دیدن رانۀ وړې جانانه
روح مې د کالبوت نه پۀ رخصت دی لاړ بۀ شینه
کۀ دیدن غواړې ماته ګوره
زۀ بۀ ډوډی پۀ تنارۀ وځنډومه
کۀ دیدن کړې همدادې واردی
د بېلتانۀ کاروان راځي قیامت بۀ شینه
کۀ دیدن کړې تلوارپرې وکړه
سبا بۀ دامهالې کاختي ددیدن وینه
کۀ دیدن کړې تلواررا وکړه
لحد ته یې کوز کړم تختې راباندې ږدینه
کۀ دې زما دیدن پۀ کاروي
د چارشنبې حساب کوه زیارت ته ځمه
کۀ دې زما دیدن پۀ کاروي
سپوږمۍ ته ګوره زۀ پربام ولاړه یمه
کۀ دې زما دیدن پۀ کاروي
او بۀ بانه کړه پۀ ګودر ناسته یمه
کۀ دې زما دیدن یاد ېږي
سینه جاله کړه دواړه زلفې تناوونه
کۀ دې زما دیدن یاد ېږي

د پشکال څپوته مه ګوره مینه
کۀ دې شرابوته زړۀ کېږي
زما پرزنه خولې ډنډولاړې دینه
کۀ دې غلیم ته ماتې ورکړه
زۀ بۀ د سروشونډو شربت درکړم مینه
کۀ دې کتلي راته نۀ وی
پردی سړی وم وطن پۀ لورې تلمه
کۀ دې مطلب دیارۍ نۀ وی
د برج لۀ سره بۀ دې نۀ کول سپلونه
کۀ دې مقام راته معلوم وی
زۀ بۀ د استاد کوڅې خاورې وم مینه
کۀ دې وطن راسره پرېښود
پۀ سرومنګولوبۀ دې سرچاپې کومه
کۀ دې ونۀ خوړم اوربله
پرتابۀ جوړد اشرپوکړم کتارونه
کۀ دې هرڅوپۀ زړۀ رایادکړم
پردی وطن دی څوک دې نوم نۀ اخلي مینه
کۀ ډېر مې دزړۀ ورځنې بدشي
زۀ لۀ زاړۀ اشناتوبه چېرې کومه

کۀ راته ګورې درته ګورم
کۀ راته نۀ ګورې پرواډې نۀ لرمه
کۀ رارسېږې نن دې واردی
شهیده ګټې دې باړوته غورځومه
کۀ زړۀ کې سل تدبېره وکړم
تقدیرزمادتدبیرستنې لنډوینه
کۀ زړۀ ته سل تسلی ورکړم
سترګولیدلی جانان کله هېروینه
کۀ زړۀ ته سل تسلی ورکړم
دیاردغمه راته ژرپۀ ژړا شینه
کۀ زړۀ ته سل تسلی ورکړم
سترګې مې نۀ اوړي ستالۀ ورانوبورجلونه
کۀ زړۀ مې بند پۀ زولنوکړم
ژررانه خلاص شي برابرجانان له ځینه
کۀ ځکندن ته مې رانۀعلې
بیامې پۀ شناختوباندې مه وهه لاسونه
کۀ زۀ خبروی چې بېلتون دی
مابۀ جانان ترلاس نیولی ګرځاونه
کۀ زۀ خبروی چې تۀ شلېږې

د فکر تاله زۀ بې ولې د رختمه
کۀ زۀ خبروی چې بېلتون د ی
مابۀ خوني غمازپۀ څۀ را خبر اونه
کۀ زۀ غماز ته غرېب ښکارم
زما د زړۀ پۀ خزانه کې شته لالونه
کۀ زۀ مېړۀ وم ځان بۀ ځار کړم
پښتون پېغورد بې ننګی نۀ قبلوينه
کۀ ژاړم ژاړم سود مې نۀ شي
پۀ زېړو ګلومې تالان ولګېد نه
کۀ زۀ مين نۀ وی عالمه
لکه مجنون غوند ې بۀ ولې ګرځېد مه
کۀ ژاړم ژاړم څوک مې نۀ شته
خوشې ګرېوان پۀ اوښکوولې لمد ومه
کۀ سپينه خولۀ خورې مرګ قبول کړه
د سپينې خولې سره ترلي اځلونه
کۀ ستاد مخ عاشقان ډېرد ي
زۀ ترمجنونه لرغونی پۀ عشق کې يمه
کۀ ستالۀ لورې باد را والوت
پۀ ډکه خولۀ بۀ يې لړمانۀ ته تېرومه

کۀ ستر ګې ستا خمارې نۀ وی
د زړۀ پۀ سر بۀ زخمي ولې ګرزېد مه
کۀ ستر ګې ښکته کړم کۀ پورته
پۀ دې نژدې وطن دې نۀ ګورم مینه
کۀ سرا و مال ورنه قربان کړې
نۀ معلومېږي معشوقو ته خد متونه
کۀ سر مې پرې کړې د ېر بۀ ښۀ شي
لۀ دې ژوند ونه زۀ پۀ مرګ خوشاله یمه
کۀ سر ښندې ورته غږېږي
روغ بۀ پرې نۀ شي پۀ خنجرو هلي زړونه
کۀ سړی پټ لۀ ملکه لاړ شي
نصیب قسمت ورسره سم لۀ ملکه ځینه
کۀ سړی د ېر پۀ زړۀ محکم وي
چې د اشنا لۀ غېږې ځي ژړا ورځینه
کۀ سل او یا کلونه تېر شي
هېر بۀ مې نۀ شي ستا د زلفو تنابونه
کۀ سل او یا تد بیره وکړم
تقد یر زما د تد بیرو شلوي بند ونه
کۀ سل او یا کلونه تېر شي

هېربۀ مې نۀ شي ستاد سپين تندي خالونه
کۀ شپه دزلفو پسې نۀ وی
لمربۀ يې دمخ واړه جهان سوځلی ونه
کۀ سل يا شل کلونه تېرشي
هېربۀ مې نۀ شي ستاراکړي ځوابونه
کۀ شمه ځارستا پۀ رضاکې
دامې رضاده نيکۀ ګان خوشالومه
کۀ شينکی خال مې مېراتېږي
ننګ د پښتودی جانان نۀ منعه کومه
کۀ عاشقي د اوره نۀ وی
پتنګ بۀ ولې شيرين ځان پۀ اورسېزنه
کۀ عمروي ديدن بۀ وشي
ارمان مې دادی چې مرګی نۀ وی مينه
کۀ غمازان پۀ مخ کې نۀ وی
مابۀ لۀ تاسره همېش کړی مجلسونه
کۀ غم دغمه شرمېدلی
ماته بۀ نۀ راتلل جوړه جوړه غمونه
کۀ غم يوکال وی مابۀ تېرکړی
ماته يې دغم کاغذ عمري راکړی دينه

کۀ کابل جان د چا یاد پرې

کونړ کابل دی شنې ولې شینکي باغونه

کۀ کاتبان د جهان راشي

پوره بۀ نۀ کا ستاد حسن صفتونه

کۀ کبر کړمه راته ښايي

یو ښایسته یم بل دلویه کوره یمه

کۀ ګرمه یم ناکاره نۀ یم

د مرور اشنا پوښتنې ته ورځمه

کۀ ګل پیدا وی خزان نۀ وی

د ځمکې مخ بۀ اماني وی زېړ ګلونه

کۀ ګل ګلاب ښایسته نۀ وی

بورا بۀ ولې پۀ اغزو څیرل څانګونه

کۀ ګناه ګاریمه د خدای یم

دا د نبي امت مې ولې ګرموینه

کۀ ګورستان ته نرۍ لاړوی

ما بۀ جانان ته خولۀ پېشکش وروړې ونه

کۀ لږ څۀ فکر باندې وکړې

چې زړۀ مین شي عذر کله قبلوینه

کۀ لېونۍ شم ګرمه نۀ یم

اشنا پۀ اوربد سفر رهي دی نۀ راځینه
کۀ لېونی یې زما یارېي
دا لېوني لۀ کلي چاشړلي دینه
کۀ لۀ بکوا څخه راتېر شوې
زۀ بۀ ستوره دلارام لره درځمه
کۀ لۀ میدانه پۀ شار اغلې
کوردې ځای نۀ شته بل وطن ته ځه مینه
کۀ لۀ راتلونه دې خبروی
مابۀ پۀ لارکې ګل سمن کرلي وونه
کۀ مرور شې ځان بۀ خوار کړې
معشوقې کله مرور پخلاکوینه
کۀ مسافر شوې بیا بۀ راشې
مسافر کله هېروي خپل وطنونه
کۀ ملاقات موسره وشي
دغم کیسې بۀ ورو ورو درته کومه
کۀ موزي یووی مابۀ مړکړی
پۀ هره خونه کې موزیان دي بدمخونه
کۀ مې اځل ستا پۀ خولګۍ وي
سبا کفن پۀ سرتړم تاله درځمه

کۀ مې اشنا مسافرنۀ وی
ما خوبۀ نۀ کړی دلو مړي کاروان پو ښتنه
کۀ مې پر قبر جانان راشي
کفن پۀ غاړه بۀ يې مخې ته ورځمه
کۀ مې پۀ توره مغزی پرې شي
مالره ښۀ دی نۀ چې کورساورکومه
کۀ مې پۀ حال باند خبر شې
دګل پۀ شان بۀ ګربوان څيرې کړې مينه
کۀ مې پۀ خپل يارکې وفاوی
زۀ بۀ کوڅه پۀ کوڅه ولې ګرځېدمه
کۀ مې تۀ روغ لېونی نۀ کړې
نو مې د سترګو اثر مه منه مينه
کۀ مې تۀ روغ لېونی نۀ کړې
ما د تنګي ځدرانه مه بوله مينه
کۀ مې تۀ روغ لېونی نۀ کړې
بيا مې د بنګو پياله مه بوله مينه
کۀ مې جانان بې وفانۀ وی
نري نري بۀ مې زړۀ نۀ کول درزونه
کۀ مې خندلي درته نۀ وی

اریان ولاړ وي په ایمان وو پرېږدمه
که مې خوله اخاې ژړيږي واخله
منګی مې ولې ښورې لنده دې کړمه
که مې څوک بد په جنازه وړي
سربه مې ستا دربار ته کوږ نیولی وینه
که مې دا توراور بل پرې ټیټ کړ
د ځکندن رنځور به روغ رمتی شینه
که مې د خوب لیده ښتیاوی
اوس به پاچاوم عدالت به مې کاونه
که مې د زړه چینې جاري شي
طوفان د نوح به په دنیا کې جاري شینه
که مې د زړه ګیلې لیکلی
اوس به په ډېرو ګیلو ډک وو کتابونه
که مې د ښمن ته جنګ کې شاکړه
د سپېلني په شان دې اور کې وسوځمه
که مې دیار کالي شنه نه وی
ماخو به نه کاته د شنو ونو سرونه
که مې رباب وهل زده نه وی
ستا اند ښنو به مې زړه پړک چولی ونه

کۀ مې د یار غمونه نۀ وی
د پسرلي تر ګل بۀ زۀ ښايسته ومه
کۀ مېړنی یې ځان څرګند کړه
ستا پۀ کوڅه مې لاس تړلی تېروينه
کۀ مې ساو خبېژي لۀ تنه
ستا محبت مې لۀ زړۀ نۀ وزي مينه
کۀ مې ستا پت درخوندي نۀ کړ
بيا بۀ تاو کړی پټکی نۀ پۀ سر کومه
کۀ مې طالع دبدو نۀ وی
پۀ اوربۀ ولې پۀ پردي وطن کې سومه
کۀ مې لۀ حاله خبر نۀ يې
نارنج ته ګوره د نارنج پۀ شان ته يمه
کۀ مې لۀ خدايه کمه نۀ وی
پر تش ميدان بۀ نيلي ولې نوک واهنه
کۀ مې نصيب دبدو نۀ وی
چېرې موزي چېرې د ګلو صورتونه
کۀ مې نصيب دبدو نۀ وی
زۀ بۀ د خپل جانانه ولې بېلېدمه
کۀ مې نصيب دبدو نۀ وی

پۀ شنه مرغه بۀ منګی ولې ماتېد نه
کۀ مې نصیب د بد ونۀ وی
یاربۀ مې یاروی مړه خوابۀ ګرځېد مه
کۀ مې نصیب د بد ونۀ وی
چېرې موزي چېرې زما دابا خو نه
کۀ مې نصیب د بد ونۀ وی
زما محبوب جانان بۀ ولې مړکېد نه
کۀ نصیبو نه کنډوالې وی
مابۀ داخپل ویشتۀ نصیب پۀ دېوالونه
کۀ نامردي دې جنګ کې وکړه
لکه د ښځو بۀ ټیکری د رپۀ سر کړمه
کۀ نعمتونه ټول موجود وي
چې دې خمارې سترګې نۀ وي څۀ یې کړمه
کۀ نن سبا چېرته رانغلې
زما بۀ کډه ادېرې ته لاړه شینه
کۀ هرڅوزۀ د رپسې ځمه
تۀ غرڅنۍ یې پۀ هوا وهې ټوپونه
کۀ هزارځل صبرسکوت کړم
اه فریادمې بې اختیاره لۀ خولې ځینه

کۀ هندوستان ته مې ورک نۀ کړې
ترخمارو سترګو بۀ وباسم سیخونه
کۀ یارزمایې رب دې روغ که
کۀ یاردې بل یې تورې خاورې شې مینه
کۀ یارلرې بې یاره مه شې
بې یاره نجونې لاس ترزنې ناستې دینه
کۀ یاري کړم مخ مې توربږي
کۀ یاري نۀ کړم ارمانجن خاوروته ځمه
کۀ یاري کړې کوردې نژدې کړه
کۀ یاري نۀ کړې کوردې لرې وړه مینه
کۀ یاري نۀ وي روغ رمټ یم
زۀ دیارۍ پۀ غشوتاویشتلی یمه
کۀ یوړم یوړم اوبو یوړم
دبېلتانۀ سېلاب پۀ تاوراغی مینه
کۀ یو نظرراباندې وکړې
لکه لمربۀ سربلند پۀ جهان شمه
کاږۀ بانۀ دې تېرۀ غشي
زمالۀ زړۀ نه الوول ختلي دینه
کاغذ پۀ لاس قلم پۀ ګوتو

دزړۀ پۀ وینو داشنا مینه لیکمه
کتاب تمام طالب روان شو
لۀ حجرې ګرده تاوېدم سره لمبه شومه
کفن لۀ ځانه سره یو سه
څوک چې دنجونو چم له ځي سربۀ بایلینه
کۀ بۀ مې مړ پۀ جنازه وړي
سربۀ مې ستاد برې ته کوږ نیولی وینه
کۀ تښتېدلی پۀ شاراغلې
پۀ تاحرام دي دسرکوشونډو سرونه
کله بۀ راشې دلارامه
چې پۀ دیدن پسې دې وینې تویومه
کۀ جانان مړ شونوم یې شته دی
زۀ دجانان پۀ نامۀ ځان خاورې کومه
کۀ چارباب لیدلی نۀ وي
دشالیلا سینه رباب زلفې تارونه
کۀ دې تاناز و ادانۀ وی
دبرج پۀ سرکې بۀ دې نۀ کول سیلونه
کۀ مې دیدن ته اروزمند یې
دلحد تیږې وا ړوه پۀ ارمونه

کۀ مې دیدن کړې را رسېږه
سلایې کړې موزې خان مې مړه کوینه
کۀ مې سرې شونډې درپۀ یادشي
ګل دغاتول پۀ لاس کې ونیسه مینه
کۀ مې نصیب درسره نۀ وي
خدای مې دې مړه کړي چې لۀ غمه خلاصه شمه
کۀ لونګین کې تاثیر نۀ وی
ښکلي ځلمي بۀ غروته ولې جګېدنه
د (ګ) څخه تر ( ل ) پوري

ګرانه دخدای لپاره راشه
پرماتیارۀ ده چې رڼا راباندې شینه
ګرېوان مې تول پۀ اوښکولوند دی
مادجانان لۀ غمه ډېرژړلي دینه
ګرېوان مې تول پۀ اوښکولوند دی
داشناغم مې خوشالۍ ته نۀ پرېږدینه
ګرېوان نیولی یې روان کړم
کۀ لږ څۀ غم دهجران اوږدراباندې شینه

ګړی پهٔ سرخولهٔ رانه غواړې
مخ مې خولې دی پرې رنځوربهٔ شې مینه
ګلاب پاچانرګس وزیردی
داشبوګل مې شهزاده دمخه ځینه
ګلاب پاچانرګس وزیردی
ترپاچاتېرشوم دوزیرسلام کومه
ګلاب پرسرکېږده جانانه
ښکلی بهٔ تهٔ شي بوی بهٔ یې مالره راځینه
ګلاب پهٔ باغ کې شرمنده شو
چې پهٔ سروشونډواشناوخندل مینه
ګلاب پهٔ ګلوکې پاچادی
نرګس وزیرخزان پهٔ راوړل براتونه
ګلاب دخدای پهٔ قدرت جوړدی
جانانه ستاشونډې ترګل نازکې دینه
ګلاب کهٔ مخ پهٔ پرخه مینځي
زهٔ دګلاب یارۍ کې اوښکې تویومه
ګلاب لاګل نهٔ دی غوټۍ ده
بوراپرې شپې سباکوي چې ګل بهٔ شینه
ګلاب لاګل نهٔ دی غوټۍ ده

بورا د صبر دروازې نيولي دينه
ګلا بو څوکې تا خوړلي
په تش کنګر يې ولې ځان زه غولومه
ګلاب له اصله شاهزاده دی
رامبېل چامبېل يې نوکران يولي دينه
ګلا به ته ولې خوشال يې
پر تا د يار مينه لرم تابويومه
ګلا به دا قدر دې بس دی
چې جينکۍ دې په اوربل کې ګرزوينه
ګلا به رب خو دې خزان کړه
چې بلبلا دې بېنوا شړلي دينه
ګلا به رنګ دې ښايسته دی
ځکه د نجونه په خيالي اوربل کې ږدينه
ګلان بې خاره نه لوېږي
زما لالی به پاتې نه شي بې غمونه
ګلان تر هغه سر کې نه ږدم
څو مې جانان له بنده خلاص نه شي مينه
ګلان خوږ بر دي خدای دې ږ برکړي
ګل غا ټول پسې سرتوره ووتمه

ګلان لۀ خاورو پيدا کېږي
زما لالی تر ګل نازک خاورو لۀ ځينه
ګلان د يار لۀ مخې ټول کړه
ګل قند ترې جوړ کړه چې دې زړۀ خوشاله شينه
ګل خو پۀ خپل بدن عاشق ؤ
زما جانان يې وليدۀ وشرمېدنه
ګل خو لۀ اصله بې وفادی
ځکه بورا لۀ باغه ځي چيغې وهينه
ګل د اصيل بوټي پۀ کار دی
کم اصل ګل کۀ بويوم ډک دي باغونه
ګل د اوربل سره جوړېږي
راشه اوربل باندې کتار کړه سرۀ ګلونه
ګل د بورا سره جوړېږي
مناسب نۀ دی چې کارګان يې بويينه
ګل د غاټول را ښخه ورک دی
پۀ پسرلي کې لټوم د ښتي خوړونه
ګل د ګلاب بوی د سنځلې
سيوری د ولې ښنګ د نجل مزه کوينه
ګل ګلاب بۀ ښوک رانۀ کړي

د زېړو ګلو مې باغچې کړلې دینه
ګل ګلاب به شرمنده شي
کۀ شالیلا پلو لۀ مخه لرې کړې مینه
ګل د ګلاب چې په کې نۀ وي
د ډېر ګلو ډنډ رڅله تاوو مه
ګل د ګلاب راځخه ورک دی
باغو کې ګرځم هره ونه لټومه
ګل د ګلاب مې درپېشکش کړ
لایق یې نۀ وي تار په تار دې کړمینه
ګل د ګلاب مې کورته دروړ
کۀ ته پوهېږې د یارۍ تمه دې کړمه
ګل د ګلاب مې ډېر خوښېږي
جانان یې ځکه په وربل کې راته ږدینه
ګل د لوی غرۀ پرپرښه شین دی
دغه رنګین مخ یې د لمر شغلې وهینه
ګل د لیلا لۀ باغه یو سه
چې خوشبویي یې پرتمامې دېرې ځینه
ګل دې چې راکړ په خنداشوې
زۀ دې لۀ ګله په خنداخوشاله شومه

ګل لاله ورنه شرمېږي
چې دې د سروشونډو غوټۍ ګلونه شينه
ګل مې په لاس کې مړاوی کېږي
پردی وطن دی زۀ يې چاته ونيسمه
ګل مې په لاس کې مړاوی کېږي
د پګړۍ ول دې سستوه په کې ږدمه
ګل مې کارۀ يارا ته ناستۀ
چې ګل رالوی شوجانان توري خاورې خورينه
ګل مې کرلی اوبو يوور
بيابۀ د سين په غاړه نۀ کرم ګلونه
ګل مې کارۀ اغزي مې لوکړۀ
بيابۀ په بده خاوره نۀ کرم ګلونه
ګل مې لۀ لاسه اوبو يوور
پۀ غم شريکه ياره نيسه ګودرونه
ګل مې دياره سره ښايي
مناسب نۀ دی چې موزيان يې بويوينه
ګلونه ډېردي پۀ دنيا کې
ګلاب سردار دی چې يې نجونې بويوينه
ګلونه ډېردرسره راوړه

زۀ پۀ اوربل کې د ګل ونې جوړومه
ګلونه ډېر دي خدای دې ډېر کړي
ګل غاټول پسې څوکۍ ته وختمه
ګلونه ژاړي مازیګردی
د باغه وځه د باغچوو کړه سیلونه
ګلونه واړه بې وفا دي
ځکه بلبل نارې وهي د ملکه ځینه
ګلونه واړه دي د خاورو
یو پۀ چمن کې بل مې غېږ کې دی مینه
ګلونه واړه زېړ ګلونه
پیغمبر ګل پسې ستوره ووتمه
ګلونه واړه ښۀ ګلونه
ګل غاټول پسې سیابند ته وختمه
ګلونه واړه ښایسته دي
د کجل ګل بۀ خپل اشنالره ساتمه
ګله خزان دربا ندې راشه
چې بېنوا دي بلبلان شړلي دینه
ګنهګاران پۀ سولۍ کېږي
مابې ګناه سولۍ ته ولې خېژوینه

ګوتې بنګړي د دنیا دود دی
زۀ د نښتمنه یاره نۀ غواړم دودونه
ګوتې قلم ته پۀ ژړا شوې
خط بۀ باقي وي مور بۀ تورې خاورې خورونه
ګوتې مې وې پۀ لاس مې نۀ کړې
د موزیکې پرخویندو راغلم تش لاسونه
ګوتې پۀ ګوته کې راووزه
لاس پۀ تندي کېږده چې و دې پېژنمه
ګودرته ځم را پسې راشه
بوه شیبه بۀ دې پۀ ښۀ زړۀ ووینمه
ګودرته ځې پۀ مخه راغلې
ګیبې ګیبې پرتوګ دې لا رنۀ راکوینه
ګودرته راغلې برابره
یا خولګۍ راکړه یا ګړی درماتومه
ګورستان سل ګزه کوهی دی
ځوانان کوزېږي د ناکام پۀ تنابونه
ګوره چې ځان ته غره نۀ شې
د ومره مین دربانډې نۀ یم چې مړشمه
ګوره چې ځان درنه ورک نۀ شي

دونه مين درباندې نۀ يم چې مړشمه
ګوره چې ځان ته غره نۀ شې
کۀ تۀ چامبېل يې زۀ رامبېل خوشبويه يمه
ګوره چې واردې خطانۀ شي
عالم نېستئ ته اړمونه ورکوينه
ګوره چې واردې خطانۀ شي
دګلوځانګه دې پۀ سرولاړه يمه
ګوره دزړۀ برجونه ټينګ کړه
دزړۀ پۀ سرکې مې ګولئ ولاړې دينه
ګورئ دوينوسېلاب راغی
مابۀ لاهوکړي دبېلتون پۀ ګردابونه
ګيله لۀ مامه کړه جانانه
ګيله لۀ خپل زړګي کوه چې ټول دکنه
ګيله دخپلو ځنې کېږي
لۀ بېګانه ؤ بۀ څوک څۀ ګيله کوينه
ګل بۀ لۀ څنګه جلانۀ کړم
ګل بۀ ريبارته پۀ لاس ورکړم
ګلان تازه پۀ پسرلي شول
بوراد خپل زړۀ پۀ مطلب ورسېدنه

ګلان د يار دې باغ مزه کا
دا نور ګلان خود شرم پۀ شان دينه
ګلان دې ټول لۀ تا قربان شي
تۀ کشمالی يې نور سلام درته کوينه
ګل چې بلبل ته هوسېږي
بلب بۀ ولې پۀ ګل مينه نۀ کوينه
ګل مې د وصل اوبۀ غواړي
زۀ د هجران لۀ بحره څۀ برخه ورکړمه
ګل يې ټومبلی پۀ اوربل کې
پۀ لاره ځي لۀ نازه وروږدي قدمونه

د (ن) څخه تر (و) پوري

د (ل) څخه تر (م) پوري

لاټين رڼا کړه ديدن وکړه
بيا خوبۀ وايې چې ما خوب ليدلی ونه
لارې بۀ ټولې زۀ جارو کړم
د جانان لار بۀ پۀ باڼو جارو کومه

لاړم دلوړې غونډۍ سرته
سترګو مې ښکار کړ زړهٔ مې غم راټولونه
لاس بهٔ دې وتړم پهٔ زلفو
پهٔ لونګین بهٔ دې وهم چې مړ دې کړمه
لاس بهٔ دې ځان ته پرې نهٔ ږدم
د مسافر اشنا پرېت ولاړه یمه
لاس بهٔ دې غاړې ته پرې نهٔ ږدم
کهٔ تش د یدن مینه کړې پرې رضا یمه
لاس بهٔ دې غاړې ته پرې نهٔ ږدم
زهٔ امانته خپل اشنا پرې ایښې یمه
لاس بهٔ زهٔ وانهٔ خلم لهٔ عشقه
کهٔ ناصحان راته تمام کړي کتابونه
لاس بهٔ وانهٔ خلم څوژوندی یم
یا بهٔ دې خپل کړم یا بهٔ تورې خاورې خورمه
لاس پرنامهٔ ورته ولاړیم
چې دې لیلا قاصد بهٔ څهٔ وایي حالونه
لاس پرتندي درته ولاړیم
سلام مې واخله زهٔ پرد ېس راغلی یمه
لاس پهٔ سینه درته ولاړیم

سلام مې واخله زۀ پردېس راغلی يمه
لاس پرتندي درته ولاړيم
زۀ سلامي لۀ يوسف زو راغلی يمه
لاس پۀ لستوڼې کې راتېرکړه
پۀ کندهاروانارووهه لاسونه
لاس پۀ ولاړې راچاپېرکه
ترکېنا ستوګوره رب څۀ راپېښوينه
لاس خومې تور مخ مې پرې تورشو
اوس دې توبې دسمال پۀ لاس مخ پاکومه
لاس دې پۀ لاس رخصت دې راکړ
دالاس نيوی بۀ دې ترډېرې يادومه
لاس دې زما پۀ لاس کې کېږده
دجدای خبرې پرېږده زړۀ مې چوينه
لاس دې دزنې لاندې مه ږده
ستابۀ عادت وي مابۀ ورک کړې لۀ وطنه
لاس دې دزنې لاندې مه ږده
ستابۀ دستوروي مابۀ ورک کړې لۀ وطنه
لاس دې لستوڼي کې ښکاره شو
لکه ښامار چې خولۀ کې مارنيولی وينه

لاس دې پرسرهٔ لستونې کېږده
تا خود سرهٔ لستوڼې دِ پر کړل ارمانونه
لاس مې پرغاړه راچاپېر کړه
نرۍ نرۍ خبرې کړه چې خوندکوینه
لاس مې چندړو ته ورتېرشو
هرڅهٔ مې هېرشو ماردزلفو وخوړمه
لاس مې ترشاو تړئ دواړه
پهٔ خپل اشنا پسې مې وشړئ چې ځمهٔ
لاس مې تړي مرګ ته مې بیایي
پرې خفه نهٔ یم ځکه ستا پهٔ تورکې ځمه
لاس مې تړي بندي مې بیایي
خفه پرې نهٔ یم خپل جانان بهٔ ووینمه
لاس مې دزړهٔ پهٔ وینو سوردی
خلکو ته وایم مانکریزې ابښې دینه
لالی پهٔ خپله مینه کاندي
خلک یوازې ما پهٔ مینه ګرموینه
لالی جدالهٔ نوروخبښ کړئ
چې هرسبا سپینه سینه پرې غوړومه
لالی زمازهٔ دلالي یم

کۀ مې پۀ خولۀ کې ژبه غواړې وربۀ یې کړمه
لالیه تا کې ګنانۀ شته
لېونۍ زۀ وم چې پرتا مینه شومه
لالیه راشه چې خولۀ درکړم
زموږ پۀ کلي کې مرګوده مړبۀ شمه
لالیه سرپروطن کېږده
چې دهمزولولۀ پېغوره خلاصه شمه
لالیه ملاتړه غیرت کړه
پۀ کوراوکلي دښمنان راوخاتنه
لباس دې شته اخلاص دې نۀ شته
تاسره شان داشنایۍ نۀ شته مینه
لباسي یاره رنګ دې ورک شه
ما اخلاصي صورت پۀ تاوشرماونه
لحد مې ټول پۀ وینو سورشو
دبېلتانۀ پۀ چاړۀ غوځ راغلی یمه
لحد مې خود پۀ وینو سوردی
پۀ زړۀ زخمي دیار لۀ غمه تللی یمه
لحد مې سم ورسره جوړ کړئ
زۀ مروراشنا پۀ مرګ پخلاکومه

لږ د انصاف پهٔ نظر ګوره
د مینې وروره بیا بهٔ وکړې ارماندونه
لږ شان ته کم شه دیار غمه
د اکله کله اباسین کمی کوینه
لږ مخامخ شه راته کښېنه
زهٔ د دنیا لهٔ ژونده تاو ښستلی یمه
لښکر د زلفو یې مخ و نیو
یا ټوله وژني یا د زړو تاراج کوینه
لعل و ګوهر پهٔ کې راوځي
ځکه دریاب کې مرجوڼا غوټې وهینه
لقمان حکیم د زمانې وم
نښستې ناپوه کړم درپهٔ در مې ګرځوینه
لکه چې زهٔ پرتامین یم
داسې دې پټه یاري ستاراسره وینه
لکه چې زهٔ هسې مې یاروی
زما بهٔ رنګ داتشي ګلا بوونه
لکه چې ن مازیګر تېر شو
داسې تېرېږي یاره ستالېونۍ مینه
لکه دا پاس اسمان چې شین دی

داسې مې زړۀ درپسې شين دی وبۀ مرمه
لکه دا ښکته چې اوبۀ ځي
داسې مې زړۀ درپسې تلو راستون مې کنه
لکه د توت دونې پاڼې
دومره ګيلې زماپۀ زړۀ کې درته دينه
لکه د زرکې سرې دې نوکې
د زلفو څوکې دې پۀ جيب کې ګرځومه
لکه د ګلوډ که څانګه
زۀ داشنا پرلورکږه ولاړه يمه
لکه د مچ منګولې مروړم
تېرشوی وخت بۀ کله بياکله راځينه
لکه چې وا وره ويلې کېږي
د جانان تن مې داسې تن اوبۀ کوينه
لکه د يارپۀ مخ کې پاڼه
هسې نېستئ زۀ پۀ هوا اخستی يمه
لکه د يار ګل رنګې سترګې
نارې مې ورته ډېرې وکړې نۀ راځينه
لکه غوټئ پۀ خندا راغلې
دومره خوشال شوم لکه ګل پۀ پرخه وينه

لکه کاکل بهٔ پرېشان شې
ډ برمې کړو زلفو ته مه ګوره مینه
لکه منصور پر سر ددار وی
رانه جدا دمینې یار نهٔ وی مینه
لمده خیشته مخې ته راغله
لکه بلبله چې باران وهلې وینه
لمبې دستر ګو درته نیسم
چې پهٔ لمدو غوښودې اورولګومه
لمراو سپوږمۍ بهٔ یوځای نهٔ شي
نهٔ بهٔ زما د جانان وشي دیدنونه
لمرخو پهٔ سرراغی غرمه شوه
ورځ مې کړه شوه لیلا خولهٔ نهٔ راکوینه
لمرمې دیار د مخ مثال دی
سپوږمۍ دیار د مخ مثال کله راوړینه
لمونځ چې قضا شي بیا ادا شي
نهٔ ادا کېږي قضا شوي دیدنونه
لمونځ چې قضا شي بیا ادا شي
قضایې مه کړې د مینو دیدنونه
لنډه پهٔ لنډه وراشه جانانه

څو پهٔ اوربدو لاړو راځي ماښام بهٔ وینه
لنډۍ بهٔ واړې پهٔ وارسره وایو
ماله بې واره لنډۍ خوندنهٔ راکوینه
لنډۍ دې د ېرې څوبې وایم
هرڅو چې وایم دزړهٔ غم مې زیاتوینه
لوټه راواخله سرپهٔ کېږده
مسافرې ده دلته نهٔ شته بالښتونه
لوړه دې پوزه غټې سترګې
دواړه غومبورې دې ګلاب مزه کوینه
لوړه دې پزه غټې سترګې
دجنت حورې پهٔ خالو دې مین یمه
لوړې بنګلې دې کنډوالې شه
زما یاد پرې دکېږدیو شمالونه
لوړې نارې دزړهٔ پهٔ زورشي
زهٔ دې دلوړونارو پرې ایستم مینه
لومړه شپه اوورځ زمرې دې
دواړه دعمرغوښې خورې هډیې پرېږدینه
لومړې مې نهٔ ژړل اوس ژاړم
اشنا مې بازدې دکارګانو پهٔ سیل ځینه

لونګۍ دې وا غوسته ویدۀ شوې
پرزړۀ دې نۀ شته دیارۍ سوې داغونه
لوی اووا ړۀ ښځې نر واړه
زما پۀ غم کې رنې اوښکې تویوینه
لۀ بېلتانۀ نه دې خبرنۀوم
ماویل دنیابۀ پرماتل اباده وینه
لۀ بېلتانۀ مې ګیله نۀ شته
کۀ دې پولادو کلا تاو لۀ ځانه کړمه
لۀ پاسه خړې اوبۀ راغلې
ته پورې خواته پاتې شولې جلا شونه
لۀ پاسه دوې جنازې راغلې
زمادیارجنازه پېغلې نجونې وړینه
لۀ پاسه سره لستونې راغله
دبام پرسرورته پېریانو ونیومه
لۀ تورو ځنګ مه کړه لالیه
ځوانان پرسروتورو ورځي نجونې ګټینه
لۀ تورو غرونو راپنا شوم
دیدن خوګران دی تش پۀ نوم دې یادومه
لۀ تورو غرونورا پنا شوم

نا اشنا وطن دی څوک دې نوم نۀ اخلي مينه
لۀ خيل مين بۀ بېزار نۀ شم
مال او سر دواړه دې قربان ترمين شينه
لۀ خپله حاله خبر نۀ يم
چې بۀ مې تن د کوم وطن خاورو له ځينه
لۀ خپله ځانه مې اوروا خست
لکه نشتر د سلو کالو ايره شو مه
لۀ خپله لاسه مې پرې مړ کړې
چې ډزې وشوې زۀ پۀ بام د روختمه
لۀ خولې مې اه ورپسې لاړشي
چې نازنين دلبر پۀ زړۀ کې را ياد شينه
لۀ خولې مې رود دوينو راغی
ستا دهجران غشو پۀ زړۀ ويشتلی يمه
لۀ دې خبرې بۀ وانۀ وړم
کۀ د چړو پۀ سر کې نو کې نو کې شمه
لۀ ځانه زيات پۀ ما مين دی
لۀ دا سې ياره بۀ زۀ څنګه توبه کړمه
لۀ دې نه لاوړو کی ښۀ وم
د جينکو سره بۀ يو ځای ګر ځېد مه

لۀ دې بله سخته نۀ شته
چې زۀ ولاړیم اشنا غواړي رخصتونه
لۀ سپینې توري نه دې ترپلود
پربېکانی، درکړې خولۀ پښېمانه یمه
لۀ زړۀ مې وینې راجدا شي
چې دې نیم کښه تېغ دسترګوو وینمه
لۀ دې وطنه بۀ دې ورک کړم
زۀ پۀ یو نیم سلایي سترګې توروړمه
لۀ زړۀ مې وینې دارې کاندي
پۀ کریچ دورو ځودلربا وهلی یمه
لۀ ډاره حال ویلی نۀ شم
لکه خولۀ پټې تنور بلې لمبې خورمه
لۀ ښکې رامه شې غنم لوه
پۀ بخملي ګوتو بۀ وربي تولومه
لۀ ښکې نه سم پۀ چینه راشه
لکه ویشتلې زرکه ځان ته ناسته یمه
لۀ سرنه تېرشه کۀ ما غواړې
منصورته ګوره انا الحق نارې وهینه
لۀ عاشقی، نه امان غواړئ

دزړۀ پۀ وينو سړی تول ولمبوينه

لۀ قدرتو څخه دې ځارشم

چې ګل پيدا شي خزان سم ورسره وينه

لۀ قند خوږې را باندې لږې

چې څوک خبرې دا شنا راته کوينه

لۀ مانه غم اول پيدا ؤ

چې زۀ پيدا شوم نو پۀ تا مينه شومه

لۀ مانه څۀ ګناده شوې

چې را کوې دزړۀ پرسرسوي داغونه

لۀ لرې مرم لۀ نژدې سوځم

زۀ لبونی طاقت ددواړو نۀ لرمه

لۀ مانه تۀ ښۀ يې منګيه

چې شا ليلا دې پۀ سروګوتوډ کوينه

لۀ مانه ولې لرې ګرځې

مادې دميني ګل پۀ زړۀ کرلي دينه

لۀ نژدې نۀ درځم ډاربږم

دالرې لرې ننداري بۀ دې کومه

ليک مې کاوۀ قلم مې مات شو

داشنانوم رانه نيمګړی پاتې شونه

لیلا پهٔ باغ کې مسته ګرځي
ټیکری یې نهٔ شته مخ پهٔ پانړو پټوینه
لیلا پهٔ باغ کې کالي مینځي
سپینه سینه یې د باغو شمال وهینه
لیلا پهٔ باغ کې الوچې خوري
دا سور پېزوان یې نری لښتې ماتوینه
لیلا پهٔ جام کې اوبهٔ راکړه
زهٔ تږی نهٔ یمه ستا حال معلومومه
لیلا خبره یې کهٔ نهٔ یې
یاردې ملګری لټوي پهٔ سفرځینه
لیلا د باغ لهٔ لورې راغله
د ګلاب ګل پاڼه پهٔ خولهٔ شونډې ځبېښینه
لیلا د حسن پهٔ خیال راغله
خاونده خیر کړې لېونی نهٔ شم مینه
لیلا کوچې ده کوچ یې کړی
مایې خالي انګړته وکړل سلامونه
لیلا لهٔ نازه لېونۍ شوه
پهٔ غاړه اخلي د مینوازارونه
لېمهٔ بهٔ دواړه ورته فرش کړم

کۀ مې بې نيازه اشنا راوړي ديدنونه
لېونۍ لاړه کلی چول شو
ځنګه بۀ پۀ چول کلي کې شپې سباکومه
لاس پۀ سلام ورته ولاړوم
پۀ ځان مغروره دچانۀ اخلي سلامونه
لړګی خونۀ يم چې لمبه شم
زۀ بنيادم يم غوښې ورو ،ورو تويومه
لکه چې زۀ پۀ تامين يم
داسې دې پټه ياري ستاراسره وينه
لۀ پاسه راشې غنم لوه
چې يارمې لوکړي زۀ بۀ وږي ټولومه
لۀ تورکاکله دې خبرشوم
غوڅ پۀ ځيګرشوم چې ډمه يې ببلوينه
ليلا پلولۀ مخه واخست
داسپينې خولې ته مې شونډان ورولوېدنه

ناترسې خلک دې کسکرکړل
چې نرۍ سترګې توروې وهې خالونه
ناچاره مه شې زۀ دې ځارشم
د ناچارۍ پېغوربۀ ولې درکومه
نارې وهم نارې مې نۀ اورې
بیابۀ د نیارا پسې ګورې نۀ بۀ یمه
نازدې زۀ وړم عالم یې نۀ وړي
قدم زما پر سترګو ږده چې نازدې وړمه
نازمې کاوۀ پیازمې خوراک شو
بیابۀ هېڅ نۀ کړم پۀ بې نیازه یارنازونه
نامرده بدراسره مه کړه
ماپۀ عالم کې هیله کړه چې یارلرمه
نامرده داسې خوښوک نۀ کا
لکه د سوال کتره دې اورته ونیومه
نامردې یوځلې وګوره
د سپیلنې پۀ دودلوګی درپسې شومه
نامردې یوځلې خولۀ راکړه
مدام بۀ نۀ وې ستاځواني زماسوالونه
ناوې بۀ ولې ژړانۀ کا

څوک چې پردي وطن ته ځي ژړا کوينه
ناورېم د ياره بۀ وانۀ ورېم
ګيله دې حق ده جنګ پۀ ستر ګو قبلومه
نبض مې مه ګوره طبيبه
زهر قاتل مې د هجران خوړلي دينه
نتکۍ دې چاد پوزې وکښه
پر نتکۍ نۀ يم ستا پر وچو شونډو يمه
نتکۍ دې سره جلب يې شين دی
لکه شمشاد باندې چې مار ختلی وينه
نجليه څنګه لېونۍ شوې
ښکاره کوې تردروازې سپين مړوندونه
نجلۍ پر سپينه سينه پرېوزه
لکه بورا چې پۀ ګل مړاوي کړي وزرونه
نجلۍ پرسردې منګی مات شه
چې دې اوبۀ شي د سينې د باغ ګلونه
نجلۍ پرسردې منګی مات شه
چې پرسالودې اوبۀ ليکې ليکې ځينه
نجلۍ پۀ باغ کې سره منه شوه
نادان باغوان يې پۀ وربشو خرڅوينه

نجلۍ په باغ کې خولګۍ ورکړه
بانه يې دا کړه چې پرپوله ولوېږمه
نجلۍ په باغ کې کالي مينځي
دا سپين ټټريې دا وبو شمال وهينه
نجلۍ په باغ کې خولګۍ راکړه
بانه يې دا کړه چې ګلونه ټولومه
نجلۍ په باغ کې سره منه شوه
د باغ ماليارېي په چينجنو غاښو خورينه
نجلۍ په باغ کې کالي مينځي
دا سپينې متې د بېديا شمال وهينه
نجلۍ په باغ کې الوچې خوري
د سرو پېزوان يې ورته څانګې ټيټوينه
نجلۍ په باغ کې سره منه شوه
نۀ ورختی شم نۀ يې بادرا غورځوينه
نجۍ په خپله ښايسته ده
زرګره ستا په ګينه اوريوري کوينه
نجلۍ په سترګو کې دې چل دی
زما اځل دی ځان بۀ مړ د رباندې کړمه
نجلۍ په ګورکې ارمان وکړ

روپۍ مې کوراوربل مې خاورې زړوينه
نجلۍ دباغ لۀ لورې راغله
د شوتالوپاڼې پۀ خولۀ شونډې ځبېښينه
نجلۍ دبام پۀ سرولاړه
لکه سپوږمۍ دغرۀ پۀ سر ولاړه وينه
نجلۍ دباغ لۀ لورې راغله
سالويې نۀ شته پۀ مړوندمخ پټوينه
نجلۍ دخدای روی مې دروړی
چې پرماراشي مخ ته مه نيسه لاسونه
نجلۍ دخدای روی ته ګوره
ياخولګۍ راوړه يارخصت راکړه چې ځمه
نجلۍ دشمعې پۀ شان ژاړي
چې مسافراشنايي بل وطن ته ځينه
نجلۍ دمورترشاچې خاندې
لکه بربښناچې دهندوکش ترشاچې شينه
نجلۍ پۀ يارپسې ژړاکړي
مورته بانه کړي چې اړم خوړلې يمه
نجلۍ سپين ږيری ياردې مړشه
دورځې خوب دشپې پرتاپيره کوينه

نجلۍ کړه شوه ماته نۀ شوه
کله ماتېږي د چند ړو شنۀ شاخونه
نجلۍ کړه شوه ماته نۀ شوه
ماته يې مه کړې دلاچې لونګوونه
نجلۍ کړه شوه ماته نۀ شوه
موريې دزېړې غواشودې ورکړي دينه
نجلۍ کۀ ټوکی دبخمل دی
ياريې نبستمن دی پۀ ژړ الۀ ملکه ځينه
نجلۍ ولاړه پۀ لمانځۀ ده
پېرزومې نۀ شي چې وربل پرخاورو ږدينه
نجلۍ ولاړه پۀ لمانځۀ ده
دانرۍ ملايې سوداګربيه کوينه
نجلۍ وړه دياری نۀ ده
ناپوهه موريې ورله سترګې توروينه
نجونوراځئ چې لنډۍ پرېږدو
لنډۍ زهري دي دزړۀ سرکړموينه
نجونوهوس کوئ دريې ته
پۀ تورلحدکې نۀ دريې شته نۀ ډولونه
نرۍ دې ملا نرۍ دې وروځې

نرۍ دې شونډې نرۍ زنه خوندکوينه
نرۍ قامت نرۍ يې ملا ده
نرۍ يې شونډې په خندازړونه ځبېښينه
نرۍ نرۍ دود پورته کېږي
د چاپه نوې يارۍ اورولګېدنه
نشته د زړه کترې مې نه شته
د جانان مينې لېونی په جهان کړمه
نښه دې ټيک کړه بيايې وله
چې په ټولګي کې شرمنده نه شي مينه
نصيب تقديرته ګنانه شته
بخت چې کوټه شي تندی تل ټکرې خورينه
نصيب چوسارپه لاس کې راکړ
د يارد مينې جواهرپرې رژومه
نصيب زماکه مې د يارد ی
په اوردې وسوځي ددوا ړونصيبونه
نصيب مې بدد ی پرې پوهېږم
ځکه ايرې مې په لمن کې شول لعلونه
نصيب مې څه کانې راوکړې
په زړه وګلولاس وهم اغزي راځينه

نصیب مې خپل دی رارسېږي
کۀ پۀ تورات انجیل کې وګورم پالونه
نصیب مې خپل دی رارسېږي
مورې زما پۀ نصیب مه کوه جنګونه
نصیب مې خپل دی رارسېږي
زۀ بۀ دخپله یاره څۀ ګیله کومه
نصیب مې خپل دی رارسېږي
عالمه مه مې ګرموئ میندې پلرونه
نصیب مې لوی ډنډ ته ارتاوکړ
یا بۀ پناشي یا بۀ درراوخېژینه
نصیبه څۀ درسره وکړم
زما پۀ برخه دې موزي ورساونه
نصیبه څۀ درسره وکړم
پۀ شنوتوتیانکې مې زاغ پۀ برخه شنه
نصیبه څۀ درسره وکړم
چارۍ پۀ لاس پۀ اشنا خاورې اړومه
نصیبه څۀ کړې کوردې وران شه
پۀ وطنومې ګرځوې رسوادې کړمه
نصیبه وسوځې ایرې شې

تند یه مات شي پهٔ تاپې څهٔ لیکي د ینه
نصیحت مه کوه ناصحه
پر برېده چې مرګ مې د جانان دلاسه شینه
نظر د مهر و وفا و کړه
سنګ پارس وجود مې خاورې ایرې شونه
نظر دې مه ستنوه یاره
زهٔ تماشاګیره ستاد تورو زلفو یمه
نفس شیطان مې دښمنان دي
ربه دا ستا فضل ته ډېر امېد لرمه
نم مې د سترګو نه بهېږي
طوفان دنوح پهٔ عالم کې جاري شنه
نن بهٔ د چا پهٔ کور کې غم وي
بېلتون مې سرې سترګې لیدهٔ پهٔ قهرونه
نن بهٔ مې ولې زړهٔ ښهٔ نهٔ وي
چې د جانان خوا کې حیرانه ناسته یمه
نن بهٔ مې ولې زړهٔ ښهٔ نهٔ وي
چې جانان راغی بېلتون بیا مختوری شونه
نن بهٔ مې ولې زړهٔ ښهٔ نهٔ وي
چې مې جانان دي رالېږلي سلامونه

نن بۀ مې يارپۀ کوم ديا روي
چاته بۀ خاندي او پر چابۀ نازکوينه
نن پۀ خيبر دځلموجنګ دی
خوشاله پاخه چې مغل راغلي دينه
نن پۀ ملکونوکې اختردی
دشهيدانوارواحان اسمان ته ځينه
نن چې زۀ خاندم هوسېږم
جانان مې خط راته ليکلی چې درځمه
نن خودې بيا سترګې لندې دي
ژرراته وايه موردې څۀ ويلي دينه
نن دا اسمانه کاڼي اوري
لاس دې زما پرتندي و نيسه مينه
نن دا شنالۀ لورې باد دی
زۀ دهجران سوې سينه پرې سړومه
نن دې بې وزلو وزله کېږي
پاس پۀ اسمان کې زاڼووران کړل کتارونه
نن دکابله توتيان لاړل
پۀ غاړه يې يو وړل دپرد ښسو کاغذونه
نن مې ديار دراتلوغږ دی

پۀ ځای دې خال غنچې دګلو جوړو مه
نن دنیم زالې غېږ کې لورده
لکه سپوږمۍ چې ځنګ کې ستورې ګرځوینه
نن دهغې مستې وادۀ دی
چې پۀ ګودرېې چاته ځای نۀ ورکاونه
نن دهغې نجۍ وادۀ دی
چې لۀ اوربله یې مچۍ ګلونه وړینه
نن دې دخیال بانۀ لاندۀ دي
ادې پۀ ناز ساتلې ځوک دې ژړوینه
نن دې دخیال بانۀ لاندۀ دي
تاته دکورکافرې ځۀ ویلي دینه
نن دې کاغذ راته راغلی
پۀ خولۀ یې لولم لېمه اوښکې تویوینه
نن لا پۀ ځیر ځیر راته ګوره
سبا بۀ پته یم دګټو پۀ ګردونه
نن مې اشنا لیدلی نۀ دی
لکه دبنګو پیاله غرقه ناسته یمه
نن مې اشنا رانه خفه دی
نۀ بې پخلاکړم نۀ بې وکړمه عذرونه

نن مې اشنا ليدلی نۀ دی
عالمه خوږ زړګی پۀ چا خوشاله کړمه
نن مې بېلتون مخې ته راغی
ماویل سلام دی دۀ ويل کور دې ورانومه
نن مې پرکورباندې اختردی
چې پۀ نظر مې د اشنا نښې راځینه
نن پستې پنډۍ خوږېږي
پۀ خپل جانان پسې مې منډې کړې دینه
نن مې پۀ چول بیابان شپه ده
د تصور کلا پر ځان راګرځومه
نن مې پۀ خوب کې ۇ لیدلی
پۀ نارنجي سینه دې وو خاورې ګردونه
نن مې پۀ غېږ کې اشنا مړ دی
پۀ ښتو کې ورته قبر جوړومه
نن مې پۀ کورباندې اختر دی
چې مرور جانان رالېږي سلامونه
نن مې ترستر ګوستر ګو کېږي
یا بۀ پرلارېې یا بۀ اوس راشې مینه
نن مې جانان پۀ ښنګ کې ناست دی

لکه پاچا پۀ هرهر چا حکم کوینه
نن مې جانان لیدلی نۀ دی
لکه بابښه لوړې ژورې لټومه
نن مې خفه زړګی خوشال دی
چې له یاغي اشنا مې را غلل کاغذونه
نن مې خفه زړګی خوشال دی
نجلۍ پۀ سرو منګلو وکړل سلامونه
نن مې خوا خوږی اشنا مړدی
خلکو باقي عمر بۀ څنګه تېرومه
نن مې دزړۀ توتي خفه دی
یو څو کیسې دعاشقی ورته کومه
نن مې دزړۀ توتي خفه دی
څانګونه نغاړي نا اشنا وطن ته ځینه
نن مې دزړۀ توتي خفه دی
وزرونه نغاړي چې بۀ کوم وطن ته ځینه
نن مې دلاس باهو شنهېږي
یا اشنا مړدی یا پۀ لارې را بۀ شینه
نن مې دلاس باهو شرنګېږي
دمسافر وشپې پوره دي را بۀ شینه

نن مې دلاسه باز ايله شو
دهندوکش پرغرۀ بۀ ږدم ورته دامونه
ن مې ديار پرلورسفردی
خدايه کۀ لنډ کړې دادمځکې تنابونه
نن مې ديار دراتلوورځ ده
پۀ لويه لارکې سلامې ولاړه يمه
نن مې ديار دراتلوغږ دی
پۀ ډېرخاتۀ مې پردی بام ونړاونه
نن مې ديارپرلورمزل دی
سمنده کېږده پۀ راستیۍ ځوقدمونه
نن مې ديار دراتلوغږ دی
پرسترګوځم پربنولارجاروکومه
نن مې ديارسره وعده ده
سترګې رپېږي ښکلی يار بۀ ووينمه
نن مې ديار دراتلوورځ ده
دلاس بنګړي مې پۀ دسمال تړلي دينه
نن مې ديار دراتلو غږدی
ځمکې بخمل شوې لاروو سپړل ګلونه
نن مې ديارسترګې يادېږي

خدایه مابنام کړې چې یې پۀ خوب کې ووینمه
نن مې دې ټول صورت یاد پرېږي
پۀ تېره تېره د کرېوورو ځو سرونه
نن مې زړۀ مړاوی مړاوی کېږي
ورپۀ یاد برېږي د جانان ښۀ مجلسونه
نن مې شیرین اشنا مړشوی
ما سره سم نن پۀ ژړادي اسمانونه
نن مې نری ملا خوږېږي
پۀ شین خالی پسې مې منډې کړي دینه
نن مې همزولې مېلمنې دي
شولې لمدې دي چرګ نیوی نۀ راکوینه
نن مې همزولې مېلمنې دي
پۀ کلي ګرځم بالښتونه ټولومه
نن مې همزولې مېلمنې دي
شولې لندې دي تروې ژرندې ته لېږمه
نن نجلی پښې لاسونه سرۀ کړل
راته ښکارېږي د یار غېږې ته ورځینه
نن یې پۀ ځنګ راته کتلي
پۀ دوو ګولیو یې دستر ګو وویشتمه

نور بۀ ارمان را پاتې نۀ شي
کۀ مې دا ستا پۀ سینه وکول خوبونه
نور بۀ پۀ زړۀ تاوونه تېر کړم
بې درده یارته بۀ بیانۀ وایم حالونه
نور بۀ دې نوم پۀ خولۀ وانخلم
کۀ د شو دو د سرپېروی شي مینه
نور خویې هېڅ ویلي نۀ دي
دا ستا پېغورېې راکاوۀ ژړا راځینه
نور مې ارمان پۀ زړۀ کې نۀ شته
چې پرې مین وم ترې چا پېر مې کړل لاسونه
نور مې دلاسه پوره نۀ ده
چې همېشه دې پۀ جرګو پخلا کومه
نوره مې ټوله ولیدلې
روپۍ دې جګې کړه چې خال دې ووینمه
نوم دې توتي زړۀ مې قفس دی
خدایږو لالیه چې ستا نوم بۀ هېرومه
نوم دې پۀ خولۀ اخستی نۀ شم
پټې سلګۍ دې پۀ دیدن پسې وهمه
نوی بهار دی هم سهار دی

بالاحصاردی ګل ګلاب مزه کوینه
نۀ لۀ انځیر دورځې ګل شي
نۀ بۀ زړګی زمالۀ غمه خالي شینه
نۀ بۀ دخدای خدایي شي بله
نۀ بۀ مې ستانه زړګی صبرشي مینه
نۀ بۀ خدای ډېره دنیارا کړي
نۀ بۀ یې ځاردغنچې رنګې نجلۍ کړمه
نۀ بۀ زما مطلب پوره شي
نۀ بۀ عاشق دمعشوقې واخلې لاسونه
نۀ بۀ ژوندی وطن ته لاړشم
نۀ بۀ جانان پرهغه خاوره وو ینمه
نۀ بۀ مې بیالاس ته راشې
دمنګول بازه چې دې سترګې وو ینمه
نۀ بۀ مې داغ دزړګي جوړشي
نۀ بۀ جانان پۀ سترګو وو ینم مینه
نۀ بۀ مې دازړګوټی بل شي
نۀ بۀ دګور مړي راپورته کړي سرونه
نۀ بۀ مې یارپۀ خنداراشي
نۀ بۀ زمادغم ژړاکراره شینه

نۀ خو دې رنګ شته نۀ دې وینم
لالیه ستا پۀ کوڅه چابلده کړمه
نۀ خو مې دین نۀ خو دنیا شوه
مل مې سوداشوه سرګردان مې ګرځوینه
نۀ څوک لرم نۀ بۀ مې یاد کړي
د بڼ بلبله وم د سپله جلا شومه
نۀ د وصال پۀ خوند خبر شوم
نۀ بېلتانۀ پۀ ژوند خوشاله کړم مینه
نۀ دې پۀ خوب کې بشروینم
نۀ دې پۀ ویښه سوال او ځواب ماته راځینه
نۀ سپېلنی شوم نۀ لوګی شوم
تش لېونی شوم چې مې اوښکې پۀ مخ ځینه
نۀ ښایسته یم نۀ بدرنګه
سیالي زمادې دغه دواړه نۀ کوینه
نۀ ښوربدی نۀ پرېوتی شم
تاوکړي غشي مې دیار خوړلي دینه
نۀ ګلالۍ یم نۀ بدرنګه
زۀ غنم رنګه یم ځوانان رنځورومه
نۀ لېونی نۀ سپېلنی شوم

پۀ تشه خولۀ ناريِ وهم چيِ مين يمه
نۀ مې اميد ستا د وصال شته
نۀ مې طاقت شي چې زړۀ صبر درنه کړمه
نۀ مې ابۍ نۀ مې دادا شته
زۀ نېزووړی اباسين راوړې يمه
نۀ مې څوک ؤ نۀ مې پۀ کارشوۀ
پريکتنهاصورت زمارا غلل غمونه
نۀ مې څوک ؤنۀ مې پۀ کارشوۀ
دغم ناريِ مې لۀ خولې ځي لۀ ملکه ځمه
نۀ مې دلدار شته نۀ مې يار شته
نۀ مې غمخور شته چې همراز راسره شينه
نۀ مې ديدن شو نۀ مې صبر
جانان ته چاورکړل دصبرتاويزونه
نۀ مې ديدن شي نۀ مې صبر
پۀ غم لړلې ياراني ستړی دې کړمه
نۀ مې سلام يار ته قبلېږي
نۀ مې دمرګ نېټه پوره ده چې مړشمه
نۀ مې غمخور شته نۀ مې يار شته
نۀ مې همراز شته چې دمسازرا سره شينه

نۀ مې هېرېږې د زړۀ سره
کۀ د اسمان ترستوروڼه پرتېر شي کلونه
نۀ يې پۀ خوب کې چېرې وينم
نۀ يې پۀ ويښه سوال وځواب راته راځينه
نېستي کچکول پۀ لاس کې راکړ
بېلتون ظالم پۀ لاره ځي سپي خبروينه
نېستي درب لۀ امره راغله
لالی پرمامنت کوي چې خواردې کړمه
نېستي پېغورنۀ ده جانانه
زۀ بۀ چرګ بانګ مېچنه ستالپاره کړمه
نېستي مې غبرګ څانګونه پرې کړل
څو دهستیۍ څانګونه کړم قيامت بۀوينه
نېستي خوراغله ناچاري شوه
جانان پېغوراوس راکوي اخلي لاسونه
نېشترپۀ لاس مخې ته راغله
زمادزړۀ نېلي جانان پرې کړې دينه
نېکي دهېچانۀ هېرېږي
بې لۀ هغونه چې پۀ ذات کم اصل وينه
نېلی يې سوم وهي شنېږي

یارمې په ډزوکې ایساردی رابهٔ شینه
نېلی دې لنډ په کوځه راغی
دزړهٔ مې شرک شو چې یاربیا په سفرځینه
نیمه شپه وه په خوب ویدهٔ وم
کوم ځوانیمرګ ټپې ویشتې ویښه یې کړمه
نیمه شپه شوه تېره رانغلې
په نیمایي پالنګ مې اورولګېدنه
نیمه شپه شوه یارمې رانغی
دکټ بازوراته سرې سرې کېدنه
نجلۍ په اصل کې ښایسته ده
ځکه سلام ته یې ښاپېرۍ راغلې دینه
نجلۍ وړه په تول پوره ده
وړې زما په زړهٔ چړې منډلې دینه
نجلۍ خووړه دیارۍ نهٔ ده
کم عقله موریې ورته سترګې تورو ینه
نجونې خوډلې ډلې راغلې
دشالیلاډله وروستۍ ده رابهٔ شینه
نرګس لهٔ شرمه ښکته ګوري
چې نازولی مې دباغ په لورې ځینه

نرۍ نرۍ بۀ درنه تاوشم
لکه چې تاوه سلارۍ لۀ ناوې شينه
نصيب مې ګل خزان پرې راغی
نرۍ نرۍ پاڼې يې باد پۀ هوا وړينه
نن مې د يار درا تلوغږ دی
ځمکې بخمل شه لارې وسپړه ګلونه
نن مې پۀ ځيره ځيره ګوره
سبا بۀ ما پۀ انګړنۀ مومې مينه
نن مې خفه زړګی خوشال دی
چې لۀ ياغي وربله راغلۀ سلامونه
نوم دې پۀ خولۀ اخستی نۀ شم
د ظلم تېغ ببېلتون ويستلی ګرځوينه
نوی وادۀ د ګلو باغ دی
پۀ کټ درخېژي تورې سترګې سرۀ لاسونه
نۀ شته د مينې يار مې نۀ شته
چې پۀ زخمي زړۀ مې جوړه کېږدي لاسونه
نۀ مې څوک ۀ نۀ مې څوک پۀ کار شو
د وني پاڼه وم ګرنګ ته ولوېدمه
نېکي کوه ښۀ بۀ بيا مومې

ښهٔ کهٔ پهٔ سین کې لاهو کېږي نهٔ یې وړینه
نیمزالې روته دې ډوډۍ شه
تابهٔ پهٔ سرو منګولو سوک ورکړی وینه
د ( و ) ښخه تر ( ه ) پوري

وار بهٔ دې تېرشي زېړه ګله
چېرې بهٔ بیا پسرلی سپړي زېړ ګلونه
وار بهٔ دې تېرشي زېړه ګله
بیا بهٔ بلبل پهٔ ویرارمان فریاد کوینه
وار خطا مه اوسه جانانه
دوار خطا پرځای دې زهٔ ولاړه یمه
وار مې د تورو زلفو تېرشو
اوس مې پهٔ تورو زلفو نهٔ ښښلي بازونه
وار و فرصت عنقا مرغهٔ دی
عنقا دې ښښتی دی پهٔ دام اوس درښخه ځمه
واړه تاثیر د زمانې دی
ځکه مې یار پهٔ ساعت دوې ژبې لرینه
واړه دروغ دي رښتیانهٔ دي

بې لۀ مجنونه چې څوک دعوا دعشق کوینه
واللّٰه باللّٰه کۀ بۀ خولۀ درکړم
څو دوطن ددښمن رانۀ وړې سرونه
واللّٰه باللّٰه کۀ بۀ دې پرېږدم
څو دې پرسپینه غاړه تاونۀ کړم لاسونه
والیٔ دغوږ پېزوان دپوزې
دواړه خوځېږي تاته کړي اشارتونه
واوره دیار څخه مې واوره
نن مې ګیله ده سبا جنګ درسره کړمه
وبېلتانۀ ته مې سلام دی
مادې دخپل اشنانه نۀ جلا کوینه
وتاته چاویل مین شه
پرسپینه ږېره دې پرمخ اوښکې راځینه
وجود مې ټول مورې مورې شو
شا دلستوڼي پۀ مورو وهلې یمه
وجود مې ټول پۀ خاورو پټ کړئ
چې جانان نۀ شته سترګې چاته واړومه
وجود مې ټول لۀ اغزوډک شو
بیا بۀ کم اصل ګل ته نۀ وروړم لاسونه

وخت د بهار وطن ګلزار دی
پرما انګار دی چې لهٔ یاره جدا یمه
وخت مازیګر دی ښېرې مه کړه
تهٔ بهٔ د مینې ښېرې کړې رښتیا بهٔ شینه
وختنۍ مینه دې اوس نهٔ شته
لکه د بڼ بلبل شور بهٔ دې کاونه
ودې لیدم چې تس مې درکړ
تهٔ مې مین کړې زهٔ کراره کېنا ستمه
ودې ویشتم پورته دې نهٔ کړم
خلک ویشتلی مرغهٔ خپل پورته کوینه
ودې ویشتم روغه دې نهٔ کړم
څوک چې ویشتل کا دا روسم ورسره وړینه
وربل زما دی چې پاچا دی
ستا پهٔ وربل دغهو ځالې جوړې دینه
وربل دې بیا پهٔ کوچوغوړ کړ
لکه دوربین د پرنګي بربېښنا کوینه
وربل دې ونیوې وربېځې
پهٔ سپنکې مخ باندې دې اورې بارانونه
ورځ بهٔ پهٔ ماتوره تیارهٔ کړې

چې لیلا بیا پهٔ رنجو سترګې توروینه
ورځ پهٔ قیامت بهٔ یې مخ توروي
چې د قلم پهٔ شانې دوې ژبې لرینه
ورځ بهٔ پهٔ ما تپه تیارهٔ کړي
چې پهٔ کجلو لیلا سترګې توروینه
ورځه ورځه مخ ته دې ښهٔ شه
ماته ګړۍ پهٔ ګړۍ مه وایه چې ځمه
ورځه ورځه تر دکن تېر شه
زهٔ پرمخ تورې زلفې تالره ساتمه
ورځه ورځه ښې بهٔ یې خوندي کړم
دا شربتي شونډې مې تا ځبېښلې دینه
ورځه ورځه پهٔ کارمې نهٔ یې
دومره مین دربانډې نهٔ یم چې مړ شمه
ورشه بې غم اشناته وایه
پهٔ غم کې ډوب اشنا دې ډېرډېر یادوینه
ورشه پهٔ زوره ورته وایه
هلک مین دی خون بهٔ یې ستا پهٔ غاړه شینه
ورشه خبرېې راته راوړه
چې مې جانان ناستی د چا سره کوینه

ورشه خبرمې ورته یوسه
ملهم د سروشونډو راوا ستوه چې مرمه
ورشه خفه جانان ته وایه
یاردې ستالۀ غمه ډېرژړلي دینه
ورشه دیار خبردې واخله
پۀ غرموپروت دی لۀ خولې وینې تووینه
ورشه دیار خبردې واخله
چې بې دیدنه دې ساتۀ لېونی شونه
ورشه دیار خبردې واخله
پۀ ډېران ناست دی پرسرخاورې بادوینه
ورشه لۀ بلخه دنیاراوړه
پۀ کورنۍ دنیامې پلارنۀ درکوینه
ورشه لۀ کوره بالښت راوړه
مړوندمې خپل دی نوریې نۀ درلاندې ږدمه
ورشئ پرموریې زېری وکړئ
کم عقله لوردې لۀ یارۍ اخلي لاسونه
ورشئ جانان راته خبرکړئ
دبېلتانۀ پۀ سفرځم پاتې بۀ شینه
ورک شې بېلتونه مخ دې تورشه

شاړشوهٔ باغونه رژوې سمسور ګلونه
ورک شې بېلتونه غم زرغونه
سوي داغونه راکوې ستې دې کړمه
ورکه یاري ورک یې بېلتون کړې
اول ماورک کړې چې پهٔ تامینېدمه
ورورخومې شته بې وروره نهٔ یم
کهٔ مې ننګ نهٔ ساتي خپل وروربهٔ مې ساتینه
وروره ترتورتوپک دې ځارشم
دادکونداغ ځوندی دې خورجوړکړی دینه
ورورېې غزاله پهٔ غورځنګ ځي
خورېې چاړهٔ پهٔ باټ وهي ورسره ځینه
ورونه دمرګ پهٔ خوب ویدهٔ دي
پرنیمه شپه مې غمازان ازارو ینه
وروځې لندی باڼهٔ دې غشي
باړخو دګل کجک دې وښتي غورځوینه
وروځې لندی باڼهٔ دې غشي
زما پهٔ زړهٔ باندې دې وکړل ګوزارونه
وړاندې سینې ته لاس راتېرکړه
پهٔ لاس بهٔ درشي سرې منې پا ستهٔ سرونه

وړانګو پلو مخې ته ونيو
د حسن وېش دې محبت راتو يو ينه
وړوکې وازګې مې اوبۀ شوې
نوره مې ځله کړوې پۀ سرۀ اورونه
وړوکی نۀ يې چې شرمېږې
مورته يې وايه چې پۀ لوردې مين يمه
وړوکی ماپۀ ياری پوه کړې
اوس راته وايي چې زماومنه سوالونه
وړوکې صبردې پۀ خدای شه
پۀ هغه ګل چې نازېدې دنوروشونه
وړوکی ياردې چامړه کړې
وړوکی يارسړی دبرمه غورځوينه
وړه دې ورکړم لويه نۀ شومه
زماازاردې درېبارپۀ غاړه شينه
وړه نجلۍ پۀ ياري پوه شوه
لکه لړم پۀ دېوالوخولې لګوينه
وړه نجلۍ چې شونډې سرې کړي
لکه دډداګ ربدي چې وسپړي ګلونه
وړه نجلۍ ملالې سترګې

دې تورپېکي يې پۀ مااورولګاونه
وره وره شې لويه مه شې
ترلوېدوپورې بۀ وران کړې مالتونه
ورې ليلوښايسته سهاردی
شمال لګېږي نرۍ پاڼې خوځوينه
ورې نجلۍ ياري شروع کړه
ځکه زېړۍ تبې پۀ اوړي مني کړينه
وس مې پۀ هېچانۀ رسېږي
ظلم پرخپل زړګوټي کړم بد رنګه شومه
وښي بنګړي ددنيادوددی
زۀ لۀ نېستمن اشنانه نۀ غوارم دودونه
وصال بۀ خوند درله درنۀ کا
څودهجران پۀ لمبوو ريت نۀ شې مينه
وصال بۀ نن سبا پاچاشي
پۀ بېلتانۀ پسې بۀ وباسي فوځونه
وصال پاچاشو تخت ته خېژي
بېلتون زينه ورته دشګوجوړوينه
وصال جنت بېلتون دوزخ دی
زۀ ددوزخ سختي جنت له تېرومه

وصال د برق پهٔ شان تېرېږي
بېلتون د عمره سره وکړل قسمونه
وصال مې کوچ کړي روانېږي
ځکه نوبت د بېلتانهٔ راغی مینه
وطن ارامه ارامي شوه
چې پښتنو ځلمیو کېښنو دل سرونه
وطن بهٔ پرېږدم ترې بهٔ لاړشم
نصیب پرېښوی نهٔ شم سم را سره ځینه
وطن بهٔ تول پهٔ وینو رنګ کړم
کهٔ د زخمي زړګي نه پورته کړم لاسونه
وطن بهٔ ستا لهٔ لاسه پرېږدم
چې دې د حسن دوران تېرشي را بهٔ شمه
وطن خو تا رنګ کړ ملالې
پهٔ سرو لاسو چې ګرځېدي پرلوړ بامونه
وطن د زېړو ګلو باغ دی
ما کبرجنې ورته شا کړه اوس ترې ځمه
وطن د شاتونه شیرین دی
ما د نېستی لهٔ لاسه پرېښود ترېنه ځمه
وطن د یار پهٔ ستر ګو خوږ دی

چې یارېږي نۀ وي څۀ وطن څۀ بې وطنه
وطن دې ستاوي پۀ کې اوسه
موږ مسافر دبل وطن سبابۀ ځو نه
وطن دې ستاوي تۀ پرې اوسه
ستادښایست بهار چې تېرشي رابۀ شینه
وطن زمادتن جامه ده
دتن جامه بۀ لکه ګل غوندې ساتمه
وطن زماد پلار باغچه ده
چې ښې خوږې خوږې مېوې ورځنې خورمه
وطن کشمیر خدای پرې امیر کړم
نېستۍ فقیر کړم پۀ ژړا بۀ ځنې ځمه
وطن کشمیر دی نۀ پرېښودشي
ما دجانان لپاره پرېښودې وطنه
وطن کشمیر زۀ پۀ کې بندیم
داد ځوانۍ عمر پۀ بند کې تېرومه
وطن له ژرراشه جانانه
د ببلو شویو پۀ زړۀ ډېر دي ارمانونه
وطن لۀ مانه پاتې کېږي
پۀ ناکامۍ لکه مرغۍ ترې والوتمه

وطن لۀ مورو پلار ه ګران دی
ژوندی د پلار مرې بۀ ځمکې له ورځمه
وطن مې بڼ دی د سرو ګلو
زۀ يې بلبل د ګل پربڼ نارې وهمه
وطن مې تا ته د رمیراث کړ
پۀ میراثي مېنو مې ته کره ګلونه
وطن مې ستالۀ لاسه پرېښود
خلک بۀ وايي د نېستۍ لۀ لاسه ځینه
وطنه زېرى مې د رباتدې
ټول پښتانۀ دې پۀ نامۀ سرورکوينه
وطنه ستا پۀ مینه مست یم
کۀ ستا پۀ مینه مې سرځي لويي پرې کړمه
وطنه وران را معلومېږې
نۀ د یار غږ شته نۀ يې بوی راله راځینه
وعده خلاف جانان رانۀ غی
وعده بوه ورځ ږدي پۀ کې تېر کړي کلونه
وعده دې کېښوده رانغلې
وعده خلافه یاره بیا بۀ سبا شینه
وفادې لرې کړه جانانه

غم دې زما دلارې مل کړ چې تل وینه
لاړ شه په پورې خواکې کېنه
د ما زیګر سیورې به د روړي سلامونه
ولاړه اوسه چې دې ګورم
چا دې صفت راته کاوۀ راغلې یمه
ولاړه یم ولاړه به نۀ شم
څو دې د زړۀ په رنځ اخته نۀ کړم مینه
ولاړه یم لاړه به نۀ شم
تا به د زړۀ په سرزخمي کړم بیا به ځمه
ولاړه یم لارې دې ګورم
کله به راشې چې دې بیا دیدن وکړمه
ولاړېدی نۀ شم عالمه
تاوکړی غشی یې په پښو ویشتلی یمه
ولوی دریاب ته دې لاهو کړم
لاس دې رانۀ کړ د ماهي خوراک دې کړمه
ولې به تورد کن ته نۀ ځې
دعاشقانو سفر تورد کن ته وینه
ولې به زۀ ورپسې نۀ مرم
ماته یې په سپینه خولۀ جانان ویلي دینه

ولې بۀ زۀ ورپسې نۀ مرم
چې نارنجي شال یې پرسرا وبوته ځینه
ولې بۀ نۀ ژاړم عالمه
اشنا زمالۀ غېږې ځي ماژړوینه
ولې بۀ نۀ ژاړم عالمه
پۀ سره غرمه مې جانان کډې باروینه
ولې بۀ نۀ ژاړم عالمه
یو مې یاربا یلو دبل مې یوو ړل تومتونه
ولې بۀ نۀ ژاړم تالاشوم
چې مې جانان دبل پۀ ځای کې مېشته شونه
ولې بۀ نۀ ژاړم عالمه
ساتلی یارمې رانه نن سباته ځینه
ولې بۀ نۀ ژاړم عالمه
پریارمې خاورې اړوي ولاړه یمه
ولې بۀ نۀ ژاړم عالمه
جانان مې ګل د پسرلي خاورې بۀ شینه
ولې بۀ نۀ ژاړم عالمه
چې تور وربل مې ورانوي ژړارا ځینه
ولې بۀ نۀ ژاړم تالا شوم

پهٔ زېړو ګلو مې خزان ولګېدنه
ولې بهٔ نهٔ ژاړم عالمه
چې زوړ سړی مې دوصال تمه کوينه
ولې بهٔ زهٔ ورپسې نهٔ مرم
وړوکی يارمې لويا وهٔ لېونی شونه
ولې بهٔ زهٔ ورپسې نهٔ مرم
ګل مې تازهٔ اوس خزان رامړاوی کنه
ولې بهٔ زهٔ ورپسې نهٔ مرم
د پېښورپهٔ نيمګزي يې ځنې دينه
ولې بهٔ زهٔ ورپسې نهٔ مرم
دهندوکښ تروا وروسپين لري غانبونه
ولې بهٔ زهٔ ورپسې نهٔ مرم
توريې وربل مخ يې دګل باړخولالونه
ولې بهٔ زهٔ ورپسې نهٔ مرم
چې زنګالي شال يې پرسرا وبوته ئينه
ولې پهٔ ځيرځيرراته ګورې
لکه چې نن دې پهٔ ما خوارمينه راځينه
ولې دلګيرولاړ يې ياره
راشه پهٔ سپينه سينه وا چوه لاسونه

ولې دلګیرولاړیې یاره
دلګیره زۀ یم چې د پلار لۀ کوره ځمه
ولې دلګیرولاړیې یاره
خدای بۀ اسان کړي د دنیا مشکل کارونه
ولې دې بدراسره وکړل
ما دې د ناز ګلان پۀ نیاز کرلي دینه
ولې دې بدراسره وکړل
زما پۀ دنیا کې تمه وه چې یار لرمه
ولې دې بدراسره وکړل
ما پۀ نجلتوب کې پرتا ایښي ۀ لاسونه
ولې دې بدراسره وکړل
زۀ پۀ ځوانانو کې پۀ تا مینه ومه
ولې دې بله ډېوه مړه کړه
پرسود مینه یاره تېل بۀ ماراوړي ونه
ولې دې سرپۀ زنګنو کړ
کۀ نازولې مې ساتې درسره ځمه
ولې دې شولې نۀ کرلې
سږنی کال مې دوادۀ ۀ تېربۀ شینه
ولې دې مینه شوه اوس کمه

پهٔ یارانه مې اوس چاپېښمانه کړې مینه
ولې مې مخ ته رڼا نیسي
نېستۍ زما پهٔ ځوانۍ اورولګاونه
ولې مې نهٔ وړې اباسینه
ترشودو سپینه دې پرسرروانه یمه
وماته مه قهرېږه تروږې
پرتاتېرشوي پرمااوس راغلي دینه
ویشتل کوي طبیبه نهٔ یې
ځوک چې ویشتل کړي ملهم جېب کې ګرځوینه
ویشتلی مایې روغ بهٔ نهٔ شې
کهٔ تربونېره پورې وکړې زیارتونه
وښتهٔ یې اوربا ندې کاږهٔ شول
ځکه یې زلفې پهٔ رخسارتاوشوې دینه
واک دخولګۍ بهٔ یارته ورکړم
چې پهٔ سفرکې بیاونهٔ کړي ارمانونه
واورې وربږي زړهٔ مې لوېږي
چې خوږ اشنابهٔ مې پهٔ کومه ځمکه ځینه
وخت دځوانۍ مې نیمه خواشو
یاربې وفاشوارماني بهٔ ګورته ځمه

ورځه ورځه پر لیلا شپه کړه
لیلا جوړ کړي دا تلسو بالښتونه
ورځه ورځه مخ ته دې ښۀ شه
بیا د قیامت پۀ ورځ بۀ وکړو دیدنونه
وروځې لندې بانۀ دې غشي
د پریې پۀ تاوخوشې کوې زخمي دې کړمه
وروستی دیدن راسره وکړه
چې پۀ ارمان قبرته ولاړنۀ شم مینه
وطن خو تا ظالمې خوار کړ
چې پۀ باموراښکاروې سپین مړوندونه
ولې بۀ نۀ ژاړم عالمه
چې کمکی یارمې لویاوۀ لېونی شومه
ولې لۀ مانه لرې ګرځې
مادې د مینې ګل پۀ زړۀ کرلي دینه
د ( ه ) څخه تر (ي ) پوري

هابیل قابیل ؤسره ورونه
نفس ظالم شو پۀ خپل منځ کې تباه شونه

ها پخوانۍ مینه دې نۀ شته
چې شیرین ځان دې غورځاوۀ ترګړنګونه
ها پخوانۍ مینه دې نۀ شته
یادې زړۀ توردی یادې کلی لمسوینه
هجران جهان پرماتورتم کړ
لۀ ښایسته مخه دې پورته کړل شالونه
هجران ظالم راپسې ګرځي
ماداشناپۀ زلفووخوړل تالونه
هجران مې زړۀ قلم قلم کړ
ځکه لۀ سترګونه خوناب راتویوینه
هرچاته خپل وطن کشمیردی
ماته کشمیرشول دابې نیازه وطنونه
هرچاته خپل وطن کشمیردی
ماته کشمیردی ننګرهارښکلي ډاګونه
هرچاته خپل وطن کشمیردی
ماته کشمیردي دجانان دوطن غرونه
هرڅۀ پۀ بخت کېږي جانانه
بخت چې کوته شي عقل هم کډه کوینه
هرڅۀ چې تېرشي هغه هېرشي

کله هېر ېږي د اشنا بد پېغور و نه
هر کله ر اشي د يار غمه
کۀ مې سل نو ر وي تابۀ پاس پۀ تندي ږدمه
هر نا پسنده بۀ دې يو سم
پۀ يارانه کې دې شريک نۀ قبلو مه
هره ګړۍ ر ابا ندې غم دی
جانانه ر اشه چې يو دم بې غمه شمه
هره ګړۍ ر اته پۀ ياديې
د خدا ی دې هېره شم چې تابۀ هېر و مه
هسې نا څا په مې پۀ زړۀ شوې
د اسې نا څا په دې خدا ی ر او له مينه
هغه دې هېر دي کۀ پۀ ياد دي
چې تۀ و لاړې ما دې لاس نيو لی و نه
هغه دې هېر کۀ دې پۀ ياد دي
چې د کړکۍ شمال پۀ دو اړو لګېدنه
هغه ساعت بۀ کله ر اشي
چې د جانان سره مې و شي ديد نو نه
هغه ساعت بۀ کله ر اشي
چې د اشنا سره بر ګو د رته ځمه

هغه ساعت بۀ لوی قیامت وي
چې زوړ سړی پۀ چته واچوي لا سونه
هغه ساعت دا ختر ورځ ده
چې د ځلورو سترګو وشي دیدنونه
هغه ملا بۀ هم ارمان کړي
چې زما یارورته کتاب وغوړوینه
هلته بۀ زما پۀ قدر پوه شي
چې سور پالنګ درته پواځې پاتې شینه
هلته بۀ غږ درباندې وکړم
چې د مصرۍ توري دي ووینم وارونه
هلته بۀ حال زما معلوم شي
چې مې لۀ قبره وتکبیږي سرۀ ګلونه
هلته دې ویل چې خدای بۀ خیر کړي
اوس راته وایي چې زړۀ صبر کړه مینه
هلک بۀ ولې توره نۀ کا
ترنیمایي مورچله زۀ ورسره ځمه
هلک پۀ شنو خالو مین دی
نجونې بدرنګې کړې چې نۀ وهي خالونه
هلک ته سپینې جامې ورکړئ

تورې جامې يې مرد کو خوړلې دينه
هلک چې توروي ښۀ ښکاريږي
نجلۍ چې توره شي بنګړي دې خرڅوينه
هلک د باغ لۀ لورې راغی
د شکر سپب پانه پۀ خولۀ شونډې ځبېښينه
هلک دې ولې پۀ ژړا کړ
تر د ربچې دې ورښکاره کړه شنۀ خالونه
هلک مين شورنګ يې زېړ شو
موريې زېړی ورپرې کوي چې جوړ بۀ شينه
هلک مين شورنګ يې زېړ شو
موريې قسم خوري چې زېړی تبې کوينه
هلکه بد مې اموخته کړې
چې خولۀ د رنۀ کړم مرور ګرځې مينه
هلکه پاڅه روانېږه
کاروان تېرېږي تۀ بۀ پاتې شې مينه
هلکه ځان ته غره نۀ شې
کۀ تۀ چناريې زۀ د ګلو لښته يمه
هلکه خانده خوشالي کړه
سبا مې کډې ستا انګړ له درځينه

هلکه خدای دې هلته مل شه
چې تهٔ بهٔ یویې درچاپېربهٔ موزیان وینه
هلکه خدای دې ځوانیمرګ کړه
چې پهٔ یارۍ نهٔ پوهېدې رسوادې کړمه
هلکه خدای کهٔ بهٔ خولهٔ درکړم
پرسردې نهٔ شته دمصرۍ تورې وارونه
هلکه روغ بهٔ لېونی شې
کهٔ دڅوکۍ مازیګرووینې مینه
هلکه زمالهٔ یارۍ واوړه
داتورې زلفې ښاماران وبهٔ دې خورینه
هلکه ستادزړهٔ لپاره
تلې مې سوځې پهٔ غرموولاړه یمه
هلکه لرې راڅخه ګرځه
ستاپهٔ یارۍ کې پهٔ انګاروکړېدمه
هلکه لوی شې برخوردار شې
رساله دارشې چې بیرغ درپسې وړمه
هلکه مرې کهٔ پاتې کېږې
دامې دستوردی نرۍ سترګې تورومه
هلکه نوره یارې بس کړه

پۀ ړنګ او بنګ پېکي دې اېښي دي لاسونه
هلکه هر نیاز بۀ دې یوسم
پۀ یارانه کې دې شریک نۀ قبلومه
هلکه هلته د خدای مل شه
چې د رخودارو ترخولې وخېژي دودونه
هله رادرومه پښې راواخله
سامې ترنیم بدن راغلې خلاصه شومه
همزولتیا بۀ خوږه مېوه ده
مورمې میره ده مامېوې ته نۀ پرېږدینه
همزولو تل کړئ صحبتونه
پۀ نري ګورکې نۀ دریا شته نۀ ډولونه
همزولولاس موسره ورکړئ
بېلتون رټلی اشنابیالۀ ملکه ځینه
همزولې ټولې مې وادۀ کړې
ماوادۀ مه کړې د ټولګی سرداره یمه
همزولې ټول راته پېغورکا
چې یارمې نۀ شته عمرخوشې تېرومه
همزولی یار دچامړمه کړې
همزولی یاردزړګي ولې پرېکوینه

همېش مې تۀ پۀ زړګي ګرځې
فکردې زۀ لۀ بله فکره وېستمه
هند اره څله مخ ته نیسي
زما پۀ ځوانۍ دې یاره اورولګاونه
هېڅ مناسب درسره نۀ دی
چې پۀ ویدومې پۀ خولګۍ وهې لاسونه
هېڅ مناسب درسره نۀ دی
چې خوږ اشنادې بېنوالۀ دره ځینه
هېڅ یې پۀ ویلوزۀ پوه نۀ کړم
لۀ تورتېکري لاندې یې وچیچل غاښونه
هېربۀ مې نۀ شې خپله یاره
کۀ داسمان ترسیوري ډېرتېرشي کلونه
هیکل خوښۀ دی پۀ نامۀ دی
بده اوږۍ ده پرسینه ږدي پرهارونه
هیکل د سرپۀ سینه کېږده
تیارۀ ماښام بۀ پرمالوړمازیګر کېنه
هلک مین دی رنګ یې زېږدی
نۀ دشپې خوب کانۀ دورځې روزګارونه
هلکه څه ډېرپۀ نخروڅه

پهٔ لويو غرو ځه چې شملې دې بادوهينه
همزولو ننګ راسره وکړئ
څوک ئې ته خېژم ښکلي ياررا کوزومه